په اخروخو لسیزو کې د ستر کو لیدلې پېښې

د خلق د دموکراتیک ګوند تاسیس

او

په افغانستان کې د د شوروي یرغل

عطاء محمد شېرزی

د پښتونخوا د پوهنې دېره

په اخرو څو لسیزو کې د سترګو لیدلې پېښې

د خلق د دموکراتیک ګوند تاسیس

او

په افغانستان کې د شوروي یرغل

لیکوال

عطاء محمد شېرزی

بسم الله الرّحمن الرّحيم

کتاب پېژندنه:

نوم :: په اخرو څو لسيزو کې د سترګو ليدلې پېښې
د خلق د دموکراتيک ګوند تاسيس
او په افغانستان کې د شوروي يرغل

ليکوال :: عطا محمد شېرزی

خپرندوی :: د پښتونخواه د پوهنې دېره

شمېر :: ۵۰۰ توکه

چاپ وار :: لومړی

چاپ نېټه :: ۱۳۸۲ل/۲۰۰۳م

کمپوزر :: ذبيح الله "شفق" او خليل الله "چمن"

چاپځی :: دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور
تليفون: ۲۵۶۴۵۱۳

خوښنه او مننه

زه تر هرڅه دمخه د پښتونخوا د پوهنې دپرې د کارکوونکیو مننه کوم، چې ددې کتاب د چاپولو او سمبالښت په هکله یې په ورین تندي دپره مرسته راسره کړې. همدغه شان د مبارز ځاپي او نصیر ستوري څخه دپره مننه کوم، چې د کتاب په تصحیح او لوستلو کې یې له حده زیات زیار ګاللی دی.

د ټولو دې کور ودان وي.

په درناوي

عطا محمد شېرزی

سریزه

کوم حوادث او واقعات چې د تېر قرن په اخرنیو درې څلورو لسیزو کې په افغانستان کې واقع شوي، چې لاتراوسه دوام لري او ددغو حوادثو تاثیرات زمونږ د مملکت د غیورو خلکو په سرنوشت باندې د تاریخ په اوږدو کې بې ساري دي. دا څکه چې ددغو حوادثو تګلاره کله په ارتقایي او کله هم په نزولي شکل بدلېده رابدلېده. اوس هم معلومه نه ده چې دا حالت به تر کومه او په څه شکل خپل انجام ته ورسېږي.

هر هغه څه مو چې تراوسه لیدلي او د هغو شاهدیو په کافي اندازه مواد مو د تحلیل ګرانو لیکونکو او پوهانو په اختیار کې ورکړي، چې هغوی به ددغو موادو نه ښه استفاده وکړي او ددغو حوادثو تغیرات او ماهیت چې زمونږ په ګران هېواد کې پېښ شوي، په صحیح او دقیق صورت د مسلکي لیکنو په چوکاټ کې واچوي او د هغو مثبت او منفي اړخونو سره به زمونږ خلك او بشري جامعه آشنا کړي او په دې توګه به با ارزښته لوړ خدمات سرته ورسوي.

په دې مقصد که وکولای شم چې یو تعداد پېښ شوي حقایق چې په خپله د هغو شاهد یم او یا دا چې د هغو په واقعیت باندې پوره باور لرم، د ښاغلو متفکرینو تحلیل ګرانو لیکونکو او پوهانو استفادې ته وړاندې کړم، نو ددغه اثر لیکلو ته مې اقدام وکړ.

هر هغه څه چې په دې مقدمه کې د یادونې وړ بولم، هغه دا چې ددې اثر ذ لیکلو په وخت کې د هېڅ رنګه تعصب تر تاثیر لاندې نه وم او هڅه مې کړې چې واقعیتونو او پېښنو نه په عیني صورت پرده پورته کړم او دا هم زیاتوم، چې زما اکثراً لیکنې هغه واقعات دي، چې زمونږ په زمان کې زما د سترګو حالات بیانوي. کله چې زما لیکنې د ځینو لوستونکیو د نظریاتو او افکارو سره سمون او مطابقت ونه لري، زما آرزو او خواهش دا دی، چې حوصله له لاسه ورنه کړي او مطالب تر پایه مطالعه کړي، ځکه زه ځان مکلف بولم. هغه څه چې ما لیدلي خلاف له هغه څه ونه لیکم. محترم لوستونکي هر څوك چې وي، ددغه اثر مطالب تائید او یا تردیدوي. ما واقعیتونه څرنګ چې لیدلي پر هم هغه توګه مې لیکلي دي.

ددغې مقدمې د لیکلو په وخت کې مې محترم متفکرین او تحلیلونکي منورین او لیکونکي په نظر کې مجسم کړي، چې د هر راز ایدیالوژیکي، مذهبي، قومي، لساني، سمتي او نورو تعصباتو نه خپل وجدان وژغوري او زمونږ د غم زپلو وطن والو په خدمت کې خپل فکري ذخاېر په کار واچوي، نو په داسې حال کې پوره باور لرم، چې ددغه اثر مطالعه به د هغو د وخت د ضیاع مخنیوی وکړي او د هغو د نظراتو او قضاوتونو آشنایي به تل زما د سپاس او شکران وړ وي.

په درناوی

عطاء محمد شېرزی

د کولن ښار، جرمني

یو څو خبرې

د ۱۳۵۷هجري لمريز کال د غويى د مياشتې په پېښه کې چې کين لاسيانو په قهر امېزه توګه په افغانستان کې واک ترلاسه کړ، زه په لغمان کې بندي شوم. کله چې له بنده ووتم، بغلان ته لاړم، په بغلان کې زما د پخوانيو دوستانو له ډلې يو کين لاسى د ولايت د مستوفي په توګه ټاکل شوى و. هغه چې زما له راتګه خبر شو، زه يې په خپل کور کې مېلمه کړلم، کور ته يې ورغلم، په کور کې يې د مور او پلار نه سربېره خويندې او ورونه يې هم ورسره وو. د خبرو اترو په ترڅ کې يې له مانه وپوښتل، چې بهر په ولس کې زمونږ په هکله څه ويل کېږي؟ ما ورته وويل: د خلکو ترمنځه ګنګوسه ده، چې روسان به ډېر ژر پر افغانستان راوداتګي، خلکيان به وټکوي او پرچميان به د واک پر ګدۍ کښېنوي. لکه څرنګه چې په بخارا کې پېښه شوې، په هماغه توګه به روسان پر افغانستان هم واکمن شي. خو ښاغلي مستوفي راته بې له کومه ټاله وويل چې: "دا د دښمنانو له خوا دښمنانه پروپاګنده ده."

د هغې شپې له مېلمستیا نه دا دروېش کاله وشول، چې تېر شوي دي. هغه مستوفي هم نور ژوندی نه دی، خو څه چې د ۱۳۵۷ کال نه را په دېخوا پېښو وښودله او څه چې ګران لوستونکي د درانه ښاغلي عطا محمد خان "شېرزي" د سترګو لیدلي حالاتو په دې لیکلي شوي ټولګي کې لولي، زما د هغې شپې هغې خبرې کټ مټ رښتیا والی ښیي، چې هماغسې په افغانستان کې په پرله پسې توګه راپېښې شوې.

بدمرغي په دې کې ده، چې زمونږ ولس تل د خطر زنګ وهلی، خو پر ولس واکمنې ډلې خپل غوږونه کانه اچولي یا دا چې پر هېڅ نه دي پوهېدلي.

په هر حال ما چې خپل ښي او کېڼ لاس پېژندلی، په ګران هېواد افغانستان کې راته د تاریخ ډېره توره څېره، د شاه شجاع څېره ښکاره شوې وه، خو ددې ټولګې د محتویاتو په مخ او همدارنګه په کال ۱۳۷۱هجري لمریز کې چې پر افغانستان کوم مصیبت واکمن شو او بیا د افغانستان دا ننني حالات چې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو ځواکونو حضور په ډاکه کوي، ښکاره وي، چې:

اوس به خاندي شاه شجاع پر ببرك او ظاهر شاه

یعنې: شاه شجاع به پر ببرك کارمل خاندي او وایي به چې: که زه د انګرېزانو د پوځونو په زور پر افغانستان باچا شوم، خپل عمل مې خیانت وګانه او ځان مې خپل ولس ته وسپاره، خو ته چې د روسانو پر ټانکونو سپور افغانستان ته راغلې او واکمن شوې، خپل دغه خاینانه عمل ته دې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې انقلاب ووایه، څو چې د روسانو په لمنه کې دې د کمونستانو ستر مشر "لینن" ته ساه وبخښله.

همدارنګه شاه شجاع به پر ظاهر شاه هم خاندي وا وايي به چې:که زه د انګرېزانو د پوځونو سره راغلم، د باچا په مرتبه کې وم. مګر ته چې د امریکایانو او د هغوی د متحدینو په زور راغلی یې، د "بابای شورای نظار" په درجه کې شوې، نو په دې توګه زه تر تا ډېر سپین یمه. دا په دا چې د انګرېزانو په زور پاچاهي ګټلې وه، خو تا د امریکایانو په زور د "بابای شورای نظار" درجه وګټله.

د پای ټکی:

د افغانستان د معاصر تاریخ د لیکلو په‌چارو کې په دې اند چې: د یوه هېواد د سیاسي پېښنو په هکله په ریښتینه توګه مورخین دي، چې قضاوت کولی شي، ښایي د افغانستان ریښتینو مورخینو ته د ښاغلي "شېرزي" صاحب دغه د سترګو لیدلي حالاتو لیکل شوې ټولګه به یوه باوري سرچینه وګڼله شي.

په درنښت

مبارز څاپی

بن، جرمني

۲۰۰۲/۱۱/۱۴

نور محمد تره‌کی

نور محمد تره کی په اصل و نسب تره کی د نظر محمد زوی د غزني د ولایت د ناوې په محلې ولسوالۍ پوري ترلې د سره کلي اوسېدونکی، پلار یې اطرافي متوسط ژوند درلود. د نظر محمد څلور زامن وو چې د یوه نوم نور علي د بل سلطان علي د درېیم غلام علي او د څلورم جان علي و، چې بیا د نور محمد، سلطان محمد غلام محمد او جان محمد په نومونو بدل شول دا نومونه چې په اول کې د پلار او مور له خوا په دوی ایښودل شوي وو، د تره کي مور د سلیمان خپلو قوم پوري مربوطه وه، چې د ناوې ولسوالۍ سره نزدې وه. د نور محمد د مور ورور مذهبي ملا و، چې په هند کې یې خپل علمي تحصیل تر سره کړی و. هغه د خپلو خوریونو نومونه تبدیل کړل. د نظر محمد څلور واړه زامن د هغه وخت معمول څو دیني عربي او فارسي کتابونه لکه خواجه حافظ بوستان او ګلستان او نور یې ولسوتل او څه قدر په لیکلو او لوستلو پوه شول. د نور محمد تره‌کي پلار په خپله باسواد نه و، خو د لیک او لوست ډېر شوقي او غوښتونکی وه، چې زامن یې باسواده وي، ځکه هغه یو ځل خپل څلور واړه زامن کابل ښار ته

راوستي وو، کـه چـېرې وکـړی شـي هغـوی پـه کـوم مکتـب (ښوونځي) کې داخل کړي. هغـه پـه دې بـاره کـې ډېرې هلې ځلې وکړې، خـو پـه مطلـب موفـق نشـو او پـس لـه څو ورځو بېرتـه خپـل کلـي تـه لاړل. د کـابل پـه ښار کـې نظـر محمـد خـان د خپلـو زامنـو سـره د قـاضي فيضـل الله خـان پـه کـوڅه کـې د شـور بـازار د حضرت صاحب په جومات کې شپې تېرولې. پـه هغـه زمانـه کـې يـوازې د کـابل ښار کـې د حضـرت صـاحب پـه جومـات کـې بـې وزلـو او بـې سـر پنـا خلکـو شـپه تېرولـی شـوه. پـه نـورو جومـاتونو کـې پوليسـانو ممـانعت کـاوه او چـا شـپه نـه شـوه تېرولـې. د حضـرت صـاحب جومـات (مسـجد) دا امتيـاز درلـوده، چـې د هغـه مريدان او اخلاص مندانو خپلـې شپې پکـې تېرولـې شـوې.

پـس لـه هغـه چـې نـور محمـد يـو انـدازه باسـواده شـوی وه د کـوم کـار موندلـو دپـاره د کـابل ښار تـه راغـی د قوميـت پـه اسـاس يـې د تـره کـي ورونو فـاميل تـه (قدير تـره کـی، زمـان تـره کی، شريف تـره کـی او نـور) مراجعـه وکـړه، ځکـه دغـه فـاميل پـه دغـه زمانـه کـې حکومتـي حساسـې څوکـی درلـودې ګونـدې وې چـې ده تـه هـم يـو کـار پيـدا کـړي. محمـد زمـان تـره کـي چـې يـو تعليـم يافتـه شـخص او د تجـارت پـه وزارت کـې د اقتصـاد د مياشـتني مجلـې مديـر و، نـور محمـد يـې تـر خپـل لاس لاندې د مجلې د تصحيح په څانګه کـې د فخـري کـار پـه تـوګه تعيـن کـړ، چې بيا پس لـه څه مـودې رسـمي مقـرر شـو. ځکـه پـه هغـه زمانـه کـې د تعليـم يافتـه اشـخاصو کمـی و او هـر څوك چـي لـږ او ډېر پـه ليـك او لوسـت پوهـېدل، دغـه شـان مقـرر ېدل او وروسـته د خپلـو تجربـو پـه رڼا کـې لـوړو مقامـاتو تـه رسـېدل. نـور محمـد هـم پـه

دغه شان د سر مصحي تر لاس لاندې د مجلې په شعبه کې مقرر شو.

محمد زمان خان تره کی په خپله هم په ورځ کې یو یا دوه ځله مطبعې ته راته او د مجلې د چاپ چارې ېې کنټرولولې. ما هم (ددغه اثر لیکونکي) په دولتي مطبعه کې د مرتب (حروف چین) په حیث کار کاوه. په دغه ځای کې د نور محمد سره اشنا شوم. دغه زمانه ۱۳۱۶ شمسي کال و، نور محمد په دغه وخت کې د تره کي تخلص په خپل نامه ور زیات کړ.

څه موده پس نور محمد ترهکي د خپل فامیل د لیدو په منظور خپل کلي غزني ته لاړ او بېرته د کابل ښار ته رانغی بیا معلومه شوه چې نوموړی قندهار ته تللی او هلته یې د عبدالخالق خان چې مشهور سرمایه دار و، په شرکت کې ځانته کار موندلی و. بیا پس ته نور محمد تره کی د شرکت په نماینده ګی کې چې د هندوستان د بمبی په ښار کې و، مقرر شو او هلته ې په کار پیل وکړ. نور محمد ترکی چې یو فعال او متجسس شخص و، د انګلیسې ژبې زده کړې ته په جدي طور متوجه شو او هغه ژبه یې څه نا څه زده کړه. د مطالعو په واسطه یې خپلو معلوماتو ته وده ورکړه، چې د شرکت یو فعاله او تجربه کار غړی وپېژندل شو.

څرنګه چې نور محمد ترهکي خپله پوهه او لیاقت د شرکت په چارو کې سرمایه دارانو ته ثابته کړه، د حاجي عبدالخاق خان په معرفی په کال ۱۹۴۴ او ۱۹۴۵ عیسوي کې د پطرولو د توزیع د لوی مدیر په حیث په کابل کې مقرر شو. په هغه وخت کې د پطرولو شرکت، د قند شرکت د موټرو د انحصار شرکت، بانک ملي او نور د لویو سرمایه دارانو لکه

عبدالمجيد خان زابلي، حاجي عبدالخالق خان قندهاري، دوست محمد ايماق او نورو سرمايه دارانو په واك اختيار كې و. البته دولت هم په كې سهم درلود.

په دغه وخت كې د جهاني دوهم عمومي جنګ له عمله په افغانستان كې د پطرولو لړوالی (كمښت) و، چې يوازې دولتي ضروري كارونو دپاره پطرول د كوپون په اساس توزيع كېدل، چې په هغه وخت كې د جعلي او ساخته ګي كوپونو په ذريعه په ډېر اندازه پطرول د افغانستان د ټولو ولاياتو د ټانكونو نه ويستل شوي و اګرچه د پطرولو اصلي قيمت كې څه ضرر شركت ته متوجه نه و، خو هغه پطرول چې لازم وه په عاجل او ضروري دولتي كارونو كې مصرف شوي واى، په تور بازار كې يو ګيلن تر يو سل او شل افغانۍ هم چاته ميسر نه و، چې په لكونو روپۍ تري جوړېدې، د پطرولو اصلي قيمت د شركت له خوا فقط شپږ افغانۍ تعين شوى و.

ددې قضيې د څرګندوالي په خاطر د دولت له خوا يو باصلاحيته هئيت وټاكل شو، ترڅو ددغو جعلي كوپونو مجرمين معلوم كړي. په نتيجه كښې ثابته شوه، چې دغه جعلي كوپونه د شركت يانې د پطرولو د عمومي مديريت د مامورينو له خوا اجرا شوي، چې په جعلي كوپونو كې د عمومي مدير يانې د نور محمد تره كي لاسليك هم موجود دى، ځكه د عمومي مدير لاسليك د اعتبار وړ و، چې خپله تره كي هم د خپلې امضا (لاسليك) تصديق وكړ، خو وې ويل چې ما نه دي امضاء كړي. په نتيجه كې ساخته كار مامورين مجرمين وګڼل شول، بنديان او جريمه شول، خو نور محمد تره كي مجرم ونه ګڼل شو مګر د مدريريت له څوكۍ نه برطرف

شو او بيا يې د لنډې مودې له پاره د عبدالمجيد زابلي په شخصي تجارتخانه کې کار کاوه، ترڅو چې د زابلي په کوشش او معرفي کوم وخت چې محمد کبير لودين د فواېد عامې د وزارت وزير و، په کال ۱۹۴۶ عيسوي کې يو قرارداد د مورسن کنودسن امريکايي کمپنۍ سره لاسليك شو، چې د قندهار سپين بولدك د سرك جوړول د کجکي او ارغنداب د بندونو د هير مند د ناوې ساختماني چارو کارونه پکې شامل وو د دغې کمپنۍ د کارونو دپاره د فواېد عامې په وزارت کې يوه نوې څانګه د لوی مديريت په درجه تشکيل او منظور شوه، چې نور محمد تره کی ددغې څانګې د لوی مدير په حيث مقرر شو.

کوم وخت چې نور محمد تره کی د پطرولو د توزيع لوی مدير و، د سردار محمد هاشم خان د مطلقه او مستبده توره دوره وه، خو له هغې زمانې نه چې د نادري فاميل د افغانستان واګې اخيستې تر دغه وخته هاشم خان با قدرته واکمن صدر اعظم و، چې په ډېره ظالمانه او وحشت ناکه توګه يې د افغانستان په خلکو حکومت کاوه. دغه ظالم او مستبد انسان کله په يوه پلمه او بهانه او کله په بله بهانه او تورونو عام مظلوم او بې وزله خلك ځورول کله به يې د کټواز د سليمان خپلو قوم د باغي او ياغي توب په پلمه د هغوی د ځپلو او ټکولو په خاطر د منظمو عسکري سوقياتو په ذريعه په ډېره بې رحمانه او وحشيانه صورت اقدام کاوه، هغه لاځه په دې غرض چې د افغانستان د قومونو او قباېلو په منځ کې دښمني او بې اتفاقي ايجاد کړي د يوې سيمې د قومونو خلك به ې د بل قوم د ټکولو په غرض استعمالول او په دې لار کې

هغه خائنو آجنټانو ورسره همکاري کوله. خلك به يې د رضا کارو داوطلبو په نامه راټولول او جنګ ته به يې لېږل.

د کټواز په جنګ کې جنرال محمد حسين خان د ببرك کارمل پلار چې په دغه وخت کې د اردو د منصبدارانو د عالي کورس با اعتباره باصلاحيته قوماندان و د عسکري منصبدارانو نه کوم چې په عالي کورس کې د زده کړې په مقصد شامل شوي وو، يوه منظمه داوطلبه مغرزه تشکيله کړه او د کټواز د بې وزلو او بې ګناه خلکو د ټکولو او ځپلو په خاطر يې ولېږله.

همدارنګه د کنړونو تاريخي وحشيانه او جابرانه خونړي مظالم د سردار محمد هاشم خان او د هغه د ظالمو ورېرونو سردار داود او سردار نعيم د کارنامو په نوم يادېږي، چې په هغه کې هم قومي رضاکاران سيمې ته د بې وزلو خلکو د ټکولو په خاطر لېږل شوي وو.

سربېره په داسې وحشت ناکو ظلمونو او بې عدالتيو د افغانستان اکثراً منورين او په اصطلاح د نوم او نشان خاوندان بې له کومې ګناه او جرم نه د خپل عمر ډېره برخه يې په کلونو کلونو د مستبد هاشم خان په زندانونو کې تېرولې. په زرګونو خلك د دهمزنګ په بدنام زندان کې بې له دې چې د حبس په ټوله موده کې يو ځل هم د محکمې او عدالت مخ ووينې، پراته وو.

په هر حال څرنګه چې ظلم او بې عدالتي او بې حده تعدي او وحشت د افغانستان د خلکو مرۍ خفه کوله او هرځه تر حده تېر شوي وو، چې دربار او سلطنت يې هم په وېره کې ډوب کړی وو او وېره کېده چې آخر به د ولسونو د صبر کاسه

ډکه شي، عمومي قيام او پاڅون به د سلطنت په ضد پيل شي، نو سلطنت د خپلې بقا او دوام په خاطر يوه بله لوبه شروع کړه او هغه دا چې ظاهر شاه خپل تره سردار محمد هاشم خان صدراعظم ته يو څو با امتيازه مډالونه د هغه د خدماتو په بدل کې ورکړل او د هغه د اوږدو کلونو ښه خدمات يې چې هغه د افغانستان دپاره کړي د راډيو او جراېدو په ذريعه وستايل او بيا يې په خواشيني سره داسې اعلان وکړ، چې گواکې د پادشاه محترم تره د افغانستان د خلکو په خدمت کې خپل گران صحت له لاسه ورکړ او نور نو خپلې وظيفې ته دوام نه شي ورکولی او د صدارت له مقام نه گوښه شو. بادشاه د ۱۳۲۶ شمسي کال په نيمايي که يو بل خپل تره سردار شاه محمود خان د صدارت په مقام وټاکه. د هغه په نامه يې فرمان وليکه، چې خپله کابينه او تگ لاره وټاکي او د پادشاه حضور ته يې وړاندې کړي.

شاه محمود خان په دې اميد چې گوندې وکړلی شي د خلکو نفرت (کرکه) او انزجار چې د محمد هاشم خان د ظالمانه او جابرانه اوامرو په سبب چې د خلکو په منځ کې پيدا شوي وو او سلطنت يې هم په وېره کې اچولی و يوه اندازه تسکين کړي او د خلکو ذهنيت د سلطنت په نفع راوګرځوي، نو په يو لړ نمائشي ښو کارونو يې شروع وکړه. اول يې سياسي بنديان، چې په کلونو کلونو د زجر او شکنجې لاندې د زندانونو په تورو تيارو او نم ناکه سلولونو کې پراته وو، د زندانو څخه خوشې کړل. زولاتې (اتګرې) يې ورماتې کړې او د تل دپاره يې زولاته کول منع کړل. خلکو ته يې د دموکراسي او عدالت او د دولت په کارونو کې يې د خلکو ګډون د ازادو

انتخاباتو وعدې ورکړې او هم وعده یې وکړه، چې د قانون په رنا کې ازاد مطبوعاتو او نشریاتو ته اجازه ورکړي، چې هر څوك به په آزادانه توګه نشریات کولی شي او په ځان یې د دموکراسۍ د پلار نوم کښبنود.

د ۱۳۲۹ کال د جدي په میاشت کې چې د کال ۱۹۵۱ د جنوري د میاشتې سره سمون خوري، د مطبوعاتو قانون د توشیع خبر په مطبوعاتو کې خپور او نشر شو، مګر مخکې له دې هغه وخت نه په کال ۱۳۲۶ شمسي ۱۹۴۷ میلادي کې د ویښ زلمیانو نهضت په قندهار کې تاسیس او زر یې یوه کمیټه د کابل په ښار کې هم جوړه شوه. د کابل د ښار او نورو ښارونو منورین او روشن فکران، چې په کابل کې یې استوګنه درلوده، پکې ګډون وکړ، چې نور محمد تره کي په دغه کمیټه کې ګډون درلود. په دغه وخت کې سیاسي فعالیتونه د منورینو او روشن فکرانو په منځ کې وده کوله هر څوك د خپلې مفکورې په اساس یو بل سره یوځای شول ډلې ټپلې یې جوړې کړې هرې ډلې د خپلو مرامونو د مختګ دپاره آزاد جراید تاسیس کړل او په خپلو نشریاتو یې پیل وکړ، چې بیا د هرې ډلې د خپرونو او نشریاتو نه د هغوی د مرام او اهدافو (تګلاره) ښه څرګندېده، چې څه غواړي. له دغه جملې نه د وطن په نوم اخبار د میر غلام محمد غبار په امتیاز چې مسول مدیر یې میر محمد صدیق فرهنګ و، د ندای خلق اخبار ډاکټر عبدالرحمن محمودي، په امتیاز د انګار اخبار د قندهاري فیض محمد انګار په امتیاز، چې مسول مدیر ې هم خپله انګار و د ولس اخبار چې د امتیاز خاوند یې ګلپاچا الفت او مسول مدیر یې علي محمد شینواری و، ددغو

اخباراتو د امتیاز خاوندان غیر له فیض محمد انګار نه نورو ټولو پارلماني مسونیت درلود یاني د ولس جرګې غړي وو. فیض محمد انګار د اقتصاد په وزارت کې تجارتي عمومي مدیر و، نور محمد تره کی د ولس او انګار له اخبارونو سره قلمي روابط او همکاري درلوده. په دغه زمانه کې نور محمد تره کي په مطبوعاتو کې کار کاوه، د انګار او ولس اخباراتو د ویښ زلمیانو په نهضت پورې اړه درلوده، د ندای خلق د اخبار مضامین چپ رنګ درلود، د ولس او نورو یوه شاهي مشروطه نظام خوښ وه، خو د انګار اخبار چې زر هم مصادره شو د یوه جمهوري بورژوازي نظام دپاره مبارزه کوله. خپله فیض محمد انګار د ویښ زلمیانو د نهضت یو فعال غړی و. میر محمد صدیق فرهنګ او ببرك کارمل د میر غلام محمد غبار هم فکر او هم عقیده و. ولې میر محمد صدیق فرهنګ چې د وطن د اخبار مسول مدیر هم و، خپل افکار او مضامین یې د وطن په اخبار کې نشرول. همدارنګه د ببرك کارمل او میر محمد صدیق فرهنګ د فکري او عقیدوي یووالي په هغه زمانه کې کله چې شورویانو ببرك کارمل د افغانستان د جمهور رئیس په څوکۍ وټومبه، چې د صدارت چاري یې هم اجرا کولې، ببرك کارمل وکړای شول، چې شورویان قانع کړي، چې باید میر محمد صدیق فرهنګ د صدارت د مشاورتي معاون په حیث وټاکي، تر څو د شورویانو اهدافو ته د ډېر ښه او لاړم شرایط مساعد شي. میر محمد صدیق فرهنګ په دغه مهم پوست کې مقرر او په کار یې پیل وکړ.

څرنګه چې پخوا هم لیکل شوي دي. د سردار محمد هاشم د زمامداری اتلس کلنه توره دوره، چې د افغانستان په تاریخ

کې یوه ویني زیښنونکې مستبده دوره وه، سره له دې هم هاشم خان غوښتل، چې د افغانستان آینده زمامداري او واکداري د خپل فامیل د اشخاصو په خپل لاس تربیه کړي، نو ددغه مطلب دپاره بې خپل سکني ورپرونه سردار محمد داود او سردار محمد نعیم په نظر کې ونیول، چې د خپل د قدرت د اولو وختو څخه یې سردار داود د عسکري او نظامي او سردار محمد نعیم یې په ملکي حساسو څوکیو کې مقرر کړ یانې سردار محمد نعیم د صدارت د معاون او د معارف د وزیر په توګه تعین کړ، چې له یوې خوا د ملکي چارو اداره په لاس کې واخلي او له بلې خوا د معارف محصلان او تعلیم یافته ګان، چې د مملکت آینده چارې اداره کوي په نظر کې ولري او د خپلې خوښې او خپل نظر خاوندانو ته د عالي زده کړې چانس ورکړي او پس له فراغته د مملکت ملکي خاصې څوکۍ اشغال کړي. د استخباراتو مستبده ظالمه او بدنامه ریاست به هم سردار محمد نعیم اداره کاوه او مخبرینو جاسوسانو په ذریعه یې د افغانستان خلک داسې په تنګ کړل، چې د جاسوسانو له ډار څخه به چا په اصطلاح د دیوال سره هم آزادې خبرې نشوای کولې او که داسې کوم انسان چېرته پیدا شو ډېر زر به د هغه راپور سردار صاحب ته رسېده او هاشم خان به هم پرې خبرېده، بیا به نو د هغه کم بخت انسان ځای د سیاسنګ په داشونو کې د هغه په هډونو خښتې پخېدې او یا به د دهمزنګ په زندان کې د عمر ترپایه پروت و.

سردار محمد داود یې د عسکري چارو دپاره موظف کړ، ترڅو د اوردو ټولې چارې هم زده کړي او هم یې اداره کړي د اوردو راتلونکي جنرالان په خپل نظر تربیه کړي او د خلکو د

خپلو په چارو کې چې دوی ورته اعتشاش کوونکي ویل عام او تام اختیار اوصلاحیت درلود، نو ځکه یې د قندهار د زمینداور د خلکو په خپلو کې کوم وخت چې داود خان د قندهار عسکري قوماندان او نایب الحکومه و، مستبدانه او ظالمانه عمل وکړ. قصه داسې وه: غلام حیدر عدالت چې په قوم محمدزی او د سردار داود سره یې نزدې تعلقات درلودل، په قندهار کې د معارف عمومي مدیر و. د زمینداور ولسوالۍ ته په دې غرض چې د معارف دپاره د هغې ولسوالۍ هلکان چې سن (عمر) یې د متعلمۍ وړ و راټولول د دوه دري نورو فاسقو ملګرو سره د یوه هیئت په نامه تللي وو. هلکان یې د معارف دپاره خوښول او کوم یو ډېر پی مخی هلك به یې چې خوښ و، نامشروع عمل دپاره خپلې کوټې ته رابالله. دغې رویې دولس په خلکو چې ټول پښتانه وو ډېره بده اغېزه وکړه. یوه ورځ یو څو د کلي ځوانان هلکان سره جمع شول، د کلي نه لرې یې په دشته کې د هیئت مخه ونیوله ټول هیئت یې د موټر نه راکوز کړ او ډېر شرمناك عمل یې د ټول هئیت د غلام حیدر مدیر په شمول سره وکړ او ډېر یې وشرمول. کله چې غلام حیدر پشت رود لوی ولسوال ته ورسید، نو نائب الحکومه سردار داود ته یې داسې راپور ورکړ، چې د زیمنداور د ولسوالۍ خلك باغیان شوي، معارف نه منې او ټول هیئت یې داسې وهلی ټکولی، چې حال مو ډېر خراب دی او دا لاځه چې د ولسوالۍ او لویې ولسوالۍ د چپاول په مقصد سره جمع شوي دي. په دغه وخت کې رښتیا هم ټول ولس راټول شوی وو، چې د عرض و داد په مقصد لوی ولسوالۍ ته لاړ شي او هلته خپل داد او فریاد وکړي او ددغه

ظلمانو افعال او اعمال حکومتي مراجعو ته ورسوي، ترڅود نورو خلکو سره دا ظالمانه حرکات ونشي، خو له بده مرغه په دغه وخت کې سردار محمد داود بې له دې چې تحقیق وکړي او اصلي حقایق ځانته معلوم کړي، عسکري طیارو ته یې امر وکړ، چې د زمینداور د ولسوالۍ په لور پرواز وکړي، که چېرې بغاوت موجود وي د هغوی د دفعې لپاره اقدام وکړي. هر کله چې طیاري د زیمنداور ولسوالۍ ته ورسېدې او خلك یې ولیدل، چې د لویې ولسوالۍ په خوا روان دي سردار داود ته یې راپور ورکړ. سردار محمد داود د بمبارۍ حکم صادر کړ. کله چې طیارو په دغو ناخبره او بې ګناه خلکو باندې بمباري شروع کړه، چې د هغو بمباریو په اثر د یو زرو او پنځه سوو په شاوخوا کې د خلکو مړي په ځمکه پرېوتل او ورپسې پیاده عسکري قطعات د موټرو په ذریعه راورسېدل او نور ډېر خلك دوی قتل عام کړل. یو ډېر شمېر یې په موټرو کې بندیان قندهار ته ولېږل او کورونه یې چور چپاول کړل پس له ډېرې مودې چې سردار صاحب په خپلې اشتباه پوه شو، یوازې د معارف مدیر یې کابل ته تبدیل کړ او ددغې قضیې زندانیان یې شرعي محکمې ته محول کړل، ترڅو جبراً شرعي توبه نامې ورکړي، چې نور د حکومت پرمخ بغاوت نه کوي یانې په زور یې هغه بې ګناه خلك چې ډېرې مودې یې په زندانو کې تېرې کړې وې، چې په بغاوت باندې اعتراف وکړي، هغه عمل چې دوی هېڅ نه و کړی.

ځینو نورو ددغې قضیې بندیانو چې شرعي توبه نامې ته حاضر نه شول، خپل ځانونه هې بې ګناه بلل د کومې ګناه په کولو بندیان شوي کورونه او مالونه یې تاراج شوي بې پته او

ډېر ځورولی شوي دي. ددې پر ځای چې د هغو غورسي وشي برسېره پردې توبه نامه هم ورکړې دغه عمل بې خپل پښتنې ننګ او غېرت ته ډېر تېری وبالله او د توبه نامې د ورکولو نه يې انکار وکړ. هغه خلك بې د کابل د ښار د دهمزنګ جېل خانې ته واستول، چې هلته کلونه په بند کې پراته و او د خپل عمر ډېرې خوښې شپې ورځې يې د ظالم سردارانو په بندي خانه کې تېرې کړې او بيا کلونه پس چې شاه محمود صدراعظم شو د نورو سياسي بنديانو سره يوځای خوشې شول او ځينو په بند کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و او شاه محمود خان ددغسې بنديانو په خوشې کولو افتخار هم کاوه.

همدا شان سردار محمد داود، چې شخصاً د کنړونو د بې ګناه خلکو په ټکولو کې سر قوماندانې په لاس کې واخيسته، د جلال اباد په ښار کې يې مرکز ونيوه او ډېرې بې رحمانه بمباري يې په بې ګناه خلکو وکړې. ډېر يې مړه کړل کورونه يې وران کړل، د خلکو مال هستي يې لوټ کړه، څوك چې ژوندي پاتې شول د بال بچ سره بې اول په بندي خانو کې واچول او بيا يې د خپل وطن نورو ولايتونو ته فرار کړل او هلته هم د حکومت د ظالمو مامورينو تر مراقبت او څارنې لاندې په ډېرو خرابو شرايطو کې يې ژوند کاوه. سردار داود د ډېرو بې ګناه خلکو ژوند ته خاتمه ورکړه، هېڅ څوك نه و او هېڅ وزير يا د شورا وکيل دا جرات نه درلود، چې دې ظالم مستبد نه پوښتنه وکړي، چې څله دومره ډېر زور او زياتی د مظلومو خلکو سره کېږي؟ دا رنګه ظلمونه او بې عدالتی او ناوړه تېري د خلکو په حقوقو د سردار داود له خوا په ډېر څله

شوي دي، خو سردار محمد هاشم صدر اعظم هغه د افغانستان د خلکو "تور چشم" بللو او افتخار يې پرې کولو.

په هر صورت کله چې سردار شاه محمود صدراعظم شو، نو د خپلې کورنۍ د بقا له پاره په دې مقصد که وکولی شي د خلکو ذهنیت ته تغیر او تسکین ورکړي د ولسي جرګې په یوه اندازه آزادانه انتخاباتو پې لاس پورې کړ. د مطبوعاتو نوی قانون یې د شورا نه پاس کړ او د شاه په توشیح یې ورساوه. د ډېرې آزادۍ او دموکراسۍ یې خلکو ته وعدې ورکړې او د مملکت د اقتصادي ښې ګټې په منظور یې امریکا او نورو ملکونو ته سفرونه وکړل او ځینې پروتوکولونه پې امضاء کړل. سردار محمد داود او سردار محمد نعیم یې د خلکو د نظر نه لرې کړل په بهرني هېوادونو کې یې سفیران کړل، خو لږه موده پس د کورنۍ او بهرني فشارونو په وجه سردار داود واپس وطن ته راغی او د شاه محمود صدراعظم په کابینه کې د داخله او دفاع وزارتونو چارې یې په لاس کې واخیستې. په کار یې پیل وکړ او شخصي مخالفت یې په پته د شاه محمود صدراعظم په ضد شروع کړ. البته دا مفکوره او مخالفت یې وغوښتل، چې د اجتماعي ګروپو د لارې چې نوي د تشکل په درشل کې وو، پرمخ بوزي. سردار داود وکولی شول چې د ویښ زلمیانو په نهضت کې چې پخوا لا په قندهار کې منځ ته راغلي او په کابل کې هم نیمه علني تشکیلات درلودل، یو څو ملګري او دوستان لکه محمد ارسلان سلیمي، صدیق الله، ګل پاچا الفت، غلام حسن صافی و سید شمس الدین مجروح، عبدالروف بېنوا، قیام الدین خادم، عبدالحی حبیبي او نور

ځانته نزدې کړل، چې د دوی په وسیله خپل اهداف مخ کې بوزي.

او په بله خوا کې عبدالمجید زابلی، چې د افغانستان یو بَا قدرته سرمایه دار او په حقیقت کې د ویښ زلمیانو نهضت د هغه د قدرت او سرمایې په زور منځ ته راغلی و، اکثراً د معارف او فاکولتو محصلین د هغه طرفداران وو. نومورې یو بورژوازي جمهوریت د غربي سرمایه داری په اساس غوښتو. د ویښ زلمیانو د نهضت نه یې د څو پیاوړو ملګرو په ملګرتیا د خپلو پښتو په زور او د خپل رسمي ماموریت او پېژندګلوی په مرسته څکه په دغه وختو کې عبدالمجید زابلی هم په حکومت کې د صدارت معاون او د یوه ګروپ رئیس و، چې د بل ګروپ رئیس یې سردار محمد داود و.

د سردار داود او عبدالمجید زابلي ترمنځ رقابتونه شروع شول. د ویښ زلمیانو د برجسته غړو نه فیض محمد انګیار، نور محمد تره کی، اقا محمد کرزی، عبدالهادي قندهاری، عبدالرسول پښتون، عبدالرزاق فراهي، غلام حسن صافی په برالاصورت کې د سردار داود په ګروپ کې و، خو په پټه کې یې د زابلي سره هم سر خوزاوه. نور ډېر اعضاء هر یو د خپلې عقیدې په اساس د ویښ زلمیانو په نهضت کې داخلېدل. د افغانستان منورینو وطن پرستانو او ترقي غوښتونکیو ته د پېښرفت او سوکالۍ یوه ښه موقع او زمینه په لاس راغلې وه.

خو له بده مرغه په دغه وخت کې سلطنت غوښتونکو او د هغو لاس په نامه نوکرانو او په خپله سلطنتي کورنۍ لاسونه سره ورکړل، پلمې او دسیسې یې زابلي ته جوړې کړې او د اوومې دورې د شورا د غړیو په زور یې عبدالمجید زابلی د

خپلو تېرو کارونو د حساب ورکولو او نورو پوښتنو په غرض شورا ته احضار کړ. بالاخره عبدالمجید زابلي د ډېرو انعامونو ورکولو په زور له شورا نه اجازه حاصله کړه، ترڅو د خپل صحت د تداوی په بهانه اروپا او بیا امریکا ته لاړ شي. په افغانستان کې میدان سردار داود ته پاتې شو، چې بیا سردار داود د صدارت مقام هم ترلاسه کړ. کله چې سردار داود د صدارت څوکۍ ترلاسه کړه، نو د حزب او حزب بازۍ نوم قدري هم چانه شو اخیستی. سردار داود د ویښ زلمیانو هغه جذب شوی خپل طرفداران په دولتي څوکیو مقرر کړل او نور یې چې د عبدالمجید زابلي د (عقیدې) خاوندان و، لکه فیض محمد انګار، عبدالهادي قندهاری او نور په سلګونو انسانان د جېلونو تورو تمبو تر شا وغورزول. د څو کلونو دپاره هې په جبل کې وساتل.

کله چې د شورا د اتمې دورې دپاره انتخابات شروع شول، د سردار محمد داود طرفدارانو د شاه محمود خان صدراعظم په ضد هې مظاهرو ته شدت ورکړ، ځکه د سردار داود ملګرو د معارف د محصلینو په ذریعه د کابل په ښار کې مظاهرې په لار واچولې. د ۱۳۳۱ د حمل په ۳۱ نېټه چې د انتخاباتو ورځ وه، په مظاهرو کې د مظاهرې فعالینواو نطاقانو مظاهره حتی د ارګ دروازې ته نژدې ورسوله. ببرک کارمل چې د مظاهرې د نطاقانو په شمار کې و، د تفنګچې هوایي ډزې یې اجرا کړې او په دې ترتیب چه دولت ته ښه بهانه مهیا شوه، په نتیجه کې ډېر اشخاص د ماجرا جویانو تر عنوان لاندې ډېر روشن فکران او منورین بندیان شول. لکه میر غلام محمد غبار، میر محمد صدیق فرهنګ، ډاکټر عبدالرحمن محمودي او نور. اخر څو

ورځې پس ببرك هم جبل ته لاړ. ببرك د مظاهرې په سر کې د مظاهرې رهبري کوونکی ویاند و، خو له نورو نه وروسته بندي خانې ته لاړ او بیا پس د نورو په پرتله زر خوشې شو، خو نورو ډېر کلونه په جبل کې تېر کړل، حتی ځینو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

فیض محمد انګار، عبدالهادي قندهاري او نور ډېرو د ویښ زلمیانو اعضاء چې د عبدالمجید زابلي د نظریاتو طرفداران وو، ډېر وخت په زندان کې پاتې شول او یو څو نور د معارف شاګردان او محصلین چې د جمهوري نظام غوښتونکي او د زابلي نظریات یې تعقیبول او تاپېدول د استخباراتي تعقیب لاندې نیول شوي وو. لکه محمد حسن کاکړ، چې هغه وخت کې د معارف یو لاپق شاګرد و، چې پس له فراغته چې په عالي درجه د مکتب څخه فارغ شوی او د عالي تحصیل دپاره خارج ته معرفي او لېږل کېدل، فقط په همدې علت د عالي زده کړې دپاره خارج ته ونه لېږل شو او د تحصیل چانس تري واخستل شو. نور محمد تره کی چې د شاه محمود خان د صدارت په موده کې د مطبوعاتي اتشې په وظیفه د افغانستان سفارت په امریکا کې مقرر شوی و، د وظیفې نه برطرف او بېرته کابل ته راوغوښتل شو. نور محمد تره کی پوهېده، چې سردار داود به نور په دغه وظیفه کې له ده سره موافقه ونه کړي، نو سملاسي یې یو مطبوعاتي کنفرانس په واشنګټن کې جوړ کړ. په افغانستان کې یې د حکومت نوی تغیر د سلطنتي کورنۍ او داود چې د هغې کورنۍ یو فعال غړی و، افشا کړ او دغه افشا ګري د دنیا په ټولو معتبرو انتشاراتو کې په نشر ورسېدله. نور محمد تره

کې ژورنالېستانو ته وویل کلونه کلونه کېږي، چې په افغانستان باندې یو مستبد فامیل حکم روایي کوي. ډېره موده د پادشاه یو تره حکومت کاوه او بیا د بادشاه بل تره د حکومتي چارې په لاس کې وې او اوس د بادشاه د تره زوی او د بادشاه د خور مېړه د حکومت واګې په لاس کې واخیستې کوم نوي تحول په نظر کې نشته. افغان ملت هماغسې د یوې کورنۍ د قیادت لاندې د زجر او بې عدالتۍ شپې ورځې تېروي. طبعاً نور محمد تره کې چې د خپلې وظیفې نه برطرفه شوی و، باید بېرته هېواد ته راغلی وای، مګر په افغانستان کې داسې افواهات شایع شول، چې ګواکې نور محمد تره کې د امریکې له دولت نه سیاسي پناه غوښتې ده او افغانستان ته نه راځي اما تره کې بېرته وطن ته د راتګ په لار کې د پاکستان د کراچۍ ښار ته، چې د پاکستان د مملکت پای تخت و، ورسېده. په دغه وخت کې عبدالروف بېنوا چې پخوا د ویښ زلمیانو یو فعال غړی او د سردار داود د طرفدارانو څخه و او اوس اوس په هندوستان کې د افغانستان مطبوعاتي اتشه و، نور محمد تره کې او بېنوا چې دواړه د ویښ زلمیانو غړي و او دواړو سره شخصي ملګرتیا هم درلوده، تره کې کراچۍ ته د خپل راتګ بېنوا ته ولیکل او ورسره یې د خپل بازګشت افغانستان ته له هغه نه مشوره غوښتې وه او هم ې د بېنوا نه دا هیله درلوده، چې خپل نفوذ نه کار واخلي، ځکه بېنوا د سردار داود سره ښې دوستانه اړیکې درلودې باید زمینه داسې مهیا کړي، چې د بازګشت په صورت کې تره کې ته سردار څه ونه وایي او تکلیف ورنکړي. په عین زمان کې د دولت په مطبوعاتي حلقو کې داسې آوازې خپرې شوې، چې

ګواکې نور محمد تره کې د پاکستان دولت نه سیاسي پناه غوښتې ده، څکه د همدې مطلب دپاره پاکستان ته راغلی دی. په دغه وخت کې د پاکستان او افغانستان حکومتونو په منځ کې اختلافات ډېر شدید شوي وو. سردار محمد داود په دې وېره کې و که چېرې نور محمد تره کی سیاسي پناهنده شي، د پاکستان حکومت به د نومورې نه د افغانستان د حکومت په ضد ناوړې استفاده وکړي او حکومت ته به سردردي پیدا کړي.

عبدالروف بېنوا چې حالاتو نه ښه خبر وو، د وخت نه یې استفاده وکړه او د تره کي لیکلی لیك یې چې دده په نامه لیکلی و، جنساً د خپل لیك په ضمیمه یې د سردار داود په عنوان او بیا یې دغه دواړه لیکونه په سر خلاصه لفافه کې غلام حسن صافي ته، چې هغه هم د ویښ زلمیانو یو فعال غړی و او د سردار داود د ګروپ سره همکار و، ولېږه. په دغه وخت کې غلام حسن صافی په کابل کې و، څکه کله چې سردار داود د صدارت واك ترلاسه کړ، غلام حسن صافی، چې په پېښور کې افغاني قونسل و، د یو ښه کار په خاطر یې کابل ته راغوښتی و. د بلخ د شرکت په نمایندګۍ کې چې په شرکت کې سهمدار هم و، موقتاً د نمایندګۍ په حیث کار کاوه دواړه لیکونه غلام حسن صافي ته راورسېدل، ترڅو هغه لیکونه د سردار داود حضور ته وړاندې کړي او د نور محمد تره کي سفارش هم وکړي. ما هم ددې اثر لیکونکی (عطاء محمد شېرزي) د محاسب مدیر په حیث په دغه نمایندګۍ کې کار کولو. غلام حسن صافي دا دواړه لیکونه ماته راوښودل، چې ما هم دغه دواړه لیکونه مطالعه کړل. بیا نو

غلام حسن صافي هغه ليکونه د سردار داود حضور ته وړاندې کړل او له سردار صاحب نه يې وغوښتل، چې تره کي ته د هغه وطن ته د ښېرته راتګ په وخت کې څه تکليف ونه رسېږي. سردار محمد داود د وخت د شرايطو د تقاضاء سره سم د عبدالروف ښېنوا او غلام حسن صافي سفارش منظور او وعده يې وکړه، چې د عبدالروف ښېنوا د ليک لاندې ليکلي وو(به اثر عذر خواهي دوستان به وی جزا نميدهم) مګر د تره کي ليک يې له ځان سره ساتلی و. دغه ټول جريانات غلام حسن صافي ماته وويل. غلام حسن صافی د سردار داود امر چې د ښېنوا په کاغذ کې يې ليکلي و، ښېنوا ته ورولېږه او نور محمد تره کي څه موده پس ښېرته وطن ته راغی. (غلام حسن صافی د تره کي د قدرت په وخت کې څه موده بي له کوم جرمه په زندان کې واچول شو او ډېر تکليف يې وليد) نور محمد تره کي چې د شاه محمود خان د صدارت په اواخرو کې د مطبوعاتي آتشې په حيث واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې مقرر شوی و، ځکه د حکومت پاليسي دا وه چې اکثراً منورين او روشن فکران خصوصاً د ويښ زلميانو غړي راضي وساتي. اکثراً يې په ښو کارونو کې تعين کړل لکه عبدالروف ښېنوا د مطبوعاتي اتشې په حيث په هندوستان کې، غلام حسن صافی د افغاني قونسل په حيث په پېښور کې، عبدالرزاق فراهي په پېښور کې د وکيل تجار په حيث، اختر محمد مشهور په علاقدار په پېښور کې د ترانسپورت د عمومي مدير په حيث (د ډاکټر نجيب الله پلار) ګل پاچا الفت د پښتو ټولنې د رئيس په حيث، قيام الدين خادم يې د اصلاح د اخبار د مدير په حيث مقرر کړل او يو رنګ امتياز يې دغو نومورو

او همداشان ځینې نورو ته ورکړل. کله چې نور محمد تره کی ببرته وطن ته راغی، حکومت ورته هېڅ ونه ویل او نه یې کومه رسمي وظیفه ورکړه. بې سرنوشته یې په خپل کور کې چې د ځلورمې کارتې په اوله حصه کې د حجاري او نجاري د فابریکې ترځنګه و، ژوند کاوه. دغه کور د دولت په قرضه آباد شوی و، چې پیسې یې د رهنې او تعمیراتي بانك له خوا ورکړل شوي وې او بیا په قسط د معاش نه ګرځېدې. دارنګه قرضې هم هرچا ته نه ورکول کېدې. دا هم یو رنګ امتیاز و، چې د حکومت له خوا ځینو ته ورکول کېده. په دغه منطقه کې نور محمد تره کي، عبدالروف بېنوا، محمد ارسلان سلیمي، صدیق الله رښتین، ډاکټر عبدالرحمن محمودي او نورو ته ورکړل شوي وې. پس د امریکې د راتګ نه د تره کي اقتصادي وضع چندان ښه نه وه، هغه نه شوای کولای، چې خپل ضروري اجناس برابر کړي په اولو ورځو کې د هغه وړوکی ورور د جان محمد په نامه د خپلو وطنوالو (کلیوالو) سره په باربري لاریو کې د کلینډر په توګه کار کاوه او له همدغې مدرکه یې خپل ژوند روزمره مایحتاج تامینول، ځکه په هغه وخت کې هغوی یو درې کسیزه وړوکی فامیل یانې نور محمد تره کی او د هغه ښځه، جان محمد تره کی ورور، پس له څه مودې نه تره کې د غلام جیلاني خاځي نه چې هغه یو غټ سرمایه دار او لاری لرونکی د ویښ زلمیانو په نهضت کې یې غړیتوب درلود، د همدغې لارې نه ېي د تره کي سره پېژندګلوي درلوده. یو بار وړونکې لاری یې په قسطونو واخیسته د لارویو د قسطونو ترتیب داسې و، چې د لاری د ټول قیمت نه یو څه د نقدي په شکل او نورې د میاشتني

قسطونو په توګه د جانیبینو د موافقې په اساس اجرا کېدې. د لارې د نقدي پیسو د برابرولو دپاره تره کي خپله د عکاسۍ یوه کمره او ځینې نور شیانو د خرڅلاو له درکه، چې تولې پېنځه زره افغانۍ کېدې تهیه کړې او لارې یې واخیسته. جان محمد اول په خپل موټر کې کلینډري کوله بیا په خپله موټروان شو، چې د موټر د عوایدو نه یې د موټر قسط هم ورکاوه او باقي پیسې یې د روزمره ژوند د تامین په خاطر مصرفولې. نور محمد تره کي هم د ډوډۍ د لاسته راوړلو په تلاش کې د کار پیدا کولو په هڅه کې و، یو څه موده یې د کیلم (KML) د طیارې د تکت خرڅولو په دفتر کې چې په کابل کې و، کار کاوه خو کله چې د حکومت د استخبارات مامورین پرې خبر شولو د هغه دفتر نه یې هم وشاړه او بیا هې د ملل متحد په شعباتو کې د عبدالغفور (شرر) په ذریعه چې هغه د ملل متحد په شعبو کې یو باصلاحیته شخص و، د تره کي سره هې د مصحیح توب له وخته چې پخوا هم لیکل شوي دي، اشنایي درلوده.

عبدالغفور خان (شرر) په هغه وخت کې په دولتي مطبعه کې د سرمرتب په حیث کار کولو. تره کی یې د ملل متحد په شعباتو کې مقرر کړ. له دېنه چې د ملل متحد موسسه یوه جهاني موسسه وه، حکومت په دې منظور، چې تره کي په برطرفۍ څان بدنام نه کړي، نو یې د هغه د برطرفۍ هڅه ونه کړه. تره کي وکولی شو، چې یوه ډېره موده هلته کار وکړي. په پای کې د ملل متحد له خوا په عامه کتابخانه کې د ملل متحد د نماینده په حیث وټاکل شو. عامه کتاب خانه په معارف وزارت پوري اړه درلوده، کله چې نور محمد تره کی

هلته موظف شو، هغه د بشر د حقوقو منشور چې په صندوقونو کې محفوظ و، په الماریو کې د خلکو په محضر کې کښېښودل. کتابخانه یې لکه څرنګه چې نوم یې عامه وه، په رښتیا یې عامه کړه، نو ځکه د حکومت حوصله په تنګ راغله او نور محمد تره کی یې د هغه ځایه هم وشړه.

په دې ډول تره کې کله کار درلود کله به بېکاره او بې روزګاره و. تره کې چې د دولتي استخباراتو له خوا تر سخت تعقیب او مراقبت لاندې و، هغه نه شوای کولی، چې د افغانستان کوم بل ښار ته تللی وای او ځان ته یې کوم کار پیدا کړی وای، یو وخت چې تره کی ډېر په تنګ شوی و، مانه یې خواهش وکړ، چې د یوې لنډې مودې دپاره د بامیانو ښار ګوټې ته لاړ شو. کله چې مونږ بامیانو ته ورسېدو او یوه شپه مو چې تېره شوه، ګورو چې د خفیه پولیسو څو کسه راورسېدل او فضا یې راتنګه کړه، ترڅو مجبوراً پس له دوه شپو بېرته د کابل ښار ته راغلو. مخبرانو په ټوله لار کې زمونږ په تعقیب کې راتلل. مونږ داسې فکر کاوه، چې ګواکې مونږ بندیان یو او کله چې ښار ته ورسېږو، نو بندي خانې ته به لاړ شو، خو کله چې د کابل ښار ته راورسېدو، نو خیر خیریت و. مونږ خپلو کورونو ته لاړو. نور محمد تره کی یو څه موده د خپلو مطبوعاتي ملګرو په مرسته د پښتو ژبې د لغاتو ترجمه په انګلیسي ژبه یو اجرتي کار ورته میسر شو، چې په ورځ کې یو دوه ساعته مصروفېده او یو لږ غوندې اجوره ېې اخیسته. په هماغه وخت کې د بلخ د شرکت په نماینده ګی کې چې زه هم هلته د محاسبې امر وم، د انګلیسي ترجمې قرارداد ورسره وشو، چې له هغه درکه یې د میاشتې درې سوه افغانی مزد

اخیسته او بالاخره نور محمد تره کي یوه دارالترجمه د (نور دارالترجمه) په نامه د میوند د جادې په اوله برخه کې پرانیسته، چې د ځینو تاجرانو او د نورو د انګلیسي ژبې ترجمه به یې په اجرت سره کوله. البته دا وخت د ډاکټر یوسف د صدارت زمانه وه.

د سردار محمد داود لس کلنه د صدارت توره دوره چې ډېره د ظلم او استبداد او خود سریو دوره وه، ظلم او ستم د مامورینو بډې اخیستل او د دولت په شتمنیو او خزانو کې اختلاس خپل آخري پړاو ته رسېدلی و. د باز خواست یوه مرجع هم نه وه، مګر له نېکه مرغه په شاهي کورنۍ کې د داود پر ضد یو یو شان پټ ګونګسي روان وو. د مخالفینو په سر کې سردار عبدالولي، چې د شاه سکنی د تره زوی او د شاه زوم هم و (سردار داود د شاه سکنی د تره زوی نه و محمد هاشم او د سردار داود پلار سره سکني و. محمد نادر خان، شاه ولي خان او شاه محمود خان سره سکني ورونه وو) سردار عبدالولي د شاهي په کورنۍ کې یوازینی شخص و، چې د سردار داود او د هغه ظالم او مستبد ورور سردار محمد نعیم سره علني مخالفت کولی شوای. ظاهر شاه هم غوښتل، چې هغه حمایه او تشویق کړي، چې له دې وضعې نه سردار محمد داود ناراض و. ظاهر شاه هم په دې باره کې د سردار محمد داود شکایتونو ته څه اهمیت نه ورکاوه، ترڅو پورې چې سردار داود د خپل ورور او نورو شخصي ملګرو په مشوره د (۱۳۴۱) د سرطان په نهم تاریخ د سلطنت د بقا په خاطر د دولتي اجرااتو او د ښه نظم او ثبات د راوستلو په منظور، چې طبعاً د سلطنت دوام هم پکې مثمر او دخیل دی، یو څو فقره

ییزه او مفصل پیشنهاد یې ترتیب او سلطنتي دارالانشاء ته یې وسپاره. سردار محمد داود غوښتل، چې له قانوني لارې ډېر قدرت ترلاسه کړي یاني ازاد انتخابات دې د احزابو په موجودیت کې وشي او نور د مطبوعاتو آزادي او داسې نور ورته کارونه دې تر اجرا لاندې ونیول شي. سلطنت یې تهدید کړی و، چې نور نو په پخوانۍ شکل حکومت نه شي کېدای. د سردار محمد داود مطلب دا و، چې دی به وکولای شي چې ځانته ګوند جوړ کړي، انتخابات به وګټي او قدرت به ترلاسه کړي، نو بیا خپل رقیبان د سلطنتي کورنۍ دننه او دباندې ټول وټکوي، هرڅه چې کوي واك اختیار به یې خپل وي.

پاچا څه موده وروسته یو لنډ غوندې ځواب ورکړ، خو په هغه ځواب کې دده د خوښې مطالب موجود نه و، نو بل ځل بیا سردار مجبوراً د جدي د میاشتې په ۲۴ تاریخ کال ۱۳۴۱ کې د پاچا د سنبلې د ۱۲ تاریخ کال ۱۳۴۱ په جواب کې دوه هم ډېر اوږده پشنهاد وړاندې کړ.

سردار محمد داود خپل مشرح دلایل ولیکل او په لاندینیو مطالبو یې تاکید کاوه.

۱ـ د نوي اساسي قانون نافذول

۲ـ د احزابو قانون د دوه حزبي په شکل خوده په یوه حزبي باندې تاکید کاوه او طرفدار یې و.

۳ـ د امنیت د ساتلو قانون او تشکیل د یوې باصلاحیته محاکمې چې د قوانینو د تطبیق ساتنه وکړي.

۴ـ د شاهي کورنۍ د اعضاو قانون او د هغو حقوق.

د سردار محمد داود مقصد د شاهي کورنۍ د قانون په باره کې دا و، چې د شاهي کورنۍ د غړیو خپل سري او ډېر

اختیارات چې هر یوه د سلطنتي کورنۍ غړیو ځانته خپل حق او حقوق بلل هرڅه به یې چې کول هېڅ قانون او مرجع د هغو د اعمالو پوښتنه نه شوای کولی. په اول سر کې د سردار عبدالولي د اختیاراتو محدودیت چې دده سره سخت رقیب و، په نظر کې درلود.

سردار محمد داود غوښتل، چې دا ټول خپل مقاصد د قانون په رڼا کې ترلاسه کړي هغه په خپل ځان باور درلود، چې په آینده کې به ګوند جوړ کړي او خپله به د هغه ګوند مشري په لاس کې واخلي. انتخابات به وګټي د دواړو قواو یاني د مقننې قوا او د اجرائیې قوا واک اختیار به یې په خپل لاس کې وي. سردار داود ددې مطلب دپاره لاپخوا یو تعداد پېژندل شوي اشخاص ځانته نزدې کړي وو. ترڅو د هغو په مرسته یو ګوند جوړ کړي، څرنګه چې بیا معلومه شوه، چې د سردار محمد داود د ګوند د جوړولو په غرض د هغه د جمهوریت په وخت کې ببرک کارمل په ۱۳۵۳ کال کې خپل ګوند یاني د پرچم ګوند چې د دموکراتیک خلق د ګوند یوه منشعبه برخه وه، لغوه کړ. ترڅو د سردار داود د غورزنګ ملي ګوند ته د حکومتي قدرت په لاسته راوړلو کې بې رقیبه وي.

په هر صورت د سردار داود ټولو نظریاتو ته د پاچا له خوا کوم مثبت یا منفي ځواب ورنکړی شو او شاه په دې باره کې سکوت اختیار کړ، ځکه پاچا د هغه په نظریاتو پوهېده، چې هغه غواړي د قانون تر سیوري خپله مطلقه دکتاتوري قایمه کړي او ځنې خپل رقیبان او فعالین د شاهي کورنۍ دننه او د نورو دباندې وټکوي. سره ددې پادشاه دا جرات نه درلود، چې سردار داود ته ووایي، چې له دې خپلو ناوړو او شومو

مقاصدو نه لاس واخلي. له خود سره او استبداد نه چې د هغه په خته کې و تېر شي او ظلم استبداد نور د خلکو سره کم کړي، ظالم او رشوت خواره مامورين دې د خلکو له سره ورک کړي.

خو بالاخره خپله محمد ظاهر شاه او دسلطنت نوره کورنۍ په مخفي ډول د سردار داود په ضد يو څه مبارزه شروع کړه، چې په پای کې سردار داود د قهر او غضب د احساساتو په ترڅ کې په کال ۱۳۴۱ د حوت په يوولسمه خپله استعفاء رسماً د شاه حضور ته وړاندې کړه. د استعفا نامې په متن کې د خپلو پخوانيو پېشنهاداتو يادونه په جديت سره کړې وه. هغه لاهم په دې فکر کې و، چې پادشاه به د هغه خواهشاتو ته مثبت ځواب ووايي، ځکه هغه دا فکر هم نه کاوه، چې پادشاه به د هغه استعفا منظوره کړي، بل څوك به نو دده پر ځای منتخب کړي اما له دينه چې نوره د ظاهر شاه حوصله پای ته رسېدلې وه، مجبور شو، چې داسې تصميم ونيسي، چې يوازې سلطنت د ځان دپاره محفوظ وساتي. حکومتي چارې د ملت افرادو ته داسې وسپاري، چې د سلطنت تر مستقيم تاثير لاندې وي، نو د کال (۱۳۴۱) د حوت د مياشتې په ۱۹ تاريخ د محمد داود استعفاء او د ډاکټر محمد يوسف د مقرری د صدارت په څوکۍ کې راديو اعلان کړ. البته د ډاکټر محمد يوسف د صدارت دوره يې يوه انتقالي دوره تعين کړله، چې نوی اساسي قانون ترتيب او تدوين شي. د انتخاباتو قانون او نور لازم قوانين دې منځ ته راشي، د نوي انتخابي شورا له تاسيس نه وروسته حکومت دې د شورا اعتماد ترلاسه کړي ټول حکومتي کارونه دې د نوي اساسي قانون په رڼا کې تر اجرا

لاندې ونيـول شـي. پـه دا رنـګه د ډاکـټر محمـد يوسـف د صـدارت دورې په خپـل کـار پيـل وکـړ. د نـادر د کورنـۍ د قـدرت پـه زمانـه کـې د اول ځل دپـاره حکومتـي چـارې يـو داسـې شـخص تـه وسپارل شـوې، چـې شـاهي کورنـۍ پـورې يـې ارتبـاط نـه درلـود. د حکومـت دې تغـير يـوه انـدازه سـهولت او رښا د دموکراسـۍ پـر لـوري زېرى ورکـاوه. دغـه وخـت کـې د جـامعې منورېـن او روشـن فکـران ورو ورو پـه سياسـي فعـاليتو لاس پـورې کـړ او د اجزابـو (ګوندونـو) د تشـکيل پـه لـټه کـې شـول، چـې نـور محمـد تـره کـى هم يـو لـه دغـه اشخاصو نـه بللـى شـو. هغـه ډېـره هـڅه کولـه، چـې ددغـو مناسـبو شـرايطو نـه اسـتفاده وکـړي. پـه اول کـې تـره کـي د خپلـو پخوانيـو ملـګرو يعنـي د ويـښ زلميـانو اعضـاؤ سـره پـه تمـاس کـې شـو. ولـي د هغـو ځينـو چـې د سـردار داود د صـدارت پـه مـوده کـې د زنـدان پـه تـورو تيـارو کـې او ډېر سـخت مشـکلات او بـدې ورځې ې ليدلـې وې، نـور نـو پـه هـېڅ صـورت حـاضر نـه و، چـې بيـا داسـې خلکـو سـره هـم فکـر او هـم نواشـي او يـو سياسـي ګوند جـوړ کـړي، چـې دوى يکـې زنـدان تـه لاړ شـي او نـور لـوړې دولتـي چوکـۍ ترلاسـه کـړي. د ويـښ زلميـانو يـو څه نـور پـه دې فکـر کـې و، چـې پـه خپلـه ګونـد جـوړ کـړي لکـه غـلام حسـن صـافى، عبدالـروف بېنـوا، ګل پـاچـا الفـت او داسـې نـور نومـورو نـه غوښتـل، چـې د نـور محمـد تـره کـي پـه ابتکـار ګونـد جـوړ کـړي. نـور محمـد تـره کـي خپلـه لار بدلـه کـړه، لـه نـورو سـره يـې چـې پخـوا پـه کـوم سياسـي ډلـو ټپلـو کـې نـه وو او يـا نـوي د تحصيـل د فراغتـه وطـن تـه راغلـى وو او يـا د پوهنتـون محصليـن وو د هغـو لـه جملـې نـه محمـد موسـى شـفيق سـره چـې نـوى د الازهـر او امريکـې نـه فـارغ شـوى وطـن تـه راغلـى و، پـه تمـاس کـې

شو. د یو ګوند د جوړولو په باره کې یې سره صحبتونه کول. همدارنګه یو بل شخص د علي محمد زهما په نامه چې هغه هم نوی له خارج نه اغلباً د لندن نه راغلی و، چې خپل تحصیل ې پای ته رسولی و، تره کې د هغه سره هم د یو سیاسي ګوند د جوړولو په باره کې خبرې اترې شروع کړې. اخر پای دواړو یعنې تره کې او ز هما د یوه سیاسي ګوند د جوړولو په باره کې موافقې ته سره ورسېدل. عملاً یې په دې باره کې په مبارزو سره شروع وکړه.

په عین زمان کې د تره کې او ببرك ترمنځ تماسونه هم شروع شول. تر دغه وخته ببرك د کارمل تخلص نه درلود. ببرك کارمل چې پخوا هم د وطن د مير غلام محمد غبار په مشرۍ او د عبدالرحمن محمودي د جریانو سره ګډه همکاري درلوده، چې غبار او محمودي د وخت حکومت بندیان کړل، چې ببرك کارمل هم له دې سره بندي شو، خو اوس اوس هغوی په ببرك کارمل باندې خپل اعتماد نه درلود. نومورې یې د شاهي کورنۍ سره مربوط ګانه، نو ځکه یې ځانونه ترېنه ګوښه کړي وو. ببرك هم د یوه سیاسي ګوند د جوړولو په لټه کې و، د مير اکبر خیبر سره یې په شریکه یوه ډلګۍ درلوده، چې اکثراً د مير اکبر شاګردان و. مير اکبر په قوم پښتون د لوګر د ولایت سره مربوط و، څه موده چې ببرك کارمل په زندان کې و، د مير اکبر خیبر سره یې چې هغه هم زندانې و پېژندګلوي پیدا شوې وه (د مير اکبر خیبر په مورد کې ددې اثر په بل ځای کې په مفصله توګه لیکنه شوې ده) ببرك وکولای شو، چې مير اکبر خیبر او د هغه ملګرې د خپلو ملګرو په حیث نور محمد تره کي ته معرفي کړي. تره کی چې

یوازې د یوه سیاسي ګوند د جوړولو په لټه کې و، غوښتل یې چې په هر ترتیب چې میسر شي باید یو ګوند جوړ او منځ ته راشي. سره له دې چې د نور محمد تره کي ملګرو د ببرك سره اختلاف درلود، د ببرك کارمل سره یې نه غوښتل، چې یو حزب (ګوند) جوړ کړي، خو نور محمد تره کي د ببرك کارمل سره د یوه سیاسي ګوند د جوړولو موافقه وکړه. دغه دواړه ګروپونه سره یو شول اما دا دواړه یعنې تره کی او ببرك په زړونو کې یو بل ته غله وو. د دواړو لومړنی مقصد د یوه سیاسي ګوند جوړول او منځ ته راتلل وو. په ظاهره کې یو بل سره ډېر خواږه اما په پټه یې یې یو بل ته په زړونو کې پروګرامونه درلودل. سربېره پردې ببرك کارمل د سردار محمد داود سره ارتباط درلوده. لکه څرنګه چې ولیکل شول، دواړو د یوه واحد ګوند د جوړولو موافقه وکړه، خو خپل ټول ملګري یې یو بل ته تر ډېره معرفي او افشا نه کړل. داسې استدلال به یې کاوه، چې په اول کې باید دي، چې ذهنیتونه د یو بل په پېژندګلوي کې اماده شي. په هر صورت ببرك نور محمد تره کي ته د معنوي پلار د ښه شخصیت خاوند خطاب کاوه، خو په باطن کې یې خپلو ملګرو ته هغه یو بې سواده، خو د خواه او په نورو ناوړه الفاظو یا د اوه نور محمد تره کي هم په ظاهره کې ببرك جان، ډېر ښه نطاق او مبلغ یاداوه، خو په باطن کې خپلو ملګرو ته هغه د یوه جاسوس، بد اخلاقه د جنرال زوی د اشرافي له قشره یې باله. ببرك کارمل به ویل، چې په اوسني شرایطو کې تره کی د یوه ګوند په جوړولو کې یو ضرورت دی بیا به د هغه لاړمه سزا ورکړل شي، نور محمد تره کي به ویل، چې د ببرك کارمل شته والی په ګوند کې د اولین شرایطو په

وخت کې يو ضرورت دی، ځکه دولت به باور ولري، چې نماينده او جاسوس يې له موږ سره دی. هغه به دا هم ويل، چې يو ځل د يوه سياسي ګوند هسته منځ ته راشي، بيا به جاسوسانو ته لازمه جزا ورکړل شي.

د مؤسسې کنګرې د کار تدارکه کمېټه:

په هر حال د مؤسسې کنګرې دپاره يوه د تدارک کمېټه په لاندې ډول وټاکل شوه.

۱ـ نور محمد تره کی

۲ـ مير اکبر خيبر.

۳ـ ببرک کارمل.

۴ـ علي محمد زهما

۵ـ مير غلام محمد غبار.

۶ـ محمد طاهر بدخشي.

۷ـ محمد صديق روهي پکې هم عضويت درلود.

اما د مؤسسې کنګرې د جوړېدو تر وخته پورې چې د جنورۍ د مياشتې اوله ورځ (۱۹۶۵) وټاکل شوه، صرف درې کسو يعنې نور محمد تره کي، ببرک کارمل او طاهر بدخشي پکې ګډون درلود. د تدارک د کمېټې نور غړي د ګوند نه فاصله واخيسته او خپل روابط يې وشلول.

قضيه په لاندې ډول وه:

د حزب دموکراتيک خلق افغانستان سره د علي محمد زهما او مير غلام محمد غبار مربوط ټرلي واقعات:

علي محمد زهما پخوا د ببرک نه نور محمد تره کي سره د يوه مترقي ګوند د جوړولو په باره کې موافقې ته رسېدلی و او ددغې نظريې د خاوندانو سره له نزدې په تماس کې و او له

هغو سره يې د مترقي فلسفې په زده کړه کې کومك کاوه، وروسته چې ببرك کارمل هم نومورې هستې ته داخل شو، په وضع کې تغيرات منځ ته راغلل. ببرك کارمل په وېره کې و، چې د يوه پوه عالم د مطالعې خاوند په موجوديت کې چې ښه طبقاتي مساعد موقف هم لري، د علي محمد ز هما په موجوديت کې به ګوند کې دويم چانس له لاسه ورکړي.

حتى خپله نور محمد تره کي هم د علي محمد ز هما په موجوديت کې تر يوې اندازې په وېره کې و، چې ګوندې ز هما په راتلونکي ګوند کې اول مقام ترلاسه کړي. ببرك کارمل د زهما موجوديت په ګوند کې ګټور نه باله د هغه په ضد يې دسيسې او بد تبليغ کولو، چې اخر پای علي محمد زهما ددغه سياسي جريان څخه ځان ګوښه کړ، ناجاېز دساېس او تبليغات د علي محمد ز هما په باره کې په لاندې ډول وو:

پخوا د مؤسسې کنګرې د تاسيس نه علي محمد زهما يوازينی شخص و، چې د افغانستان دموکراتيك خلق ګوند غړيو ته د مترقي ايډيالوژي او فلسفې په تدريس کې مصروف و. د ۱۳۴۲ کال په اوايلو تره کي او کارمل ته اطلاع ورکړه، چې د افغانستان پوهنتون رياست له خوا يو څلور مياشتنی بورس ميسر شوی، چې له دغه بورس نه استفاده وکړي او ډنمارك ته لاړ شي. په دغه وخت کې علي محمد ز هما د کابل پوهنتون د ادبياتو په فاکولته کې د استاد په حيث مصروف و. دغه اطلاع په ظاهر کې د نور محمد تره کي او ببرك کارمل له خوا په ښه استقبال سره وستايل شوه، هغو دواړو تاکيد کاوه، چې علي محمد زهما دې ددغه بورس په موده کې خپلې تداوی ته هم توجه وکړي. تره کي وويل (چې د

سرکار له کوره غوړي راتوی شي، موږ به خولی ورته ونیسو) په دې ترتیب د ډنمارك د تلو اجازه ورته ورکړل شوه. کله چې علي محمد ز هما ډنمارك ته لاړ، بیا نو دلته په هغه پسې فراخ تبلیغات شروع او ویل کېدلو چې علي محمد زهما د حکومت نه امتیاز ترلاسه کړ. دا رنګه استفاده کونکی شخص زموږ په راتلونکي ګوند کې چې د جوړېدو په درشل کې دی، د منلو وړ شخص نه دی په اجتماع کې به زموږ ګوند بدنام او بې اعتباره کړي. ددغه رنګه ناوړو او ناروا تبلیغاتو په وجه علي محمد زهما او ورسره ځنې نور اشخاص، چې داسې ناجایز دسایس یې په راتلونکي کې د ځانو دپاره هم خطر ګانه، ددغه راز سیاسي جریانه ځانونه ګوښه کړل. همدغه اشخاص و چې بیا وروسته یې د شعلي جاوید په نامه د یو سیاسي جریان بنسټ کېښود، چې په پای کې همدغه سیاسي جریان د حزب دموکراتیك خلق افغانستان کلك رقیب شو.

کله چې علي محمد زهما له خارج نه بېرته وطن ته راغی، خپل روابط یې د تره کي او ببرك سره وشکول. د شعلي جاوید یو فعال غړی شو، کله چې نور محمد تره کی په قدرت ورسېد، علي محمد ز هما یې د څرخي پله په زندان کې واچاوه. داسې ویل کېده، چې هغه ته یې په زندان کې ډېر زجر ورکړی و. کله چې ببرك کارمل د روسانو په زور د افغانستان قدرت ترلاسه کړ، علي محمد زهما یې له زندان څخه ویوست او د کابل پوهنتون د علمي مشاور په حیث یې مقرر کړ. تېز رفتار موټر یې په اختیار کې ورکړ، غوښتل یې چې د زهما نه د تره کي په ضد ناوړه استفاده وکړي، خو څرنګه چې علي محمد ز هما ببرك کارمل او نور محمد تره کی دواړه ښه

پېژندل، ويې نه غوښتل، چې د ببرك د لاس الـه شي، نو مجبوراً خپل عزيز وطن يې خوشې کړ، په يوه اروپايي مملکت (اتريش) کې لړې له خپل وطنه ژوند غوره کړ. زه شاهد يم چې زما د تره کې سره د مترقي ايډيالوژۍ او فلسفې په زده کړه کې کومك کاوه.

مير غلام محمد غبار:

مير غلام محمد غبار، چې يو عالم او مبارز افغان و، د خپل عمر ډېر کلونه يې د سلطنتي رژيم په زندانو کې تېر کړي. نومورې د کابل د ښاريانو په منځ کې د ښه حيثيت او اعتبار خاوند و. د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوران کې د شوروي د اوومې دورې په انتخاباتو کې ځان کانديد کړ. ويل کېږي، چې دغه انتخاباتو کې له څلوېښت زرو نه ډېرې رايې ګټلې وې، چې د افغانستان د شورى په انتخاباتو کې يې په تاريخ کې ساري نه ليدل کېږي.

همدارنګه مير غلام محمد غبار يو پياوړى پېژندل شوى مورخ او ليکونکى و، د افغانستان د تاريخ، کلتور او د ولس د عنعناتو سره يې ډېره ښه اشنايي (پېژندګلوي) درلوده. د خلق د مؤسسې کنګرې نه مخ کې مير غلام محمد غبار د نور محمد تره کې له خوا د يوه مترقي ګوند جوړولو ته راوبالـه. غبار دغه بلنه ومنله، د خپل زوى حشمت خليل سره يوځاى د حزب دموکراتيك خلق افغانستان په مؤسسه کې داخل شول. د غبار زوى حشمت خليل چې د ښې مطالعې خاوند و، د خپلو نورو ملګرو سره يې د ګوند په مؤسسه حلقو کې په زړه پورې فعاليت درلود. ولې لږه موده وروسته د غبار د زړه بدى او د

ګونډ له حلقو نه د لرې والي په مقصد دسایس او ناروا تبلیغات شروع شول. دغه وخت لږه څه وړاندې د مؤسسې کنګرې د تاسیس نه منځ ته راغلل. میر غلام محمد غبار، چې پخوا هم د ببرك کارمل د لاس ناوړه ستونزې لیدلې وې، چې د هغې ستونزې له درکه یې ډېر کلونه په زندان کې تېر کړي و، کله چې پوه شو چې ببرك هم په دغه جریان کې ګډون لري، غوښتل یې چې له دغه جریان سره خپله علاقه وشلوي، ځکه چې میر غلام محمد غبار ببرك کارمل د یوه خطرناك جاسوس د افغانستان د خلکو د منافعو سرسخت دښمن بالله.

نور محمد تره کی او ببرك کارمل دواړه پوهېدل که غبار د ببرك د موجودیت په اساس له سیاسي حلقې نه ووځي، ښایي نور ډېر هم له غبار سره یوځای لاړ شي. ترتیب داسې شو، چې دسیسه د ببرك او د هغه د نزدو ملګرو له خوا تبلیغ شي، ترڅو غبار یوازې جریان خوشې کړي.

د غبار ضد دسیسې یو اړخ دا خبره وه، چې غبار او زوی یې دواړه یوازې د مؤسسې کنګرې غړیتوب ته ځانونه نه شي کاندیدولی، خلك به زمونږ راتلونکي ګونډ باندې یو فامیلي ګونډ نوم کېږدي او د دسیسې بل اړخ یعنې دویمه برخه د ببرك کارمل د نزدې ملګرو له خوا داسې تبلیغات او اوازې خپرې شوې، چې دولت میر غلام محمد غبار ته شپارس لکه افغانۍ رشوت ورکړی او هغه یې تطمع کړی حتی د کارمل ملګري حاضر شول، چې ددغو پیسو د بندلونو نومرې هم افشاء کړي کومې چې د غبار په نوم حواله شوې دي. میر غلام محمد غبار ددغو ناوړه اتهاماتو په اوږدو په کافي اندازه خواشینی او عصباني شو بیا یې د دروښت اشخاصو نومونه

چې په دې جریان کې فعالیت درلود، نور محمد تره کې ته وروسپارل او وې ویل چې زه به ددغو اشخاصو په وړاندې په دې مورد کې چې ګواکې ما د دولت نه پیسې په ناجایزه توګه اخیستې، د خپل ځان دفاع وکړم. نور محمد تره کې په دې باره کې موافقه وکړه. دغه دروښت کسه د ببرك کارمل او میر اکبر خیبر په شمول د نور محمد تره کې په کور کې سره راټول شول. په دې محفل کې غبار سره له خپله زویه راغی. د خپل د هغه ملکیت اسناد چې دولت جبراً په خپل تصرف کې راوستې او کلونه کلونه یې د مخابراتو وزارت د خپلو پوستې چارو دپاره استفاده کړې، چې له همغه او له کله چې غبار په زندان کې و او وارثې یې حکومتې څانګو او عالي مقاماتو ته په دې باره کې عراپض وړاندې کړي و، ترڅو بالاخره دولت صرف د هغه ملکیت کرایه چې د هغه مسلم حق و، ورته حواله کړې وه. غبار په دې توګه د جلسې په وړاندې ثابته کړه، چې هغه تطمع شوې نه بلکې خپل مشروع حق ې ترلاسه کړی او ثابته یې کړه چې دا رزیلانه پوچ اتهامات حقیقت نه لري.

میر غلام محمد غبار ددغې دسیسې اصلي جوړونکی ببرك کارمل معرفي کړ او د هغه پخوانی سیاسي جاسوسي یې د ملي جریانو په ضد په تفصیل سره د جلسې په وړاندې توضیح کړه او ببرك کارمل یې د افغانستان د خلکو یو خطرناك دښمن وبالله. زیاته یې کړه چې د ببرك کارمل په موجودیت کې به هیڅ کله حاضر نشم، چې له دې جریان سره همکاري وکړم. میر غلام محمد غبار دوینا نه وروسته د خبرو وار ببرك کارمل ته ورسید.

ببرك برخلاف د مير غلام غبار په ثنا او صفت شروع وکړه او هغه يې د يوه پياوړي مبارز رهبر او د افغانستان د خلکو پوه او زړه سوانده د قدر وړ شخصيت په توګه وستايه. دونه يې په خپلو الفاظو کې د مير غلام محمد غبار ثنا و صفت وکړ، چې مير اکبر خيبر په خپلو خبرو کې وويل" در حيات سياسی حزب اينده ما برای ناز دادن ها و مداح گری های اشخاص جای وجود نخواهد داشت" او زياته يې کړه، چې زموږ په راتلونکي ګوند کې به هر څوك دا حق ولري، چې نورو باندې سالم انتقاد وکړي او هر څوك به دا حق ولري، چې طرح شوي انتقاد رد او يا هغه ومنې. د جلسې په اخر کې مير غلام محمد غبار د نور محمد تره کي له کوره ووت او بيا هېڅ کله جلسو ته رانغی او ګډون ې ونه کړ. نور محمد تره کي څو ځلې د غبار کورته ورغی، هغه ته يې د بيا راتګ خواهش وکړ، غبار خپل دوباره ګډون په نوموړي سياسي جريان کې د ببرك کارمل او د هغه د نزدې وو ملګرو په نه ګډون پورې منحصر وباله په دا رنګه غبار د تل دپاره خپل علاېق له جريان سره قطع کړل.

د ببرك كارمل بيوګرافي او په هغه پوري تړلي يو څه نور مطالب

له هغې زمانې وروسته کله چې د افغانستان پای تخت په کال ۱۷۷۳ میلادي کې د قندهار نه د کابل بنار ته منتقل کړل شو. د کلونو په اوږدو کې یو ډېر شمېر خلکو لکه دولتي مامورین او ځینې نورو کسبګرو د افغانستان د نورو بنارونو نه د کابل د بنار په لور داخلي مهاجرتونه پیل کړل، چې د کابل بنار دننه او دباندې شاوخوا کلو او باندو کې مېشت شول. ددغو کلیو یو هم د کمر یو په نامه یو کلی دی، چې د کابل بنار په شل کلومیتری کې د جنوب شرقي خوا ته پروت دی. په دغې کلي کې عمدتاً دري قومونه ژوند کوي، چې د میربي خېلو، ملا خېلو او مندي خېلو په نومونو یادېږي.

(دغه ملاخېل د پښتنو دملاخېلو ستر قوم پورې اړه نه لري) اغلباً دا دري واړه نومورې قومونه په تېرو زمانو کې به درېواړو سره ورونه و، چې بیا دغه دري واړه په جلا جلا نومونو پېژندل شوي او یاد شوي دي. (ددغه کلي سپین ږیرو ځانونه د عربو قوم پورې مربوطه ګڼل او وایي چې مور عرب یو دا هم امکان لري، چې د عربو د استیلاء په زمانه کې افغانستان ته راغلي وي او بیا دري سره ورونه کورنۍ په دغه منطقه کې مېشته شوي وي. د کمریو کلی د چکړي د منارې

(څلي) د غره شمالي دامان کې پروت دی. غرب (لویدیځ) ته یې د شیوکیو او سهاکو او شرقي خواته یې د حسین خېلو او بدخاك کلي پراته دي. شمال ته یې د بګرامیو کلی او چمن پروت دی. خلك یې په دري ژبه خبرې کوي او اکثراً دهقانان دي. له ډېرې مودې نه راپه دې خوا د دغو دري واړه قبیلو په منځ کې د خانی او ملکی په لاس راوړلو په مقصد رقابتونه موجود و. کله کله د رقېبو ډلو ترمنځ جنګونه هم کېږي، چې خاني او ملکي قدرت ترلاسه کړي. د ملکی او خانی زمانه وه خان د کلي یو وړوکی دکتاتور و ډېر شدید رقابت د ملاخېلو او میربي خېلو قبیلو ترمنځ پېښېدل، چې مندي خېل هم د ملاخېلو په پلوي کې درېدل، ځکه دغو دواړو قبیلو په خپلو کې خپښي هم درلوده. د منطقې او کلي ملك یا خان دولتي څانګو سره د یوه متاجر (اجاره دار) په توګه هم پېژندل کېده. هر راز دولتي مالیات او محصولات د هغه په واسطه د خلکو نه تولېدل ملك، چې هر څومره کولی شول. د خلکو نه مالیه جمع کوله، خو دولت ته به یې هغه اندازه تحویلوله، چې د دولت له خوا تاکل شوې وه. نورې اضافې روپۍ د هغه مشروع حق ګڼل کېده. اکثراً د خلکو په منځ کې دعوې او ستونزې د ملك یا خان په ذریعه حل او فصل کېدې. که چېرې به ځینو خلکو د دولت مقرره مالیات او نور په وخت او زمان کې تحویل نه کړل، خان د دولتي پولیسو په مرسته تحصیلول. د میربي خېلو د قوم مشرانو سره یې تل سخته مبارزه درلوده، ځکه له ډېرې زمانې راپه دې خوا دغه قدرت د ملا خېلو د مشرانو په واك اختیار کې و. د ملاخېلو د قبیلې مشر عرب خان او بیا وروسته محمد عمر خان د عرب خان د زوی په لاس

کې و. همدارنګه دغه مشري د دولت له خوا رسماً منل شوې وه او ډېر دولتي اعتبار هې درلوده. د بلې خوا یې د مندي خپلو د قوم مشران لکه جمشید خان کمري وال یې د خان آباد ولایت متاجر مقرر کړ. جمشید خان له دې درکه ډېر مشهور او ډېر مال دولت یې راجمع کړل، چې په اصطلاح افسانوي ژوند یې درلوده، چې هغه پورې مربوط یو څه تفصیل د مرحوم میر غلام محمد غبار په کتاب کې هم لیکل شوی دی.

له بلې خوا د میربي خپلو مشرانو، چې د نارینوو په شمېر کې تر ملاخپلو ډېر زیات و او نورو قومونو سره یې په سیمه کې د خپښې په ذریعه ډېر قوي مخور دوستان لکه د بنګښو د قبیلې سره د زاباز خان بنګښ او بیا د هغه زوی پیر محمد خان بنګښ، د تره کو د قبیلې مشر کمکی خان بیا د هغه زوی عبدال محمد خان تره کي سره خپلوي او خپښې درلوده، چې د همدغو مشرانو دوستي د میربي خپلو موقف په اولس کې ډېر پیاوړی کړی و، چې محمد عمر خان ملاخېل له دې درکه د خطر احساس کاوه. چېرې نه چې د خانې قدرت له لاسه ورکي(محمد عمر خان د مور له خوا د ببرك کارمل نیکه و) محمد عمر خان چې د منطقې رسمي خان و او په رسمي دولتي څانګو کې یې ډېر اعتبار او پېژندګلوي درلوده. دولتي لوړو مقاماتو سره په تماس او نزدې والي کې و. په دې لټه کې شو چې لانور هم خپل ځان د میربي خپلو په مقابله کې پیاوړی کړي. د مېرزا محمد هاشم خان سره یې خپله آشنایي او دوستي ټینګه کړه. میرزا محمد هاشم خان د کار ګذار په نامه رسمي دولتي دفتر کې وظیفه او کار درلوده. دا هغه دفتر و، چې انګرېزانو په کال ۱۸۷۹ میلادي کې د خپل

استعماري لښکرو په مرسته د افغانستان ځینې سیمې او ښارونه تر خپل اشغال لاندې راوستې وې، نویو دفتر د جنرال (رابرت) نومي انګرېز له خوا په کابل کې پرانیستل شو، چې ددغه دفتر په ذریعه د اشغال شویو کلو باندې نه مالیات او محصولات راجمع کېدل او له بلې خوا د اشغال ګر پوځ د خوراک ځښاک ټول ضروریات ددغه انګرېز په لاس جوړ شوي دفتر په ذریعه اکمالېدل، چې انګرېزانو د خپل اعتماد وړ کارکوونکي هلته مقرر کړي و، چې مېرزا محمد هاشم خان هم یو د هغو معتمدینو په جمله کې و.

خان محمد عمر خان د مېرزا محمد هاشم خان په دوستي خپل ځان ښه تقویه کړ او د مېرېي خپلو په وړاندې او مقابله کې ښه غښتلی شو.

(مېرزا محمد هاشم خان چې د ببرك کارمل نیکه و) محمد عمر خان له دې امله چې مېرزا محمد هاشم خان لانور هم ځان ته نزدې کړي، خپله خور یې مېرزا محمد هاشم خان ته ور واده کړه او بیا یې یوه ډېره اندازه ځمکه د خپل ملکیت نه د خور په تکري کې چې په ولس کې رواج لري ورکړه او د مېرزا محمد هاشم سره یې خپله آشنایي په خپښې او دوستي بدله کړه او ځان یې د خپلو رقیبانو په وړاندې لانور هم ښه قوي او پیاوړی کړ.

مېرزا محمد هاشم خان ډېر هوښیار او زیرك انسان و، په دولتي لوړو مقاماتو کې ښه بلا او منلی و، د اشغال ګر پوځ د عالي مقاماتو سره یې هم ښه ځان نږدې کړی و او اړیکې یې ورسره ټینګې کړې وې. د ښه اعتبار خاوند و. په هر حال اوس

نو میربي خپلو په هېڅ صورت د محمد عمر خان سره وس نه و پوره.

نو بیا مېرزا محمد هاشم خان یو څه د خپل ځان په فکر کې هم شو، ځکه هغه پوه شو چې محمد عمر خان دا ټول کارروایي د خپل ځان او خپلې خانې او ملکي د بقا د پاره کړی او کوي یې. مېرزا هاشم هم هسې ساده انسان نه و، نه یې غوښتل چې تر آخر پایه د خان د تاثیر لاندې وي. د ملاخپلو او مندي خپلو د قوم مربوط نورو سره یې هم خپله دوستي او روابط ټینګ کړل. د صدر الدین خان په نامه د ملاخپلو د قوم یو بل شخص سره یې ورروي او دوستي ټینګه کړه.

د ملاخپلو د قوم په دننه کې یو څو کورنۍ د اخوندانو او اخوندازاده ګانو په نامه یادېدې، چې صدرالدین خان هم د همدغې قبیلې مربوط و. مېرزا محمد هاشم خان صدرالدین خان د انګرېزانو په پوځ کې ددفعه دار په رتبه مقرر کړ. صدرالدین خان ددې منصب په موندلو سره په خپل کلي او کور کې او نورو شاوخوا کلیو کې ډېر اعتبار پیدا کړ. اکثراً ددغو کلو ځینې پرابلمونه او کارونه د اشغال ګر پوځ سره په ښه توګه اجرا کول، چې یوه ورځ د حسین خپلو په کلي کې یوه ډېره ناوړه پېښه وشوه او هغه دا چې یوه ورځ انګرېزي سپاهیانو په کومه ښځه چې د اوبو منګی یې په اوږه د ویالې نه یې خپل کور ته اوبه راوړلې ناوړه او ناجایز غږ کړی و، چې په ښځې باندې یې بد تاثیر کړی و، چې نومورې ښځې خپل د اوبو ډک منګی د سپاهي پر مخ ګذار کړی و، چې دا حرکات د څو ځوانو هلکانو چې هلته نزدې و، فوراً یې د ښځې په مرسته

په انګرېزانو وروداڼګل او جنګ شروع شو. په نتیجه کې نور سپاهیان وتښتېدل او یو د ځوانانو تر وهلو لاندې مړ شو. د کلي ټول سپین ږیري راټول شول سپاهي یې توتې توتې کړ، هره توټه د کلي د ټولو مشرانو باندې وویشلې، چې په دې صورت ټول کلی په دې قتل کې خپل ځانونه شریك وګڼي او د مړي هغه توټه چې ورته ورکړل شوې داسې پټه کړي، چې موندل یې امکان ونه لري. کله چې د یوه ورك شوي سپاهي په لټه کې انګرېزي لوړ پوړي اشخاص کلي ته راغلل، د لټولو په نتیجه کې د مړ سپاهي یوه پښه سره د موزې د الله مېر خان نومي حسین خپل د وښو په بوسخانه کې په لاس ورغله، چې ددغې کورنۍ ټول نر ښځې سره د کلي د سپین ږیرو بندیان شول. انګرېزانو په داسې حالاتو کې ډېر سخت او بې رحمانه عمل کولو له دې ډاره ټول د کلي نارینه او ښځې شپه په شپه د صدرالدین خان کور ته په ننواتي ورغلل، ترڅو په دغه مصیبت کې له دوی سره مرسته او کومك وکړي. ربښتیا صدرالدین خان وکړای شول، چې انګرېزانو ته قناعت ورکړي او دا کلی یې د انګرېزانو د قهر او غصې نه بچ کړ او ټول بندیان یې چې په دغه لاتجه کې نیولي وو له بنده خلاص کړل.

دفعه دار صدرالدین خان د ډاکټر کرام الدین سکه تره و، یعنې د حسام الدین خان چې د ډاکټر کرام الدین پلار و، ورور کېده.

«ډاکټر کرام الدین، چې ځان کاکړ بولي په اصل کې دی د کاکړو د قوم څخه نه دی، څکه کاکړ سوچه پښتانه دي. ډاکټر کرام الدین په قوم کې د عرب خان سره شریك دی، خو یوازې

د کرام الدین خان مور د چهارآسیاب د علاقې د کاکړانو له کلي څخه وه).

دفعه دار صدرالدین خان د خپلو خدماتو په بدله کې د عمر تر آخر د انګرېزانو معاش خور ؤ او دغه تعین شوې تنخوا تر هغې زماني پورې، چې هندوستان باندې د انګرېزانو استعماري تسلط و، صدرالدین او پس له هغه د هغه ورځې ته ورکول کېده.

ویل کېږي، چې خپله ډاکټر کرام الدین خپل یو دوه کاله د طب د ستاج دوره په دغو روپو په هندوستان کې تېروله.

د کلونو په تېرېدو سره میرزا محمد هاشم د دوه زامنو پلار شو، چې د یوه نوم محمد حسین او د بل نوم ګل حسین شو. (محمد حسین خان د ببرك کارمل پلار دی) هر کله چې بیا دا دواړه هلکان زلمیان شول، خان محمد عمر خان خپلې دوه لورانې یوه محمد حسین خان او بله ګل حسین خان ته ور واده کړې. په دې ترتیب دواړه د خور زامن یې ځانته زومان کړل، چې محمد حسین خان د دري زامنو پلا رشو. په اول سر کې د مشر زوی نوم یې سلطان حسین او د بل سلطان محمود او د درېیم سلطان مسعود و. خپله مېرزا محمد هاشم خان په ټول افغانستان کې پرته ددغه کوچني فامیل نه، نه یې پلار څوك پېژني، نه هې ورور یا کاکا، ماما، هېڅ دلیل او ثبوت په لاس کې نشته، چې د مېرزا محمد هاشم خان هویت ثابت کړي، چې دی د ننني افغانستان تبعه و اما دا سوال هم مطرح کېدای شي، که نوموړی د افغانستان وګړی نه و، نو څرنګه هغه په دري ژبه کې دومره باسواده و، چې په دولتي څانګو کې یې کار او کتابت کاوه. ددې سوال ځواب د کمریو په خلکو کې

داسي ويل کېده، چې مېرزا هاشم د کشمير يا د پخوانۍ هندوستان د کومې بلې صوبې څخه دی، چې د پخوانۍ د ابدالیانو د قدرت په سلسله کې چې له صوبه سرحد څخه تر کشمیره د افغانستان په حدوداتو کې شامل و او ډېر افغانان هلته مېشته شوي وو، کېدای شي چې د مېرزا محمد هاشم تېر هم په هغه زمانه کې هلته تللی وي او یا دا چې مېرزا هاشم ددې مطلب دپاره چې په افغانستان کې د ضرورت په وخت کې وظیفه اجرا کړي، انګرېزانو تربیه کړی وي. په هرصورت مېرزا محمد هاشم د انګرېزانو په نوي تشکیل شوي دفتر کې د یوه با قدرته شخص په حیثیت موظف و (باید وویل شي، مشهور موهن لال چې د انګرېزانو یو ډېر صادق جاسوس و، په دري ژبه بې ډېر ښه خط او کتابت کوی شوای د هغه ډېر موفقیت هم په دې کې و، چې په دري ژبه یې خط او کتابت کوی شو چې هغه هم د کشمیره و.).

د کمریو په خلکو کې د مېرزا محمد هاشم په باره کې بله فتوا هم داسي وه، چې ګواکې مېرزا محمد هاشم د مور نه په غیر مشروع توګه دنیا ته راغلی یاني حرمونی له موره پیدا شوی او دا وروکی هلك د عرب خان د کلا په مسجد کې آچول شوی و. کله چې لمونځ کوونکي د سحر د لمانځه د ادا کولو په مقصد مسجد ته راغلي ګوري، چې کوچنی هلك په مسجد کې پروت دی. په مسجد کې د پراته هلك پلار او مور معلوم نه و، نو عرب خان (د محمد عمر خان پلار) عرب خان دغه په مسجد کې موندل شوی ظفل خپل کور ته یووړ او د عرب خان په کور کې غټ شو او بیا چې د ځوانۍ مرحلې ته ورسېد، خپله لور یې ورواده کړه. دا آوازې او قصې دومره رښتیا نه

ښکاري، چې ولس خان دې خپله لور يو حرامي بې پلاره او بې مورہ هلک ته ور واده کړي او دومره توجه ورته وشي، چې هغه باسواده او داسې مېرزا شي، چې د انګرېزانو په دفتر کې باقدرته شخص شي. غلباً داسې پروپاګنډې به خپله مېرزا محمد هاشم په لاره آچولې وې، چې خپل حرامي توب ته به يې پر اجنبي توب ترجيح ورکړې وي.

د کمريو د کلي ټولو خلکو ته معلومه وه، چې مېرزا محمد هاشم په کمريو کې چا نه پېژانده او نه چا ليدلی و. هغه خلکو د انګرېزانو په دفتر کې ليدلی و، چې د هغه ځايه کمريو ته راغلی او د محمد عمر خان د خور سره يې واده وکړ (دا ټوله قصه چې په دې اړه وليکل شوه او يا ليکل کېږي، د مرحوم محمد انور خان ميربې خپل چې د شوراولسي جرګې يو مشهور وکيل و، په ليکلي توګه په خپلو يادداشتو کې راوستې وه، چې البته د کلي نورو سپين ږيرو هم هغه تايېدوله او همدا اوس هم داسې اشخاص لاژوندي دي، چې دا قصې په ياد لري).

پس د څو کلونه ګل حيسن نومي د مېرزا هاشم زوی مړ شو او ښځه يې کونډه شوه بيا څه موده وروسته د محمد حسين ښځه (د ببرك کارمل مور) هم مړه شوه، چې محمد حسين خان هم کونډ او بې ښځې شو، خو بيا محمد حسين د خپل ورور کونډه، چې دده خينه هم کېده په نکاح کړه. جنرال محمد حسين خان څه موده پس د خپلو زامنو نومونه په کوم مقصد چې په نظر کې درلودل بدل کړل.

یاني د سلطان حسین نوم یې (ببرك) د سلطان محمود یې (محمود بریالی) او د سلطان مسعود یې (توریالی) واړول، په دې ترتیب یې د خپلو زامنو نومونه بدل کړل.

خپله محمد حسین خان نظامي تعلیمات کړي وو، د محمد ظاهر شاه په زمانه کې د افغانستان د اوردو د منصبدارانو د عالي کورس چې معلمین او استادان یې جرمنیان وو باصلاحیته قوماندان او مدیر و او دا وظیفه یې تر ډیره مودې درلودله، ځکه محمد حسین خان د دولت منداتو په نظریې ډیر د اعتماد وړ شخص و. عسکري ټول منصبداران مجبور او مکلف و، چې د دغه کورس دوره تېره کړي او په دغه کورس کې عالي نظامي تعلیمات ترسره او زده کړي، نو به هله کوی شي، چې په اوردو کې مهمې څوکۍ او عالي مقامونه اشغال کړي. په دغه کورس کې سربېره په عالي نظامي زده کړې د شاه دوستي او شاهي فامیل ته د وفاداري اندازه هم ترسخت کنترول او مراقبت لاندې په نظر کې نیول کېده، چې د کورس د فراغت په وخت کې دغه درجه د جنرال محمد حسین خان له خوا په مخفي توګه د هر فارغ منصبدار مربوط څانګو ته استول کېده. هر هغه شخص د پېشرفت او ترقي عالي مقام ته رسېده، چې د جنرال محمد حسین خان مثبت او ښه نظر د شاه دوستۍ په باره کې وړکړی وي او چا چې منفي نظر اخیستی وي، نو داسې منصبداران د خپل ټول خدمت په دوره کې د دولت د عالي مقاماتو په نظر کې بې اعتماده وه ترقي او ترفیع یې نشوای کولی.

ببرك کارمل د حزبي جلساتو په وړاندې هر وخت دا ادعاء کوله، چې ګواکې دی په خپله او دده سکني ورونه لکه محمود

بریالی او توریالی د خپل پلار جنرال محمد حسین سره هېڅ روابط نه لري، خو د دوی هر یوه په کاله کې عسکري نفر خدمتان موجود و، چې د دوی خدمت یې کاوه او خدمت کوونکي د دوی پلار د هغه عسکري قطعاتو نه د دوی کورو ته را استول، چې د جنرال د اداري لاندې و.

کله چې سردار محمد داود د جولایی په ۱۷ کال ۱۹۷۳ کې کودتا وکړه، چې بیا ببرك کارمل د خپل قدرت په وخت کې وویل، چې ددغې کودتا په رهبري کې دې هم دخیل و، پلار یې جنرال محمد حسین خان د جنوبي ولایت د والي او عسکري تنظیمیه رئیس په حیث مقرر شو. همدارنګه د ببرك کارمل د تسرور زوی جیلاني باختري د زراعت د وزارت د وزیر په حیث د سردار داود په کابینه کې شامل شو.

کله چې شورویانو زمونږ وطن اشغال کړ، ببرك کارمل خپل پلارمحمد حسین خان ته نامحدود واك اختیار ورکړ، چې نومورې د پردې شاته د دفاع د وزارت چارې او په ظاهرې توګه د پکتیا ولایت چارې سنبالولې.

ببرك کارمل زمونږ د وطن افغانستان په تاریخ کې ډېر سپك او ډېر بدنامه شخص شمېرل کېږي. د شاه شجاع برخلاف، چې د انګرېزانو د استعماري پوځ سره د کابل پای تخت ته راغی. همدارنګه ببرك کارمل د شوروي یرغلګر پوځ تر شاه افغانستان ته داخل شو. په پوهنتون کې د خپل تحصیل په دوره کې د مترقي اما مسالمت امېزې جریاناتو سره د افغانستان د شورا د اتمې دورې په انتخاباتو کې سټر خیانت وکړ. د منورینو روشن فکرانو په مسالمت آمېزه مظاهرو کې چې د کابل په ښار کې د دموکراسۍ د اساساتو سره سم د

سردار شاه محمود خان د صدارت په زمانه کې روانې وې، ببرك د تفنګچې ډزې په هوا کې وکړې او په دغه عمل سره يې د وخت حکومت ته بهانه په لاس ورکړه، ترڅو هغه منورين لکه مير غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي او نور ګڼ شمېر يې په زندان کې واچول.

ببرك هغه مسالمت آمېزه حرکات قصداً په مسلحانه حرکاتو ګرځول، ترڅو نور زندان ته واچوي او ده ته هېڅ خطر متوجه نه وي. په پای کې سلطنت مجبور شو، چې شاه محمود خان د صدارت نه لرې او سردار داود د صدراعظم په حيث واګې په لاس کې واخيستې. د حکومت له دغه تغيراتو ببرك د حکومت د مخالفت نه لاس واخيست، د پلان په وزارت کې په کار شروع وکړه او د سردار محمد داود د صدارت تر پايه يې له هغه سره همکارۍکوله. په همدغه دوره کې هې د خپل فاميل او نورو خپلوانو په وړاندې خارج ته د تحصيل زمينه برابره کړه او خپله د پېښرو مترقي جريانو په منځ کې د تفرقې او ګډودۍ په کار کې مصروف شو.

ببرك کارمل لږه موده وروسته د ثور د ۷ کال ۱۳۵۷ د وخت د دولت له خوا پرته د شورويانو د رضايت نه په چکسلواکيا کې د سفير په حيث مقرر او ولېږل شو. په دې دوره کې په شراب خوري او فحشا کې د افراط په سويه مشغول و، د دولت په زرګونو ډالر يې د سفارت له دارايي نه غلا کړل، چې دوسيه يې د هم هغه وخت په خارجه وزارت کې موجوده وه.

ببرك کارمل له همدغه ځايه يانې پراګ نه د قدرت دلاسته راوړلو په مقصد په فعاليت شروع وکړه. د کې، جې، بې د

غړيو سره يې چې خپله ببرك هم ددغې بدنامې مؤسسې غړی و، د خلقيانو د حكومت له منځه وړلو دسيسه يې پيل كړه. د شوروي رهبرانو خصوصاً بريژنيف ته يې د افغانستان بشپړ تسليمول په كلكه وعده وركړه. د افغانستان رسماً سپارل يې د شورويانو تر نفوذ لاندې په څو څو واړې هغوی ته تكرار كړه.

د شوروي د پوځ د يرغل په ورځ د جدي په ۶ كال ۱۳۵۸ چې د دسمبر ۲۷ كال ۱۹۷۹ سره سمون خوري، ببرك كارمل بريژينف ته ويلي و، افسوس دی چې په افغانستان كې د گلونو موسم لانه دی رارسېدلی، گڼې د افغانستان خلكو به د دوست پوځ هركلي كې په گلانو پټ كړی وای. ددغه ناپوهې او خيانت په نتيجه ټولو جهانيانو ته څرگنده شوه، چې ببرك په خپل دغه وطن پلورنې او خيانت د يو نيم مليون نه زيات افغانان په روسانو شهيدان كړل او نوي په سلو كې يې د افغانستان د خلكو كلي، كورونه، مكتبونه، مسجدونه او نوري شتمنې د خاورو سره خاورې كړې. د افغنستان د پرمختگ او تكامل مخه يې ونيوله او هغه يې په كلونو كلونو شاته وغورزوله او اخر پای يې د افغانستان د سوكالۍ، امنيت او معقولې طرحې چې د ملگرو ملتونو له خوا په نظر كې نيولې وه، په دسيسه له ناكامې سره مخامخ كړه. په پای كې يې زمونږ گران وطن د داخلي خونړي جنگ په گنده كې ورگوزار كړ. خدای خبر چې څومره موده نور ب د افغانستان خلك د كورنې جنگ په لمبو كې سوزي.

ببرك كارمل په خپل دغه ابتكار سره، چې شورويان يې د افغانستان اشغال ته تشويق كړل، په حقيقت كې يې د شوروي د سيستم بنسټ كاواكه او ولړزاوه. د شوروي د پوځي شكست

او ماتې د افغانستان په جنګ کې د شوروي د امپراتوری د منځه تللې د معاصر دوران په وړاندې جهانیانو ته وروپېژاند.

همدارنګه ببرک کارمل په خپل دغه ابتکار د امریکایانو د ناکامۍ انتقام د ویتنام په جګړه کې د شورویانو نه د افغان ولس د بچیانو په مېړانه او بې ساره وینو تویولو واخیسته. په دغه ترتیب یې امریکایانو ته ستر خدمت وکړ. همدغه سبب دی، چې دده نوم د جنګ د مسول شخص په حیث د بین المللي محکمې په شمار کې څوک نه اخلي. سره ددې، چې نومورې د شوروي د یرغل پر افغانستان باندې او د ۱.۵ میلیون خلکو د شهادت اوله درجه مسول ببرک کارمل دی. نومورې لاهم په امنیت او مکمل سلامت خپل ژوند ته ادامه ورکوي. داسې ښکاري، چې ټول دا جنایات یې د جهانیانو هېر شوي وي.*

*باید وویل شي، چې دا اثر پخوا لیکل شوی، چې په هغه وخت کې ببرک کارمل لا ژوندی و.

د حفیظ الله امین لنډه بیوګرافي

حفیظ الله امین د مامور حبیب الله خان زوی په قوم پښتون خروټی د پغمان د ولسوالۍ مربوطه د قاضي خېلو په کلي کې، چې د بیکتوت په دره کې واقع ده، آستوګنه درلوده. ددغه کلي ټول اوسېدونکي په پښتو ژبه خبرې کوي او ټول خروټي دي. د نادر شاه د سلطنت په اوایلو کې کال ۱۳۰۹ د حفیظ الله امین پلار حبیب الله د کابل په بنار کې د امنیتي پولیسو د مامور په حیث وظیفه درلوده او بیا وروسته د کابل د ولایت د توقیف خانې د مامور په حیث مقرر شو. دا زمانه د محمد هاشم خان د صدارت د وحشت او استبداد دوره وه. مامور حبیب الله خان یو ځیرک هوښیار او آرام سړی و. د دولتي صالحه مقاماتو اعتماد یې ترلاسه کړی و، نو ددغې بندي خانې پاس بان شو، ځکه په هر چا دا اعتماد نشوای کېدلی. په دې بندي خانې کې اکثراً سیاسي خلك د حکومت مخالفین بندیانېدل، چې په دې زندان کې ورته زجر او شکنجې ورکول کېدلې او ډېر سیاسي بندیان به په همدغه توقیف خانه کې په مرموز شکل له منځه تلل، نو ددغې بندیخانې واکدار او ساتونکي باید د حکومت د اعتبار وړ

اشخاص وي. مامور حبيب الله خان د خپل کلي څو نورو اشخاصو سره چې ټول د يوه کلي يعنې د قاضي خېلو د کلي اوسېدونکي په خپل منځ کې د تره زامن د يوې کورنۍ خلک و. کله چې د کابل د ښار امنيتي قواوې د شمالي سمت د ځپلو په مقصد د نورو عسکري قواو سره موظف شوې وې، په دغه وخت کې چې د نادر شاه د بادشاهۍ اولنۍ کلونه وو او عسکري قواوې او تشکيلات کافي نه و تنظيم شوي او څه نا څه کمزوري احساسېدله، نو ځکه امنيتي قواوې هم شمالي سيمو ته لېږل شوې وې. په ښار کې امنيتي قواوې لږې وې او د نه امنيت خطر موجود و. په دغه وخت کې د قاضي خېلو د کلي خروټو د کابل د ښار امنيت په داوطلبانه شکل قبول او ژمنه يې دولت سره وکړه، چې د ښار امنيت به ساتي، نو د کلي د هغو اشخاصو نومونه د عادي افرادو او د هغو د منصبدار نومونه په يو تشکيلاتي اساس حکومت ته وړاندې او حکومت هغه منظور کړل، چې هغه منصبداران بيا په کلونو کلونو په دېرو لوړو امنيتي چارو کې مصروف وو، چې مامور حبيب الله خان هم يو له دغو جملې نه و. مامور حبيب الله خان دوه زامن درلودل، يو د عبدالله او بل د حفيظ الله په نامه له دينه چې حبيب الله د کابل په ښار کې وظيفه دار و، خپل دواړه زامن يې په مکتب کې داخل کړل. عبدالله پس د يو څه درسه د لږې مودې دپاره مُعلم و، خو بيا د قومي پېژندګلوي په اساس شېرخان خروټي، چې د قطغن والي و، عبدالله بې د خپل ولايت په مربوطاتو کې مقرر کړ او بيا وروسته عبدالله د سپين زر په شرکت کې، چې ددې شرکت واك اختيار د شېرخان د فاميل په اختيار کې و، پکار موظف و اما حفيظ

الله امین خپل تحصیل ته دوام ورکړ. د لوړو تحصیلاتو په مقصد دوه واره امریکا ته ولېږل شو. د تعلیم و تربیې په څانګه کې د دکتور تر درجې پورې خپل تحصیل ته ادامه ورکړه. په اول ځل یې چې خپل تحصیل ذ ماستری درجې ته رسولي وو، کله چې بېرته افغانستان ته راغی د افغانستان د معارف وزارت له خوا د دارمعلمین او ابن سینا په لېسو کې د مدیر په حیث مقرر شو. حفیظ الله امین ځیرك او هوښیار شخص و، زر پې وکړی شول چې یو ډېر اشخاص د منورینو او روشن فکرو له جملې نه خپل ځانته رانزدې کړي، چې د حفیظ الله امین سیاسي فعالیتونه هم له همدغه وخته شروع کړي، مګر دولتي مقامات او نور هم زر پوه شول او د امین په ضد یې ناجاېز تبلیغات شروع کړل. دا تبلیغات د ځینو متعصبو فارسي ژبو له خوا او د ځینو باندینو خودغرضو له خوا چې په دې ترتیب د افغان ولس په منځ کې هر وخت د تفرقې په اچولو کې مصروف دي په لار واچول شول. په ناجاېزه تبلیغاتو کې حفیظ الله امین یې د یوه فاشېست په نامه یاداوه. په هغه زمانه کې دا یوه ښه وسله وه، چې د هر پښتانه پرضد استعمالېده. دولتي مقاماتو حفیظ الله امین له دې حساسې څوکۍ نه برطرفه کړ، څکه دارالمعلمین د افغانستان د آینده معلمینو او استادانو موسسه وه.

د حفیظ الله امین پاتې کېدل په دغه مقام کې د مخالفینو د مرضۍ خلاف وه او بیا د معارف وزارت له خوا دویم ځل بیا د عال تحصیل په مقصد امریکا ته واستول شو. حفیظ الله امین لاپه امریکا کې و، چې دلته په افغانستان کې سردار محمد داود مستعفي شو او ډاکټر محمد یوسف خان د

افغانستان د صدراعظم په حیث د محمد ظاهر شاه له خوا موظف شو. داکتر یوسف د یوې انتقالي دورې دپاره د صدارت په کار شروع وکړه.

په دغه دوره کې نسبي چانس د وطن عامه خلکو ته هم میسر شو او یو څه سیاسي جریانات د ځینو منورینو او روشن فکرانو له خوا شروع شول. هرې ډلګۍ د خپلو نظریو او مفکورو په رڼا کې اجتماعي جریانات منځ ته راوستل. د هغو مترقي افکارو له جملې څخه د ګوتو په شمار اشخاصو د نور په دارالترجمه نومي دفتر کې سره راجمع کېدل، چې اخر پای یې د یوه مترقي دموکراتیک جریان بنسټ اېښودو ته سره موافق شول. دا دفتر د نور محمد تره کي شخصي دارالترجمه وه، چې د میوند د جادې په اوله حصه کې یې موقعیت درلود، چې ډېر مساعد ځای او د دولتي مقاماتو له نظره هم پټ نه و.

فلهذا: د حزب دموکراتیک خلق بنیاد هم په دغه ځای کې کښېښودل شو. حفیظ الله امین هم د امریکې نه د محمود سوما په ذریعه په دغه حزب کې د غړیتوب درخواست په دغه ادرس رااستولی و، چې هغه درخواست محفوظ وساتل شو او فعلاً قبول نشو، ځکه چې د حزب د غړیتوب شرایط هغه درخواستو ته منفي ځواب ورکاوه. کوم شخص چې شخصاً حاضر نه و په دغه وخت کې دغه جریان د خپلې موسسې کنګرې د دایرېدولو دپاره خپله اماده ګي او ترتیبات نیول. د کابل د ښار او د اکثرو ولایاتو نه د کمېټو منتخب نمایندګان مرکز ته راغلي وو. لنډه یې دا چې حفیظ الله امین د حزب دموکراتیک خلق د تاسیس په وقت کې نه د حزب غړی

و او نه يې د حزب په تاسيس کې کومه برخه درلوده (لکه څنګه چې ځينو په خپلو اثرو کې ليکل) کله چې حفيظ الله افغانستان ته راغې، د شورا د دولسمې دورې د وکيلانو انتخاباتي مبارزاتو ورځې وې، چې هغه په خپل ابتکار د شورا د وکيلانو انتخاباتي کميسيون ته د پغمان په اولسوالۍ کې خپل درخواست ورکړ او انتخاباتي مبارزه يې شروع کړه. له بلې خوا يې خپل د عضويت درخواست د حزب دموکراتيک خلق مربوطه مقام ته هم وسپارە. د حزب د تشکيلاتو څانګې حفيظ الله امين په آزمايشي دوره کې ومانه، ترڅو خپله آزمايشي دوره د حزب د دستوراتو سره سمه ترسره کړي.

په دغه وخت کې حفيظ الله امين يو نشنلېست، روشن فکره، تعليم يافته، د سلطنتي رژيمو برخلاف د يوه جمهوري پارلماني رژيم غوښتونکی او طرفدار و. د سيوسيالستي افکارو د رژيمو په باره کې يې دومره ډېر مطالعات نه درلودل. له همدې امله په اول سر کې دده د غړيتوب درخواست د حزب د تشکيلاتو له کميسيون نه چې په سر کې يې طاهر بدخشي و، نه و منل شوي. په همدې دليل رد شوې هم وه، خو حفيظ الله امين تعهد وکړ، چې زر به خپل ځان داسې نظام سره آشنا کړي.

نومورې په ډېره کمه موده کې دومره ځان ورساوه، چې د تيوري د کمښتې فعال غړی شو، چې بيا يې د ګوند اعضاو ته تيوريستي درسونه ورکول. د شورا د دولسمې دورې په انتخاباتو کې ناکام پاتې شو. د معارف د وزارت له خوا د رابعې بلخي د نجونو په لېسه کې د معلم په حيث مقرر شو، ځکه دولت نه غوښتل، چې هغه په پوهنتون او يا نورو تعليمي

مؤسسو کې وټاکي. حفیظ الله امین د نجونو په لېسه کې سیاسي جنبش په لاره واچاوه او ډېرې انجونې یې هم د سیاست ډګر ته راوویستې. حفیظ الله امین د اول سر نه چې د ګوند غړی شو د ګوند په منځ کې د هغه سره مخالفت شروع شو. د ببرك کارمل او طاهر بدخشي د ملګرو له خوا تخریبېده، د هغه د مختګ په وړاندې د ګوند په دننه کې یې مخه نیوله. د فاشست او د سي، آی، اې چاپونه یې پرې لګول. فاشست په دې معنې چې پښتون و او سي، آی، اې په دې خاطر، چې خپل تحصیلات یې په امریکا کې ترسره کړي و، مګر اصلي خبره دا وه، چې هغه یو پوه باجراته او زړه ور انسان و، چې د ګوند په منځ کې حتی د نور محمد تره کي هم په زړه کې ترېنه وېره درلوده.

کله چې په کال ۱۳۴۶ په حزب کې د ببرك کارمل له خوا انشعاب عملي شو امین او بدخشي دواړه د خلق یعنې د نور محمد تره کي پخوا کې پاتې شول، ترڅه مودې وروسته د طاهر بدخشي او حفیظ الله امین تر منځ اختلافات ډېر شدید شو، چې آخر پای یو حزبي هېئت وټاکل شو، چې د اختلافاتو په باره کې څېړنه وکړي او نتیجه مرکزي کمېټې ته وسپاري. په نتیجه کې معلومه شوه، چې دې اختلافاتو په ګوند کې بد اثر کړی دی او دواړه خواوې مسول ښوولې شوې وې. طاهر بدخشي د ګوند په دننه کې د ستم ملي تبلیغ کاوه او حفیظ الله امین هم په دې مسول و، چې د داسې تبلیغاتو په ضد یې مبارزه کوله، چې د ستم په نامه بدخشی دا ستم د پښتون قوم له خوا بالله. د ګوند د رهبرۍ له خوا حفیظ الله جزاء د ګوند د مرکزي کمېټې د غړیتوب حتی د حزب د اصل غړي نه هم د

حزب د عادي ازمايشي درجې ته تنزيل ورکړ شو او طاهر بدخشي صرف د مرکزي کمېټې نه لرې کړی شوی و. حفيظ الله د حزب فيصله ومنله او طاهر بدخشي سره د څو نورو ورسره ملګرو د حزب دموکراتيک خلق نه لاړل او بل سياسي جريان يې منځ ته راوست.

حفيظ الله امين وروسته بيا هغه وخت د خلق د ګوند مرکزي کمېټې ته راغی، چې د شورا په انتخاباتو کې د ديارلسمې دورې د پغمان د ولس والي د خلکو له خوا د وکيل په توګه وټاکل شو. يوازينی شخص و، چې په شورا کې يې د خلقيانو د جريان نمايندګي کوله اوس نو حفيظ الله امين د خلق د جريان په منځ کې د نور محمد تره کي نه پرته بل کوم سرسخت رقيب نه درلود، نو په دې لحاظ حفيظ الله امين ورځ په ورځ د حزب په منځ کې ډېر غښتلی کېده. ډېر ملګري يې حزب ته راوستل او سازماني کار يې د عسکري اوردو په منځ کې د ټيټ رتبه منصبدارو سره شروع کړ، چې ډېر يې د شوروي اتحاد تربيه شوي تعليم يافته ګان و. البته دده دغه فعاليت د اردو په منځ کې هغه وخت لانور هم ډېر شو، چې سردار محمد داود په کال ۱۳۵۲ کې د يو تعداد منصبدارانو په مرسته د سرطان په ۲۶ تاريخ کودتا د سلطنت پرضد اجرا کړه. محمد ظاهر شاه بې مخلوع او جمهوري نظام يې په افغانستان کې اعلان کړ. دغه کودتا چيان اکثراً د پرچم د ډلې له خوا لکه حسن شرق، سيد عبدالله، قدير نورستاني، فيض محمد او داسې نورو چې د پرچم غړي وو، تر سره او موفقه شوې وه. ډاکټر حسن شرق د سردار محمد داود د صدارت په زمانه کې د صدراعظم ډېر باصلاحيته د قلم مخصوص مدير

و. په داسي وخت کي چې سردار داود په کور کې ناست و او ظاهر شاه ټول د شاهي کورنۍ امتيازات يې د هغه نه صلب کړي وو، حتى د اساسي قانون چې په کال ۱۳۴۳ کې نافذ شو، يوه ماده چې د سلطنتي کورنۍ دپاره هم د انتخاب کېدو حق ورکړې وه. هغه ماده يې د قانون نه خاص د سردار داود په خاطر د اساسي قانون څخه لرې کړه. همدا علت و، چې سردار محمد داود د خپلو دوستانو لکه حسن شرق رسولي او نورو په مرسته مخفي مبارزه شروع کړه. د شوروي مشاورينو په مرسته، چې په اردو کې موظف و، يو تعداد منصبداران لکه سرور نورستاني، پاچا ګل وفادار، غوث الدين فايق، عبدالحميد، سيد امير، فيض محمد، پاچا سرباز او نورو د حسن شرق په ذريعه چې د شوروي مشاورينو او سردار محمد داود په منځ کې ارتباطي غړي وو، معرفي شول او ددغو اشخاصو په مرسته سردار محمد داود کودتا وکړه، دولتي قدرت يې ترلاسه کړ.

پس له دې واقعې نه حفيظ الله امين ته هم دا جرت ميسر شو، چې د همدغه شان کودتا په اساس دولتي قدرت ترلاسه کړي، نو ده هم په اردو کې جدي فعاليت شروع کړ. خپل ځان او د خلق د ګروپ دپاره يې د افغان اردو په منځ کې ډېر ملګري پيدا کړل. پخوا له دې د اردو منسوبين او امنيتي مامورين د حزب غړي کېدای نه شوای. همدارنګه د ببرک کارمل تر انشعابه د پوهنتون او د معارف د مکاتبو او لېسو شاګردان د حزب غړي کېدای نشول، يوازې د پوهنتون د آخرو کلونو محصلين د حزب په ازمايشي دوره کې قبلېدل. په هر صورت حفيظ الله امين وکړای شول، چې په ډېره لږه موده کې

د اردو په منځ کې تکړه ملګري پیدا کړي، چې اکثره بې پښتانه اطرافیان و، ځکه په اطراف کې تعلیمي لېسې نه وې یوازې په مرکز کې دارالمعلمین او حربي لېسه موجوده وه، چې لیلیه یې درلوده. ددغو موسسو اکثره زده کوونکي اطرافیان و، چې پس د عسکري لېسې د فراغ نه حربي پوهنتون او بیا د عالي تحصیل دپاره شوروي اتحاد ته استول کېدل. په دغه وخت کې د افغان اردو په لاس کې یوازې شوروي ساخته سلاح موجوده وه، چې طبعاً شوروي مشاوران باید په اردو کې موجود وي. البته ددې کودتا ګانو پس منظر چې اخر پای ببرك کارمل د شوروي اردو په مرسته د افغان بې واکه او بې اختیاره قدرت ترلاسه کړ.

البته ددې کودتاګانو ناعاقبته پس منظر، چې بیا وروسته یې د افغانستان ټول خلك له خاورو سره خاوري کړل، چې په ملیونو انسانانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ او ملیونونه نور د خپل وطن نه بې وطنه شول، په پردیو مملکتو کې د خواري او ذلت شپې ورځې تېروي، ددغو ټولو خرابو او وژونکیو اصل عوامل د سلطنت خپله کورنۍ او خصوصاً محمد ظاهر شاه پخوانۍ پادشاه دی. که چېرې هغه پس له ډېره وخته، چې مستبدانه او ظالمانه حکمراني د افغانستان په مظلوم ولس باندې ددې کورنۍ له خوا ترسره شوه، که بیا هم پادشاه په دې مظلوم ولس باندې یو څه زړه سوی درلودای او جوړ شوی د احزابو قانون یې تر خپل زنګانه لاندې نه وای قات کړی او خلکو ته یې د احزابو د جوړېنت اجازه ورکړې وای، نو نور ډېر احزاب به منځ ته راغلي وای او د قانون په رنا کې به بې قانوني حرکت او فعالیت کېږی وای، نو بیا به د مخفي

مبارزو شوق د چا سره نه وای، چې بیا نورو به هم د خپلې مفکورې په اساس د قانوني لارو نه خپله مبارزه کولی شوای، ځکه د نورو عقیدو خاوندانو نشوای کولی، چې یو سیاسي جریان تشکیل کړي اما د مترقي ایډیالوژۍ لرونکي که څه هم هغو غیر قانوني فعالیت درلود، څرنګه چې په دې جریان کې د سلطنتي دربار ځینو اشخاصو ګډون درلود او شورویانو هم لکه د جولاګك په شان خپل تنابونه تري چاپېر کړي وو، نو ځکه د فعالیت زمینه ورته میسره وه.

دا مطالب د سردار داود د کودتا په کامیابېدلو سره ښه واضح شول، چې د پرچم ګروپ د ببرك کارمل په مشرۍ په دغې کودتا کې څرګنده برخه درلوده. سردار داود، ببرك کارمل او شورویانو په شریکه دا کودتا د سردار داود په نفعه سرته ورسوله. شورویانو ته د خلق ګروپ د نور محمد تره کي په شمول بد ایسپده. ببرك کارمل لاپخوا د شوروي مقاماتو سره په ارتباط کې و. همدا علت و چې د حزب دموکراتیك خلق د مؤسسې کنګرې ځینې غړي کله چې له دې موضوع نه باخبره او پوه شول، د ګوند سره یې ګوندي تعلقات قطع کړل.

نور محمد تره کي د ګوند د مؤسسې کنګرې له خوا د ګوند د عمومي منشي په حیث وټاکل شو، خو شورویانو ته د اعتماد وړ نه و، لاکن خپله تره کي به خپلو ملګرو ته د شوروي د رهبرۍ ستاینه کوله او داسې به یې ښوول، چې ګواکې دده ګوند شورویانو په رسمیت پېژندلی.

یو وخت زه ددې اثر لیکونکی د خپلو تجارتي معاملاتو په هکله هندوستان ته روان وم. زما یوه دوست رانه خواهش وکړ، چې د هند نه ځینې مترقي فلسفي او ایډیالوژیکي اثار

خصوصاً د هند د کمونست ګوند د تاریخ اثر، چې په هند کې لیکل شوی ورته راوړم. ما چې ددغو اثارو معلومات په هند کې وکړ، مطلوبه اثار په لاس راتلل، خو د هوایي میدان د پولیسو له خوا ممانعت کېده. ما د یوه هندوستاني آشنا نه چې د هندوستان د کمونست ګوند غړی هم و، خواهش وکړ چې په دې مورد کې ما سره مرسته وکړي. هغه زه د ډهلي ښار د عمومي منشي ته معرفي کړم. هغه مانه پوښتنه وکړه، چې ته خو تاجر او سرمایه دار یې، دا آثار خو ستا د تجارت خلاف لیکل شوي. ما ورته وویل چې زه یو تاجر یم دا کتابونه خرڅوم،خو هغه زما په دې خبرې باور ونه کړ. مانه یې تپوس وکړ، چې ته په قوم څوك یې ما ورته وویل، چې زه په قوم پښتون یم. نوموړی منشي په خندا شو او راته یې وویل، چې ته خلقي او د تره کي چې هغه پښتون دی ملګری یې هغه زیاته کړه، چې موږ ته په افغانستان کې د ببرك کارمل ګوند د کمونستي ورونو په ګوندو کې معرفي شوی، خو سره ددې خبرې څو جلده مطلوبه آثار یې ماته وړیا راکړل. په ټوکه یې راته وویل که دا کتابونه دې خرڅ کړل، نور به په پیسو دربانديې خرڅ کړم. یو تیلفون نمبر یې راکړ وې ویل که چېرې پولیسو په هوایي میدان کې ممانعت کولو، دا نمبر ورته ورکه، چې تلیفوني تماس وشي. که چېرې پولیس دا خبره ونه منله، ته په خپله همدې تلیفون ته مخابره وکړه او خپل ځان ورمعرفي کړه، ستا مشکل به درخلاص کړي. کله چې په میدان کې پولیس ممانعت وکړ، ما هغه د تلیفون نمبر هغه ته ورکړ، چې خبرې وکړي، خو کله چې پولیس هغه نمبر ته وکتل، ماته بې اجازه راکړه او ما کتابونه له ځانه سره راوړل.

بله خبره دا چې د اتحاد شوروي د کمونست ګوند د شپږ ویشتمې کانګرې په مراسمو کې چې بریژنیف ډېره مفصله او اوږده وینا وکړه، په دې وینا کې یې ټول هغه واقعات، چې د پېنځه ویشتمې او شپږ ویشتمې کنګرې په فاصله کې د کمونستي وروڼو ګوندونو ترمنځ واقعات تېر شوي وو، ټول یاد کړل.

خو د نور محمد تره کي په باره کې چې په دغه موده کې هم د افغانستان دولتي چارې ترلاسه کړې او هم د افغانستان د انقلابي شورا رئیس شو او هم په همدغه زمانه کې له منځه لاړ، برېژنیف هېڅ ونه ویل.

د شوروي رهبر د شوروي د کمونست ګوند عمومي منشي بریژینف تر آخره د خلقیانو سره دښمني وکړه. دښمني یې هغه وخت لانوره هم برالاو ثابته شوه، چې د خپل خونړي خاپن لښکر په مارش ېي د خلقیانو حکومت چې ټولې دنیا په رسمیت پېژندلی و، ختم کړ او خپل ګوډاګی ببرك کارمل یې د کابل په تخت کښاوه. ددغې موضوع مفصل واقعات ددې اثر په نورو صفو کې هم لیکل شوي دي، چې لوستونکي به ښه استفاده ورڅنې وکړی شي. که انسان ښه ځیر شي او دغه واقعات، چې د دنیا او د افغانستان په دغو تاریخي مراحلو کې واقع او منځ ته راغلي، نو بیا هم ددغو حالاتو وروسته خونړي واقعاتو اصلي مسول اشخاص بیا هم د ټول واك پادشاه محمد ظاهر شاه او د پادشاه د خود غرضو جابره او مغروره کورنۍ ته ګوته نیول کېږي، ځکه د جهان وروستني تحولاتو او تر یوې اندازې پورې د استعماري قواو کمزوري، چې د دویم جهاني جنګ له اثراتو منځ ته راغلي او د جهان

اکثراً محکوم او تر استعمار لاندې مملکتونه خپلې آزادۍ ته رسېدلې وو. دلته هم افغاني جامعه د خپل رشد او پرمختګ په مرحله کې وه. لازم او ضروري وه، چې د جامعې د سیاسي سالمې ودې په منظور سلطنتي رژیم د افغاني جامعې په نفع او د خپل بقا په خاطر معقول حرکت او اقدام کړی وای. د خودخواهۍ او مغرضانه ناجاېزو افکارو تر تاثیر لاندې نه وای راغلې. پادشاه په هغه زمانه کې د کامل بشپړ اختیاراتو خاوند و، د خپلو ناپوه او متکبرو کورنۍ د غړیو له تاثیره ځان خلاص نه کړای شو او حاضر نشو، چې مملکتي امورات په صادقانه توګه خلکو ته ور وسپاري او خپله د یو ربښتینې مشر او رهبر په حیث د خپلو رعیاوو د خیر او سعادت په خاطر نیک نظر اختیار کړي. ویل کېږي، چې پاچا د هغو صدراعظمانو سره چې د کال ۱۹۶۳ نه بیا د سردار داود تر کودتا پورې چې منځ ته راغلل په صادقانه توګه همکاري ونه کړه. دغه پېښځه صدراعظمان، چې په دغې تاریخي مرحله کې یو د بل پسې منځ ته راغلل، ډېر پوه، تعلیم یافته، اګاه اشخاص وو، د هغه وخت د افغاني جامعې برجسته اشخاص وو، مګر د افسوس ځای دی، چې پاچا د هغو سره هېڅ کومک او همکاري ونه کړه. یوه ورځ چې زه ددې اثر لکیونکی، د محمد موسی شفیق په کور کې چې د قرغې د بند په ساحه کې د نورو ګڼ شمېر خلکو سره ناست وم، چې حکیم کتوازی چې په دې وخت کې امنیه قوماندان و، راغی. صدراعظم سره یې د سالون په یوه څنډه کې څه پټې خبرې وکړې، چې بیا صدراعظم ډېر ناکراره او په غصه شو. د حاضرینو په وړاندې یې په جګ اواز وویل، چې پادشاه ته تر بل هر چانه ببرک

کارمل د هر مخکې او ګران دی. دغه وخت داسې ورځې وې، چې د پرچم ګروپ د یوه ملګري د مړینې په خاطر په ښار کې مظاهرې په لاره کړې وې. پوهنتون او د ښار ټول مکتبونه او تعلیمي موسسې د دغو مظاهرو له امله تړل شوي وې او تعلیمي فضا په ټپه مختل شوې وه.

څرنګه، چې د سلطنتي او دکتاتوري رژیمونو خاصیت داسې نه وي، چې د خلکو مشروع حق و حقوق په خپله خوښه او رضا خلکو ته ورکړي، مګر د افغاني خاصو شرایطو داسې ایجابات میسر کړي وو، چې تر دې هره زمانه پورې د یوه ښه او زړه سواندې سلطنتي رژیم تر سیوري لاندې جامعه د یوه هوسا ژوند په لوري پرمختګ وکړي اوس هم په نړۍ کې د هر پادشاهي رژیمونه شته، چې وګړي یې د عالي دموکراسۍ له نعمته برخورداره دي.

دغه رنګه چانس او شرایط پادشاه ته ښه میسره وو. پادشاه کولی شول، چې د یو ملي قاید او رهبر په توګه د خپلو رعیاوو په وړاندې سر کې ځای نیولی وای، مملکتي او اداري چارې د قوانینو په اساس، چې په مرتبه قوانینو کې د خلکو مشروع حقوق په نظر کې نیول شوې وای، خپلو خلکو ته ورپېښې وای، نو دا اوسنی مصیبت او دردناکه خونړي واقعات، چې نن د افغانستان د خلکو وینې زبېښې او وطن یې د مطلقې ورانۍ او بربادۍ سره مخامخ کړی، په ملیونو ځوان نسل د خاورو لاندې شو او په ملیونو نور په پردیو مملکتو کې د بې وطنۍ او بې عزتۍ شپې ورځې تېروي.

رابه شو اصلي مطلب ته، چې د حفیظ الله امین بیوګرافۍ پورې ارتباط لري. حفیظ الله امین سره له هوښیارۍ بیا هم

خپل ځان او خپل ملګري يې وغولول. هغه له دښمنه د دوستۍ تمه کوله، دده دغه هيله خپله دده او د هغه د فاميل په مرګ تمامه شوه او د افغانستان خلك يې هم روسانو په خونړي منګولو کې ورکړل، په دې معنی چې دا خو په واضح صورت ثابته شوې وه، چې دده د قتل پروګرام او د ببرك کارمل بېرته د راتګ پروګرام په مسکو کې ترتيب شوی و. دی يعنې حفيظ الله امين بايد د کابل په هوايي ميدان کې په هغه ورځ چې نور محمد تره کی د هوانا نه د ماسکو په لار بېرته افغانستان ته راته، ترور شوی وای، چې هغه موضوع امين کشف کړه او ددغه عمل خاښين يې خلع سلاح کړل. بيا چې د روسانو په خواهش او تضمين د تره کي قرارګاه ته راوغوښتل شو، د تره کي د دفتر په زينو کې ډزې پرې وشوې، چې څو کسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او امين بچ شو. په داسې حال کې چې د روس سفير او نور روسي هئيت چې له مسکو نه راغلی و امين هې د خبرو او هغو زړه بدوالي په خاطر چې د تره کي او امين ترمنځ د امين د ترور په مورد کې په دا آخرو کې واقع شوی و، د پخلاينې په بهانه د تره کي دفتر ته راغوښتی و، خو په حقيقت کې بيا هم د امين د وژلو د پروګرام تطبيق په نظر کې وه، ځکه امين په هېڅ صورت نه غوښتل، چې د افغانستان څخه ووځي او دا يې هم ويل، چې په هېڅ صورت د ببرك بېرته راتګ او هغه ته دولتي کار ورسپارل طرفدار نه و. امين چې پوه شو، چې دده په وژلو کې د روسانو فعاله لاس لرنه ده، نو روسي سفير ته يې ډېرې بدې توهين امېزه خبرې وکړې او سفير ته يې امر وکړ، چې په پېنځه څلوېښت ساعتو کې د افغانستان نه ووځي. په دې خاطر، چې نوموړی سفير په

افغانستان کې شیخ سفرا و، یو لړې ورځې وځنډېده او بیا د افغانستانه وشړل شو.

سوال طرحه کېږي: امین د څه دپاره د شوروي دولت سفیر د افغانستان نه اخراج کړ؟

په دې خاطر، چې هغه د امین په وژلو کې لاس درلود.

نو بیا څنګه کېدای شي، چې هغه دښمن بیا دوست شي. امین د یو مستقل دولت واکمن و، هغه کولی هم شول چې د سفیر په وتلو سره سم ټول سیاسي او دیپلوماټیکي چارې بې د شوروي دولت سره شکولې وای او دنیاوالو ته بې اعلان کړی وای، چې شوروي دولت د افغانستان د اشغال نیت لري، نو په دې صورت کې به دی هم ژوندی پاتې شوی وای او هم شورویانو نه شو کولی، چې د افغانستان په خاوره تعرض وکړي. په هغه وخت کې افغانستان ډېره پیاوړې اردو هم درلوده، په دې مورد کې یقیناً د ټول مملکت وګړي د امین په خوا درېدل.

کله کله د قدرت نیشه دومره انسان بې خوده کوي، چې حتی خپل خیر او شر هم ترېنه هېر شي. د امین زوم اسدالله چې وراره یې هم و، ډېرشدید مسموم شو. هغه یې د تداوی په خاطر د شورویانو په مشوره یې ماسکو ته واستوه، خو هغه کله چې د کابل نه د ماسکو په لور روان شو، د شورویانو سره یې د یوه بندي حیثیت درلود، ځکه په دې وخت کې د یرغل شپې او ورځې نزدې وې. اسدالله هم په دې نسبت د شورویانو له خوا مسموم شوی و، چې د امین استخباراتي شبکه فلج کړي. اسدالله تر هغه هلته بندي وساتل شو، چې بیا راته د

څرخي پله محبس ته وسپارل شو او بيا د نور فاميل سره يوځای اعدام شو.

همدارنګه امين د جدي په شپږم کال ۱۳۵۸ نه دوه اوونۍ پخوا د ببرك، اناهيتا، نور احمد نور او اسلم وطن جار د راتګ نه چې د شورويانو په ذريعه په مخفي ډول د بګرام هوايي ډګر ته راوستل شوي وو، هم خبر شوی و، ځکه هغوی پس له دوه شپو په ناڅاپ صورت په ډېره چټکۍ سره شورويانو بېرته د تاشکند ښار ته بوتلل، چې بيا د روسانو د يرغل پوځ سره جوخت افغانستان ته راغلل. ببرك خپله اولينۍ بيانيه هم د تاشکند راډيو په لنډو څپو او منځنۍ څپو د کابل راډيو په فريکونسيو خپره کړه، چې دا هم د نړيوالو قاعدو نه د رسنيو (ميډيا) بله سرغړونه وه. دغه پورتنۍ مطالب د هغه کتاب په سريزه کې راغلي، چې شوروي موظف جنرال (ب ګروموف) "په افغانستان کې سړې لښکرې" نومي کتاب کې ليکلي او دا کتاب ښاغلي ژباړونکي د "الفا" د ك.ګ.ب پټ پوځي ټولګي نومي کتاب کې ليکل شوي، دلته رانقل کړې ده.

همدارنګه ډګرمن محمد يعقوب لوی درستيز، چې د امين ډېر نزدې ملګری او د هغه د اعتماد وړ شخص و، د دسامبر په ۲۵ امين ته ويلي وو، چې د شوروي لښکرې د دسامبر په ۲۸ تاريخ د سرحد نه را اوړي. دغه موضوع د هغې مقالې نه په ښه توګه د باور وړ ده، چې دشوروي مشاور ډګروال کاسيناسي له خوا، چې په افغانستان کې ډېر کلونه د عسکري مشاور په حيث کار کاوه. هغه وايي: "زه د دسامبر په ۵ تاريخ په څلورو بجو د لوی درستيز ډګرمن يعقوب دفتر

ته احضار شوم. هلته د يعقوب مشاور جنرال كوستنكو سره مې ملاقات وكړ. ډېرې خبرې وشوې، جنرال كوستنكو ماته وويل په نظر كې ده، چې ته شمال خوا ته حركت وكړې، چې شوروي لښكرې د دسامبر په ۲۸ له سرحد نه راتېرېږي. يعقوب اغلباً زمونږ خبرې اوريدې، چې هغه حتماً امين ته يې ويلي دي".

دا مقاله د سپوتنيك د مجلې په دويمه شماره كال ۱۹۹۱ كې نشر شوې او بيا هغه مقاله، چې ډېر مفصل تفصيلات لري د اخبار هفته په نامه په اولسمه گڼه د پنجشنبې ورځ د ثور ۱۲ كال ۱۳۷۰ په كابل كې نشر شوې ده.

سره ددغو ټولو معلوماتو بيا هم حفيظ الله امين په شورويانو بې باوره نشو، ترڅو چې دشورويانو په لاس په قتل ورسېد او شورويانو د افغانستان په مليونونو وگړي شهيدان كړل او نور ډېر يې معيوب كړل، د افغانستان هستي يې ډ خاورو سره برابره كړه.

يا دا چې حفيظ الله امين پوهېده، خو ددا سې يو اقدام چې شوروي ضد حركت وي، شرايط ورته مساعد نه وو او دده ددغسې يوه اقدام مساعدې زمينې په لټه كې و، نو مجبوراً يې بايد شوروي رهبري سره داسې په چټك مناسبات خراب كړي نه واى لكه څرنگه چې بيا وروسته څرگنده شوه. دده د كابينې ځينې غړي وزيران او د مركزي كمېټې اعضاء د شوروي سره ټينگې اړيكې درلودې. لكه ډاكټر صالح محمد زېرى، چې د ببرك د قدرت په وخت كې په مركزي كمېټه كې پس له ببرك او نور احمد نور نه درېيم باقدرته شخص و، اسمعيل دانش، چې د پرچميانو او شورويانو په وخت كې هم د

پخوا په شان وزیر پاتې شو او کریم میشاق، چې د شورویانو او ببرک کارمل په راتګ سره صرف دوه دري شپې په چرخي کې د نورو سره بندي شو او بیا د بنده خلاص شو، د مکروریانو په بلاکو کې یې مرفع ژوند کاوه. غلام دستګیر پنجشېری، چې د مریضۍ په بهانه ماسکو ته لاړ د شورویانو د یرغل نه لږه موده مخکې افغانستان ته راغی، په هغه مېلمستیا کې بې هم ګډون درلود، چې امین او ورسره نور سموم شوي وو، خو پنجشېری جوړ روغ پاتې شوی و. پنجشېري هم دوه دري شپې د کارمل د قدرت په اوله کې بندي شو، خو بیا راخوشې شو او د ګڼوند د مرکزي کمېټې او په رسمي کارونو کې مصروف و اما امین پلوه وزیران او د ګوند نور غړي یا اعدام شول او یا د خرڅي پله جبل ته واستول شول، چې کلونه کلونه یې ډېر بامشقته او غیر انساني ژوند تېرکړ، کورونه یې ضبط شول حتی د ځینو د اولادونو تعلیمي چانس واخیستل شو. اکثرا مامورینو خپلي دندې له لاسه ورکړې او یا خو د خپل کور کلي نه لیرې بدو شر ابطو ته ولېږل شول، خلاصه د هر شخص چې خپله به جبل کې و، متعلقین یې هم د جبل نه دباندې ډېر د تهدید او ډار شپې ورځې تېرولې.

میر اکبر خیبر

میر اکبر خیبر په قوم پښتون د لوګر ولایت د حصارك په کلي کې په یوه بېوزله دهقاني کورنۍ کې پیدا شوی. کله چې د لومړنۍ دورې تحصیلات یې په محلي مکتب کې پای ته ورسول، د دفاع د وزارت موظف هئیت له خوا عسکري لېسې ته په نظر کې ونیول شو. په هغه زمانه کې ترتیب داسې و، چې هر تعلیمي کال په اخر کې هر ولایت ته ښه ښه هیئتونه د دفاع وزارت له خوا تعینېدل، چې د عسکري لېسو دپاره د مملکت له اطرافي سیمو نه د معارف هغه شاګردان، چې ابتدایي تحصیل نه فارغ شوي په نښه او مربوطه عسکري لېسو ته یې معرفي کړي. اکثراً شتمنو فامېلو خپل زامن عسکري لېسو ته نه لېږل، عموماً پښتانه او د غرېبو کورنیو زامن دغو لېسو ته ورتلل، ځکه هغوی دا وس نه درلود، چې خپل زامن ملکي لېسو کې شامل کړي. عالي ملکي لېسې عموماً په مرکز کې وې، چې اطرافي هلکانو ته چې په ښارو کې د استوګنې ځای نه درلود، په داسې لېسو کې د زده کړې چانس نه و بله دا چې عسکري لېسې عموماً د لیلیې په شکل وې، چې د حکومت له خوا اعاشه کېدې او نور تدریسي

ضروریات لکه کتاب قلم او نور د حکومت له خوا تحویلېدل، دداسې شرایطو د درلودلو هلکانو نه یو هم میر اکبر خیبر و، چې عسکري لبسې ته معرفي شو. ددغې لیسې فارغان حربي پوهنتون ته استول کېدل. میر اکبر هم چې لبسه خلاصه کړه، حربي پوهنتون ته معرفي شو، چې د پیاده مسلك په فاکولته کې شامل شو. په هغه وخت کې چې سردار محمد داود د مرکزي عسکري قواوو او حربي پوهنتون قوماندان و، دغه دواړه پوستونه خصوصاً عسکري پوهنتون، چې د افغانستان د اردو راتلونکي منصبداران او جنرالان ددغه پوهنتون نه فارغېدل، سلطنتي کورنۍ ته یې ډېر اهمیت درلود او د اعتبار وړ شخص باید د هغه قوماندان وای، چې ددې موسسو زده کوونکي باید د اول نه تر کنټرول لاندې وای او داسې وروزل شي، چې سلطنتي کورنۍ ته وفادار واوسي. دغو محصلینو بغیر د عسکري درسي کتابونو د یوه عادي اخبار د مطالعې اجازه هم نه درلوده. هغه مجلې او نشریات، چې خپله د دولت له خوا نشرېدلې د عسکري پوهنتون محصلینو نشوای مطالعه کولې. که چېرې کوم هلك د خپلو شخصي معلوماتو د زیاتوالي په مطلب د مطالعې شوق درلود، نو د سردار داود جاسوسانو به فوراً د هغه راپور مربوطو څانګو ته ورکاوه، چې فوراً هغه انسان زندان ته تحویلېده، چې بیا کلونه کلونه به په زندان کې پروت و. میر اکبر خیبر او دده دوه نور ملګري د داسې مفکورې شوقیان وو، د تحصیل په موده کې څو واره دوی ته په دې مورد کې اخطار ورکړل شوی و، چې خپلو نظریاتو او مفکورو ته تغیر ورکړئ، خو کله چې له حربي پوهنتونه فارغ شول، د سردار

محمد داود په امر بې له کومې محکمې پوهنتون څخه راست د ولایت کابل مربوطه زندان ته واستول او تحویل کړی شول او څو کاله یې په ډېر مشقت او شاقه کار په زندان کې تېر کړل، ترڅو د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوره کې له بد نه خوشې کړی شول. دا وخت سردار محمد داود د داخله وزارت او د دفاع وزارت چارې سرته رسولې، خو اوس د سردار محمد داود شرایطو فرق کړی و. د شاه محمود سره یې په زړه کې مخالفت او کینه درلوده. پادشاه او صدراعظم هم نور نه غوښتل، چې سردار داود لکه د پخوا په شان فراخ صلاحیت او اختیارات ولري، نو ځکه سردار داود هم په دې لټه کې شو، چې د سیاسي مفکورو خاوندان د افغان اولس په منځ کې پیدا کړي او د سیاسي مبارزې له لیارې خپل مقاصد په لاس راوړي. سردار داود میر اکبر خیبر ښه پېژانده، په دغه وخت کې میر اکبر خیبر او ورسره ملګري یې چې له بنده ازاد شول، د کار لپاره داخله وزارت ته معرفي شوي و، چې سردار داود یې د وزیر په حیث موظف و، له دېنه چې سردار محمد اود میر اکبر خیبر ښه پېژاند، هغه سره یې د خپل مقصد د پاره ښه رویه اختیار کړه. میر اکبر یې د پولیسو په اکاډمۍ کې د تدریساتو دلوی مدیر په حیث مقرر کړ او خپله اشنایي ته یې دوام ورکړ. میر اکبر خیبر په زندان کې د ډېرو سختو زحماتو نه علاوه په وطن کې د دوی له کوره دده ښځه سره د یوه وړوکي زویه او د میر اکبر مور د نامعلومو اشخاصو له خوا په دسیسه اختطاف شول، چې تر نن ورځې پورې د هغو هېڅ مړی او ژوندی نه دی معلوم، چې میر اکبر خیبر له دې درکه د عمر تر اخره ډېر رنځ ګاله. میر اکبر خیبر ډېر پوه او زحمت کش

انسان و، په زندان کې يې د انګرېزي ژبه زده کړه، چې د انګرېزي اثارو په لوستلو سره يې خپل اجتماعي او سياسي معلوماتو ته ښه وده ورکړې وه. په زندان کې يې ببرک کارمل سره هم معرفت پيدا کړی و، ببرک کارمل هم يو څه د مير اکبر خيبر نه زده کړې وه، چې ببرک کارمل ورته استاد ويلی. اغلباً چې ببرک کارمل ته به سردار محمد داود مير اکبر خيبر ورپه ګوته کړی ويو ځکه د ببرک کارمل تعلقات لاپخوا د سلطنتي کورنۍ سره ټينګ و. په هر حال مير اکبر خيبر ته د خپل کار په ارتباط هم د مطالعې ښه زمينه مساعده شوه، چې يوه تدريسي علمي پوليسي څانګه وه، چې هر راز کتابونه پکې موجود او ميسر و. دا چې مير اکبر خيبر د پوليسو په پوهنتون کې د استاد په صفت درس ورکاوه، چې دلته يې هم ښه معرفت پيدا کړ او د هر راز کتابونو په لاس راوړل ورته ګران کار نه و.

(په دغه وخت کې د مترقي اثارو په افغانستان کې سخت مراقبت او سانسور موجود و) مير اکبر خيبر له دې موقع نه ښه استفاده وکړه، په جامعه کې يې د خپلې مفکورې خاوندان پيدا کړل، خپل نظريات به يې سره تبادله کول، خصوصاً د کابل د پوهنتون په محصلينو کې يې له ډېرو سره اشنايي پيدا کړه، چې د مترقي اثارو په لوستلو يې تشويقول حتی يو څه محدود اثار يې، چې په لاس کې درلودل د هغو په اختيار کې يې ورکول. په اول سر کې ډاکټر شاه ولي، ډاکټر صالح محمد زېري، ډاکټر عبدال محمد درمانګر، ډاکټر ظاهر احمدزي، نور احمد نور او داسې نورو چې بيا وروسته ډاکټر نجيب الله، سليمان لايق، عبدالقدوس غوربندی او داسې نور اشخاص

مير اکبر خيبر سره د نزدې نه تماسونه درلودل. حتی د مير اکبر خيبر نه يې په دې لار کې يعنې دمترقي اثارو په لوستلو او زده کړه کې استفاده کوله. ببرك کارمل هم خپله اشنايي د زندان له درکه د مير اکبره سره تازه کړه، خو څرنګه، چې بيا وروسته ببرك د سردار داود په موافقه ځان مير اکبر ته ورنزدې کړ، مير اکبر خيبر ډېر نزدې والی د سردار داود سره نه غوښته. يوه خبره دا وه چې سردار داود د خيبر سره ډېر بد کړي وو، هغه محض د پوهې او مطالعې په ګناه زندان کې اچولی و او بل دا چې مير اکبر د طبقې په لحاظ هم سردار داود سره د پېژندګلوی جوګه نه و او د هغه په خوا کې د جاسوس او مخبرې نه علاوه بل نوم چا نه شوای پرې اېښودی، نو ځکه سردار محمد داود خپل جاسوس ببرك کارمل ورموظف کړ، چې بيا کارمل د مير اکبر له دوستۍ نه ډېره استفاده وکړه. په اول کې د حزب په تاسيس کې همدغوی خيبر ملګرو تره کي ته وروښودل، چې تره کی هم زيات خوشاله شو او د حزب د جوړولو اميد يې قوي شو او ببرك ته ښه موقع په لاس راغله، چې د يوه حزب په رهبرۍ کې داخل شو.

مير اکبر خيبر د سليمان لايق خور په نکاح کړه، چې د ملا عبدالغني لور او د صبغت الله مجددي ښيښه وه. ملا عبدالغني په پلخمري کې استوګنه درلوده او د حضرت مجددي له خوا د ټولو شمالي ولياتو خليفه و. هغه ته په دې سلسله يعنې د پيرۍ او مريدۍ په سلسله کې ډېر خلق راتلل. د ملا عبدالغني له لارې د حضرتانو نذر او نياز جمع کېده.

میر اکبر خیبر هم کله کله پلخمري ته ورته، په ملا عبدالغني باندې هم ګران و، په دې ترتیب جریاناتو دوام درلود.

ترڅو د حزب دموکراتیک خلق د لومړنۍ کنګرې د تاسیس وخت رالنډه ده. تره کي او ببرک دواړو د میر اکبر خیبر ګډون په کنګره کې د ځانونو دپاره خطر احساساوه، ځکه په هغه وخت کې میر اکبر خیبر ددې حزب د جوړو شوي فرعي کمیټیو غړي اکثراً د میر اکبر ملګري وو، چې د حزب د رهبرۍ په انتخاباتو کې حتماً میر اکبر ډېرې رایې ګټلې. نور محمد تره کي او ببرک کارمل دواړو په یوه خوله دا نظر وړاندې کړ، چې میر اکبر خیبر دې تر هغه زماني پورې رسماً د حزب په رهبرۍ کې ګډون نه کوي، ترڅو چې د حکومت د پولیسو د منصب نه ځان نه وي خلاص کړی، ځکه دده موجودیت د حزب په رهبرۍ کې حزب به د خلکو په منځ کې خپل اعتبار کم کړي او څوک به یو پولیسي حزب ته زړه ښه نه کړي. په راتلونکي کې چې خیبر خپله استعفا ترلاسه کړه، طبعي دی په حزب کې خپل مقام اشغالولی شي، ځکه دې د حزب یو سابقه دار منلی ډېر پیاوړی غړی دی بیا وروسته معلومه شوه د میر اکبر استعفا نه منل د دولت له خوا د ببرک کارمل په سفارش پورې اړه درلوده، نو کله چې بیا ببرک کارمل غوښتل، چې په حزب باندې انشعاب تعمیل کړي، د میر اکبر خیبر موجودیت ته یې ضرورت پیدا شو. په فوري صورت یې د میر اکبر خیبر استعفا د دولت نه ترلاسه کړه، په خپل څنګ کې یې ودراوه. د میر اکبر په موجودیت کې ببرک موفق شو، چې انشعاب وکړي او ځان د پرچم د ډلې عمومي منشي کړي. د پرچم د ګروپ ډېر غړي د خیبر طرفداران و،

ببرك كارمل د مير اكبر له وجوده په خپله گټه ډېره ښه او موفقه لوبه وكړه. په دې معنې چې د هغه په موسسه كنګره كې د نه گډون خپل ځانته په حزب كې د رهبرۍ چانس ترلاسه كړ او له بلې خوا يې نور محمد تره كې هم له ځانه راضي او خوشاله كړ، ځكه د مير اكبر په كنګره كې نه گډون د تره كي انتخابېدل د عمومي منشي په حيث په اسانه ترسره شو. همدارنګه ببرك كارمل موفق شو، چې مير اكبر هم له ځانه خوشاله كړي. مير اكبر خيبر يې جنوبي ولايت ته د پولسو د منصبدار په حيث تبديل كړ، چې په دې وخت كې جنرال محمد حسين خان د ببرك كارمل پلار د جنوبي ولايت تنظيميه رئيس و. يعنې ملكي او عسكري چارې يې په اختيار او قدرت كې وې. كارمل مير اكبر سره وعده كړې وه، چې په كراره به دده د پلار په واسطه به ستا د استعفى لاره هواره شي. مير اكبر هم ددغه فاميل په دوستي اعتماد درلود. اميدوار و، چې ددې فاميل په بركت به يوه ورځ د پوليس لعنتي طوق نه خلاص شي.

ببرك كارمل د خپل دغه چالونو په لوبولو سره د ځان په گټه ښه بهره برداري وكړه. د مير اكبر خيبر په مرسته يې په كال (۱۳۴۶) د حزب دموكراتيك خلق په منځ كې انشعاب تحمل كړ، ځانته ي مركزي كمېټه جوړه كړه، د خپلې خوښې ملګري لكه ډاكټر اناهيتا، محمود بريالى (د ببرك ورور)، نور احمد نور او خپله مير اكبر خيبر او نور هغه د مركزي كمېټې غړي، چې په كنګره كې انتخاب شوي و او اوس د ببرك په گروپ كې دي، خپله ببرك كارمل ددغې مركزي كمېټې عمومي منشي شو. له بلې خوا يې د دولت رضايت چې په سر

کې يې نور احمد اعتمادي د صدراعظم په حيث موظف و، حاصل کړ. اخر پای کله چې مير اکبر د ببرك په مغرضانه مقاصدو پوه شو او نور په ببرك باندې په کلي توګه بې اعتماده شوی و، چې البته دا بې اعتمادي ببرك ته جدي خطر متوجه و، په همدغه ګير او دار کې مير اکبر خيبر په مرموز شکل ترور شو.

د ډاکټر نجيب ورور صديق چې کله امريکې ته وتښتېده، په يو ځانګړې نشريه کې يې د مير اکبر خيبر قتل د ببرك کارمل له خوا ليکلی دی.

هغه ليکلي، چې په دې قتل کې ببرك کارمل، ډاکټر نجيب او يوه شوروي مشاور لاس درلود.

د حزب دموکراتیك خلق افغانستان د تاسیس په هکله یو څه مطالب او ورسره ورسره په دغه تاریخي وخت کې د افغاني ټولنې سیاسي_اقتصادي ژوند شرایط د مسلط رژیم له خوا

پخوا له دې نه، چې د افغانستان د خلق ګوند د تاسیس په باره کې څه ولیکل شي، لازمه ښکاري چې په لنډ ډول د هغو مظالمو او ناخوالو په باره کې چې د وخت د حکومتونو له خوا د افغانستان په خلکو باندې تحمیل شوي، لږ غوندې نظر واچول شي.

له هغه زمانې نه چې د نادر شاه کورنۍ په کال ۱۳۰۸ کې د حکومت چارې په لاس کې واخیستې، بیا تر دغې زمانې پورې د افغانستان خلکو په ډېرو بدو شرایطو کې د ظلمونو، ناخوالو او خونړیو پېښو څخه ډك ژوند تېرولو. د افغانستان خلك د وژونکیو غارت کوونکو چپاول ګرانو په ناخوالو کې راګیر وو، چې بندي خانې د بې ګناه خلکو نه چې د محکمې مخ یې هم نه دی لیدلی ډکې وې. په داسې حال کې چې زولانې یې په پښو او د اوسپنو زنځیرونه یې په غاړه په تورو تیارو خونو کې د ظالمو وینې زېښونکو تر شکنجې لاندې شې

ورځې تېرولې، چې د دنیا آزاد خلك حتی ددغه رنګ کړاونو تصور هم نشو کولی. وینې زېښونکې جاسوسي دستګاوې د رنګ رنګ عذابونو او کړولو سخت شرایط د خلکو په باره کې اماده کړي وو، چې باشرفه انسانانو د داسي ژوند نه مرګ ته ترجیح ورکوله. دغه ټول ظلمونه او ناخوالې، کړاونه او بې عدالتی یې ددې دپاره په خپل اداري سیاست کې ځای پر ځای کړې وې، ترڅو د افغانستان خلك هرکله تر شکنجې او فشار لاندې وي او چېرې ونشي کړای، چې د دولت واګې او اختیار ترلاسه کړي.

حکومت لرونکیو هڅه او کوشش کاوه، ترڅو د افغانستان خلك په ناپوهۍ، بې سوادۍ کې وساتي او په دې توګه یې ډېره موده د افغانستان ولس د یوه جابر فامیل تر قدرت او سلطې لاندې ورځې شپې تېرولې، چې هېڅ کله اوس د خپلو ګټو او مقدراتو په هکله هېڅ واك اختیار نه درلود، چې په خپل سرنوشت باندې تصمیم ونیسي او ځانونه د دنیا د نورو خلکو سره برابر کړي. ددغه فامیل غدارو او ظالمو اعضاو او د هغوی د خپلې خوښې ظالمو حاکمانو او مامورینو، چې هرڅه یې غوښتل کولی شول، خلکو پر خپلو هستیو باندې هېڅ واك اختیار نه درلود، هېڅا د خپلو خلکو د ښېګڼې او هوسا فکر قدرې هم نشوای کولی، رشوتونه، ظلمونه او بې عدالتی په خپل سري د دولت د مامورین وله خوا جګ معیار ته رسدلې وې، چې د جامعې افرادو دا ټولې نادودې او ناکردې په خپلو غوښتو او پوستکو احساسولې، راز راز رنځ او دردونه د خلکو په اوږو ورځ په ورځ ور درندېده.

خو سره ددې هم دا فضا دومره غم لړلې شوې او دا وېره موجوده شوې وه، داسې نه چې د ملت قهر او غضب راونه خوځي، چې بيا يې مخې ته څوك درېدلی نه شي. دا وېره د شاهي کورنۍ په منځ کې ورځ په ورځ فراخېده، تر څو د شاهي کورنۍ غړي او هم د دوی نزدې سلاکاران د سلطنت د بقا په خاطر دې نتيجې ته ورسېدل، چې يوه داسې فضا رامنځ ته شي، چې ملت ته داسې هيله او اميد پيدا شي، چې د خپل سرنوشت په هکله تصميم نيولی شي.

نو ددغه مقصد دپاره د ۱۳۴۲ کال په لومړيو کې سردار محمد داود د صدارت له څوکۍ نه استعفا وکړه. د بادشاه له خوا يو انتقالي حکومت د ډاکټر محمد يوسف خان په مشرۍ منځ ته راغی او څه نسبي تحول د دموکراسۍ په لور اعلان شو، چې ورسره ورسره د جامعې منورينو او روشن فکرانو هم د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون په استنا د خپلې ناستې ولاړې او سياسي مفاهمې هلې ځلې شروع کړې، چې هرې ډلې د خپلې خوښې او خپلو عقايدو په اساس سياسي فعاليتونه پيل کړل. هرې ډلې دا هڅه کوله، چې د خپلې مفکورې خلك سره راټول کړي او ګوند تشکيل کړي، چې د داسې خلکو په جمله کې يو هم نور محمد تره کی و، چې کله کله به يو څو د ګوتو په شمار کسانو دهغه په کور کې چې په شېر شاه مېنه کې و او د هغه په دارالترجمه کې يې ګډون کاوه، چې په پای کې د دېرشو کمېټو په شاوخوا کې چې هره کمېټه له پېنځو تر لسو نفرو پورې وې جوړې او تشکيل شوې وې. ددې کمېټو راټول شوي اشخاصو له ټولو سره پېژندګلوي نه درلوده، ډېر لږ اشخاص و چې دا ټولو سره معرفي شوي وو لکه

نور محمد تره کی، ببرك کارمل، میر اکبر خیبر او یو څو نورو چې د ټولو شمېر هم ورمعلوم و. د نوي حکومت یعنې انتقالي حکومت له خوا د سیاسي فعالیتونو او نورو اجتماعي پرمختګ دپاره ډېره ښه او مناسبه فضا رامنځ ته کړه، چې هر چا او هرې ډلې په اطمینان سره د خپلو عقایدو او نظریو د څرګندولو په باره کې خپل تصمیمونه نیولی شوای، چې په داسې مناسبې فضاء په رڼا کې دغسې ډلې د خپل منظم تشکیل دپاره د خپلو کمېټو له منځ نه په انتخابي دود سره د دېرشو کسو په تعداد نمایندګان راوبلل، چې د ګوند د موسسې کنګرې په جوړولو کې ګډون وکړي.

د کنګرې منتخب شوي غړي د ۱۳۴۳ کال د جدي په یوولسم تاریخ، چې د ۱۹۶۵ د جنورۍ د اولې ورځې سره سمون خوري، پس له غرمې د پېنځو بجو په شاوخوا کې سره راټول ول. د غونډې مقر د نور محمد تره کي کور چې په څلورمه کارته کې موقعیت درلود، پخوا په نښه شوی و. د موسسې کنګرې کار د مانبام د اوو بجو په شاوخوا کې رسماً پیل شو. داسې په نظر کې نیول شوې وه، چې غونډه د شپې تر یوولسو بجو په شاوخوا کې ختمه شي، ځکه دا وېره کېده، چېرې نه چې حکومت مداخله وکړي.

د دېرشو کسو د جملې نه اووه ویشت اشخاص دې غونډې ته حاضر شوي وو، نور درې کسه د خپلو شخصي معذرتونو په وجه نه وو راغلي. د حاضرو افرادو نومونه دا دي:

نور محمد تره کی

ببرك کارمل

غلام دستګیر پنجشېری

محمد طاهر بدخشي
سلطان علي كشتمند
شهرالله شهپر
صالح محمد زيري
ډاکټر شاه ولي
عبدالکريم ميشاق
عبدالوهاب صافی
ډاکټر محمد طاهر احمدزی
سليمان لايق
ډاکټر عبدال محمد درمانگر
محمد ظاهر افق
عطاء محمد شيرزی
ادم خان ځائی
عبدالله ځائی
نور احمد نور
غلام محی الدين زرمتی
ملا عيسی کارگر
عبدالحکيم هلالي
عبدالحکيم شرعي جوزجانی
اکبرکارگر
سيد نور الله گلابي
بارق شفيعی
هادي کريم پنجشيری
انجنير خال يار.

په اول کې د معمول په ټوګه د غونډې د ښه تنظیم په مقصد د ګډونکونکیو له منځه یو تن د رئیس او دوه تنه د د منشیانو په ټوګه وټاکل شول. آدم خان ځاځی، چې په ټولو کې مشر سپین ږیری و، د رئیس په حیث دستګیر پنجشېری او عبدالحکیم شرعي جوزجانی د منشیانو په ټوګه وټاکل شول بیا د غونډې آجنډا په لاندې ډول د رئیسه هئیت له خوا ولوستل شوه:

۱ـ د هر غړي لنډه بیوګرافي، چې خپله شخص به یې د څوکیو د شمېر له مخې چې وار ورشي، لولي او خپل ځان به معرفي کوي.

۲ـ د یوه داسې حزب (ګوند) جوړول، چې د مترقي دنیا د اهدافو په رڼا کې به د خپل وطن د زحمت کښو خلکو منل شوي انساني حقوق به ګټي او په لار کې به مبارزه کوي، چې هغه د افغاني ټولنې یعنې د کارګرانو دهقانانو کسبګرو او وړو مالکانو ملي کوچنیو پانګه والو او د ټولو زحمت کښو طبقو نمایندګي کوي.

۳ـ ددغه حزب (ګوند) نوم به ټاکي.

۴ـ د حزب (ګوند) د اساس نامې او مرام نامې غټ غټ ټکي او لارښوونه به منظوروي، چې په راتلونکي کې د ګوند مرکزي کمېټه هغه په علمي سویه بشپړوي، چې بیا به په هم هغې لاره تګ کېږي.

۵ـ د مرکزي کمېټې اصلي او علل بدل غړي ټاکي. په دې ترتیب چې ددې غونډې (۲۷) حاضر اشخاص ګرد سره مرکزي کمېټې د غړیتوب دپاره کاندید دي، هر یو د کنګرې غړی کولی شي، چې (۱۱) رایې یوولس کسو ته وغواړي. د ځان په

شمول رایې ورکړي، نو بیا به د اول نه تر یوولسو پورې د عمومي رایو د شمېر په اساس اوه تنه اول به د مرکزي کمېټې اصلي غړي او نور څلور به علل بدل غړي وي.

۶ـ په عمومي توګه به په حالاتو او د حزب د پرمختګ په باره کې بحثونه او لارښوونې وشي.

۷ـ یادونه کېږي، کله چې د مرکزي کمېټې غړي وټاکل شول، سمدلاسه د مرکزي کمېټې پلنیوم یعنې اصلي او علل بدل غړي به مشترکاً د موسسې کنګرې د اعضاو په وړاندې خپله اولنۍ حزبي جلسه داړوي، چې هغې کې به د ګونډ عمومي منشي او د کنټرول منشي انتخابېږي.

پس له هغه، چې د غونډې اجنډا ولوستل شوه، حاضرینو د څوکیو د اخر نه چې څوکۍ په کتارو ترتیب شوې وې، د خپلو بیوګرافیو په لوستلو پیل وکړ. په دې ترتیب د غونډې عملي کار شروع شو. له هغو جملې نه د درېو کسو بیوګرافي د غونډې توجه ځانته متوجې کړه او هغه داسې چې ډاکټر شاه ولي وویل، چې زه د طبقې په خاطر یوه سرمایه دار فامیل ته منصوب یم، ولې ژمنه یې وکړه، چې سرمایه زما پلار پورې اړه لري، زه د طب د فاکولټي د محصلۍ آخري کال تېروم، کله چې فارغ شوم له دغې لارې به خپلو خلکو ته خدمت وکړم او بل یې نور احمد نور و، چې هغه خپله طبقه په یوه فیوډاله کورنۍ پورې مربوط وباله، خو ژمنه یې وکړه، چې زه به د خواري کښو طبقو په صفونو کې د خپلې طبقې په ضد مبارزو ته دوام ورکړم او درېیم شخص ببرک کارمل و، هغه وویل چې په ډیر تاسف سره وایم، چې زه د یوه جنرال زوی یم، چې کلونه کلونه یې د ارتجاع او ظالمو حکومتو پاسباني (ساتنه) کړې،

خو زه له نیکه مرغه او زما سکني نور ورونه له ډېرې مودې راپه دې خوا خپل تعلقات له پلاره سره قطع کړي او هېڅ ارتباط نه لرو، خو له دې نه ډېر رنځ ورم، چې د داسې یو شخص زوی یم، چې خپل ټول عمر یې د ظالم رژیم په خدمت کې تېر کړی دی.

په دغه ترتیب د کنګرې ټولو غړیو خپل ځانونه معرفي کړل. نور محمد تره کي د خپل بیوګرافي ځینې قسمونه چې ماته او ځینو نورو ته هم معلومات و، معرفي نه کړل (یعنې د خپل ماموریت دوره، د فواید عامې په وزارت کې چې د امریکایي کمپنۍ "موریسن کنووشن" د ارتباط لوی مدیر و. بل هغه ماموریت، چې د پترولو د شرکت د پترولو د توزیع عمومي مدیر و او یا دا چې پخوا د امریکا له تګه مخکې د زابلي په تجارتخانه کې کار کولو). د بیوګرافیو د لوستلو نه وروسته د آجنډا په دویمه برخه باندې یو لړ غوندې خبرې وشوې. د ټولو په خوښه اجنډا ومنل شوه، بیا د ګوند په نوم مباحثه شروع شوه. نور محمد تره کي پېشنهاد وکړ، چې ددغه ګوند نوم دې د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند وي، یو څه نورې نظریې موجود وې. د هغو د جملې نه ببرک کارمل دغه نوم نه و خوښ. ببرک ویل، چې ددغه ګوند نوم دې (حزب مترقي افغانستان) وي، ډېر اختلافات د خلک په کلمې باندې و، چې یوه سوچه پښتو کلمه ده. آخر پای د خلک کلمې پر ځای د خلق کلمه قبوله شوه یعنې (حزب دموکراتیک خلق افغانستان) ومنل شوه.

بیا د څلورمې مادې په باره کې څه لنډې خبرې وشوې. په راتلونکي کې به مرکزي کمېټه په دې مورد کې تصمیم نیسي.

د ګونډ اساسنامه او مرام نامه به ترتیبوي بیا نو د اجنډا په پنځم ماده باندې عمومي خبرې او نظریې واورېدل شوې. نور محمد تره کې د ملي او بین المللي مسایلو او جریاناتو په هکله اوږده او مفصله وینا وکړه، چې ددغې وینا په وخت کې یې سور رنګه دسمال د خپل جیب نه راووېست. د خطابې پرمیز یې وغوړاوه، چې بیا نورو لاسونه ورته وپرکول. ورپسې د آجنډا سره سم د انتخاباتو وار راورسېد، چې د ګونډ د مرکزي کمېټې لپاره اووه تنه اصلي او څلور تنه علل بدل غړي وټاکل شي. څنګه چې پخوا هم لیکل شوي داسې منل شوې وه، چې د غونډې اووه وېشت حاضر غړي د مرکزي کمېټې د غړیتوب دپاره کاندیدان دي یعنې یو رایې ورکوونکی کولی شي، چې د انتخاباتو په کارت کې یوولس نومونه ولیکي، چې په دغه حمله کې خپل نوم هم لیکلی شي یعنې ځان ته رایه ورکړي. کارت په پاکټ کې او بیا په صندوق کې اچول کېده، چې د غونډې د رئیس ترمخ ایښودل شوی و. دا کارت مستقیماً د خپل شخص له خوا په صندوق کې اچول کېده بیا کارتونه په هم هغه ځای کې د رئیسه هئیت پر وړاندې صندوق پرانیستل شو او رایې شمار شوې.

همدارنګه تر اووم کاندید پورې د مرکزي کمېټې اصلي غړي او نور څلور د علل بدل غړیو په حیث راتلل، چې نور محمد تره کی د رایو په اتفاق لټولې رایې ترلاسه کړې وې. همدارنګه ټول په ترتیب سره د رایو په اکثریت وټاکل شول، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ نور محمد تره کی په اتفاق آرا

۲ـ ببرك کارمل په اکثریت // //

۳_ طاهر بدخشی // //
۴_ غلام دستگیر پنجشېری // //
۵_ شهر الله شهپر // //
۶_ سلطان علي کشتمند // //
۷_ داکتر صالح محمد زېری // //

د مرکزي کمېټې اصلي غړي چې موسسې کنګرې له خوا انتخاب شول.

همدارنګه عبدالوهاب صافی، داکتر عبدالظاهر احمدزی، عبدالکریم میثاق او داکتر شاه ولي دا څلور کسه د مرکزي کمېټې د علل بدل غړیو په حیث د موسسې کنګرې له خوا انتخاب شول.

(پخوا داسې منل شوي وه، چې که چا دوه کسو یو شان رایې اخیستې وې، نو د هغوی په منځ کې دې بیا د ټولو غړیو له خوا رایې واخیستل شي).

پس له هغې نه د افغاني ټولنې د اوسني شرایطو او تاریخي ضروریاتو په نظر کې نیولو سره سم د یو داسې ګوند د منځ ته راتګ، چې د عالي مترقي ستراتېژۍ په بنیاد ولاړ وي احساس کېده، چې د کنګرې غړیو د هغې اساسي تګلاره معینه کړي، چې د جامعې د پرمختګ او ترقي کولو په لار کې هر اړخیزه مبارزه وکړي او افغانستان د ملي او دموکراتیکو مبارزو په اساس د هوسا ژوند خوا ته بوځي او د غیر سرمایه لرلو په اساس وده وکړي، چې په پای کې به د علمي سوسیالزم په لور پرمختګ وکړي او جامعه به د هوسا ژوند په لور روانه کړي. همدارنګه د حزب مرکزي کمېټې غړیو ته لازېوونه وشوه، چې د حزب مرامنامه آماده او نشر کړي. همدارنګه

سیاسي او اقتصادي، کلتوري اهداف چې د ګوند په اساسي ټګلاره کې په ښه علمي طریقه واضح کړي. همدارنګه د کنګرې د اعضاء له خوا د مرکزي کمیټې غړیو ته لارښوونه وشوه، چې د ګوند د بشپړې اساس نامې په هکله مرکزي کمیټې ته هدایت ورکړ شو، چې د هغې په اساس به ګوند خپل کارونه پرمخ بیایي.

له دې خبرو وروسته د مرکزي کمیټې اصلي او علل بدل غړیو خپله اولنۍ غونډه شروع کړه، چې په نتیجه کې نور محمد تره کی د حزب دموکراتیک خلق د عمومي منشي په حیث او ببرک کارمل د عمومي منشي د مرستیال په حیث وټاکل شو. غلام دستګیر پنجشېری د کنټرول د منشي په حیث وټاکل شو.

څنګه چې پخوا هم لیکل شوي په نظر کې وه، چې د کنګرې کارونه د شپې تر یوولسو بجو باید خلاص شوي وای، خو د بعضو مسایلو په باره کې لکه د پښتونستان موضوع او د ډیورنډ کرښه، چې مختلف نظریات موجود و، خبرې ډېرې اوږدې شوې، ځکه دا دواړه موضوع ګانې د افغانستان د خلکو په ژوند کې مستقیمه آغېزه لري، چې زمونږ د پرګنو ډېره برخه انګرېزانو بېله کړې ده او کله چې په کال ۱۹۴۷ کې انګرېزانو د هند د قارې نه ځان ووېست، دغه بېله شوې خاوره چې انګرېزانو په ظلم او زور زمونږ له وجود نه بېله کړې وه، هغه یې په خپل لاس جوړ کړي پاکستان ته ورحواله کړه، چې له هم هغې مودې راهیسې د افغانستان او پاکستان د حکومتونو ترمنځ یو کرغېړن سیاسي اختلاف موجود دی، چې

د افغانستان خلکو او حکومت په دغه نسبت ډېرې تجارتي او ترانزیتي خساري کړي دي.

(یادونه: په دې مورد کې باید د وخت حکومت په افغانستان په اوله مرحله کې چې هند او پاکستان جلا کېدل او انګرېزان د هند نه وتل جدي اقدام شوی وای، خو داسي ونه شول، چې دا موضوع ډېرې مفصلې لیکنې ته ضرورت لري). چې موږ په هېڅ صورت د پښتونستان له موضوع څخه نه شو تېرېدی او د دیورنډ کرښه موږ په رسمیت نه شو پېژندلی. دا خبرې ډېرې جدي مرحلې ته ورسېدې، چې ځینو داسې هم ویل چې کله ببرک کارمل په دې باره کې موږ سره موافق نه وي نو موږ حاضر نه یو چې له داسې شخص سره په یوه لار لاړ شو او ګوند ورسره جوړ کړو. کله چې خبره داسې حساسې مرحلې ته راورسېده، ببرک هم پوه شو چې خپل نظر کې موفق کېدای نشي یو دم یې خپل نظر ته تغیر ورکړ. د لنډې وینا په ترڅ کې یې وویل:"ما هرګز خط منحوس دیورنډ رابه رسمیت نم شناسیم و به ضد آن تا پای جان مبارزه خواهم کرد" هغه وشوای کړی، چې د کنګرې مغشوشه فضاء بیا صمیمي او خوشاله کړي، چې د لنډې ویا په ترڅ کیې ځینو لاسونه ورته وپرکول.

مګر د همدغې اولې ورځې نه په ټکاره او څرګند ډول معلومېده، چې عمیق اختلاف موجود دی.

د موسسې کنګرې غړي حاضر ټول ۲۷ کسه د ملیتو په اساس په لاندې ډول وو:

۱_ پښتانه ۱۵ کسه

۲_ تاجك ۵ کسه

۳_ هزاره	۳ کسه
۴_ ازبك	۳ کسه
۵_ سادات	۱ کسه
ټول	۲۷ کسه

باید وویل شي، چې تر دې مهاله په ټول ګوند کې صرف درې کسه هزاره ګان وو، چې دوه یې مرکزي کمیټې ته راغلل دا په دې مانا نه و، چې ګوندي دوی ډېر فعال او تر نورو ښه و، صرف پښتنو دا خطر قبول او دوی یې انتخاب کړل.

د حزب دموکراتیك خلق د مؤسسې کنګرې جلسه د شپې د درې بجو په شاوخوا کې پای ته ورسېده. په ځلورمه او درېیمه کار ته کې دېره امنیتي افراد ځای په ځای شوي وو.

تره کی او ببرك دواړه په دې فکر کې و، چې په مؤسسه کنګره کې به د نوي جوړ شوي ګوند مشري ترلاسه کړي، خو بخت د تره کي په خوا شو او د ببرك کارمل نه یې میدان وګاټه، چې بیا کارمل ډېر ناکراره شو، ځکه یې یو ځل د غونډې فضا ډېره ناکراره کړه، خو بیا ژر یې خپلې وضعې ته تغیر ورکړ، خو د ببرك او تره کي ترمنځ اختلاف له ورایه څرګند و. هم هغه د کنګرې په سبا باندې په هغو کمیټو کې چې د ببرك کارمل هوا خاهان و، تره کي په انتخاب باندې ناراضه و او واضح انتقادونه یې کول او خپله ببرك هم په ځینو ځایونو کې انتقاد کړی ویلی و، چې نور محمد تره کي د خپلې وینا په وخت کې سور دستمال له جېب نه راووېست او د خطابې پر مېز یې وغوړاوه. خلاصه دغه ګوند په داسې حال کې جوړ شو، چې ماحول کې یې چل ول او منافت نه ډکې مفکورې موجودې وې. هر څه چې و، خو د یوه نوي ګوند

خبنته په داسې حال کې کښېښودل شوه، چې منظم او باقاعده تشکیلات یې درلود، چې په نزدې راتلونکي کې به ددغه ګوند برنامه او اساسنامه د هغو پوهو اشخاصو له خوا، چې دغه موضوع ته ټاکل شوي ترتیب او د حزب مرکزي کمېټې ته به وسپارل شي، چې ګوند به په ټاکل شوې لاره خپل مبارزات په افغاني ټولنه کې شروع کړي.

ورسره ورسره د تشکیلاتو، مالي او کنټرول کمېټې جوړې شوې او په کار یې پیل وکړ، چې د ګوند غړي ورځ په ورځ ډېرېدل په کراره د ګوند غړي په ګوندي دسپلین باندې آشنا شول، چې د ګوند اوامرو اطاعت کېده او د ګوند غړي د ګوند د اوامرو پابند وو.

د ۱۳۴۴ کال د ثور د میاشتې په ۲۵ تاریخ د انتقالي دورې حکومت له خوا د سنبلې د میاشتې ۱۹ تاریخ د شورې د انتخاباتو ورځ اعلان کړه، چې بیا وروسته له همدغه تاریخنه انتخاباتي مبارزې په ټول افغانستان کې پیل شوې او ډېرو خلکو خپل ځانونه د شورې وکالت ته کاندید کړل، چې په همدغه مطلب د خلق دموکراتیک ګوند هم تصمیم ونیوه، ترڅو خپل ځینې ملګري اعضاء د شورې وکالت ته کاندید کړي، نو په همدغه سبب د ګوند مرکزي کمېټې د خپلو اعضاو نه د یوه ګوندي کنفرانس په شکل یو شمېر اعضاء راټول کړل. په دغه باره کې خبرې شروع کړې، چې په اول کې د کابل په مرکز باندې خبرې پیل شوې. نور محمد تره کې غوښتل، چې د کابل د ښار یوې انتخاباتي حوضې ته کاندید شي او د ګوند غړي دې د هغه د کامیابۍ دپاره ډېره کلکه مبارزه وکړي. ببرک کارمل په دې کې مخالفت ښکاره کړ او وې ویل، چې

نور محمد تره کی د کابل په ښار کې ډېر خلک نه پېژني او معرفت نه لري، خپل ځان يې د کابل ښار نه ښه کاندید وباله او استدلال يې کاوه، چې ما په ډېرو مظاهرو کې ګډون کړی او ستېج په سر کې مې خبرې کړې او ډېر خلک مې پېژني، مګر نور محمد تره کي هم ډېر سخت ولاړ و او ټينګار يې کاوه، چې ټول ګوند بايد ورته مبارزه وکړي، چې موفق شي. دا خبرې او اختلاف نظر د تره کي او ببرك په منځ کې داسې جدي مرحلې ته ورسېده، چې يو بل ته يې سره په ډېرو بدو او رکيکو بازاريو خبرو خطاب وکړ، خو اخر د مجلس غړيو شديده مداخله وکړه او فيصله وکړه، چې نور محمد تره کی د خپل پلارني مسکن، چې د مقر د ناوې ولسوالي ده کاندید شي او د ګوند ډېر غړي دې ورته مبارزه وکړي. همدارنګه ببرك کارمل دې د کابل د ښار هغې حوضې نه کاندید شي، چې د بين حصاړ قلعه چې د سياسنګ مربوط دی، چې د کمريو د کلي سره، چې د ببرك پلارنی مسکن دی، راشه درشه لري کاندید شي او د ګوند غړي دې ورته مبارزه وکړي. همدارنګه ډاکټر اناهيتا چې رسماً د ګوند غړې نه وه (تر دغه وخته لا د ښځو سازمان نه و تشکيل شوی) خو د ګوند د ځينو غړيو سره يې سيمپتي درلوده. د کابل د ښار د درېيمې انتخاباتي حوزې نه ځان کاندید کړ. د ګوند نور غړي لکه نور احمد نور د قندهار د پنجوايي له ولسوالي نه نظام الدين تهذيب د قندوز له ښار نه، سليمان لايق د پلخمري له ولسوالي نه، عجب ګل اطرافي د لوګر ولايت نه فيضان الحق فيضان د رورداتو ولسوالي نه، عبدالحکيم شرعي جوزجاني د مزار شريف د سرپل ولسوالي نه، سلطان علي کشتمند د

چهاردهي له ولسوالۍ نه د ګونډ له خوا د ولسي جرګې (شورى) وکالت ته کاندید شول. حفیظ الله امین چې نوی د امریکې نه راغلی او لاد ګونډ غړی نه و، اما د غړیتوب درخواست یې د ګونډ تشکیلاتي کمیټې ته سپارلی و، په خپل ابکار د پغمان له ولسوالۍ نه ځان د شورى وکالت ته کاندید کړ. په دغه ترتیب هر چا د خپل کاندید توب غوښتن لیکونه خپلو مربوطو ولسوالیو ته وسپارل. سلطان علي کشتمند د علي کلمه د خپل نوم نه حزف کړه او یوازې د سلطان کشتمند په نامه یې خپل غوښتن لیك د چهاردهي ولسوالۍ ته وسپاره. ویې شوی کولی، چې خپل درخواست په همدغه شان د انتخاباتي حوزو نه تېر کړي، ځکه د هغه په تذکره کې د هغه نوم سلطان علي کشتمند و. داسې ویل کېدل، چې په دغه باره کې ببرك کارمل ورسره مرسته کړې وه. تره کي په ټوکو کې ورته وویل، چې د علي نوم د شورى د وکالت په بدلون نه ارزي. بیا نو انتخاباتي مبارزې شروع شوې. له دې جملې نه د نور محمد تره کي غوښتن لیك د ناوې د ولسوالۍ له خوا د کوم بې موجبه علل په اثر معطل شو. په هغه باره کې یې د انتخاباتو مرکزي ریاست نه تحریري پوښتنه وشوه، چې ډېره موده تېره شوه اخر پای د تره کي کاندېدل په داسې وخت کې منظور شو، چې انتخاباتو ته ډېرې لږې وړځې پاتې وې، چې نومورې هېڅ ونشواى کړای، چې د ولسوالۍ په دننه کلیو کې خپل انتخاباتي مبارزات وکړي. نور محمد تره کي ډېر کلونه د خپل کور کلي نه لرې یا په کابل او یا په قندهار کې د خپل ماموریت په ساحه کې ژوند درلود. ولسي خلکو د نزدې نه پېژندګلوي ورسره نه

درلوده. د کابل په ښار کې ګوندي اعضاو ببرک کارمل او ډاکټرې اناهیتا ته ډېرې پراخې مبارزې وکړې. خپله ببرک کارمل او اناهیتا هم د ښار په حساسو ځایونو کې وینا وې وکړې، خو اخر پای موفق شول (بیا داسې اوازې هم وې، چې دولت ورسره کومك کړی و) بیا نو د ګوند غړي یو څو کسه د محمود بریالي په ګډون تره کي ته ورغلل، چې هغه ته مبارزه وکړي، خو د هغو ورتګ تره کي ته د فایدې پرځای ضرر ورساوه. هغه ټول سرلوڅي چې وطني کلتور نه هېڅ خبر نه و، په پښتو ژبه بې خبرې نشوای کولې بې ځایه ناسته ولاړه بې په ولسي خلکو بده اغېزه وکړه، چې د تره کي رقیب کاندید ددغه وضعې نه په خپله نفعه ډېر تبلیغ وکړ او دولس ډېرې رایې یې واخیستې، چې په نتیجه کې نور محمد تره کی په انتخاباتو کې ناکام شو او ببرته کابل ته راغی. یو ډېر شمېر د ګوند غړي یې راجمع کړل د خپلې ناکامۍ علت یې د دولت په غاړه واچاوه، چې ګواکې د دولت د غیرقانوني حرکاتو له عمله دی ناکامه شو بیا ببرک کارمل هم یو څه لنډ مطالب په دې باره کې بیان کړل. بیا یې تره کي ته ډاډ ورکړ، چې ته اوس هم په پارلمان کې یې ځکه ستا ټول نظریات، چې د ګوند نظریات دي ستا د ګوندي ملګرو په ذریعه، چې په پارلمان کې غړیتوب لري، په ښه شان په پارلمان کې منعکسه کولی شي. همدارنګه کارمل ډېرې خبرې وکړې.

(خو [illegible] و تره کي په زړونو کې یو بل ښه پېژندل. همدا وه، چې لږې ورځې وروسته په پارلمان کې نوي حکومت ته، چې د نوي اساسي قانون په رنا کې د حکومت غړي او د حکومت د تګلارې په مورد کې د حکومت نه د اعتماد رایې

یو. ددغو مظاهره کوونکو د ولسي جرګې فضاء ډېره خړه پړه کړه، چې اخر پای د ولسي جرګې رئیس ډاکټر عبدالظاهر د شورا غونډه سبا ورځې ته یعنې د عقرب د میاشتې درېیمه کال ۱۳۴۴ چې د کال ۱۹۶۵ عیوسي سره سمون خوري. وځنډوله، ځکه هغه بله چاره نه درلوده. ببرك کارمل مظاهره چیانو ته وویل سبا بیا هم شورا ته راشئ او د خپلو حقوقو مطالبه وکړئ (داسې اوازې بیا وروسته خورې شوې، چې دغه ګډوډي ببرك کارمل د سردار محمد داود په لمسون کړې وه، چې هغه پس د استعفی نه په خپل کور کې ناست و او پادشاه په نوي جوړ شوي اساسي قانون کې هغه د سلطنتي کورنۍ په غټیو کې نیولی او له سیاسي فعالیتونو نه په کلي ډول محروم کړی شوی هم و).

بیا سبا ورځ د ولسي جرګې غونډه اعلان شوه او د ډاکټر محمد یوسف کابیني ته په اکثریت سره د اعتماد راېي ورکړل شوه. پرونې مظاهره چیان بیا هم راغلل او د ولسي جرګې د تالار دباندې ې ناري سورې وهلې، چې اخر پای دې مظاهرې ډېر شدت پیدا کړ او مظاهره چیان د ښار سړکونو او بازارونو ته ورداخل شول، چې بیا یوه ډله مظاهره کوونکي د شاهي ارګ خواته او بله ډله یې د ډاکټر محمد یوسف صدراعظم د کوړ په لور چې په څلورمه کارته کې و، وخوځېدل، نو بیا امنیتي او عسکري قواوې، چې قوماندې یې د سردار عبدالولي تر مستقیمې اداري لاندې وه، مداخله وکړه. په مظاهره چیانو یې ډزې وکړې او اوښکې بهوونکي ګاز یې استعمال کړ، چې مظاهره تیته پرکه شوه، خو په نتیجه کې یو بې غرضه لاروی، چې د خیاط شاګرد و، ووژل شو او یو ډېر

شمېر د معارف هلکان د وهلو ټکولو په اثر زخميان شول او يو څه په بند کې واچول شول، چې بيا زر واپس خوشې شول.

نور محمد تره کې يو شمېر ګوندي کدرونه خپل کور ته چې څلورمه کارته کې و راوغوښتل. د ګوند اضطراري جلسه يې دابره کړه، ترڅو په دغه باره کې تحقيق او معلومات وشي او بيا د ګوند ټولو غړيو ته ورسول شي، ځکه ببرک کارمل په خپل شخصي ابتکار دغه مظاهره په لار اچولې وه او ګوند ورته نه و ويلي، چې دده دغه عمل شديداً د تنقيد وړ و، چې د ګوند د مشورې نه يې پرته دا کار کړی و، چې د هغې مظاهرې په اثر بيا يو انسان هم ووژل شو. داسې افراطي کړه وړه د ګوند په بدنامۍ او ضرر تمامېږي. ببرک کارمل هم د ګوند په دغه غونډه کې ګډون درلود، هغه په هېڅ صورت نشواى کولى، چې د خپل دغه عمل نه انکار وکړي. تره کې شخصاً د ولسي جرګې په تالار کې موجود و دا حالات يې په خپلو سترګو ليدلي وو. (ترتيب داسې و، چې يو شمېر نورو اشخاصو ته د شورا په ازادو غونډو کې د شورا د اجراآتو عادي جريان د ليدو په خاطر د دخول کارتونه ورکول کېدل. البته دا کارتونه د پخوا نه لاسته راوړل کېدل. د داسې کارتونو لرونکو د ولسي جرګې په تالار کې په هغو مخصوصو څوکيو کې ځای نيوه، چې ددغه مطلب دپاره په نظر کې نيول شوي وي. په دې ترتيب تره کې دا شان کارت درلود او هلته يې ګډون کړی و. په همدغه ورځ ما خپله عطاء محمد شېرزي ددې اثر ليکونکي ددغه رنګه کارت نه استفاده کړې وه او هلته حاضر وم.

له بلې خوا د ببرک کارمل خواهانو لکه ډاکټر نجيب، ډاکټر فاروق، بصير رنج پر، محمود بريالى او داسې نورو چې

په پوهنتون کې يې ددې مظاهرې په لاره اچولو کې کومه فعاله برخه درلوده، د چا له نظره پټه نه وه. ببرک کارمل دا انتقاد په ځان ومانه او ژمنه يې وکړه، چې نور به دا شان خودسري ګانې نه کوي اما ببرک کارمل په پټه تره کی قانع کړی و، چې دغه فعاليتونو زمونږ په پېژندګلوی کې ډېر مثبت تاثير درلود او د ګوند هويت يې په جامعه کې روښانه کړ، چې بيا تره کی هم نور ډېر جدي حرکت ونه کړي. غونډه بې د کومې فيصلې نه ختمه شوه. په هر صورت د تره کي په ولسي جرګه کې نه کاميابېدل، د ګوند په دننه او دباندې کې موقف ډېر ښه کړ، ځکه خلکو داسې فکر کاوه، چې نور محمد تره کی د دولت او حکومت خوښ نه دی، نو ځکه يې قصداً دغه غوښتن ليک وځنډاوه بيا چې لږې ورځې د انتخاباتو نېټې ته پاتې وې، هغه ته يې اجازه ورکړه. ممکن نورې لاسوهنې هم د نومورې د ناکامۍ په باره کې شوي وي. برعکس د ببرک کارمل موقف هم په ګوند کې او هم د نورو خلکو په وړاندې د سوال وړ ګرځېده. خلکو داسې فکر کاوه، چې ببرک کارمل د دولت د اعتماد وړ شخص دی، نو ځکه يې هغه ته د ولسي جرګې غړيتوب ته لاره خلاصه پرېښوده. د ولسي جرګې منتخب غړی شو.

همدارنګه ګوندي فعاليتونو دوام درلود، ترڅو د کال ۱۳۴۴ په اخرو کې ګوند لازمه وګڼله، چې يو نشرياتي ارګان ولري اما د ببرک کارمل رضايت نه و، ځکه نور محمد تره کي غوښتل، چې د اخبار امتياز د نور محمد تره کي په نامه وي. اخر ببرک هغه وخت دې مطلب ته رضايت وښود، چې د اخبار مسول مدير دده په انتخاب وي. په دې ترتيب د يوه اووه نيزې

جریدې خواهش د (خلق) په نامه د نور محمد تره کې په امتیاز او د محمد حسن بارق شفیعي په مسول مدیریت حکومت ته وسپارل شو. همدارنګه یو کمیسیون د ګوند له خوا د ګوندي غړیو نه وټاکل شو، چې د ګوند مرامنامه ولیکي، ځکه په دغه مورد کې د ګوند د مؤسسې کنګرې له خوا مرکزي کمیټې ته لارښوونه کړې وه. بالاخره موظف کمیسیون د مرامنامې موده بشپړه کړه، چې د هغې تصویب او نبه غور دپاره یو ګوندي کنفرانس راوغوښتل شو. په دغې مسودې باندې د غور او نبه تحقیق هیله وشوه، چې بیا ترتیب شوې مسوده د عمومي منشي (تره کي) له خوا حاضرینو ته ولوستل شوه، چې پس له غور او د بعضو جملو د تصحیح نه وروسته یې د نشر اجازه ورکړل شوه، چې بیا د کال ۱۳۴۵ د حمل د میاشتې په ۲۲ تاریخ د خلق د اخبار په اوله او دوهمه ګڼه کې نشر شوه، چې ددغه چاپ شوي اخبار شمارې په وېشلو کې د کابل د نبار ټولو ګوندي کدرونو ګډون وکړ، چې په زرګونو پاڼې یې خلکو واخیستې. د ګوند د مرامنامې لیکل او ځینو نورو لیکنو مضامین د یوه باصلاحیته کمیسیون له خوا تهیه او تکمیلېدل، ځکه داسې په نظر کې نیول شوې وه، چې ددې اخبار ټول مضامین د دولت د قانون د اهدافو سره باید برابر وي او هېڅ قانوني خلاوې ونه لري، چې بیا حکومت ته بهانه په لاس ورنشي، نو ځکه ددې کمیسیون غړي اکثراً داسې اشخاص و، چې په قانوني چارو کې نبه پوه او رسېدلي اشخاص وو. دغه اخبار وکولی شول، چې په لږه موده کې ډېر لوستونکي او علاقه مندان یې په افغاني جامعه کې پیدا کړل او د خلکو په منځ کې یې یو خاص محبوبیت پیدا کړ، چې ډېر

زر د ګونـد د شـمولیت دپـاره ډېر غـوښت لیکونـه د مرکـزي کمېټي پـه نامـه راورسېدل، خـو لـه بلـې خـوا د شاهي کورنـۍ او نورو حکومتـي څانـګو یـو څه نـاکراري منـځ تـه راغلـه، چـې بیـا د حکومـت رئیـس ښاغلـي میونـدوال د اخبـار د امتیـاز خـاوند نـور محمد تـره کـي او مسـول مدیـر بـارق شـفیعي د صـدارت مقـام تـه وروغوښتـل او ورتـه یـې وویـل، چـې ستاسـو اخبـار پـه خلکـو کـې یـوه هنګامـه اچولـې، چـې د هغـې پـه دا رنـګه دوام ممکـن پـه اینـده ګـې پـه امنیتـي چارو کـې خلـل رامنـځ تـه کـړي. ښه بـه دا وي. خـې غـوا لـه هغـه نـه، چـې حکومـت ددې اخبـار د مصـادرې حکـم صـادر کـړي، تاسـو پـه خپلـه دا اخبـار نـور معطـل کـړئ او نشـر یې نـه کـړئ. البتـه تـره کـي پـه ځواب کـې ورتـه وویـل، چـې زمـوږ د اخبـار ټول مضـامین د حکومـت د قـانون سـره سـم دي، مـوږ پـه هغـه لار کـې چـې د مملکـت اساسـي قـانون او د مطبوعـاتو قـانون منلـي دي، د خلقـو د حقوقـو د دفـاع پـه بـاره کـې نشـریات کـوو او پـه دغـه لار کـې بـه مـوږ خپلـو هلـو ځلـو تـه د قـانون پـه سیوري کـې دوام ورکـړوو بیـا نـو دولـت وغوښتـل، چـې د پارلمـان لـه لارې ددغـه اخبـار بنـدول میسـر کـړي، نـو بـالاخره د پارلمـان د وکیلانـو پـه منـځ کـې شـور او زوږ پیـدا شـو او لاپسـې پـراخ شـو، چـې بیـا حکومـت پـه همدغـه بهانـه تصمیـم ونیـوه، چـې د خلـق اخبـار د شـپږو شـمارو نـه وروسـته د کـال ۱۳۴۵ د جـوزا د میاشـتې پـه دوهمـه ورځ ددغـه اخبـار د بنـدولـو امـر ورکـړ او رسماً د خلق د اخبـار بنـدول پـه سـرکاري اخبـارو کـې نشـر کـړل. البتـه د اخبـار دا راز بنـدول، چـې د کومـې محکمـې لـه خـوا فیصلـه پـرې نـه وه صـادره شـوې، د حکومـت امـر یـو غـیر قـانوني عمـل ګڼل کـېده، ځکـه پـه فـوق العـاده شـکل امـر او حکـم ورکـړل شـوی و،

چې دغه راز د حکومت یو مستبدانه امر د دموکراتیک خلق اعتبار نور هم د خلقو په منځ کې زیات کړ او د ګوند طرفداران یې ډېر کړل او ډېرو د حزب غړیتوب ومانه او د ګوند غړي ورځ تر ورځ مخ په ډېرېدو و، چې اخر مرکزي کمېټې داسې تصمیم ونیوه، چې نور کدرونه د پلینوم په غړیو ورزیات کړي، نو دغه لاندینې لس تنه د مرکزي کمېټې د علل بدل غړیو په حیث ومنلشول، چې د مرکزي کمېټې اصلي او علل بدل غړي ټول ۲۱ تنه شول. هغه اشخاص، چې نوي ورشامل شول دا دي:

سلیمان لایق، نور احمد نور، اسمعیل دانش، بارق شفیعي، داکتر عبدال محمد درمانګر، حفیظ الله امین، قیوم نورزی، عبدالقدوس غوربنډی، عبدالحکیم شرعي جوزجانی، صاحب جان سارایي.

باید وویل شي، چې طاهر بدخشی او ببرك کارمل د حفیظ الله امین په انتخاب کې خپل مخالفت اظهار کړ، خو په رایې اخیستو کې کامیاب او د حزب د مرکزي کمېټې علل بدل غړي او د پلینم غړي شو. پخوا د رایې ګېرۍ نه ببرك کارمل خپله بیانیه ولوستله او هغه ضرورت، چې د پلینوم د غړیو ډېروالي ته و، د غونډې په وړاندې یې بیان کړ او زیاته یې کړه، چې موږ باید په خپلو انتخاباتو کې ډېر محتاط ووسو، چې مشکوك اشخاص مرکزي کمېټې ته رانشي او هغه کسان چې ناسیونالستي سره شدید تمایل لري، ترڅو خپل ځانونه اصلاح نه کړي د ګوند حساسو مقامو ته انتخاب نشي، چې دده دغه مقصد خاص حفیظ الله امین و. حفیظ الله بیا هم د پلینوم غړی شو. همدا شان مخالفتونه د ګوند په منځ کې

موجود و. هغه د ګوند دننه پرکسیون، چې پخوا په مخفي ډول فعالیت درلود، په کراره سره یې خپله بڼه ظاهروله ترڅو تره کي د ګوند عمومي منشي داسې وړاندینه وکړه، چې پېنځه تنه نور دې د مرکزي کمېټې د علل بدل غړیو نه د مرکزي کمېټې اصلي غړیو ته راشي، مګر ببرك کارمل غوښتل، چې څلور یا شپږ تنه دې مرکزي کمېټې ته راشي. د نور محمد تره کي او ببرك کارمل ترمنځ اختلاف ورځ په ورځ زیاتېده. دواړه په دې فکر کې و، چې خپل طرفداران په مرکزي کمېټه کې زیات کړي (د پېنځو او شپږو یا څلورو توپیر په دې کې و، چې یا دري دري او یا دوه دوه د هر لوري نه راشي او تره کي په پېنځو کسو ټینګ و، چې دري به د تره کي طرفداران وي او دوه د ببرك) همدارنګه دا مطلب تر اخره عملي نشو، ترڅو د کال ۱۳۴۵ د سنبلې په میاشت کې هغه وخت، چې د دربار د وزارت کلنی بودیجه د پارلمان عمومي غونډې ته وړاندې شوې وه، ببرك کارمل په هغه باره کې ډېره مفصله بیانیه د محمد ظاهر شاه په طرفداری بیان کړه او پادشاه یې یو ډېر محبوب او مترقي پادشاه وبالله. زیاته یې کړه، چې د پادشاه احترام د ټولو فرض دی، چې د زړه له کومې د هغه احترام وشي. ددغه پادشاه احترام زمونږ په غاړه دی، او هېڅ څوك نشي کولی، چې مونږ د هغه د احترام نه منع کړي. د دربار د وزارت بودیجه چې په ټوله دنیا کې مروجه ده په داسې شان باید ترتیب شي، چې د پادشاه د شان او عزت سره سمون ولري. له دې نه، چې ببرك کارمل په ولسي جرګه (شورا) کې د حزب دموکراتیك خلق د پارلماني پرکسیون په حیث پېژندل شوی و، دده دغه بیانیه په هېڅ وجه د حزب نظر نه و.

نور محمد تره کي په يوه ازاده جريده کې وليکل، چې د ببرك ويناوې دده خپل شخصي نظر دی او له بلې خوا نور محمد تره کي د مرکزي کمېټې د پلينوم غړي رادعوت کړل، غوښتل يې چې د ببرك د هغې وينا متن چې د دربار د وزارت دبوديجې په موضوع کې د پادشاه صفتونه د ولسي جرګې په وړاندې کړي و، پلينوم غړيو ته واوروي او تنقيدي بحث وربانديې وکړي او دې مورد کې پلينوم رسماً خپل نظر څرګند کړي، مګر ببرك کارمل پخوا له هغه ، چې د پلينوم ټول غړي راحاضر شي تره کي ته ورغی او له تره کي نه يې په دې باره کې ښښنه وغوښته او خواهش يې وکړ، ترڅو دا موضوع د پلينوم په غونډه کې مطرح نه کړي. ببرك کارمل دا ومنله، چې په خپله د مرکزي کمېټې له غړيتوب نه خپله استعفی د پلينوم جلسې ته وړاندې کوم. نور محمد تره کي د ببرك په دې خبره وغولېده او دا موضوع يې غونډې ته وړاندې نه کړه. بيا د پلينوم په بله غونډه کې ببرك کارمل د يوې مفصلې وينا په ترڅ کې خپله استعفی د پلينوم غونډې ته په ډېر متاثره الفاظو کې وړاندې کړه او زياته يې کړه، چې زه د خپل ګوند د پېشرفت دپاره د حزبي مقامو نه ستاسو سرتېرو څوانانو او محترمو لويانو په وړاندې خپله استعفی وړاندې کوم او ژمنه کوم، چې د يوه سرتېري سپاهي په حېث به د خپل حزب په خدمت کې مشغول يم، چې د ببرك دغه وينا وې د پلينوم د غونډې په اعضاو موثري اغېزې وکړې، د استعفی په موضوع بحث شروع او اخر پای داسې فيصله وشوه، چې د ببرك استعفی يې يوازې د هغه د ګوند د عمومي منشي د معاونت

له مقام نه منظوره کړه، په مرکزي کمېټه کې د پخوا په شان پاتې شو.

ددغو پورتنیو پېښو او داسې ورته نورو موضوعګانو د ګوند په منځ کې چې له پخوا نه په مخفي ډول اختلاف موجود و، بربنډ او څرګند شو. هره ډله په دې هڅه کې شوه، چې څه یې په توان کې وي د ګوند غړي خپل ځان خوا ته راکش کاندي. خپله ببرك کارمل د ګوند په دننه کې دومره ډېر محبوبیت نه درلود. د میر اکبر خیبر موضوع یې رابرسېره کړه او تینګار یې کاوه، چې میر اکبر خیبر باید په ګوند کې رسما ومنل شي او د پلینوم غړی شي. ببرك استدلال کاوه، چې میر اکبر خیبر په حقیقت کې ددغه ګوند موسس دی. نور نو بایده دی، چې د هغه حقوق اعاده شي. نور محمد تره کي طبعا ددې خبرې مخالف و، ځکه میر اکبر خیبر لاتراوسه هم د جنوبي ولایت د امنیتي پولیسو منصبدار و. په حقیقت کې څرنګه، چې پخوا هم لیکل شوي، د ګوند د تاسیس په وخت کې ببرك کارمل او نور محمد تره کي دواړو سره لاس یو کړ او میر اکبر یې قانع کړ، چې له ګوند نه دې دباندې اوسي. په هغه وخت کې دواړو د میر اکبر نه وېره درلوده، ګوندې نه چې له دواړو نه په انتخاباتو کې میدان وګټي، خو اوس چې ببرك کارمل د میر اکبر خیبر وجود ته سخت ضرورت و، نو ځکه ببرك اوس په داسې شرایطو کې دی، چې حتما باید په ګوند کې انشعاب راولي او ځانته خپل ګوند ولري. اما که د میر اکبر ملګري او طرفداران ورسره نه وي، دی نشي کولی، چې په ګوند کې داسې انشعاب تحمیل کړي، چې دی بل ګوند جوړ کړي. ببرك کارمل مجبور و، چې د میر اکبر خیبر پښنه دې جنجال ته

راوړاندې کړي. داسې هم ویل کېدل، چې په دې انشعاب کې د شاهي کورنۍ خصوصا د سردار محمد داود او سردار نور احمد اعتمادي د وخت صدراعظم ډېره دلچسپي درلوده. ببرك د مير اكبر خيبر د عضويت موضوع د مركزي كميټې په جلسه کې جدا مطرح کړه، چې په دغه ترتیب بې د خیبر د طرفدارانو توجه ځانته راوګرځوله او له بلې خوا یې د شاهي کورنۍ رضایت هم حاصل کړ. مير اكبر خيبر يې د جنوبي ولایت نه د داخله وزارت مرکز ته راتبدیل کړ او بیا یې د هغه تقاعد د حکومت نه واخیست. ببرك كارمل د مير اكبر خيبر په مرسته خپل فعالیتونه د ګوند په دننه کې لانور هم زیات کړل. نور محمد تره کې په ډېرو بدو او سختو شرایطو کې راګیر شو. وضع د ګوند په منځ کې ډېره خطرناکه حالت کې واقع شوه، ځکه د مر اکبر خیبر ملګري تر هغه وخته، چې د میر اکبر موضوع منځ ته نه وه راغلې، د تره کې پر خوا ولاړ و، خو څرنګه چې د ببرك په توصیه میر اکبر رسما د حکومت له منصب نه خلاص شو، هغه ټول د ببرك پخوا کې ودرېدل. په دغه حال کې، چې د ګوند په دننه کې اختلافات او جنجالونه هره ورځ مخ په زیاتېدو و او یوه ناکراره وضع موجوده وه، د ۱۳۴۵ د جوزا په میاشت کې د ولسي جرګې په تالار کې، چې د شورا عمومي غونډه هم داېره وه، چې د مجلس د موضوعاتو په باره کې بحث کېده، ببرك كارمل چې د کابل د ښار منتخب وکیل و او د سردار عبدالرشید، چې د پلخمري د ولسوالۍ منتخب وکیل و، په منځ کې څه لفظي تنازعه پېښه شوه، چې په نتیجه کې ببرك كارمل او نور احمد نور وهل وخوړل، ځکه یو څو وکیلانو لکه سدو ځاځی، وکیل

عبدالرشید صافی د اغچې وکیل عبدالقدوس صافی د مزار شري د بلخ د ولسوالۍ وکیل او داسې نورو له خوا د سردار عبدالرشید په پلوۍ ببرك تر پښو لاندې کړ، چې دواړه یعنې ببرك کارمل او نور احمد نور د ابن سینا په شفاخانه کې بستر شول او د ګوندي ډاکټرانو تر مراقبت لاندې تداوي کېدل. نور احمد نور په لوله مرحله کې د کوما په حالت کې و. د واقعې نه نور محمد تره کي ته اطلاع ورکړل شوه، چې بیا تره کي سره د څو نورو ګوندي ملګرو شفاخاني ته ورغې، چې د هغو د پرستارۍ او دقیق امنیت چارې د ګوند غړیو په غاړه واخیستې، چې شفاخاني اداري هم په دغه اړه موافقه وکړه. په همدغه شپه دلسو بجو په شاوخوا کې د ګوند د حاضرو غړیو په ګډون د نور محمد تره کي تر مشرۍ لاندې د شفاخاني په یوه کوټه کې د ګوند اضطراري جلسه داړه شوه، چې په دې باره کې تصمیم ونیول شي. له دغه عمله، چې د ګوند پټه پرکمیسیون باندې د ولسي جرګې په تالار کې داسې ناوړه قصد شوي څه عکس عمل وښوول شي، نور محمد تره کي د ګوند عمومي منشي او ځینو نورو دا نظر لاره، چې دا پېښه د شخصي منازعاتو په اساس منځ ته راغلې او که بله سیاسي انګېزه یې درلودله، لازمه ده چې په حقیقت څانونه سره پوه کړو او بیا تصمیم ونیسو او یو څو نورو لکه محمود بریالي د ببرك ورور، محمد طاهر بدخشي، تاکېد کاوه بایده دي، چې د حکومت په ضد شدیده مظاهره وشي، چې امنیتي مطمئن کنټرول په اوضاع باندې نشي تامینولی او داسې نورې افراطي شعارونه دې د ټول ګوند له خوا په کار واچول شي. په پای کې داسې فیصله وشوه، چې د مرکزي کمېټې ټول غړي د

سبا سحر په اتو بجو د نور محمد تره کي په کور کي دې غونډه وکړي، چې په دې باره کې په مسولیت سره پربکړه وکړي او ګوند ته دې هدایت ورکړل شي، د مرکزې کمیټې د خبرولو په باره کې څو اشخاصو ته وظیفه ورکړی شوه، چې همدا نن شپه دې د مرکزي کمیټې ټول غړي خبر کړل شي، مګر ببرك په دې پوهیده چې تره کی ترڅو ځان ښه پوه نه کړي، په دې باره کې څه اقدام نه کوي. ببرك په دې هم پوهیده، چې دا جنګ دده د بې ځایه مداخلو او هم دا چې د سردار عبدالرشید په رکیکو الفاظو رټلی و او له ځینو نورو وکیلانو سره یې هم ښه رویه نه درلوده، منځ ته راغلې، چې وهل یې د وکیلانو له لاسه وخوړل، خو په عین زمان کې ښه چانس هم ببرك ته میسر شو، چې په ګډون کې د خپلو طرفدارانو تعداد ځان ته معلوم کړي، نو خپلو نزدې ملګرو ته ې په پټه د مظاهرې مشوره ورکړې وه. سبا وخته ترڅو د مرکزي کمیټې غونډه دایرېده د ګوند د غړیو له خوا مظاهره د پوهنتون له ساحې نه شروع او مخ په ښار روانه شوې وه او په هغې مظاهرې کې د ګوند ټولو غړیو ګډون کړی و، ځکه هغوی نه پوهېدل. چې حالات څه ډو دي. اوس، نو د ګوند مرکزي کمیټې غ[illegible] سره انجام شوي عمل سره مخامخ شوي دي، چې په دغه وخت کې د مظاهرې منع کول د ګوند مطلقه بې ثباتي ښوولە. مرکزي کمیټه مجبوره شوه، چې فوراً یوه مسوله کمیټه وټاکي او دا کمیټه موظفه کړي، چې د مظاهرې اداره په لاس کې واخلي او مظاهره چیانو ته سالمه لارښوونه وکړي. په اول سر کې چې مظاهره شروع شوې وه، ډاکټر نجیب، ډاکټر فاروق بریالي ددې مظاهرې نطاقان و. د هاشم میوند

وال صدراعظم او د امریکا او ارتجاع په ضد شعارونه یې ډیر په شدت سره ورکول کېدل، چې د دوی دا شعارونه د سردار داود په طبعه برابر و. په دغسې بدحالت کې، چې ببرك کارمل دا صحنې جوړې کړې وې، تره کی مجبور شو، چې دا مظاهره پر ځای وبولي، خو دونه هې وکړل چې د مظاهرې کنټرول او اداره د مرکزي کمېټې موظف شوې کمېټې په خپل اختیار کې راولي او مظاهرې ګډون کوونکي په دې پوه شول، چې دا یوه دسیسه وه سره ددې چې مظاهره کنټرول شوه، خو بیا هم حکومت دونه ډېر په قهر شوی و، چې ګوند مجبور شو، چې خپلې عادي غونډې وځنډوي او یا یې په مخفي ډول خپلې ضروري جلسې وکړي. ددې مظاهرې په لاره اچولو کې ببرك ته ښه اطمینان پیدا شو. د انشعاب په باره کې یې جرات ورته ورکړ، ببرك کارمل او نور احمد نور پس له څو ورځو د شفاخانې نه خارج شول. کله چې دوی په شفاخانه کې بستر وو او د ګوند غړي به د ببرك پوښتنې ته ورغلل، ببرك به هغو ته ویل، چې د ګوند دښمنانو زما د مرګ بند و بس کړی و، په دې رنګه ببرك ددغې واقعې نه چې هغه قصداً منځ ته راوستې وه، په خپله ګټه ډېره بهره برداري وکړه. نور احمد نور کله چې د شفاخانې نه ووت (خارج شو) د ښو معاینا تو او معالجې لپاره د ولسي جرګې په مصرف چکوسلواکې ته لاړ. ببرك له دې عمله چې څه موده نور هم په حزب کې پاتې شي، انشعاب یې څه موده شاته وځنډاوه، ترڅو وکولی شي د انشعاب په وخت کې د ګوند ډېر غړي له ځانه سره بوځي. یو څه نور وخت ته یې ضرورت درلود.

نور محمد تره کی یې اغفال کړ د تره کي هغه کتاب چې "زندګي نوین" نومېده، د نور احمد نور په ذریعه په خارج کې چاپ کړ او هغه یې په افغانستان او نورو مملکتو کې نشر کړو چې د هغه په چاپ کولو کې یې تره کی چې یو خودخوا شخص و خوشاله کړ. له بلې خوا ددغه کتاب اکثراً برخې د مارشال ستالین د لیکونو نه اقتباس شوې وې، چې په دغه زمانه کې خپله مارشال ستالین د مترقي جهان د شوروي د رهبرانو او د شوروي د ملګري مملکتو په نظر بدنام او نا مطلوب انسان و، چې بیا وروسته نور محمد تره کې د ببرك کارمل په دغه مقصد پوه شو، ځکه په اکثره هغو ګوندي کمېټو کې چې دد ببرك ملګري وو، په آزادانه توګه په دغه کتاب باندې تبصري کېدې او هغه یې بد معرفي کاوه، نو د دوی په منځ کې مناسبات دې حد ته راورسېدل، چې ببرك کارمل خپل ځان دپاره بله مرکزي کمېټه جوړه کړه او یو څه د ګوند غړي یې له ځانه سره د ګوند نه بوتلل. د ۱۳۴۶ کال د ثور په میاشت کې په ښکاره توګه انشعاب عملي شو او د دواړو په منځ کې د کوڅې او بازار په سویه مبارزې شروع شوې. عجیب او غریب نومونه یې یو په بل باندې کښېښودل. داسې الفاظ او حرکات یې سره استعمالول، چې په اوږدو یې انسان شرمېده. بدمرغي په دې کې وه، چې دواړو خواوو ځانونه د حزب دموکراتیك خلق افغانستان غړي هم بلل. په یوه مرامنامه یې عقیده درلوده، د دواړو خواوو مبارزې د خپل اصلي اهدافو نه منحرفه شوې وې یو شخصي د تعصب نه ډکه ځان ځاني مبارزې شروع شوې، چې د یو دوه کسو خودخواه او خود غرضو په ګټه څرخېدې، چې ددغې وضعې په لیدو سره

ډېر د ګونډ سابقه دار او باتجربه غړي مجبور شول، چې دا ګونډ پرېږدي يا په کلي طور بې طرف شول او يا نورو ګوندونو ته ور داخل شول. ببرک کارمل بله مرکزي کمېټه جوړه کړه، مير اکبر خيبر، سلېمان لايق، اناهيتا راتب زاد، عبدالمجيد سربلند، ډاکټر نجيب، ډاکټر فاروق عبدالوکيل، قدوس غوربدی، محمود بريالی، نظام الدين تهذيب يې سره د هغو نورو مرکزي کمېټې غړيو چې په انشعاب کې د ببرک سره راغلي و لکه دستګير پنجشېری، شهرالله شهپر، سلطان علي کشتمند، نور احمد نور، بارق شفيعي د مرکزي کمېټې غړي شول. د تره کي په جناح کې هم کريم زرغون ظاهر افق او اسمعيل دانش د ګوند د مرکزي کمېټې اصل غړي شول.

بيا نو د مرامنامې او اساسنامې مراعات نه کېده. هر ګروپ په دې تلاش کې و، چې خپل صفوف پراخ کړي، چې د مظاهرو په ورځ ډېرملويه او غټه غونډه د خلکو او دولت په نظر کې وښيي. اکثراً ښاري او د لوړو طبقو خلك د ببرک ګوند ته داخلېدل، اطرافيان اکثراً پښتانه د تره کي ګروپ ته ورتلل. د اووه کسو له جملې نه چې د کنګرې له خوا د مرکزي کمېټې په غړيتوب کې منل شوي وو، څلور کسه د ببرک کارمل په ګروپ کې، چې ببرک د اکثريت دعوا کوله، مګر له هغو څلورو علل بدل غړيو نه دې کسه تره کي سره پاتې ول، چې په دغه اساس يعنې د يوولسو غړيو نه شپږ نفره د تره کي په لور پېنځه تنه د ببرک کارمل په ګروپ کې شامل شول، چې په لاندې ډول دي:

الف: د تره کي ګروپ:

۱ نور محمد تره کی

۲ طاهر بدخشی
۳ صالح محمد زیری اصلي غړی
۴ کریم میشاق
۵ ډاکټر شاه ولي
۶ ډاکټر ظاهر احمدزی
ب: د ببرك کارمل ګروپ:
۱ ببرك کارمل
۲ سلطان علي کشتمند
۳ دستګیر پنجشېری
۴ شهرالله شهپر
۵ عبدالوهاب صافی

چې په دغه رنګه دغو دواړو خپل ځان په اکثریت کې ګانه. ببرك داسې استدلال کاوه، چې د مرکزي کمېټې د اوو اصل غړیو نه چې کنګرې انتخاب کړي څلور تنه دده په ګروپ کې دي. تره کي داسې ویل، چې د یوولسو کسو نه چې کنګرې غړیو مرکزي کمېټې ته انتخاب کړي وو، شپږ نفره دده په طرف کې دي. برسېره پردې خپله تره کی د ګوند عمومي منشي دی، چې د مؤسسې د کنګرې له خوا انتخاب شوی دی. تره کي دا هم ویل، چې ببرك کارمل پخوا د حزب د مرکزي کمېټې نه په خپل لاسلیك استعفی کړې ده، د هغه استعفی لیك یې له ځانه سره ساتلی و.

باید وویل شي، چې دغه خودخواه او خودغرضه د قدرت او رهبرۍ لېونیان دغو ټولو ستونزو او ناخوالو اصلي مسولیت په غاړه لري، چې هغه یو یعنې ببرك کارمل برسېره په هغو خودخواهیو، چې دده شخصي او ذاتي بدکرداري او بد

عملي وه. وظيفه يې درلوده، ترڅو دغه جريان په نطفه کې تيت او پرک کړي، مګر هغه بل يعنې نور محمد تره کي دومره له خپله ځانه راضي و، چې بل هېڅ څوک يې له ځانه پوه او ښه نه باله. په حقيقت کې ددغو دواړو خودغرضو د اعمالو بده نتيجه وه، چې په پاى کې د افغانستان ټول خلك د خاورو سره خاورې کړى شول او بدبختي يې راوسته. هغوى دومره په خپلو خودخواهيو کې مغرور او غرق وو، چې نه يې غوښتل، چې بل څوك د دوى په خوا کې سر راپورته کړي. که چېرې داسې کس پيدا کېده او وده يې کوله، دوى د هغه مخه نيوله او دسيسې يې ورته جوړولې، چې په ګوند کې دا ټول انشعابات د دوى د ناوړو خودغرضيو محصول دى، حتى چې بيا د يو بل په مرګ باندې هم ډيل نه شول او د افغانستان ټول خلك يې په هغه اور کې ستي کړ، چې خودغرضو رهبرانو بل کړى و. لکه څنګه چې پخوا هم ليکل شوي دغه دواړه له هم هغه اولو ورځو نه يو بل ته په صداقت کې نه وو، بلکې په چل ول کې وو، چې اول يې د ګوند په جوړولو د يو بل څخه استفاده وکړه او بيا يې ګوند جوړ شو يو د بل په مقابل کې په دسيسه جوړولو کې لاس پورې کړ. ببرك کارمل ته ښه په زړه پورې شرايط برابر شول، چې ويې کولى شول، چې په ګوند کې په خپله نفعه انشعاب راولي.

څرنګه چې ددې ليکنې په نورو پاڼو کې څه نا څه ليکل شوي، په اول کې ببرك کارمل د نور محمد تره کي د سفر نه پس، چې د تداوى په بهانه په سفر غربي المان ته تلو، خو کله چې تاشکند ښار ته ورسېد، تره کي ته د يو رسمي مېلمه په حيث پذيرايي وشوه. د اتحاد شوروي د مرکزي اسيا اکثراً

مملکتونه یې (جمهوریتونه) ولیدل، بیا په اخر کې د مسکو ښار ته هم تللی و. څنګه چې ببرته وطن ته راغی، د خپل سفر مفصل راپور یې ببرک کارمل او نورو ته بیان کړل. (دا سفر پخوا د ګونډ د تشکیل نه شوی و) او داسې یې ښوول، چې ګواکې دی د شوروي مقاماتو له خوا په افغانستان کې د مترقي جریان د رهبرۍ په حیث پېژندل شوی وی. ولې بیا چې ببرک وشوای کېږی حقایق څانته معلوم کړي، نو د ګونډ په انشعاب یې پیل وکړ، ځکه نور نو د تره کي وجود ته هغه ضرورت نه احساساوه، مګر دومره خبره وه، چې ببرک کارمل په افغانستان کې او په افغاني جامعه کې په کافي اندازه محبوبیت نه درلود. پخواني سیاسي فعالیتونه، چې ببرک کارمل د ډاکټر عبدالرحمن محمودي، میر غلام محمد غبار او نورو سره پیل کړي وو او بیا محمودي او غبار او نور ډېر منورین دهمزنګ د زندان تورو کوټو ته ورواچول شول، چې ببرک هم د لږې مودې دپاره بندي شو، خو لږې مودې نه پس د بند نه خوشي شو. په زندان کې هم د هغه شراط د نورو بندیانو نه ډېر تویېر درلود، چې په دې خبره هر څوک پوهېدل، چې هغه د نورو بندیانو په شانې بندي نه دی، نو همدا سبب و، چې محمودي او غبار او نورو د ببرک نه مخ وګرځاوه او هغه ته یې د یوه جاسوس په سترګه کتل او کله چې له بنده خوشي شول او له زندان څخه راووتل، د ببرک ماهئیت یې په جامعه کې افشاء کړ، چې افغاني منورو ساحو کې ببرک خپل اعتبار له لاسه ورکړی و او بله دا چې د ببرک ارتباط د شاهي کورنۍ سره خلکو ته ډېره واضح معلوم و. په هر صورت د اعتماد ور نه و غیر له هغو اشخاصو، چې د طبقې په اساس

ببرك سره يوځای کېدل، نور څوك د هغه ګروپ ته نه تلل. يو ډېر شمېر خلك پخوا له انشعابه په جامعه کې موجود وو، چې په سياسي فعاليتونو کې برخه واخلي، خو له دې نه چې د ببرك موجوديت په ګوند کې و، زړه يې نه ښه کاوه، چې ګوند ته راشي، خو څنګه چې ببرك ښه شو، هغه ټول يو د بل پسې د تره کي ګروپ ته ورغلل. خصوصاً د پښتون قام ډېرو اشخاصو ځانونه د نور محمد تره کي په ګروپ کې شامل کړل. بيا نو د طاهر بدخشي وار شو، چې هغه هم انشعاب وکړ او يو تعداد د ګوند غړي يې له ځانه سره بوتلل. د کال ۱۳۴۶ د حوت په مياشت کې چې سردار نورا حمد اعتمادي په دغه وخت کې صدراعظم و، د ببرك کارمل ګروپ ته يې د يوه اخبار د نشرولو اجازه ورکړل شوه، چې د امتياز خاوند يې سليمان لايق و، چې تر ډېره موده يې د مسول مدير وظيفه هم د هغه په غاړه وه، خو بيا پس د څه د مودې له د هغه اخبار مسول مدير مير اکبر خيبر شو. ددغه اخبار چې په پښتو او دري ژبو يې مضامين چاپېدل د پرچم په نامه وه، چې پس له دېنه د ببرك ګروپ د پرچم يا د پرچميانو په نامه او د تره کي ګروپ د خلقيانو په نامه يادېدل. پرچميانو هم هغه د خلق مرامنامه او اساسنامه په خپل اخبار پرچم کې نشر کړه او ځانونه يې د حزب دموکراتيك خلق په نامه يادول. په دغه وخت کې نور محمد تره کي د افغان ملت په اخبار کې يوه اعلاميه نشر کړه، چې په هغې کې ليکل شوي وو، چې پرچم اخبار د خلق دموکراتيك حزب پورې هېڅ ارتباط نه لري. البته چې تره کي دا اقدام د خپلې مرکزي کمېټې د فيصلې په اساس کړی و. په دغه شان ځرنګه، چې پخوا هم ليکل شوي

دي، جنګ او جنجال ددې دوه ګروپو په منځ کې چې اوس يې نوې شخصي بڼه پيدا کړې وه، په ډېر شدت سره ادامه درلوده. خلقيانو په شورا کې نمايندګان درلود، ببرک کارمل، نور احمد نور، ډاکټر اناهيتا راتب زاد او فيض الحق د پرچم د ګروپ پرکسيون په شورا کې وو بيا نور محمد تره کی څو څو ځله حکومت ته مراجعه وکړه. د يوه اخبر د نشرېدو اجازه يې وغوښته، خو حکومت اجازه ورنه کړه. په ۱۳۴۸ کې دوه اخباره يو د "راهنما" او بل د "جنبش" په نامه په مخفي ډول د خلقيانو له خوا نشرېدل، چې اکثراً پاڼې يې د شپې له خوا خپرېدې. ددغو دواړو اخبارونو کار او بار ټول د حفيظ الله امين په غاړه و، چې د هغو د چاپولو ځای خپله نور محمد تره کې هم په سترګو نه و ليدلی. حفيظ الله امين چې د شورا د (۱۳) دوري ته ځان پغمان اولس والی نه کانديد کړی و، په انتخاباتو کې بريالی شو. په اولسي جرګه کې يوازينی شخص و، چې د خلقيانو له ګروپ نه يې په شورا کې نماينده ګي کوله. هغه چې طاهر بدخشي په معامله کې د ګوند د فيصلې په اساس د دوه حزبي مقاماتو نه د تنزيل په فيصله محکوم شوي يعنې دي د مرکزي کمېټې د علل بدل د غړيتوب نه د ګوند د عادي غړيو د آزمايشي درجې ته حفيظ الله امين کله چې د شورا د وکيل په حيث په شورا کې د خپلې بيانيې په ترڅ کې د خلق د ګوند په نوم يو ډېر چپ افراطي شعار ورکړ، چې بيا وروسته کله چې دولتي قدرت د خلقيانو په لاس کې و، تره کي وويل، چې حفيظ الله امين په هغه زمانه کې زما په هدايت هغه بيانيه شورا کې ورکړې وه، چې هغه شعار پکې و.

د هغه په بیانیه کې شعار داسې و:"د خلق دموکراتیک ګوند غړیو، چې د پراخو ولسي پرګنیو ملاتړ ورسره دی، هغو اهدافو ته د رسېدو په خاطر، چې د ټولو په ګټه دي مبارزې ته دوام ورکوي". شعار داسې دی، په ټولنه کې هر چا ته د هغه د استعداد په اندازه او هر چا ته د هغه د کار په اندازه او بالاخره هر چاته د هغه د اختیاج په اندازه" چې واقعاً د امین د اشعار دومره چپ افراطي شعار و، چې تراوسه پورې په ډېرو پرمختللي سیوسیالیستي جامعو کې هم تحقق موندلی نه دی. په هر حال د امین تلاش ددې دپاره وه، چې خپل ترلاس تللی موقف په ګوند کې بیا ترلاسه کړي، نو هغه بهرته د ګوند د مرکزي کمېټې علل بدل غړی شو. په دغه وخت کې صالح محمد زهري، چې د مرکزي کمېټې اصلي غړی و، په ۱۳۴۸ کال کې دشورا وکالت ته خپل ځان دقندهار له ښاره کاندید کړی و. بیا په انتخاباتو کې ناکام او زندانې شو. غلام دستګیر پنجشېری، چې دی هم د موسسې کنګرې له خوا د مرکزي کمېټې غړی انتخاب شوی و او په انشعاب کې د پرچم په ډله کې و، ده هم د پنجشیر په ولسوالۍ کې د یوه بل پرچمي ملګري هادي کریم په نفع چې هغه خپل ځان د شورا دیارلسمې دورې ته له دې ولسوالۍ نه کاندید کړی و، مبارزه کوله، چې بیا دوی دواړه یعنې هادي کریم او دستګیر زندانې شول. دستګیر پنجشېری او هادي کریم پنجشېری خپله دا بندي توب د پرچمیانو د ګروپ له خوا نه و منل شوی نو بیا کله چې دوی زندانې شول هغو ته د شك او شبهې ځای پاتې نه شو او پوه شول، چې ببرك کارمل زندانې کړي دي. دوی دواړه یعنې دستګیر پنجشېري او هادي کریم پنجشېري د ببرك

کارمل سره په ګوندي مسايلو کې اختلاف نظر درلود او هغه دومره عميق شوي وو، چې اخر پای بنديان شول.

بيا نو په کال ۱۳۴۹ کې دستګير پنجشېري له بندي خانې د نور محمد تره کي په نامه يو ليک ورواستولو او په خپله اشتباه يې چې د ګوند د انشعاب پښه وخت کې کړې او د ببرک کارمل ترخنګ ولاړ و، اعتراف کړی و او معذرت يې وغوښت او هيله يې کړې وه، ترڅو ګوند دده پد بيا قبلولو موضوع تر بحث لاندې ونيسي او په دې باره کې خپل تصميم اعلان کړي، چې ورسره ورسره د شهراله شهپر غوښتنه، چې هغه هم د کنګرې د وخت د مرکزي کمېټې منتخب غړی و او د عبدالحکيم شرعي جوزجاني درخواستونه ترکي تره راورسېدل، چې شهپر او جوزجاني هم د پرچم ډلې ته د انشعاب په وخت کې ورغلي وو. بيا نو د خلقيانو د ګوند مرکزي کمېټه په ډېره مينه ددغو ټولو غړيتوب د پخوا په شان په ګوند کې ومانه. له دوی سره نور ډېر اشخاص چې په اول کې له دوی سره د پرچم ګروپ ته تللي وو، بېرته راغلل. د مرکزي کمېټې له غړيو نه کوم، چې د موسسې کنګرې له خوا انتخاب شوي وو، د پرچم په ګروپ کې صرف دوه کسه خپله ببرک کارمل او سلطان علي کشتمند پاتې شول او بس د خلقيانو ګروپ ډېر تقويه شو او د تره کي دې ادعاء هم تحقيق ومونډ، چې ويل يې چې زه په اکثريت کې يم.

په کال ۱۳۴۹ کې چې ۱۹۷۰ ميلادي کال سره سمون خوري، د ملل متحد له خوا د لينن په کال ومنل شو. په دغه باره کې د دوارو يعنې پرچميانو او خلقيانو له خوا وينا وې او ميټينګونه وشول. خلقيانو چې اخبار نه درلود، په خپلو

محافلو کې او پرچم چې اخبار درلود، یعنې پرچم نومې اخبار د هغوی نشراتي ارګان و، د پرچم د ډلې هر یوه غړي په هغه کې خپلې مقالې او مضامین نشرولی شول، چې بیا دې ګروپ ډېرې مقالې په داسې کلیماتو ولیکلې او نشر ې کړې، چې زمونږ د اولس د عقایدو او اخلاقو سره یې سمون نه درلود. دوی دواړو ډلو داسې د خلکو د کلتور او عقایدو خلاف تظاهر له دې عمله کاوه، چې ګوندې د شوروي دولت دوستي او اعتماد به وګټي. د شوروي اتحاد مامورینو او مسولو کسانو، چې په افغانستان کې وو قصداً داسې فضاء رامنځ ته کړې وه، چې دا دواړه خواوې خپل ډول ته په نڅا کړي او دوی هم هغسې کول دوی د خپلې جامعې ذهنیتونه یا له یاده ویستلي وو او یا ګرد سره پرې نه پوهېدل هم هغه وو، چې د ملایانو او نورو د تحریک باعث وګرځېد، چې بیا یې د پرچمیانو ددغه عمل په ضد مظاهرې او د پول خشتي په جوماتونو کې یې اعتصاب پیل کړ، چې په اول کې حکومت هم هغو تحریکول، خو بیا چې پوه شول، چې دوی ته هم ضرر او خطر متوجه دی، نو بیا یې هغه په ظالمانه او مستبدانه شکل په غیر قانوني توګه له منځه یووړ. د پرچم اخبار هم پس له هغې نه خپلو نشریاتو ته ادامه ورنشوای کړی.

په ۱۳۵۰ کې د خلقیانو په ګوند کې بل انشعاب د ظاهر افق په مشرۍ معلم عبدالخالق خوستي او نورو له خوا د هغه اختلاف په اساس، چې ددغه ګروپ او د څو نورو ګروپونو له خوا د حفیظ الله امین پرضد باندې منځ ته راغلی، د هغه تحقیقاتو په اساس، چې په دغه باره کې د مرکزي کمېټې له خوا یو هئیت په دغه مورد کې تعین شوی و، په نتیجه کې

معلومه شوه، چې ظاهر افق په دغه موضوع کې مسوليت لري، نو د مرکزي کمېټې د فيصلې په اساس هغه ته په ګوند کې يوه درجه تنزيل ورکړل شو، چې بيا افق هغه فيصله ونه منله. د ګوند نه د څو نورو ملګريو سره ووت بيا چې د سردار محمد داود د خپل جمهوري رياست په وخت کې د پرچم له ډلې سره مناسبات خراب شول او پرچميان يې له ځانه لرې کړل، له حکومتي څوکيو او کارونو نه يې وشړل، مګر سره ددې د سردار محمد داود شرايط داسې وو، چې په بشپړه توګه د شوروي اتحاد سره خپل علاېق قطع نه کړي، مجبور و چې له يو داسې ګروپ سره، چې مترقي افکار ولري، ضد امپرياليستي او د شوروي دوستان وي خپل علاېق وساتي. په خلقيانو باندې هم دا اعتماد نشواى کولى (ځکه سردار داود نور محمد تره کى د سي، آيې، اې جاسوس ګانه، چې ببرك کارمل هم د خپل مخالفت په دوران کې تره کى په دې نامه ياداوه اغلباً دا نوم به ببرك سردار داود ته هم ورښودلى وي) نو ځکه يو داسې ګروپ ته چې شوروي تمايلات ولري ضرورت درلود او هغه د ظاهر افق ګروپ و، چې بيا سردار داود د اکرم عثمان او نهير په ذريعه، چې په دغه مورد کې د سردار داود مشاورين و د ظاهر افق سره اړيکې ټينګې کړې له دې چې ظاهر افق له خليقانو سره خپل تعلقات شکولي وو او يوه بله ډله د تازه خان په مشرۍ هم د افق سره يوځاى شوې وه او د س، ز، ا په نامه ګوند يې جوړ کړى و.

د سردار محمد داود سره يې فعاليت شروع کړ، د سردار داود ګوند د غورزنګ ملي په نامه دده د يو څو شخصي بې کفايته ملګريو نه جوړ و، خو د افق او تازه خان ډله په اتحاد

کې ورسره یوځای شوه، چې بیا څو ګروپه یعنې د سردار داود، د اکرم عثمان، د افق ګروپونه سره ګډ د غورزنګ ملي ګوند ترپنه جوړ شو، چې رئیس او رهبر یې خپله سردار محمد داود و (د سردار محمد داود د کابینې وزیرانو هغه د رهبر بزرګ په نامه یاداوه) اګر که ببرك کارمل په اولو کې ډېر کوشش وکړ، چې خپل د پرچم ګوند د سردار داود د ګوند سره یوځای کړي، چې ددغه مقصد دپاره هې خپل حزب یعنې د پرچم حزب لغوه کړ، ترڅو سردار محمد داود ته لاره اواره کړي، چې خپل حزب جوړ کړي. ببرك کارمل خپل ددغه تصمیم نور محمد تره کي ته هم احوال ورکړ او هغه ته یې هم توصیه کړې وه، چې خپل حزب خلق د سردار محمد داود په نفع لغوه کړي، چې یو مترقي جریان، چې سردار داود هم هغه غواړي په افغانستان کې جوړ او برقراره شي او که تره کی دا کار ونه کړي، آینده مسولیت به دده په غاړه وي، خو تره کې دا خبره ونه منله.

سردار محمد داود د خپل حزب په جوړولو پیل وکړ او په ببرك کارمل باندې هې اعتماد ونه کړ. ببرك او د پرچم ګروپ یې له ځانه لرې وشاړه.

په کال ۱۳۵۱ کې بیا هم د خلق په ګوند کې بل انشعاب د کریم زرغون په مشرۍ رامنځ ته شو، چې د زرغون اختلاف هم د حفیظ الله امین سره و، چې بیا دغه ګروپ هم ځانله ډله جوړه کړه. ددغه ګروپ ملګري اکثراً په عسکري هوایي قواو کې و، چې د ثور د انقلاب په اولو مرحلو کې د خلقیانو سره یوځای نه شول. ددغه ګروپ ډېر اعضاوو بیا د ببرك کارمل د رژیم سره هغه وخت، چې د شورویانو د لښکرو په زور سره

قدرت ترلاسه کړ، لکه مير صاحب کاروال نياز محمد مومند او نورو د ببرك په کابينه او حزبي مقاماتو کې دولتي مقامونه اشغال کړل. داسې فکر کېده، چې صالح محمد زېرى هم په پته ددغه ګروپ سره په تماس کې و، چې زېرى هم د ببرك په رژيم کې د ګونډ په سطح کې درېيم شخص دى. داسې ويل کېږي، چې خپله ډاکټر زرغون د خلقيانو د قدرت په وخت کې له منځه تللى وي.

خلاصه بايد وويل شي، چې حزب دموکراتيك خلق په دوه برخو کې يعني پرچم او خلق او د هغو انشعابي څانګې په غير قانوني توګه خپل سياسي فعاليتونه کول. همدارنګه نورو وابسته ګروپونو لکه د خليل الله خليلي ګوند، چې په جامعه کې د سلطنتي کورنۍ په ګونډ پېژندل شوى و، د شعلي جاويد حزب د مساوات حزب د هاشم ميوندوال حزب او داسې نورو ګروپو او احزابو په غير قانوني شکل خپل سياس فعاليتونه پرمخ بېول، چې د وخت حکومتونو نشواى کولاى، چې د هغو مخه ونيسي، چې ددغو ګوندونو ريښې باقدرته مقاماتو سره تړلې وې. لکه د پرچم ګروپ د ببرك په مشري د سردار داود تر مستقيمې لارښوونې لاندې وه. د جبهه ملي جريان د خليلي په مشرۍ کې په شاه ولي خان او سردار عبدالولي پورې ارتباط درلوده. د طاهر بدخشي جريان په عل محمد خان بدخشي د دربار وزير پورې اړه درلوده. همدارنګه نور حکومتونو او اجرائيه قوتونو په هېڅ صورت دا قدرت نه درلود، چې د هغو د فعاليت مخه ونيسي. که څه هم غير قانوني اعمال يې اجرا کول، ځکه پادشاه هغه د احزابو قانون، چې لاپخوا د ولسي جرګې له خوا تصويب شوى و او د پاچا د

توشیح دپاره سلطنتي دارالتحریر شاهي څانګو ته سپارل شوی و، چې بیا پادشاه د هغه قانون د اجرا امر ورنه کړ. که په رښتیا سره د احزابو قانون په مملکت کې موجود وای او احزاب، د قانون په رنا کې خپل سیاسي فعالیت کولی شوای، نو هغو ګوندونو لکه اسلامي ګوندونو او نورو هم قانوناً خپل ځانونه راجستر کول او په ښکاره ډول یې د خپلو اهدافو او عقایدو د پرمختګ په خاطر فعالیت کاوه. د انتخاباتو او د خلکو د اکثریت د رایو په اساس خپل قانوني حقابق ترلاسه کولای شوای، نو مخفي او قهر آمیز فعالیتونو ته چا زړه نه ښه کاوه. په مملکت کې داسې پېښې منځ ته نه راتلې لکه چې راغلې او موږ په سترګو ولیدې، چې په ډېر بد شکل سره لاهم دوام لري.

معلومه خبره وه، چې پادشاه او د هغه نورو درباریانو او مشاورینو غوښتل، چې لاهم حکومتي چارې د خپل سلطنتي کورنۍ په ماحول کې وساتي او خلکو ته دا حق ورنه کړي، چې د خپلې هوسایۍ دپاره د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي، چې د هغو د ښو او بدو کارو د کنټرول واک اختیار په لاس کې ولري او له بلې خوا، چې د افغانستان عام خلك د حکومتونو او د هغو د مامورینو نه چې یې هر کله ظلم استبداد بې عدالتي، رشوت خوري، بې ځایه او بې ګناه بندي کېدل، ټکول، ربړېدل روا ګڼل ډېر په تنګ راغلي وو، سره ددې، چې پوهېدل د ظاهر شاه او سردار داود په منځ کې هېڅ توپیر نشته. د سردار داود دا غږ چې په خپله اولینۍ بیانیه کې نشر کړ، د خلکو په غوږو ښه ولګېده، ځکه داود د یوه جمهوري نظام اعلان وکړ او شاهي رژیم یې په جمهوري نظام تبدیل کړ.

د سردار داود کودتا چې د سرطان د میاشتې په شپږ ویشتم تاریخ د شپې په نیمایي کې شروع شوه، په یو څو ساعتو کې پای ته ورسېده، بې له دې نه چې د چا پوزه پکې وینې شي د سهار په اووه نیمو بجو د راډیو نه واورېدل شول، چې ویل یې چې شاهي رژیم ختم شو او جمهوري نظام د مملکت واګې په لاس کې واخیستې. د کماندو عسکر، چې د پرانګانو په څېر کورتۍ یې اغوستې وې، په بازارو کې ګرځېدل، د حکومتي حساسو ځایونو کنټرول او محافظت یې په لاس کې و، د ښار وضع هم د ښه امنیت په حال کې وه، خو په کوڅو او بازارو کې ځینې ځینې پرچمیان هم لیدل کېدل، چې سره ګرځي او راګرځي او د عسکرو سره په ګډه فعالیت لري.

بیا وروسته ژر معلوم شو، چې د ببرک کارمل ګروپ پرچم هم په دې کودتا کې لاس درلود. د پرچم د ډلې یا د هغو د خپل وانو نه د داود خان په حکومت کې حساسه څوکۍ ترلاسه کړې لکه جنرال محمد حسین خان د ببرک کارمل پلار، چې د جنوبي ولایت د عسکري قوماندان او تنظیمیه رئیس واګې ترلاسه کړې، جیلاني باختري د کارمل د خالې زوی د زراعت د وزیر په حیث، عبدالکریم عمر خېل د صمد اظهر پلار د پروان د والي په حیث، ګل آغا د ببرک خپل د هرات د عسکري قوماندان او والي په حیث، اختر محمد مشهور په علاقدار د ډاکټر نجیب پلار په پېښور کې د افغاني قونسل او وکیل تجار په حیث، قدیر نورستاني پرچمي په داخله وزارت کې د عمومي قوماندان په حیث، صمد اظهر پرچمي په داخله وزارت کې د عمومي رئیس ارکان حرب په حیث، فیض محمد پرچمي د داخله وزیر په حیث او داسې ډېر نور پرچمیان په

مرکز او ولایاتو کې په مهمو ځایونو کې مقرر او وټاکل شول. خپله ببرك کارمل او میر اکبر خیبر د سردار داود خان د مشاورینو په حیث مصروف و او د سردار داود د اعتماد او باور وړ و، چې د سردار داود په خطابو او نورو سیاسي مسابلو کې یې پوره لاس درلود. په حقیقت کې د سردار داود پالیسي میکران وو.

د خلقیانو ګروپ او نورو سیاسي ګروپو له دې نه، چې سردار محمد داود سلطنتي رژیم رنګ کړ او په ځای یې یو جمهروي رژیم په مملکت کې اعلان کړ، ددغه عمل نه یې خوښي او طرفداري وښودله او ښه استقبال یې ځنې وکړ، مګر د پرچم له ډلې نه پرته نورو احزابو او ګروپو د سردار داود په دغه کودتا کې برخه نه درلوده. ځنګه چې خپله پرچمیانو به ویل، چې شورویانو سردار داود ته ویلي وو، چې د پرچم په ګروپ باندې بایده دي، چې کامل اعتماد ولري. په هر حال سلطنت وشوای کړای چې په دې تکتیك باندې د کودتا پنه شکل سلطنتي رژیم ختم او پر ځای یې جمهوري نظام قایم کړي. د دولت واګې د خپلې کورنۍ په قدرت کې د پخوا په شان وساتي او له بلې خوا یې شوروي رهبران هم له ځانه سره خوښ کړل. ولې ډېرې ورځې لانه وې تېرې، چې سردار محمد داود د خپلې خودخواهۍ او ځانله والۍ چې د ده د کرکتر جز ګرځېدلی و، تر تاثیر لاندې راغی، نو تصمیم یې ونیوه، چې ببرك کارمل او د هغه ملګري له ځانه لرې کړي او د هغو له شره ځان خلاص کړي، نو په تصفیې یې شروع وکړه. پرچمیان یې له دولتي ادارو نه وشړل، حتی تر دې چې رسماً یې اعلان وکړ، چې دی (یعنې سردار داود) کوم بل حزب یا ګروپ پورې

ترلی نه دی، دلته ببرك كارمل ته ډېر سخت شرایط ور په مخه شول، ځكه د ده هغه اتكاء چې په سلطنتي كورنۍ وه او ببرك ډېر وخت هغو ته په پته او بنكاره ټوګه خدمات ترسره كړي وو، له لاسه ورکړه او په جامعه كې هم بله قوي اتكاء نه لرله او په دې شرایطو كې شورویان، چې دده خارجي اتكاء وه په بنكاره ټوګه ده سره څه مرسته نشوه كولې او دداسې وخت زمینه هم برابره نه وه، چې ببرك د خپل لښكر په زور قدرت ته ورسوي، نو روسانو ببرك ته مشوره ورکړه، چې هر څنګه چې كېږي، د ګونډ له بل وازره یعنې د خلقیانو له وازره سره وحدت وكړي. بیا نو ببرك كارمل په دې هڅه كې شو، چې د نور محمد تره كي سره د وحدت زمینه برابره كړي، چې بیا یې د ځینو دوستانو سره چې د ببرك او تره كي سره پخوانې پېژندګلوي او دوستي درلوده، د وحدت په مورد كې خبرې شروع شوې، چې په اوایلو كې دواړو خواوو په خپلو مركزي كمېټیو كې د وحدت موضوع طرحه كړه، چې د پرچم لورئ دې وحدت ته خوشاله و، ځكه هغوی پوهېدل اكثرو ته یې د شوروي سفارت نظر هم ور معلوم و. همدارنګه د سردار محمد داود د سخت فشار او ضرباتو لاندې راغلي وو، چې هره ورځ د پرچم حتی ډېر واړه غړي هم د حكومتي كارونو نه ایستل كېدل او یا ولایاتو ته تبدیلېدل او د ځینو سره د زندان وېره لا هم وه. د اكثرو ژوند په خطر كې و ولې د خلیقیانو په مركزي كمېټه كې د ډېرو دا نظر نه و، چې بیا د ببرك كارمل سره او د هغه پرچمي ګونډ سره یوځای شي او په ګډه سره سیاسي مبارزې پرمخ بوځي. ددغسې یو بدنام ګروپ سره، چې د سلطنتي كورنۍ په خدمت كې ولاړ و او كودتاګاني یې ورسره

کولې او اوس چې هغوی ورته په قهر شوي دي، موږ ورسره وحدت وکړو ددغسې خاښنو او پلیتو او بې اعتمادو اشخاصو سره په شریکه سیاسي مبارزه کول د خودکشۍ معنی لري. خصوصاً حفیظ الله امین په هیڅ صورت سره حاضر نه و، چې بیا د ببرك سره په یوه لار لاړ شي او حتی دا بدګماني یې هم لرله، چې ویل یې چې سلطنتي کورنۍ دوی په همدې چل ګمارلي دي، چې بیا زموږ د ګوند په منځ کې اختلافات پیدا کړي او زموږ ټول ملګري دولتي استخباراتو ته ور په ګوته کړي، چې بیا مو سره تار او مار کړي او دا استدلال یې هم کاوه، ولې په ګوند کې انشعاب راغی؟ او ددغه انشعاب مسولیت د چا په غاړه دی؟ اول دې ددغې خبرې د معلولمولو دپاره یو حزبي کنفرانس چې د دواړو خواو پوه او باشعوره غړي پکې ګډون ولري بیا دې د انشعاب مسولین په خپله خوښه اعتراف وکړي او د انشعاب مسولیت، چې څو کاله یې ګوند د خپل اصلي فعالیتو څخه وروسته پاتې کړی دی، په غاړه واخلي بیا نو د کنفرانس اعضاء د بیا وحدت په باره کې خپل تصمیم ونیسي، چې څنګه د وحدت په باره کې ترتیبات ونیول شي. دا هم باید وویل شي، چې د حفیظ الله امین موقف په ګوند کې د څو کالو پخوا په شان نه وو، چې کمښتې مرکزي به حق او ناحق حزبي جزاګانې ورکولې. امین اوس په کافي اندازه د ګوند په منځ کې قوي او د اعتبار وړ دی. هغه د ګوند غړی، چې د سردار محمد داود په اردو کې هغه ټول امین سره ارتباط لري. د مرکزي کمښتې په غړیو او د کوند په ټولګیو کې ډېر طرفداران لري اوله بلې خوا دده طرحه اصولي او منطقي هم وه. تره کی له دښنه هم ډارېده، چې دده پښنه به هم

دغې موضوع ته ورکش کړی شي، ځکه تره کی خپل ځان له دښنه نه شي خلاصولی، چې دې په دې انشعاب کې مسولیت نه لري. په هر حال تره کي پېشنهاد وکړ، چې د وحدت موضوع په قطي صورت رد ولې نشو ښه به دا وي، چې د وحدت په خبرو کې زمونږ د ګوند له خوا خپله امین د مقابل طرف سره مذاکره او مفاهمه وکړي، د پرچم ګروپ دې هم خپل نفر معرفي کړي، چې په دې باره کې خبرې سره وکړي، د خپلو خبرو نتیجه دې مرکزي کمېټې ته وړاندې کړي.

د نور محمد تره کي دغه پېشنهاد د مرکزي کمېټې له خوا ومنل شو او حفیظ الله امین د خلقیانو د ګوند له خوا په نمایندګۍ دغه کار ته موظف شو، چې د پرچم د ګوند له نماینده سره یې د وحدت په باره کې خبرې وکړي. د پرچم د ګوند له خوا سلیمان لایق دغې وظیفې ته تعین شوی و. دغه وخت ۱۳۵۵ کال اولې شپې ورځې وې. دغو دواړو نماینده ګانو ملاقات وکړ او د خپلو غونډو محل یې وټاکه. دا محل یو شخصي کور و. چې مالك یې ددغو دواړو ګروپو دوست او اشنا و. دغو دواړو په دغه محل باندې موافقه وکړه او خپلو مذاکراتو ته یې دوام ورکړ. د وحدت لپاره له دواړو خواوو نه پېشنهادونه وشول. حفیظ الله امین پېشنهاد وکړ، چې د پرچم له ډلې نه یوازې سلطان علي کشتمند د وحدت په مرکزي کمېټې کې قبلېدای شي، چې موسس کنګرې انتخاب کړی و. ببرك کارمل پخوا له انشعاب نه، چې حزب لا یو پارچه و، په خپل لیك د مرکزي کمېټې نه استعفی کړې ده او خپله استعفی یې د ګوند عمومي منشي ته سپارلې وه. ببرك کارمل کولی شي، چې د حزب په اصلي غړیتوب کې ومنل شي.

ډاکټر اناهیتا راتب زاد، میر اکبر خیبر، محمود بریالی او داسې نورو چې اوس د پرچم په ګروپ کې د مرکزي کمیټې غړي دي، د ګوند د عادي غړیو په حیث ګوند ته راتلې شي. کوم هغه د مرکزي کمیټې علل بدل غړي، چې پخوا د انشعاب نه د مرکزي کمیټې منظور کړي وو، که د پرچم په غړیو کې موجود وي لکه سلیمان لایق، عبدالقدوس غوربندی او داسې نور په هم هغه موقف کې ګوند ته راتلې شي. همدارنګه ځینې نورې خبرې لکه پخوا چې ولیکل شوې بیا وار د سلیمان لایق شو. هغه داسې پیشنهاد وکړ، چې نور محمد تره کې دې د عمومي منشي په حیث وي او ببرک کارمل، چې د پرچم د ګروپ عمومي منشي دی، په وحدت کې دې منشي او د عمومي منشي معاون وي، چې د موسسې کنګرې له خوا هم منل شوی وي. غلام دستګیر پنجشیری، شهرالله شهپر، عبدالحکیم شرعي جوزجانی چې دوه انشعابونه یې کړي دیو مرکزي کمیټې غړیتوب ته نه شي راتلای، ځکه دغو اشخاصو یو ځل چې په ګوند کې انشعاب راغی دوی د ببرک کارمل پخوا کې ودرېدل او بیا یې د ببرک ګروپ نه بیا انشعاب وکړ او بېرته تره کي ته ورغلل. دوی د مرکزي کمیټې د عضویت اهلیت نه لري، کولی شي چې د ګوند د اصلي غړیو په حیث ګوند کې پاتې شي او ځینې نور هم، چې د ګوند د انشعاب په وخت کې د خلقیانو مرکزي کمیټې او یا د پلینوم په اعضاوو کې شامل شوي وي، موږ ته قبول نه دي. په همدغه ډول د اولسي ورځې جلسه پای ته ورسېده او پېشنهادونه یې تحریري له ځانو سره یوورل، چې بیا د خپلو رهبري غړیو سره یې خبرې وکړې. بله ورځ یې د دویمې جلسې

دپاره وټاکله بیا نو څو جلسې ددغو دواړو په منځ کې وشوې، خو کومه نتیجه یې ورنه کړه او د وحدت دپاره پرمختګ ونه شو. اخر هغوی دا جلسې ترک کړې بله کومه ورځ یې د جلسې دپاره ونه ټاکله اما څو ورځې وروسته تره کی هغه شخص ته ورغی، چې د وحدت دپاره یې څو جلسې د هغه په کور کې د دواړو خواوو نمایندګانو اجرا کړې وې (هغه شخص ددې اثر لیکونکی زه عطاء محمد شهرزی وم) مانه یې خواهش وکړ، چې نور احمد نور دده سره یعنې د نور محمد تره کې سره په هغه ځای کې، چې تره کې ورته ګوته ونیوله، تقریباً د یوه عمومي سرک سره ملاقات وکړي. داسې معلومېدل، چې تره کی د ګوند د وحدت دپاره په جدي توګه څه تصمیم نیولی و، چې په خپله یې اقدام وکړو. د تره کې په خواهش نور احمد نور خبر کړی شو او بیا په ټاکلي ځای کې د هغو ترمنځ خبرې ترسره شوې. د خبرو محتویات ماته معلوم نه شول، خو دومره پوه شوم، چې تره کې غوښتل، چې دوه په دوه د ببرک سره وګوري، چې بیا دا ملاقاتونه هم هغوی سره وکړل. د وحدت په باره کې دواړه په موافقې سره ورسېدل. اخر پای د سرطان دمیاشت په ۱۴ کال (۱۳۵۵) وټاکل شو، چې د دواړو خواوو د مرکزي کمېټې غړي دې سره یوځای جلسه وکړي او د وحدت دپاره دې خبرې سره وکړي. غالباً څرنګه، چې د هغه ټاکل شوي نمایندګانو څو مکررو جلسو د وحدت دپاره کومه مثبته نتیجه په لاس ورنه کړه. ببرک کارمل خپلو ارتباطي مقاماتو سره د شوروي په سفارت کې په تماس کې شوی و. د مذاکراتو ناکامي او نور مسایل لکه د حفیظ الله امین نه موافقه او ټینګار هغوی ته راپور ورکړل شوی و، چې بیا د

سفارت مقاماتو شخصاً له تره کي سره په تماس کې شول. د ښه احترامانه برخورد په منځ کې له تره کي نه خواهش شوی و، چې په دې باره کې شخصاً خپله جدي او قاطع تصميم ونيسي. البته د تره کي د واحد ګونډ د عمومي منشي مقام او داسې نور امتيازات تعين او اطمينان ورکړل شوی و، نور محمد تره کي ته ډېره ښه موقع په لاس ورغله، چې له يوې خوا د يوه واحد او متشکل منظم ګونډ عمومي منشي په حيث پاتې کېږي او له بلې خوا د شوروي مقاماتو سره يې تعلقات دوستانه او ښه کېږي، چې دا مطالب د تره کي له صحبتونو نه له ورايه معلومېږي.

يادونه: يو څو ورځې د وحدت د برقرارېدو نه پس، چې نور محمد تره کي ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، نور احمد نور او زه ددې انر ليکونکي په يوه محفل کې سره ناست وو، د خبرو په ترڅ کې نور محمد تره کي زه خطاب کړم. وې ويل " ما په دوه کسو وحدت وکړ، خپل ځان او ډاکټر شاه ولي يې ښوده او په څلورو کسو انقلاب کوم، خپل ځان ته يې ګوته ونيوله دوم د يو سرمايه دار په زوی، داکټر شاه ولي ته يې اشاره وکړه، درېيم د جنرال په زوی ببرک کارمل ته يې ګوته ونيوله او څلورم د فيوډال په زوی، چې نور احمد نور يې ښوده" ماته يې ځکه خطاب وکړ او راته يې وويل، چې زه د دوی په ګونډ کې نه وم.

په هر حال د سرطان په ۱۴ کال ۱۳۵۶ د دوارو خواوو د مرکزي کمېټيو غړيو د شپې له خوا د جمال مېنې په يوه کور کې غونډه وکړه. پخوا له دې نه د هرې خوا مرکزي کمېټو په خپلو کې غونډه کړې وه، چې د وحدت د ضرورت په هکله د

بحث په طرز کې معلومات حاصل شوي وو. په دغه جلسه کې فقط د وحدت په تخنیکي اړخ باندې خبرې وشوې، چې نور محمد تره کی د عمومي منشي او د ګوند د رهبر په حیث، ببرك کارمل د حزب د منشي په حیث. همدارنګه ډاکټر شاه ولي او نور احمد نور د منشیانو په حیث، چې ټول د تره کي په ګډون څلور تنه کېدل او بیا همدغه څلور تنه د سیاسي بېرو غړی هم وو، چې طبعاً د سیاسي بیرو مشر هم نور محمد تره کي ومنل شو. نور د دواړو خواوو د مرکزي کمیټې اصلي او علل بدل غړي څرنګه چې په خپل ګوند کې وو، په هم هغه شکل په واحد ګوند کې ومنل شول او سره ګډ شول.

خو د یوځای کېدنې په سحر وختي کله، چې زه د خپلي تجارتخانې په مخ کې وم، حفیظ الله امین راپېښ شو ماته (ما لیکونکي ته) یې ویل، چې د خلق دموکراتیک ګوند کې وحدت راغی. ما چې ورته په دې باره کې تبریك وویل هغه اظهار وکړ، چې زه په دې وحدت خوشحاله نه یم. د ډېر تفصیل، چې ما ترېنه پوښتنه کړی وای، میسر نه شو، چې دښار خوا ته لاړ شم دلاسه ورپسې ببرك کارمل او نور احمد احمد نور هم راغلل. هغه دواړه زما په په تجارتخانه کې کښېناستل. ما د چای ست هغو ته وکړ کارمل وویل، چې ډېر ستومانه یو د سهار چای له تا سره څکو ما په ډېرې خوښۍ سره ومنله او د چای بندوبست مې وکړ. زه پوه شوم، چې دوی هم له هغې خوا راغلل، چې امین راغلی و، خو دوی دواړه چې بې خوبه او ستومانه غوندې ښکارېدل، خو په عین زمان کې په خبرو اترو کې خوشحاله او موسکا یې په وچولو کې ښکارېده. د وحدت په مورد کې ماته څه نه ویل، خو اخر پای

ببرك كارمل په ډېر ښو ادبي الفاظو د وحدت په مورد كې راته وويل او دا وحدت يې د افغانستان د خلكو د خوشحالۍ او نيكمرغۍ يو ښه نيك عمل وګڼه. ما هم په خپل وار هغو ته په دې لار كې، چې د خلكو ښه خدمت وشي او په هغه ژمنه كې موفق شي، چې مورږ د ګوند د موسسې كنګرې په شپه د وطن د خلكو د سوكالۍ ښه ژوند پېښرفت او ترقي په باره كې كړې وه.

ډېر ژر څرګنده شوه، چې دا وحدت هم څه ربښتينې وحدت نه دی داسې معلومېده، چې دا وحد د باندينو قوتونو په ټينګار منځ ته راغی، چل ول پكې له ورايه ښكارېده، وحدت دواړو خواو كې سست روان و او كامل اعتماد موجود نه و، ډېر په روښانه پوهېدل كېده، چې بيا هم تره كی او ببرك په دې هڅه كې وو، چې د ګوند په ليكو كې ډېر طرفداران جذب كړي. له ټولو نه زيات ببرك كارمل په دې هڅه كې و، ترڅو په چټكۍ سره د خلقيانو ملګري د اردو په منځ كې وپېژني او پوه شي، چې شمېر يې څومره دی. ولې دغه د اردو څانګه په قطعي صورت سره د حفيظ الله امين په اختيار كې وه، چې هغه هم په زرنګي كې د ببرك كارمل نه كم نه و، هغه حاضر نه و، چې داسې ژر د ګوند غړي په اردو كې ببرك ته وښيي، ځكه امين له دينه ډاريده، چې كه يو ځل كارمل دغه ټول د اردو غړي وپېژندل، نو لېستونه به يې سردار داود ته وركړي، چې سردار داود په هغه ټول تار په تار كړي څوك بنديان كړي او څوك له تېغه تېر كړي، نو داسې ترتيب ونيول شو، چې د عسكري د دواړو خواو غړي هره پلا لس لس افراده يو بل ته وروپېژني. په اوله كې د پرچم برخې هم ويلی وو، چې دوی هم

په اردو کې یو تعداد ملګري لري او د هغو لېست یې ورکړی و، خو بیا کله چې د هغې لیست په اساس له هغو اشخاصو سره تماس ونیول شو، یا به هغه اشخاص د خلقیانو د ګوند غړي و او یا په کلي ډول د یوه ګوند غړي هم نه و او بې طرفه اشخاص به وو، چې په دا توګه د پرچم ډلې د خپلو ملګرو هویت په اردو کې تثبیت نه شوی کړای، چې همدارنګه یو ځل بیا د چل او فریب غولونې حالات له ورایه معلومېدل، نو ددغو حالاتو په اساس یوه بدله او ناکراره فضاء په جریان کې نا مطلوب او نا مطمئن حالات څرګنداوه. اغلباً دغه وحدت، چې د خلقیانو د ډلې د اکثره غړیو په خوښه هم نه و. ببرك کارمل په دغه وحدت کې دوه عمده اساسي مطالب په نظر کې درلودل، چې دا وحدت یې د شوروي دوستانو په مرسته په نور محمد تره کي باندې تحمیل کړ.

۱ـ ببرك کارمل ځان سره دا پلان درلود، چې د خلقیانو سره وحدت به دی ډېر تقویه کړي. ډېر ګوندي قدرت به نظر کې ولري او یو ډېر شمېر ګوندي غړي به چې د اتحاد شوروي تعلیم یافته اشخاص او د افغانستان په اردو کې موجود دي دده تر رهبرۍ لاندې راشي، نو سردار داود به مجبور شي، چې خپل روابط ببرته له ده سره ښه کړي او له دغې اوسنۍ رویې نه به وګرځي. خپل تعلقات به د شوروي دولت او نورو سیوسیالستي دولتونو سره خپله دوستي وساتي؛ چې بیا به هغه پلانونه چې د هغو د اجرا دپاره د سردار داود کودتا منځ ته راغلې وه او د شوروي اتحاد د رهبرۍ په وړاندې د ښه موقف (دریځ) لرونکی شي.

۲ـ ببرك كارمل په نظر كې درلودل، چې د وحدت د ټينګېدو وروسته د زمان په تېرېدو مګر په چټکۍ سره د ګوند ټول قدرت به په خپل لاس كې راولي. يوازې دی به وکړی شي، چې نور محمد تره کی له ځانه خوشحاله وساتي، ځکه اوس نو ببرك كارمل د تره كي په پېژندګلوي كې ډېره كافي تجربه درلوده. هغه کوی شول چې تره كي ته څو غوړه مالیو الفاظو لکه "پدر بزرګ انسان برجستهء دوست بشریت، بان افکار مترقی در افغانستان، منشی عمومی قابل افتخار حزب دموکراتیك خلق افغانستان، معلم و رهبر بزرګ" په ویلو تره کی له ځانه خوشحاله وساتي، ځکه دا پورتنې القاب د تره كي ډېر ښه ایسپدل او ډېر به خوشحاله کېده. ببرك په نظر كې درلودل، چې تره کی له ځانه خوښ وساتي، نو د ګوند ټول قدرت به په لاس كې واخلي. په هغه وخت كې د ځینو ګوندي اشخاصو له ګوند نه لکه د حفیظ الله امین او نورو چې دده اطاعت ونه کړي ده ته به ډېره اسانه وي بیا به د نورو اهدافو پرمختګ ته زمینه برابره شي، نو ځکه ببرك د خپلو پلانونو د اجرا دپاره د تره كي په مورد كې لکه پورته، چې ولیکل شول یو بې ساری اطاعت او تېتېدنه خپله وظیفه ګرځولې وه بیا يې ترتیب ونیوه، چې د حفیظ الله امین کمبله ورټوله کړي، حفیظ الله امین په ګوند كې یوازینی شخص و، چې د كارمل د پلانو مخه يې نیولای شوه.

د کال ۱۳۵۷ په اولو كې ببرك كارمل یوه غونډه د واحد ګوند د ځینو غړیو نه جوړه کړه او په هغې كې يې د حفیظ الله امین موضوع مطرح کړه او وې ویل، چې د حفیظ الله امین شتون د خلق ګوند ته ډېر ضرر متوجه کړی او حزب له خپل

سیاسي فعالیته غورځوي. د هغه دپاره بایده دي، چې داسې تصمیم ونیول شي، چې د هغه لاس د ګوندي فعالیتونو نه لنډ کړی شي. په دې مورد کې یې ډېرې مفصلې خبرې وکړې، چې بیا د رابلل شوو اشخاصو له جملې نه دري کسو د اعتراض په شکل دغه جلسه ترک کړه. اعتراض کوونکو دا ویل، چې دبیا وحدت له مورد نه لاډېرې ورځې نه دي تېرې شوي، چې بیا په ګوند کې د بل انشعاب دپاره لمن وهل کېږي. تېر انشعاب مونږ د خپل مسیر نه ګرځولي وو او مونږ ډېر بېرته پاتې شو. د ګوند او د خلقو دپاره مو هېڅ نه دي کړي، انشعاب مونږ د بدبختیو سره مخامخ کړو اوس مونږ نه غواړو بیا بل انشعاب په ګوند باندې تحمیل کړو.

دغه دري کسه د میر اکبر خیبر نژدې دوستان په پرچم ګروپ پورې تړلي اشخاص، چې نومونه یې دا دي:

۱ـ عبدالقدوس غوربندي

۲ـ ډاکټر نجیب الله

۳ـ سرور یورش.

دغه ګروپ دغه موضوع میر اکبر خیبر ته ورسوله، چې میر اکبر خیبر په دې کیسه باندې ډېر خواشینی شو او له دغو دري واړو نه یې خواهش وکړ، چې دا موضوع په لیکلې توګه هغه ته ورکړي، خو بیا وروسته معلومه شوه، چې ډاکټر نجیب دغه لیکلی خط لاسلیك نه کړ. په هر صورت میر اکبر خیبر په همدغه ورځ چې شهید شو تره کي ته د یوه عاجل ملاقات خواهش د تلیفون په ذریعه کړی و، چې تره کي د سبا ورځې د ماشام په ۹ بجو وعده ورسره کړې وه. خو میر اکبر په همدغه مابنام کې ترور شو. (دا خبره ماته تره کي په هغه وخت کې

وکړه، کله چې د میر اکبر خیبر له جنازې وروسته تره کې او کارمل دواړه د کارمل په خواهش زما کور ته ما سره لاړل، څو څو واړه تره کي ددغه ملاقات افسوس کولو).

میر اکبر دغو دري واړو نه په دې مطلب لیکلي تفصیل تقاضاء کړې وه، چې ددغې قضیې مرتکب ته لازمه جزا ورکړل شي او د بل انشعاب مخه ونیسي. ببرك کارمل په هغې جوړه شوې غونډه کې د حفیظ الله په باره کې یو بل پېشنهاد هم طرح کړی و او هغه دا چې که اوس اوس حفیظ الله امین د ګوند نه د وېستلو جزب ته تشویش او جنجال پېښېږي، د امین اختیارات دې د اردو په برخه کې له هغه واخیستل شي، چې په دغه جلسه کې سربېره د پرچم له ګروپه د خلقیانو له ګروپ نه داکتر صالح محمد زېري او کریم میثاق هم ګډون درلود. عبدالقدوس غوربندي د حمل په ۲۸ مازدیګر یو ځل بیا میر اکبر ته ورغی. میر اکبر اوس په دې پوهېده، چې ببرك کارمل د انشعاب په وخت کې دده له وجود نه په خپله ګټه ډېره استفاده کړې وه. اوس نو نه غواړي، چې ببرك بیا هم خپل شوم غرض ترسره کړي. له دې مدرکه؛ چې ببرك د میر اکبر په زور انشعاب په ګوند باندې تحمیل کړی و. د انشعاب په وخت کې یې ډېر رنځ ګالې او ډېر افسوس یې کاوه. همدارنګه په دې اخرو کې د خیبر او کارمل ترمنځ اختلافات ډېر عمیق شوي هم وو.

په هر حال میر اکبر خیبر له غوربندي سره په هم هغه مازدیګر د چکر وهلو په مقصد له خپله کوره وتلی و. میر اکبر خیبر د همدغه تیاره مانښام په شاوخوا کې د دولتي مطبعې ترڅنګ په عمومي سړك په پیاده رو کې په مرموز شکل ترور

شو. مير اکبر پخوا له دي، چې خپل تحقيقات د بل انشعاب په باره کې تکميل کړي، په قتل ورسېد. (په دغه باره کې ددې اثر په بل ځای کې يو څه نور تفصيل هم ليکل شوی دی).

د ګوند اکثراً غړي د خيبر له قتل نه په همدغه شپه خبر شول او نور محمد تره کي ته هم ددغې واقعې اطلاع ورکړل شوه. تره کی هم په همدغه شپه د مير اکبر کور ته چې په اولو مکروريانو کې و ځان ورساوه. يو بل کور ہې په همدغه منطقه کې د مرکزي کمېټې د استوګنې دپاره دغو شپو ورځو ته د موقت په توګه وټاکه بيا يې يوه اضطراري جلسه داېره کړه، چې ځينې عاجل تصميمونه ونيول شول.

لکه د ځنازې د مراسمو د ترتيب دپاره د يوه کميسيون ټاکل، چې په دې کميسيون کې د ګوند ډېر غړي موظف شول، چې دغه کميسيون ټول مسايل تر خپل باخبري او کنټرول لاندې ونيسي او دارالانشاء سره په تماس کې وي. د اردو ارتباطي مسول يعنې حفيظ الله امين ته د دارالانشاء له خوا هدايت ورکړل شو، ترڅو د اردو ټول ملګري په خپلو وظيفو کې او په خپلو قطعاتو کې مکمل حاضر وي. د جنازې په مراسمو کې دې هېڅ ګډون ونه کړي. په دې مورد کې هم ببرک کارمل مخالف و، د هغه نظر دا و چې ګوند بايد په خپل ټول زور اوقوت د اردو د غړيو په شمول د ځنازې په مرسامو کې ګډون وکړي. ولې حفيظ الله امين د هغه مخالف، چې تره کی هم د امين خبره تاييد کړه. سبا سحر يعنې د حمل ۲۹ ورځ د ګوند غړيو او د مير اکبر شخصي دوستان ډلې ډلې د مير اکبر خيبر کور ته ورتلل، مګر هغه ځای چې د خيبر ځنازه پکې وه، چاته معلومه نه و. منتخب کميسيون داسې ترتيب

نیولی و، چې داسې ګمان کېده، چې علي اباد په شفاخانه کې به وي له هغه ځایه بیا د خیبر تر کوره د مظاهرې په شکل په خپلو اوږو انتقالوي، خو هر څومره چې تکل او هڅه وشوه. ځنازه په لاس ورنغله، ترڅو دورځې د یوولسو بجو په شاوخوا کې مړ د پولیسو په یو جیب موټر کې په مخفي ډول سره دمیر اکبر د کور مخې ته ور وړ، چې په دې ترتیب حکومت د یوه هېجان لرونکي مظاهرې مخه ونیوله. ګوند د هغه ښخولو په باره کې داسې فیصله وکړه، چې حکومت ډېره وروسته د خیبر مړی هغو ته تسلیم کړ، چې ډېر کم وخت د ځنازې د مراسمو دپاره په لاس کې و او هغه پروګرام، چې د ګوند له خوا د ځنازې د مراسمو دپاره د منتخب کمیسیون په نظر کې نیولی و، تطبیق کېدای نه شو. د ښخولو ورځ یې د حمل د میاشتې ۳۰ تاریخ تعین کړ. د هغه تابوت یې د ګوند او نورو دوستانو د لیدو دپاره د میر اکبر د کور په مخ کې کښېښود او د ګوند ټول غړي یې خبر کړل، ترڅو ډلې ډلې د هغه کتنه وکړي او په دغه ترتیب یو نمایشي تظاهر جوړ کړای شو. ټولو ته داسې هدایت و، چې داسې حرکت دې ونه شي، چې حکومت بیا هغه بهانه کړي او مسلحانه حمله شروع کړي. البته د تره کي او د نورو نظر دا و، خو ببرک کارمل غوښتل، چې دې وضعې نه ګټه واخلي تاکید یې کاوه، ترڅو دا مظاهره د حکومت او جهاني امپریالزم په ضد نهایي شدت سره کار واخیستل شي. ډېر سخت شعارونه دې د حکومت او امپریالزم په ضد ورکړل شي، چې بیا د ببرک دا نظر په قطعي ډول قبول نه شو. مناسب شعارونه د کمیسیون له خوا انتخاب شول او همدارنګه دشعارونو ورکولو دپاره د نومورې کمیسیون له خوا اشخاص

وګمارل شول، ترڅو په مسالمت امېزه طریقه خپل احساسات څرګند کړي. همدارنګه وینا کوونکي هم وټاکل شول، ترڅو هغه خطابي ولولې کومې، چې د ګوند په لارښوونه لیکل شوې وې سبا ورځ یعنې د حمل د میاشتې په دېرشمه ورځ د جنازې مراسم شروع شول، جنازه د موټر په ذریعه وړل کېده. په داسې حال کې چې ټول مشایعت کوونکي پکې د سړک په دواړو اړخونو کې تنظیمو لیکو او کتارو په شکل روان و. فضاء ډېره چوپه او ارامه وه، جنازه په عمومي سړک د امریکا د سفارت ترمخ او د سردار داود د استوګنې یعنې د جمهوري ارګ ترمخ تېره شوه. د ځنازې د لمانځه د ادا په مقصد د پل خشتي جامع مسجد ته ورسول شوه. په ټوله لار کې چوپه چوپتیا وه، صرف یو څو لیکلي شعارونه د امریکې د سفارت په مخکې ورکړل شول. د ګوند رهبري غړي د نور محمد تره کي په شمول جنازې سره سم پلي روان و. د جنازې مونځ د پل خشتي په مسجد کې د ملا عبدالرسول په امامت ادا شو (ملا عبدالرسول زما ددې اثر لیکونکي د تجارت خانې محاسب و، چې بیا د خلقیانو دقدرت په وخت برناحقه شکنجې او څو شپې بندي و، خو بیا زر خوشې شو. غریب ګوتې په زندان کې دومره وهل خوړلي وو، چې څو شپې وروسته د هم هغو وهلو او شکنجو په وجه مړ شو). بیا هم ځنازه د پخوا په شان شهدای صالحین هدیرې ته انتقال شوه. د جنازې په مراسمو کې په زرګونو خلکو ګډون کړی و. د دفن د مراسمو نه پس تره کي یو څو لنډې خبرې وکړې او د خیبر قتل یې یوه فاجعهٔ وبلله، چې د دسیسې په توګه ترتیب شوې وه. بیا ډاکټر شاه ولي خپله بیانیه ولوسته، چې په هغه کې یې د منطقې ارتجاع او بین

لمللي امپريالزم محكم كړي و. بيا ببرك كارمل په مفصل شكل د دولت د ضعف په باره كې چې امنيت نه شي تامينولى او په دغه قتل كې د دولت لاس شريك وباله او حكومت ته يې اخطار وركړ، چې دارنګه دسابس او قتلونه بې انتقامه نه شي پاتې كېدای (البته ځينې كلمات د كميسيون د ليكلې خطابي نه خلاف و).

پس د جنازې د مراسمو نه، چې په هغه كې په زرګونو خپلو او پردیو، چې په افغانستان كې بې ساري و، ګډون كړی و. د سردار داود حكومت په وېره كې شو او فكر يې وكړ، چې دا دومره خلك ټول ددې حزب غړي دي يوازې د كابل په ښار كې دومره دي، نور خو به په اطراف كې هم وي، نو دحكومت غړي ډير وارخطا شول، چې بيا د سردار داود د ملګرو ډېر نامعقوله مشوره داود ته وركړه. ډېر بې ځايه عاجل تصميم يې ونيوه، دومره يې فكر ونشو كړای، چې د خپل شمالي ګاونډي دوست دولت شوروي اتحاد ملاتړ يې د ببرك كارمل په لرې كېدو له لاسه وركړ. همدارنګه يې په افغاني جامعه كې هم محكمې او مطمئنې پايې نه درلودې. هغه ډېر خلكو، چې د سلطنت له منځه تللو په وجه خپلې ګټې له لاسه وركړې وې د سردار داود په ضد په مخالف طرف كې و. حتى ځينې يې وليدل شول، چې د مير اكبر په جنازه كې يې ګډون كړی و. دده د مامورينو او ملګرو ناكردې ظلمونه او فشارونه دده حكومت په دغه لنډه موده كې خلك دومره په تنګ كړي وو، چې د سلطنت تور او كرغېړن رژيم ته يې هم ترجيح وركوله، چې سردار داود هغه ټول محبوبيت، چې د كودتا په اوايلو كې په لاس راوړی و، د خپل حكومت د مستبدانه اعمالو خود

غرضه رشوت خورو مامورينو د ډېرو ناجاېزه اعمالو له کبله دلاسه ورکړي و. په سياسي چينل کې هم د نورو ممالکو دوستي يې د خپل قدرت د نيولو په اولو بيانيو کې يې له لاسه ورکړ، چې ډېرې پسې افراطي ويناوې وې کامله دده حکومت په ضد بې اعتمادي موجوده شوې وه.

لنډه يې دا چې يو څو ناپوهو ملګرو يې غلطې مشورې ورته ورکړې او ډېر زر يې تصميم ونيوه. د حزب دموکراتيک خلق ځينې رهبران يې بنديان کړل او دغه خپل غلط تصميم يې د ثور د مياشتې د شپږمې شپې په نيمايي کې اجرا کړ. داسې ښکارېده، چې حکومت ډېر ناکراره او خپل ثبات له لاسه ورکړي و او يا خو ډېر مغروره و، چې ښه فکر او سنجش يې نه کاوه او هر څه يې يو معمولي حرکت ګانه. د خپل چاپېريال څخه ناخبره وو، ځکه هغه شخص چې په اردو کې يې قوماندې په لاس کې وه بندي نه کړ په کور کې يې پرېښود، چې هغه حفيظ لالله امين و. په عوض کې يې داسې خلک بنديان کړل لکه حسن ضمير صافي، حفيظ الله امين، چې په خپل کور خوشحال مېنه کې و، کله چې پوه شو چې په ګوند باندې د دولت له خوا حمله شروع شوه، نو په چټکۍ سره يې خپل په اردو کې ارتباطي غړي انجنير ظريف راوغوښت د خپل کور نه دباندې په يوه ازاده فضاء کې له هغه سره وکتل او ټوله هغه د حرکت پلان يې چې لاپخوا ترتيب کړی و، وروسپاره. په د ترتيب يې د مارش قوماندې ورکړه وبيا حفيظ الله امين خپل کور ته واپس راغې، چې وروسته هغه هم ونيول شو. انجينر ظريف خپل ټول ورسپارل شوي وظايف ترسره کړه (د انجنير ظريف سره صاحب جان صحرايي هم ملګری و) د حزب

قومانده یې د اردو ملګرو ته ورسوله په دغه ترتیب د ثور د (۷) تاریخ انقلاب، کودتا، یا ماجرا شروع شوه.

غلام حیدر رسولي د سردار داود د دفاع وزیر خپلو قطعاتو ته هدایت ورکړی و، چې د دولت ددغه اقدام په طرفداری، چې یو شمېر د حزب دموکراتیک خلق رهبران نیول شوي او په بند کې اچول شوي باید په خپلو قشلو کي د وینا او متینګونو محفلونه جوړ کړي، ملي اتنونه وکړي او د حزبیانو اعمال دې وغندي، ځکه حکومت د هغو د نیولو او بندیانولو حتی د هغو نومونه، چې نور محمد تره کي، ببرك کارمل او د ګوندي نورو اشخاصو چې په رادیو کې اعلان شوي وو، د خاینو عناصرو په نامه ورتل شي.

په رادیو کې اعلان شوې اعلامیه په لاندې ډول وه:

(یك عده از رهبران خاین و هنګامه جوی حزب دموکراتیك خلق که نظر شوم داشتند و باعث ارج و مرج ګردیده بودند بازداشت ګردیدند) پس د همدغې اعلامیې د نشر نه وروسته د اردو په ټولو قطعاتو کې میتهنګونه او ټولنې شروع شوې وې، چې بیا د حزب دموکراتیك خلق هم له همدغه موقع نه استفاده وکړه او په همدغه وخت کې، چې د داود پلویانو د خپلو مغرورو کارنامو په نښو کې غرق وو، یو تعداد ټانکونه د جمهوري ارګ د حفاظت په پلمه د ارګ په لور وخوځول او حرکت یې وکړ. هېڅوك نه پوهېدل، چې ددې حرکت امر د کوم مقام نه صادر شوی له دې نه هم دا د نظم د بې خبرۍ او بې ثباتۍ اتکل کېدای شي. ددغه سوقیاتو په سر کې اسلم وطن جار د خلقیانو د ګوند غړی و. ورپسې نور ټانکونه و، چې ددې ټولو قومانده د اسلم وطن جار په اختیار کې وه.

د خواجه رواش په هوايي ميدان کې د هوايي قواو په مقر کې لاهم هغسې اتهونه د داود په طرفداری روان و، چې د ارګ له خوا يې فېرونه تر غوږ شول. هېڅ نه پوهېدل چې څه خبره ده، خو د ګوند غړي چې خبر و او پوره اماده ګي يې درلوده. په ډېره چټکتيا خپله حمله شروع کړه. ورورسته ديوه مختصر جنګ نه يې د سردار داود پلويان خلع سلاح کړل. ويل کېږي، چې د دېرش څلوېښت تنو منصبداران چې خلع سلاح شوي وو د سيد داود ترون په لاس قتل کړل شوي وو. بيا نو قادر هراتي د يوې څرخې الوتکې په ذريعه خپل ځان د بګرام هوايي قواوو ته ورساوه او د ګوند غړيو ته يې د اقدام خبر ورکړ، کوم چې د ګوند د رهبری له خوا ورکړل شوی و. په دغه وخت پخوا د قادر خان له رسېدو نه دوه جنګي جټ طيارې د رسولي په امر چې له ارګ نه ې امر ورکړی و، چې په ارګ باندې حمله شوې ده او تاسو د ارګ د دفاع دپاره ځانونه راورسوئ. دغو دوه طيارو صرف د کشف دپاره پرواز کړی و او نور مهمات يې نه درلودل، چې د جمهوري ارګ نه دفاع وکړي. کله چې ورته څرګنده شوه، چې په ارګ باندې زرهدارو قواو حمله کړې، د مهماتو د اخيستو دپاره بهرته د بګرام په هوايي ميدان کې ګوزې شوې. ددغو دواړو طيارو پلوټان دخلقيانو له خوا خلع شول او بيا د خلقيانو طرفداران پلوټان خپلو الوتکو او کافي اندازه مهماتو سره هوا ته والوتل. په ارګ باندې يې سخته بمباري پيل کړه. هلته په بګرام کې هم ټول حساس ځايونه لکه د هوايي قواو عمومي قوماندانې، د مخابراتو مرکز او د قوماندې محل د خلقيانو په کنټرول کې راغی. په دغه وخت کې رسولي د داود د رژيم دفاع وزير خپل

خان لـه ارګه ووېسـت او پـه قرغـه کـې اتمـې فرقـې تـه لاړ. د فرقـې قومـاندان تـه يـې امـر ورکـړ، چـې د ښار خواتـه د جمـهوري ارګ پـه لـور حرکـت وکـړي. خپلـه رسـولي د چـهاردهي د کلـو پـه منـځ کـې ځان د ريـش خـورو فرقـې تـه ورسـاوه. د ارګ پـه شـاوخوا کـې د شـپې پـه اوږدو کـې جنـګ روان و، د ګارډ قومـاندان صـاحب جـان وردګ ښه پـه مېړانـه جنـګ تـه ادامـه ورکـړه، خـو د قرغـې اتمـه فرقـه د شپې په اتـو بجـو کـې د خلقيـانو پـه لاس کـې پرېوتـه. تنـها د ريـش خـورو فرقـې چـې قومـاندان يـې عبدالعلـي وردګ و، يـو څه مقـاومت وکـړ. قومـاندان زر ونيـول شـو او پـه قتـل ورسـېد، پـس لـه هغـه هلتـه هـم ارامـي شـوه، خـو رسـولي لـه هغـه ځايـه تښتېدلـی و. د کـابل راديـو مرکـز د ورځې تـر يـوې بجـې پـورې يعنـي د ثور د اومـې ورځې تـر يـوې بجـې پـورې د خلقيـانو پـه لاس کـې فتـح شـوې و، نـور محمد تره کـي او ورسـره نـور ملـګري، چـې بنديـان وو، د زرهـدار قـواو پـه مرسـته لـه بنـده خـلاص او د کـابل راډيـو مرکـز تـه بوتلـل شـول. د هـم هغـې ورځې د مـازديګر پـه خواوشـا کـې لنډه غونـدې اعلاميـه د جـګړن قـادر او جـګړن وطـن جار لـه خوا کـابل راديـو تـه خپـره شـوه، چـې پـه هغـې کـې دومـره ويـل شـوي وو، چـې قـدرت د افغـان اردو پـه لاس کـې دی او د داود رژيـم تـه سـقوط ورکـړل شـو. دغـې اعلاميـې نـه پـه څرګنـد ډول پوهـېدی نشـوای، چـې دغـه نظـامي کودتـا د چـا پـه نفـع ده، ځکـه پـه اعلاميـه کـې پـه واضـح تـوګه څه نـه و ويـل شـوي. چـې د پوهـېدو وړ وي. مـګر د حـزب دموکراتيـک خلـق اعضـاء خصوصـاً د خلقيـانو برخـه ددغـې اعلاميـې د انانسـر د اواز نـه پوهېدلـی شـول. چـې دا د خلقيـانو قيـام دی، ځکـه د انانسـر اواز د حفيـظ الله امين و. چـې د ګونـد غړيـو تـه اشـنا اواز و. د قـادر او اسـلم

وطن جار اوازونه د ګوند غړيو، چې عسکري ساحې نه بهر و، چا نه پېژندل. سردار داود لاهم د ارګ دننه و، سره له دې. چې هېڅ طرفدار هم ورته پاتې نه و، ځان ې نه تسليماوه او مقاومت يې کاوه.

د ګوند رهبران د راډيو له مرکز نه د خواجه رواش د هوايي ميدان د قواو يو خوندي محل ته انتقال کړل شول، ځکه هلته مخابراتي مجهزه دستګاه هم موجوده وه. د ګوند د رهبرانو له خوا هدايت داسې و، چې کوشش دې وشي، چې خپله سردار داود او د هغه د کورنۍ غړيو ته ځانې صدمه ونه رسي او ژوندي ونيول شي، مګر ټوله شپه د فېرونو خال خال اواز اورېدل کېده. مرکزي قواوې ټولې تسليمې شوې او د ګوند تر اداري لاندې راغلې وې، د کابل ښار او نورو مهمو دولتي ځايونو، بانکونو، دولتي تاسيساتو امنيت په ټينګه سره ونيول شو.

ويل کېږي، چې کله چې د ګوند رهبران د بندي خانې نه خلاص شول، حفيظ الله امين قومانده په لاس کې واخيسته او هدايتونه يې صادرول، چې په ډېره ښه توګه د انقلاب چارې پرمخ تللې او ټينګ دسپلين لاندې راغلې. سهار د پنځو بجو په شاوخوا کې يو ضابط امام الدين سره د څو کسو افرادو د سردار داود د استوګنې محل ته ورولېږل شول، ترڅو خپل ځان تسليم کړي، ترڅو بيا د انقلاب رهبر ته بوتلی شي. سردار داود هغه صاحب منصب نه د انقلاب د رهبر د نوم پوښتنه وکړه، چې په ځواب کې ورته وويل شول، چې د دموکراتيک ګوند رهبران د انقلاب رهبران دي. سردار داود، چې پوه شو، نو فوراً يې په هغه منصبدار او نورو افرادو باندې ډزې وکړې

او هغه يې زخمي کړ. چې د مقابل خوا نه هم ډزې شروع شوې، چې خپله سردار داود او د هغه ورور سردار نعيم او د هغو نور ټول فاميل اعضاء ووژل شول.

د سهار په اوو بجو (۷) داسې اعلاميه د کابل راډيو نه نشر شوه:

"د اولين ځل دپاره د سلطنت اخري پايځوړ (بقايا وې) له منځه يوړل شوې او د نادر د مستبدې کورنۍ ظلم ختم شو. ټول دولتي قدرت د افغانستان خپلو خلکو په لاس کې دی. انقلابي شورى د ټولو چارو واګې په خپل لاس کې لري. تاسو ته خبر درکول کېږي، که چېرې څوك د انقلاب په ضد کوم حرکت وکړي، سم دلاسه دې انقلابي نظامي مرکزو ته وسپارل شي".

بيا نو د ولايتو عسکري فرقو يو د بل پسې خپل تسليمي اعلانونه وکړل. يوازې د ننګرهار يوولسمې فرقې، چې قوماندان يې محمد يونس و، چې ددغې کودتا په ضد يې د کابل په لور خپل سوقيات شروع کړل، چې بيا د لارې په اوږدو کې د هوايي قوا له خوا د مشرقي والي عسکري قوماندان سره دواړه په قتل ورسېدل. خو ډېر نور هم پکې له منځه لاړل.

د ثور له اوومې نېټې

نه وروسته پېښې

په دا شان د سرادار محمد داود رژیم چې ده په خپله جوړ کړی و چې نه یې د افغانستان اجتماع کې بنیاد او اعتبار درلود او نه یې په خارجي دنیا کې د اعتماد وړ دوستان لرل او هغه څو کلنه دوستي چې خپله یې د شوروي اتحاد سره بنا کړې وه او حتی د هغو په مشوره او کومك یې شاهي رژیم له مینځه یووړ په اول کې یې د پرچمك ګوند سره د شوروي په هدایت ګډ دولتي کار شورع کړ بیا وروسته د خپلو نا معقولو او بې سنجشه حرکاتو له املې له ځانه خفه کړل او د غربي ممالکو دوستي یې هم د شوروي په دوستي خړه پړه کړې وه او د څو اخري ملاقاتو په واسطه یې لاد غربي ممالکو اعتماد حال کړی نه و چې هغو د شك په سترګه ورته کتل خلاصه خپله سردار داود او د هغه ورور سردار نعیم او یو څو کسه د هغه کودتا چیان ملګري چې هغو هم یې په افغاني جامعه کې اعتبار او پیژندګلوي نه درلوده د لوټې په شان چې په اوبو کې ډوبه شي په لږه موده کې له مینځه ځي هماغسې سره و پاشېدل.

د مملکت سیاسي دولتي اداري چارې د داسې اشخاصو په غاړه ورتحمیل شو چې هغوې هم ابدا د داسې وضعې په درلودلو سره د داشان قدرت د ترلاسه کولو له پاره هیڅ امادګی او پوهه نه درلوده د مملکت داری په چارو کې یې

کافی اندازه تجربه او په اداري کارونو کې بلد پرسونل په لاس کې نه درلود له بلې خوا یې د حزبي اشخاصو نه پرته د افغانستان په نورو خلکو اعتماد نه درلود (یوه ورځ د حفیظ الله امین د قدرت په زمانه کې د "دفاع از انقلاب ثور" په نامه د افغانستان غیر حزبي اشخاصو نه یوه کمیته جوړه کړې وه چې مشري یې خپله د امین په غاړه وه دغې کمیتې د امین تر مشرۍ لاندې غونډه وکړه چې په هغه جمله کې زه د دې اثر لیکونکی هم حاضر وم د افغانستان په اوسنۍ اوضاع باندې بحث کېده د ګډون کوونکو له جملې نه یو تن بناغلی عبدالقادر قاضي پخواني والي داسې یو پیش نهاد وکړ" البته د مملکت عامه چاري د حزب د رهبرۍ په قدرت کې دي خو نور اداري ، اقتصادي کلتوري ، فرهنګي او داسې نورې چارې باید د افغانستان په نورو باتجربه او د کار اهل ته وروسپارل شي او اعتماد پرې وشي او په سیاسي چارو کې هم په کافي اندازه باتجربه کار اشخاص په افغانستان کې موجود دي چې لازمه ده استفاده ځنې وشي حزب دې خپل حزبي کارو ته او د اجراآتو کنترول په لاس کې واخلي " چې دا موضوع امین په شدت سره رد کړه او زیاته یې کړه چې غیر له حزبي اعضاوو نه مونږ په بل چا اعتماد نه شو کولی .)

پدغه وخت کې رسېدلي او مملکتي کارونو باندې پوه ډېر لږ اشخاص د حزب دموکراتیک خلق غړي وو د ورځو په تېرېدو سره یو څه زرنګ او چالاکه خلک محض د خپلو ګټو په خاطر د حزب عضویت په لاس راوړ خو اصلا پدې حزب یې عقیده نه درلوده محض د خپلو منافعو په کوشش کې وو اما اصلي غړي چې واقعاً یې په ګوند عقیده لرله یو تعداد معلمین تېت

رتبه ماموريين او هخمدارنګه نورو چې د ګونډ د سابقه دار غړيو په حيث يې لويې دولتي څوکۍ ترلاسه کړې خو د کارونو د اجراء اهليت يې نه درلود يوه ورځ زه ددې اثر ليکونکي د خپلو شخصي تجارتي معاملاتو په خاطر د قندهار ښار ته لاړم هلته مې د يو دوه شپو د تيرولو له پاره په يوه شخصي هوټل کې ځان له يوه خونه په کرايه کړه د هوټل په سالون کې ناست وم چې د قندهار والي انجينر ظريف د چينايي ميلمنو په ليدنه چې هغوي د هغې شفاخانې د افتتاح په مقصد قندهار ته راغلي وو هوټل ته راغلل هغه زه هم ولېدم چې هلته حاضر وم کله چې والي د ميلمنو له روغبړه خلاص شو زما خواته چې زه هم دده په راتګ هلته ودرېدم والي له ما سره هم روغ وجوړ وکړ او په جدي لهجه يې مانه ګيله وکړه چې ته خو پوهېدې چې زه دلته والي يم ته ولې هوټل ته راغلی يې لاړمه وه چې زما د استوګنې محل ته راغلی وای ما په يو څه عذر غوښتو هغه ته وويل چې زه د خپلو شخصي کارونو د پاره دې ښار ته د لږ وخت دپاره راغلی يم تاسو چې حکومتي ډېر کارونه لرئ تاسو ته مې تکليف درنه کړ والي صاحب ډېر ټينګ شو چې همدغه اوس به ماسره لاړ شې ما ډېر عذر وغوښت وعده مې وکړه چې سبا غرمه به ستا حضور ته درشم فعلا مې ځان ترې خلاص کړ خو سبا ورغلم د يو څه مقدماتي خبرونه پس ما د قندهار د عمومي وضعې او دا چې حکومت د خلکو دپاره د خلکو په نفعه لکه څرنګه به چې په کمپټيو کې ويل کېدل څه کړي دي او څه پلانونه لري؟ والي صاحب ماته ووېل چې نورو ته خو لاڅي وهو خو تاته به حقيقت ووايم د قصو نه به يوه قصه درته وکړم او هغه داسې وه " د ځمکو د اصلاحاتو تقسيماتو

هیئت د ارغنداو په ولسوالۍ کې د یو شخص چې نسبتاً په خپل کلي کې بار سوخه انسان و او د هغه د ځمکو د تقسیم وار رارسېدلی و د هیئت لخوا ورځ ورته ټاکل شوې چې پدغه ورځ به ته د خپلې ځمکې په سر موجود یې چې مونږ درځو د ځمکې خاوند چې یو بار سوخه اوښه پوه انسان و خپل زامن ورونه او وریرونه او د کلي نور چې ځمکه یې د تقسیم لاندې راتلله راټول کړل او پدې باره کې یې هغو سره مشوره وکړه د هئیت د راتګ ورځ یې هم هغو ته وښوده چې پدغه ورځ سره حاضر اوسي پدغو کې ځنې پدې فکر کې وو چې ځمکه نه ورکوو او داسې نورې خبرې خو مشر شخص هغوي قانع کړل چې رضا د خدای ده تر اوسه مو که ډېره ځمکه درلوده د خدای رضاء وه اوس هم د خدای رضاء مونږ چې اضافي خپله ځمکه ورکړو او هغه چې مونږ ته پاتې کیږي په هغې کې به نر ښځې کار او زحمت وباسو مړې ډوډۍ به خدای راکړي خو اخر پاي د کلي ټول ددغه سپین ږیری په خبرو قانع شول او ټول خوشحاله شول د هئیت د راتګ په ورځ یې هیئت لپاره د ډوډۍ سرشته ونیوله د کلي والو په دودئي دیګی باندې کړې چې د کلی خلك به هم د هیئت سره ډوډۍ په ګډه وخوري او ځمکې به د قانون سره سم وویشل شي ټول خلك په خوشحالۍ سره د هیئت د راتګ په انتظار کې وو چې هیئت راورسېد هیئت چې ولیدل چې دلته په باغچه کې ټغر او قالینې هواري دي دیګی هم باندې دي او ټولو په ښه شان د هیئت د هر کلي په خاطر په پذیرائی کې ولاړ دي هیئت چې دا وضعه ولیده د هیئت مشر په بدو اوردو او کنځلو پیل وکړ ډېر بدردئي هغه سپین ږیری ته ونه ویل البته هلته هغه بې زمکې دهقانان هم

حاضر و چې هیئت هغو ته ددغو ځمکه ورکوله د هغو له جملې نه یې یو راوغوښت او سپین ږیرې ته یې وویل چې دغه سړی په شاکړه له دغې ځمکې نه چې تا په قالینو فرش کړې چار چاپیر وګرزه ځکه ته مونږ پدې رقم غواړې چې وغولوې چې ستا ځمکه تقسیم نکړو هغه دهقان د هئیت خبره ونه منله او وې ویل چې ما ددغې سړی ډوډۍ خوړلې د عمر په اوږدو کې یې له ماسره ښه کړي دي پدغه وخت ټول هغه دهقانان او د ځمکو خاوندان د هیئت ددغه ناروا او ناپوهه عمل پر ضد ودرېدل اخر پای کې ټول هیئت له لاسو یو د بل سره وتړل ځوانانو لاویل دا ټول وژنو سپین ږیرې ډېر عذر وکړ هیئت ټول ټرلې په یوه کوټه کې واچول او ټول کلی غرو ته وخاته او حکومت په مقابل کې یې په جنګ شورع وکړه. والي صاحب ماته وویل چې د ډېرو داسې اجرا اتو نه یوه یې همدا وه چې تاته مې وویل او دا کیفیت ما مرکز ته هم په همدغه شان لیکلی دی.

د ثور واقعه چې دوی یې انقلاب بولي د یوې نظامي کودتا نه ماسېوا بل څه نه وه په داسې حال کې دولتی قدرت په نابېره او غیر مترقبه صورت د دوي په غاړه ورپریووت او پر هغو تحمیل شو چې د هغو په خپل مینځ کې هم یعنی (د حزب دموکراتیک خلق) د غړو په مینځ کې ډېر ژور اختلاف موجود و . دوه نه پخلا کېدونکې ډلې دښمنانو ته (د خلقیانو او پرچمیانو) د دولت قدرت ور په برخه شو چې له هم هغې اولې ورځې نه یې په دولتي څوکیو سره جنګ و یعنې د حکومت هر هغه عمده مقام ته باید دوه دوه کسه تاکل شوي واې چې یو دیوې خوا او بل د بلې خوا خپل سړي وای مثلاً د انقلابي

شوری د رئیس د تاکلو په وخت کې چې طبعاً د ګوند عمومي منشي باید تاکل شوی وای ورسره ورسره ببرک کارمل هم باید هغه اختیارات او صلاحیتونه درلودلای چې نور محمد تره کی درلودل حفیظ الله امین چې په خپل زور یې دا میدان ګټلی و نه حاضرېده چې ببرک کارمل هم دومره قدرت او اختیارات ولري لکه چې نور محمد تره کی یې لري ځکه د ببرک او امین په مینځ کې هم شخصی اختلاف دې حد ته رسېدلي وو چې د سازش او روغېدو امکان یې نه وه په اوله ورځ کله چې نور محمد تره کی د اول شخص په حیث د انقلابی شوري رئیس او صدراعظم وتاکل شو هر مقام ته یې دوه دوه معاونین په نظر کې وو. کله چې بیا راډیو نه اعلان وشو یوازې د انقلابي شورا د معاون په حیث د ببرک کامرمل نوم واخستل شو د حفیظ الله امین نوم نه و خو د راډیو نه دونه وویل شول چې نور معاونینو نومونه بیا وروسته اعلانیږي خو حفیظ الله امین یوازې د صدارت د معاون او خارجه وزیر په حیث وتاکل شو د نورو زارت خانو د چوکیو د اشغال دپاره د دواړو ډلو تر مینځ ډېر کش او کړپ موجود و په وزارت خارجه کې چې حفیظ الله امین د هغه وزیر وه پرچمیان تنها د شبا محمد دوست چې په خارجه وزارت کې اول سیاسي معین په حیث تعین شوو قانع نه وولې یو نوي مقام یې د سکرتر جنرال په نامه تشکیل کړه چې بیا عبدلوکیل د ببرک د ماما زوی په هغه مقام کې مقرر شو چې صلاحیت یې عیناً د وزیر په شان وه (شاه محمد دوست د ګوند غړی نه و خو د پرچمیانو خصوصاً ببرک کارمل او ډاکټر اناهیتا سره یې نزدې اړیکې درلودې د پخوانې صدراعظم هاشم میوند وال سره یې ډېرې نزدې اړیکې

درلودل. داسې ویل کېده چې نوموړی (شاه محمد دوست له پخوا نه د کې ، جې ، بې غړی و پس د یوه دوه ورځو چې د کودتا نه تیرې شوې شور ویان پوه شول هڅه یې وکړه چې په چټکی سره ځان د غونوي قدرت منداتو ته ورنزدې کړي زریې په رسمیت وپیژاندل او مشاورین یې چې د داود په وخت کې د افغانستان په عسکري او ملکي حلقو کې موجود وو ، فعال شول ځکه ډېره ښه موقع په لاس ورغلې وه چې عملا اقدام وکړي او له دغه فرصت نه د ځان په ګټه قدم اوچت کړي په اولو وختو کې یې ددغو دواړو ډلو په مینځ کې د مینځ ګړتوب په توګه کار شورع کړ بیا یې هغو ته وویل چې تاسو او ستاسو ملګري کافي تجربه نه لري چې مملکتي چارې پر مخ بوزي نو تاسو باید د خپلو دوستانو د پوهې او تجربې نه استفاده وکړئ ډېر زر د یوه وړوکي دولتي پوست نه نیولې بیا د انقلابي شورا تر مقامه پورې روسي مشاورین کابل ته راغلل او کارونه یې په خپلو اختیار کې واخستل د خلقیانو غټه غلطی او ناپوهی پدې کې وه چې واک اختیار یې نوروته په لاس ورکړ او خپلو باتجربه او په کار پوهو وطن والو نه یې هېڅ استفاده ونه کړه ټولو ته یې ددښمن په نظر کتل دلته په افغانستان کې په هر وزارت کې ډېر باتجربه ، په کار پوه او وطن پرست مامورین حاضر و چې دا غم لرلی اعتماد چې په پردیو او خود غرضو روسانو باندې وشو که په خپلو خلکو شوی واي داسې حالات به په افغانستان هېڅ کله نه وو راغلي چې ددې وطن ټول وګړي بیا د ځاورو سره ځاوري شول او ددغو روسي خوښوونکو مړي او ژوندي هم معلوم نه شول د افغانستان ډېر باغیر ته او د پت خلك یې بې پته د نوزو

دروازو تـه ودرول . روسـانو دغـه رژيـم تـه چـې نـوې پـه قـدرت رسـېدلی وه د ډېرو ښو او پراخـو کومکونـو وعـدې او اطمينـان په هره ساحه کې ورکړ په ډېره لږه مـوده کې د ببرك کارمل په رګونـو کـې سـاه وغـړېده او پـوه شـو چـې روسـان دده موقـف تثبيتـوي پـه ډېره هـڅه کـې شـو چـې ځان د تـره کـی سره يـو شـان کړي هغه عـزت چې د تـره کـي کيـږي دده هم بـايد پـه عيـن شـان وشي د راغلو تبريکی پيغامونه چـې د تـره کـی پـه نامـه راغلـي او په رادیـو کـې اعلانيـږي بـايد چـې ددە نـوم هـم جوخـت د تـره کـی سره يـاد شـي پـه دولتـی ادارو او نـورو ځايـو کـې چـې د تـره کـی عکـس ايښـودل کـيږي ددە هـم پـه عيـن لويوالـې کښيښـودل شـي کلـه چـې نـور محمـد تـره کـی د ثـور پـه (۸) ورځ خپلـه سياسـي او اقتصـادي تـګ لاره پـه رادیـو کـې پـه پښتـو ژبـه ولوسـتله او هغـه بيـا ببرك کارمل پـه دري ژبـه قرائـت کـړه چـې بيـا د ببرك پلويـانو ويـل چـې دا بيانيـه اصـلاً ببرك کـارمل پـه دري ژبـه ليکلـی وه چـې. بيـا ترجمـه يـې تـره کـی پـه پښتـو ژبـه ولوسـتله ځينـو د تـره کـی طرفدارانـو دا ويـل چـې دا بيانيـه خپلـه تـره کـی ليکلـې وه خـو پـه حقيقـت کـې دواړو خـواو دروغ ويـل او مبالغـه يـې کولـه ځکـه ددغـو کـارونو د اجـرا کولـو دپـاره يـو کميسـيون د ګونـد د ليکوالـو اعضـاوو نـه موظـف شـوې و چـې د هغـو پـه ذريعـه دغـه بيانيـه هـم ترتيـب شـوې وه يعنـي [دولتـي خـط مشـي "تـګلار") همدغـې موظـف کميسـيون ليکلـي وه نـه تـره کـی او نـه کـارمل. همدارنـګه د ببرك کـارمل ورځ پـه ورځ دولتـي قـدرت خواهشـات زيـاتېدل نـور محمـد تـره کـی او حفيـظ الله امـيـن تـه دغـه رنـګه خـود غـرض او خـود خواهـي د منلـو وړ نـه وه ډېر پـه تنـګ شـول او د شـوروي مشـاورينو هـم دغـه راز خودسـري او بـې عدالتـي ليدلـه

او هغه يې خپلو مقاماتو ته ورسوله له دينه چې د شوروي اتحاد پښنه د افغانستان په اداري او سياسي کارونو کې د هغو د مشاورينو په واسطه ورګډه شوه او ببرك کارمل لاله پخوا نه د شورويانو سره په تماس کې وه او يوازينی شخص وه چې د شوروي مقاماتو د اعتماد وړ و نو د ببرك غوښتنه د شورويانو نه دا و چې تر څو هغوي دی يعنی ببرك کارمل لوړو دولتي او حزبي مقامونو ته ورسوي مګر د شوروي مقاماتو هم دا نه شوای کولی چې پداسې شرائطو کې هغه ته زر داسې صلاحيتونه برابر او هغه هيلې تر سره کړي ځکه عسکري مکمل قدرت د خلقيانو په لاس کې و که شورويانو بې حده ډېره مداخله کړې وای ممکنه وه چې د شوروي سره د خلقيانو مناسبات خراب شوي وای او اعتماد يې له مېنځه تللی وای له دينه چې هره ورځ د خلقيانو او پرچميانو په مينځ کې اختلاف مخ په زياتېدو وه چې د تره کی او امين د شکايت وړ وګرزېده له بلې خوا د خلقيانو رژيم د اکثره غربی مملکتو لخوا په رسميت پژندل شوی و، چې سفيران يې په کابل کې موجود دي او سياسي ديلوماسي بر قراره ده او د دولت موقف ثبات لري چې د شوروي مقاماتو په هېڅ شان نشواي کولی چې ببرك کارمل هغو مقاماتو ته په دولت کې ورسوي، چې د ببرك کارمل او خپلو د روسانو ارزو وه.

نو ددغه مطلب د لاسته راوستلو په باره کې بل ګوښی پلان د روسانو تر مطالعې لاندې وه او د هغه د موفقيت او لاسته راوړلو په فعاليت يې شروع وکړه نور محمد تره کی ته يې داسې مشوره ورکړه تر څو هغو پرچميانو ته چې له ده سره همکاري نه کوي د سفيرانو په حېث دې باندنيو مملکت ته

ولږي تر څو دولتي چارې ښې پر مخ لاړې شي او په کارونو کې خنډ پیدا نشي او په پته یې د ببرك کارمل د اینده پلان په باره کې خبرې وکړې او هغه یې په دې قانع کړ چې د یوه لنډ وخت دپاره د وروستني پلان د تطبیق په منظور هغه وظیفه چې خلقیان یې تاسو ته ټاکي قبوله یې کړي.

شورویانو د خپل دغه ابتکار له عمله د خلقیانو ډېر اعتماد تر لاسه کړ او شرائط یې د خپلو پلانونو د اجرا دپاره ښه آماده کړل نو دغه اشخاص د پرچم له ډلې نه غربي حساسو مملکتو او د افغانستان همسایه مملکتو ته تعین شول.

۱. ببرك کارمل د چکوسلواکئې په سوسیالست مملکت کې د لوي سفیر په توګه.

۲. نور احمد نور د امریکا په متحده ایالتو کې د لوي سفیر په توګه.

۳. عبدالوکیل په لندن کې د لوی سفیر په حیث

۴. محمود بریالی په پاکستان کې د لوي سفیر په حیث.

۵. ډاکټر نجیب الله په تهران کې دلوي سفیر په حیث.

په اوسنیو شرائطو کې یو نوي جوړ شوې رژیم ته ددغو پورتنیو مملکتو دوستی یوه فوق العاده حیاتی موضوع وه خو د تره کي او نورو ملګرو سترګې یې دغه موقتي قدرت داسې رندې کړې وې چې د خپل مرګ او ژوند واك اختیار یې د خپلو سر سختو دښمنانو په لاس کې ورکړ داسې بې سنجشه فکر یې کاوه چې ګواګې ددغو عناصرو په لرې کېدو په دولتي قدرت تر ابده ددوی په لاس کې پاتې شي. د خلقیانو د حکومت بدبختي په همدغه ځای کې وه چې هغوي خپل رقیبان پدغو مملکتونو کې چې د هغو دوستي ددغه رژیم په

قائمولو کې ډېررول درلود مقرر کړل څکه هغوي ددې پر ځای چې یو نوي جوړ شوي دولت ته په خارج کې دوستان پیدا کړي او حسنه روابط ټینګ کړي بر خلاف د روابطو په خرڅ تیا کې یې خپل کوششونه جاري وساتل او هغه مملکتونه یې چې په اول کې یې ددغه دولت د دوستۍ په لاسته راوستلو کې هڅه کوله اوس ددغو سفیرانو له برکته ددښمنانو په صف کې ودرېدل دغو سفیرانو د خپلو مقرریو او دوظیفې د اشغال له اولو ورځو نه له یوې خوا د ممالکو سره د مناسباتو د خرابتیا په باره کې اوله بلې خوا د سفارتونو د اموالو په لوټولو کې په خپل فعالیت شروع وکړه او ځانونه یې د راتلونکو پلانونو د اجرا دپاره آماده کول او خپلو ځانو ته یې د شوروي دوستانو په مرسته په نورو ملکونو کې نوي دوستان او آشنایان پیدا کړل لکه د فرانسې کمونست ګوند د غربي آلمان د کمونست ګوند او په خارج کې د ایران د تودې له ګوند سره یې خپلې اړیکې ټینګې کړې او په افغانستان کې دننه یې د شوروي مشاورینو او نورو خپلو طرفدارانو بانفوذو اشخاصو په ذریعه خپل تخریبي فعالیتونه جداً شروع کړل د خلقیانو د حکومت د بدنامولو په خاطر یې د افغانستان د عامه خلکو په وژلو او د مال دولت په تاراج او نورو رنګ رنګ ظلمونو او نادودولاس پورې کړ ډېر بې ګناه خلك په بندي خانو کې ولوېدل چې هلته هم شوروي مشاورینو د هغو په زجر او شکنجو کې پوره اختیار او صلاحیت درلود په استخباراتي او پولیسي ادارو کې هم د شوروي مشاورینو حکمراني قائمه وه او د حزب او دولت په مینځ کې هم د تره کی او امین په مینځ کې اختلافات د دښمنۍ تر سرحد پورې هم همدغو روسانو ورسول چې ددغو

ټولو ناجائزو او ناکردو بدنتائج د خلقیانو د حکومت په غاړه شول حتی د حکومت په ضد د کودتا هڅه د پرچمیانو لخوا وشوه چې د فاعلینو په سر کې یې سلطان علي کشتمند و، چې د کودتا په عمل یې اعتراف کړی و خو شوروي مشاورینو هغه له مرګه وژغوره او کله چې روسي عسکر کابل ته ورسېدل کشتمند یې د بندي خانې نه دا شان د صدارت په څوکۍ کیناوه چې د صدارت دوره یې په افغانستان کې د محمد هاشم له دورې نه څه کمه وه د روسانو هر څومره چې له واکه کېدل هم هغو نه یې خلقیان د افغانستان د خلقو په ذهنیت کې او هم په باندینیو مملکتو کې رسوا او بد نامه کړل او هغوي یې سړي وژونکي جلادان معرفي کول هغه روسي مشاورین چې تره کی ته نزدې و د تره کی غوږ ته به یې رسول چې نن وي که صبا حفیظ الله امین به تاله مېنځه وړی او ټول واك اختیار به په خپل لاس کې آخلي خو هغه نور روسانو چې ځانونه یې امین ته نزدې کړی وو. حفیظ الله امین ته به یې ویل چې نور محمدتره کی ښه نیت نه لري ددغې ماجرا پوره تفصیل ددغه اثر په بل ځای کې لیکل شوې دی.

سره له دې چې اکثراً ممالکو د غربي مملکتو په شمول دغه رژیم په رسمیت پېژندلی و او سفارت خانې یې په افغانستان کې د پخوا په شان فعالې وې، خو بیا هم غربي مملکتو د خپلو نورو ښو روابطو له دغه نوي رژیم سره د کومك او معاونتونو هڅه ونکړه داسې فکر یې سره کاوه چې ګوندي دغه رژیم د شوروي اتحاد په مرسته مینځ ته راغلی دی اما د غربیانو دا فکرونو او محاسبات په کلی صورت سره غلط او بې اساسه وه، ځکه بیا له وروستنیو پېښو نه په ښه

شان څرګنده شوه چې يوازې ببرک کارمل او د هغه ځنې پرچمي ملګري د شورويانو سره په تماس کې وو، نه د خلقيانو ګروپ چې د ثور داوومتاريخ پېښې د هغو له خوا سره ته رسيدلې وه. خلقيان په ډېرو بدو حالاتو او شرايطو کې راګير شوي وو. شورويانو چې د ببرک کارمل سره ځانګړې پلان درلود په خلقيانو يې اعتماد نه کاوه او غربيان په دې مفکوره چې د شوروي په لاس ښوونه دا رژيم مېنځ ته راغلی په خلقيانو بې اعتماد وو. ولې خلقيان چې د غربي دنيا او هم د خپلو ګاونډيو مملکتونه مايوسه شول مجبوراً ځانونه يې شوروي ته ور نزدې کول د هغو د دوستۍ او اعتماد حاصلولو دپاره يې په خپلو ويناو کې په افراطي شکل سره عمل کاوه او د شوروي مشاورينو غلطې مشورې يې منلې کنه د شورويانو بدنيت او بدسلوک د خلقيانو په وړاندې غير معقول او غير دوستانه و چې هغه د برژنيف د هغې سړې او تحقير آميزې رويې نه په څرګنده ډول معلوميږي چې هغه په مسکو کې د تره کي او د هغه د ورور او سره نور ملګرو په وړاندې اجرا کړ چې په بل ځای ددغه اثر کې مالیکلي دي.

همدا شان جنرال ضياءالحق د پاکستان جمهور رئيس کله چې هاوانا ته د غيرو متعهدو مملکتو په کنفرانس کې ګډون کړی و او نور محمد تره کی هم پدغه موقع په هوا ناکې وه، نو هلته د دوي په مينځ کې يو دوه ملاقاتونه وشول. دواړو ومنله چې د افغانستان او پاکستان د منځي روابطو په باره کې تماسونه په راتلونکې کې برقراره شي چې ددغې موضوع پوره تفصيل هم مادي اثر په بل ځای کې ليکی دی. هر راز چې وه خو د روابطو د خرابولو دپاره د خارجي مملکتو خصوصاً د

غربي او ګاونډيو مملکتو سره د پرچم د ډلې سفيرانو په باندينيو مملکتو کې او شوروي مشاورينو په دننه افغانستان کې په دوامداره توګه هلې خلې روانې کړې وې او نه يې پريښودل چې د افغانستان د حکومت سياسي دپلوماسي او اقتصادي روابط د نورو غربي مملکتو او ... سايه مملکتو سره ښه وده وکړي. د شرمه ډکه او ناګواره پ... ه د امريکې د سفير ښاغلي "ادولف دا بز" وژنه وه چې د ۱۳۵۸ د دلوې د مياشتې په ۲۴ تاريخ د فروري ۱۴ کال ۱۹۷۹ سره سمون خوري چې په مشکوک ډول ووژل شو دغسې پيښې د امريکا او نورو غربي مملکتو مناسبات د خلقيانو د حکومت سره پوره خړ پړ او بې اعتماده کړل چې دا مړينه هم قصداً د شوروي مشاورينو د مشورې په اساس مينځ ته راغله ګڼي دا واقعه دومره مشکله او بوغرنجه نه وه مګر روسي مشاورينو په ډېر تلوار سره صرف په څو ساعتو کې بې له دينه چې د امريکا د سفارت غړو ته يې د مداخلې اجازه ورکړې واى په يوه نا معقول او قصدي حرکت يې د امريکې سفير له مينځه يووړ چې د امريکې دغه لوي او معظم دولت هم خپل اصلي دښمنان ونه پيژاندل.

تر دغه وخته د امريکې حکومت هغه پخوانۍ مرستې قطع کړې نه وې او دومره امپرياليستي شعارونه هم پرې بدنه لګېدل خو روسانو داسې عمل اجرا کړ چې امريکايان يې خلقيانو ته په قهر کړل.

کله چې حفيظ الله امين د سيد داود ترون او د هغه د شوروي مشاورينو دغه نامناسبه اعمال د خپل قهر لاندې ونيول نو يوه شوروي مشاور په ډېره سپين سترګۍ امين ته

وویل چې ته هسې هم د امریکې اجنټ په نامهٔ مشهور یې چې په دې باره کې ستا قهر تا باندې شکونه رښتیا ثابتوي (د اسدالله امین د حفیظ الله دوراره او زوم وینا ده چې په دې موضوع کې یې زما د پوښتنې په ځواب کې وویل) .

د شوروي مشاور چې امین ته داسې الفاظ استعمال کړل هغه د تره کی او امین تر مینځ په اختلافاتو ښه خبر و نو ځکه یې داسې جرات وکړ چې صدر اعظم ته داسې نا معقول خطاب وکړي.

په هر حال د نور محمد تره کي حکومت د خطر احساس وکړ او پوه شول چې د پرچمیانو په ویستلو نه یوازې د هغو د شر نه خلاص نه شول بلکه هغوې چې په نورو مملکتو کې د سفیرانو په حیث مقرر شوي وو. د خارج نه یې خپل تخریبات د حکومت په ضد شروع کړل او نور چې په هغو پورې تړلي او په داخل کې و له داخل نه یې د خلقیانو حکومت تخریباوه حکومت مجبوراً دا سفیران واړه بیرته مرکز ته راوغښتل چې یو هم افغانستان ته رانغی د سفارتو اموال هر څه چې وه ټول یې د ولجې په شکل یو وړل په فرانسه غربی المان او نورو اروپائي مملکتو کې یې ځایونه لاپخوا ځانونه ته پیدا کړی وو، چې په دې باره کې هم په بل ځای کې لیکل شوي دي نو موږی سفیران چې بیرته افغانستان ته رانغلل د هغه پلان د عملي کولو انتظار یې درلود چې پخوا د شوروي اتحاد لخوا طرح شوی چې دوي پرې خبر وو.

بیا چې خلقي دولت ته ثابته شوه چې هغوي وطن ته بېرته رانغلل بلکه د دولت په ضد یې خپل فعالیتونه شروع کړل او خپل نور طرفداران یې چې د افغانستان په داخل کې و هم د

دولت په ضد فعال کړل چې د خلقي دولت پر ضد يې تخريبي فعاليتونه پيل کړل آخر نور محمد تره کی د ۱۳۵۷ کال د قوس په شپږمه ورځ د مرکزي کمېټې د پلينوم غړي راټول کړل او يو مفصل راپور يې د هغو اشخاصو چې د دموکراتيک حزب غړی دي او د حزب او دولت په ضد تخريبي فعاليتونه او د سيسې کوي د دولت او حزب له اوامرو غاړه غړوي او بېرته وطن ته چې حکومت راغوښتي وه نه راځي نور محمد تره کي د خپل راپور په نتيجه کې دا هم زياته کړې وه چې د مستندو اسنادو او شواهدو چې په لاس راغلي ثابته شوې ده چې دغه اشخاص د ملي مصالحو پر ضد دي د ګوند نه يې وغوښتل چې ببرک کارمل ، نور احمد نور، عبدالوکيل ، ډاکټره اناهيتا دغه پنځه تنه دې له ګوند نه وويستل شي، او محمود بريالی ، فدا محمد ده نشين، مجيد سربلند، نظام الدين تهذيب، سرور يورشی دغو پنځو تنو ته يې انظباتي جزاوې غوښتې وې چې بيا د مرکزي کميټې د پلينوم غړو په قاطعيت سره د نور محمد تره کي دغه راپور تائيد کړ اولنې پنځه تنه يې د حزب دموکراتيک خلق افغانستان د غړی توب نه خارج کړل همدارنګه محمود بريالی چې راپور کې په دوهمه کتګوری کې نيول شوي و. سره د سلطان علي کشتمند، قادر ، او رفيع چې ټول (۹) تنه کېدل د حزب د موکراتيک خلق افغانستان څخه اخراج شول څلور کسه نور يعنې نظام الدين تهذيب ، سرور يورش، فدا محمد ده نشين او مجيد سربلند په انظباطي جزا يعنې د مرکزي کميټې د غړی توب نه د حزب آزمايشي غړو ته ټيټ کړی شول سلطان علي کشتمند رفيع او قادر پخوا زندانې شوي وو. په دغه راپور کې چې د قادر ،

رفیع ، کشتمند او نورو د کودتا قضیه هم لیکل شوې وه چې د طاهر بدخشي نوم هم پکې راغلی و، چې بیا طاهر بدخشي هم زنداني شو . وروسته داسې اوازې وې د هغو اختلافاتو په وجه چې د حفیظ الله امین او طاهر بدخشي تر مینځ وو. بدخشی په زندان کې ووژل شو ، د تعجب ور خبره خو داده چې تره کی په خپل دغه لیکل شوي راپور کې چې د ګوند د پلینوم غړو ته یې وړاندې کړ په هغه کې یې خپل روابط د شوروي اتحاد د کمونست ګوند او نورو ګوندونو سره دوستانه بللي او داسې یې ښودله چې ګوند یې او په خپله دتره کی نورو ګوندونو په رسمیت پیژاندلی دی. په داسې حال کې چې وروستنیو پېښو دا وښودله چې د تره کی دغه ادعاء بیخي غلطه وه حتی خپله تره کی هم چا د یوه مترقي ګوند د منشي او رهبر په حیث نه پیژانده چې دا خبره په هغه وخت کې ښه صفا شوه، چې د شوروي اتحاد د کمیونستي ګوند عمومي منشي په خپل لیکلي راپور کې د ګوند شپږ ویشتمې کنګرې ته وړاندې کړه ځکه هغه ټول کوم حالات او واقعات چې د ۲۵ او ۲۶ کنګرې په زمانه کې په خپله د شوروي کمونست ګوند او یا په نورو ورونو ګوندونو کې پیښ شوي په تفصیل سره بیان کړل خو د نور محمد تره کي چې په دغه موده کې د حزب د موکراتیک خلق افغانستان عمومي منشي و، چې د خلق او پرچم د وحدت په وخت کې د حزب دموکراتیک خلق افغانستان د مرکزي کمیتې عمومی منشي په حیث منل شوی و او بیا د ثور په انقلاب کې چې نور محمدتره کی د ګوند عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس هم وټاکل شو او بیا په وروستو واقعاتو کې له مینځه لاړ چې دغه ټول واقعات د یوه

مترقي ګوند د رهبر دیادولو وړ وو. ولې بریژنیف په دې باره کې هېڅ ونه ویل نو معلومه خبره خو دا ده چې خپله نور محمد تره کی او د هغه ګڼوند شورویانو په رسمیت نه و پیژندلی.

څرنګه چې ما ددغه اثر په نورو برخو کې هم اشاره کړې په حقیقت کې نور محمد تره کی حتی د ګوند مرکزي غړو ته هم رښتیا خبره نه کوله پس د تره کي له مرګه چې ما د ګیلې په توګه د تره کی د مرګ موضوع د حفیظ الله امین نه پوښتنه وکړه نومورې په جدي توګه د تره کی له وژلو انکار وکړ او زیاته یې کړه " تره کی مونږ ته په درواغو ویلي وو، چې مونږ مترقي ګوندونو په رسمیت پیژاندلي یو خو دا خبره درواغ وه او حقیقت یې نه درلود".

پخوا د حزب د موکرایتك خلق د تاسیس نه د نور محمد تره کی سفر خارج ته

پخوا له دینه چې د حزب د موکراتیك خلق اولینه کنګره دائره شي تره کي د خارج سفر ته ځان چمتو کاوه چې ددغه سفر جریان په لاندې ډول وه.

نور محمد تره کی خپلو ملګرو ته د کنګري د تاسیس په درشل کې وویل چې د هغې ناروغۍ له کبله چې دده د پښو او ملا په حصه کې ورته پیدا شوې ډېر په تکلیف کې دی که چیرې تداوي یې ونه شی دی به په راتلونکې سیاسي مبارزاتو کې په صحیح صورت اشتراك ونه شي کړی نو ښه به دا وي چې پخوا دحزب د تشکیل نه د تداوۍ دپاره غربي المان ته ولاړ شي چې دده دغه پیشنهاد ته د ده ملګرو یعنې ببرك کارمل او میر اکبر خیبر چې د جنبش د فعالینو څخه و د تره کی دا خواهش ئی ومانه او هغه یې لاتشویق کړ او ددغه مطلب دپاره د مریضۍ پاسپورت د ببرك کارمل د ملګرو په واسطه چې په دولتي دوائرو کې د نفوذ خاوندان و تر لاسه شو مګر تره کی خپلې ښځې ته په مخفي ډول د خپلې محلي ولس والې نه هم پاسپورت تر لاسه کړی وه چې په هغه باره کې یې خپلو ملګرو ته یعنې ببرك او میر اکبر ته څه نه وه ویلی او هغو ته یې داسې وښودله چې د هغه سفر دې مخفي وساتل شي او د تګ په ورځ دې هم هېڅوك دده د مخه ښې دپاره ور نه شي حتی هغه د خپل حرکت معینه ورځ هم چاته ونه ښوده

تر څو هنګامه برپا نه شي ببرك كارمل هم د تره كي دغه سفر غربي المان ته ډېره دلچسپي درلوده په دي مورد كې يې ځان سره پلان درلود خصوصاً كله چې خبر شو چې تره كي خپله ښځه هم له ځانه سره بوولې وه خپلو نزدو ملګرو ته يې ويلي وه " ممكن تره كي واپس به افغانستان نخواهيد آمد " مګر تره كي هم په هوښيار تيا سره خپل كارونه تر سره ړل بې له دې چې څوك ورباندې پوه شي د طيارې په ذريعه يې هوايي ډګر ته يې د شوروي په لوري د خپل سفر شورع كړ، چې د تاشكند هوائي ډګر ته ورسېد د ازبكستان د جمهوريت د ليكوالو د اتحاديې لخوا د يوه ميلمه په حيث يې استقبال وشو. پس له څو ورځو تيرولو په هغه جمهوريت كې د اتحاد شوروي په نورو جمهوريتو كې د ميلمه په حيث وګرزېد او پس له هغه د مسكو ښار ته هم د ميلمه په حيث لاړ پس د تره كي له تګ نه ببرك ډېر په تشويش كې شو تخمين يوه مياشت وروسته تره كي بيرته افغانستان ته راغې او د خپل سفر ټول جريان يې چې په شوروي كې د يوه رسمي ميلمه په حيث استقبال او پالنه وشوه. مطالب يې د يوه رسمي ګذارش په توګه خپلو ملګرو ته بيان كړل معلومه شوه چې د ده د سفر مقصد شوروي اتحاد ته وه نه غربي المان ته چې دې قضيې د تره كي اعتبار د نورو په ودرانديې ډېر لوړ كه چې ببرك كارمل هم په نا چاره د هغه مشري ته مطيع شو چې نور محمد تره كي د ګوند د كنګري په وخت كې د عمومي منشي په حيث ومانه او رايه يې وركړه څكه تره كي د كنګري د ګډون كوونكو ټولې رايې تر لاسه كړې وې چې ببرك هم پكې و ببرك كارمل داسې فكر كاوه چې نور محمد تره كي په افغانستان كې د يوه مترقي جريان د

رهبر په حیث د شورویانو لخوا منل شوی او تره کي هم داسې بنودل چې یوازې زه یم چې په افغانستان کې د مترقي جریان د رهبري مستحق یم.

ببرك کارمل هم یو ساده انسان نه و ددغې واقعې د کشف او ځانته د معلومولو په لټه کې شو چې څرنګه تره کی د اتحاد شوروي د باقدرته حزب او دولتي مقاماتو لخوا دا اعتماد تر لاسه کړل. له دینه چې ببرك کارمل ډېر دوستان لکه سردار محمد داؤد او سردار نور احمد اعتمادي او داسې نور د سلطنتی دربار په مینځ کې درلودل او د هغو په خصوصي دعوتو کې اوپارتیو کې یې ګډون درلود چې طبعاً داسې خاصو پارټو کې به کله کله د شوروي سفیر او سفارت عالي رتبه غړو هم ګډون کاوه (دا وخت د ډاکټر محمد یوسف د صدارت شپې ورځې وې او سردار داؤد په کور کې ناست و خو شوروي مقاماتو سره یې بېې اړیکې درلودې) ببرك کارمل د سردار داؤد په لارښوونه او مرسته د شوروي سفیر او د شوروي د سفارت نورو غړو سره خپل روابط برقراره کړل او د شورویانو اعتماد یې حاصل کړ او دا هم له همدغه چینل نه ورته ثابته شوه چې د نور محمد تره کي سفر او په شوروي کې د هغه میلمه توب د شوروي د لیکوالو د اتحاد یې لخوا د هغه د یوه ناول په خاطر چې تره کی لیکلی وه میلمه وه دا په شوروي کې منل شوې وه هر هغه شخص چې ذاسې اثار ولیکي او شوروي اتحاد ته راشي طبعاً د لیکوالو د اتحاد یې د ملمستیا نه استفاده کولی شي.

البته شورویانو ته د ببرك کارمل اوسنی موقف چې د حزب دموکراتیك خلق د عمومي منشي معاون او د سیاسي بیرو

غړی و، په دربار او د کابل په ښایانو کې هم ښه شهرت لرې خپل ماسبات یې ورسره ټینګ کړل.

پس له دینه ببرك د خپلو نزدو ملګرو په مشوره په دې لټه کې شو چې نور محمد تره کی نه ځان ګوښه کړی پر کسیون یې د ګوند په مهنځ کې جوړ کړ چې بیا په کال ۱۳۴۶ کې یې یو انشعاب په ګوند کې راوست او ګوند یې توتې توتې کړ د شوروي اتحاد نه د اعتماد لاسته راوړلو په هڅه کې د کې، جې، بې د عضویت او د وطن د خرڅلاونه یې هم مخ ونه ګرزاوه.

د نور محمد تره کي او هغه سره د هغه د میر منې د تګ نه زه ددغه اثر لیکونکی عطا محمد شیرزی خبروم ځکه چې تره کی مانه خواهش کړی و چې هغوي هوائي میدان ته ورسوم ما هغه دواړه په خپل شخصي موټر کې هوائي ډګر ته ورسول او د راتګ په وخت کې یې د تاشکند نه تلګرام راکړی و چې زه هوائي میدان ته ورغلم او په موټر کې مې د هغه کور ته، چې په څلورمه کارته کې و، ورسول.

د ببرك کارمل د کې، جې، بې د غړي توب په باره کې هېڅ شك او شبهه نشته خو د یوه روسي افسر چې د کې، جې ۴، بې غړی هم وه په ایران کې د شوروي اتحاد په سفارت ماموریت درلود په کال ۱۹۸۲ عیسوي کې په لندن کې پناهنده شو هغه په خپلو مصاحبو چې د بي بي سي رادیو او د امریکي غږ رادیو سره کړي وی د نومبر د ۱۶ او ۱۷ تاریخ کال ۱۹۸۲ چې عقرب د میاشتې له ۲۵ او ۲۶ ورځې سره سمون خوري د ببرك کارمل غړي توب یې په کې ،جې ، بې کې افشاء کړ او زما له یوه دوست سره یې یو ثبت شوی

کیسټ هم شته. کله چې نور محمد تره کی قدرت ته ورسېد د خپل ژوند د حالاتو په ترڅ کې یې دغه سفر ته چې په کال ۱۳۴۳ کې یې صورت مونډلي وه یادونه کړې وه چې بیا د کابل تائمز په اخبار کې او په نورو جرائدو کې هم نشر شو چې په هغه وخت او هغه سفر کې د دوست هېواد شوروي اتحاد لخوا د ده ډېره په مینه پالنه شوې وه اما د حیرانتیا خبره داده چې بیا هغه نشریات چې په شوروي اتحاد کې د نور محمد تره کی ډېر ښه او تود هر کلی او استقبلا شوی وه د تره کي د حکومت په امر د کابل تائمز د اخبار نه وویستل شول او کوم اخبارونه چې له چاپ څخه وتلي وه مصادره شول. ښاغلی کوشککي په خپل کتاب کې چې د دهیئه قانون اساسي په نامه ده داسې لیکلي دي.

" ماته د کابل تائمز د اخبار یوه مسلکي غړي داسې وویل دغه عبارات چې نور محمد تره کی د مسافرت په وخت کې د هغه تود هر کلی شوی د شوروي سفارت د فشار لخوا د اخبار نه وویستل شول. ددغه مامور له قوله د شوروي سفارت ته د کابل تائمز آمر چې پدغه وخت کې محمد کاظم آهنګ و ددغې موضوع په باره کې تلیفوني اطلاع ورکړل شوي وه".

برسېره پدې محمد کاظم آهنګ د محمد آهنګ ورور دی چې هه د ببرك کارمل سره ډېر ښه او دوستانه تعلقات لري ډېر امکان لري چې آهنګ به اول دا موضوع د ببرك کارمل سره مطرح کړې وي او بیا به یې د هغه په مشوره په ګډه شوروي سفیر ته ویلی وي ، د روسانو تعلقات له نور محمد تره کی سره د ده له ګروپ خلقیانو سره په څرګند ډول معلومیږی چې د تره کي د قدرت په زمانه کې هم شورویان دې خبرې ته نه

حاضريږي، چې د تره کي استقبال په شوروي اتحاد کې تائيد کړي که څه هم د تره کی تود هر کلی په شوروي کې واقعيت هم درلود مګر شورويان د افغانستان په خپلو جرايدو کې چې تره کی هم په قدرت کې دی نه شی زغملی چې نشر شي.

د شوروي اتحاد دولت پخوا د کابل ۱۹۵۰ نه د هغو عواملو او ستونزو له عمله چې د دوهم عمومي جنګ په خاطر د داخلي اقتصاد د کمزورۍ او نورو عواملو له کبله ور په غاړه وي د هغو شرقي اروپايي مملکتونو مشکلات او ستونځې يې هم په غاړه ورلوبدلي وې چې د عمومي جنګ په پای کې دشوروي تر تسلط لاندې راغلي وي چې له هر څه د مخه شوروي اتحاد ته مهمې وې شوروي نه شوای کولی، چې په داسې سختو شرايطو کې چې له يوې خوا د عمومي جنګ له ختمېدو سره سم د غربي بلاکو سره په سوړ جنګ کې راګېر شي او له بلې خوا د خپلې اېډيالوژۍ د خپرولو په فکر کې شي او خپله ايډيا لوژي نورو ګاونډيو ملکونو ته خپره کړی لکه افغانستان چې وګړيو يې په ډېرته پاتې او خاصو شرايطو په دوران کې ژوند کاوه او شوروي ته يې هېڅ ګټه متصوره نه وه اتحاد شوروي په داسې شرائطو کې يوازي دومره غوښتل چې ګوندیو حکومتونو سره ښه سياسي علاقې ولري او بس چې داسې علاقې د شوروي په ګټه و.

مګر د کال ۱۳۴۲ شمسي چې د ۱۹۶۳ ميلادي سره سمون خوري او دلته په افغانستان کې د حکومتونو شکلونه تر يوې اندازې تغير ومونډ او داسې ګمان کېده چې آينده حکومتونه به يو څه آزاد او دموکراسي شکل ولري او وګړو ته به آزادي وشي او د خپلې خوښې حکومتونه به جوړ کړي

شوروي اتحاد په دغه وخت کې په دې فکر کې شو چې دلته په افغانستان کې د پښې د پلـه ځای ولـري نـو ځنګه چې پـه نـورو ځایونـو کـې هـم لیکـل شـوی دي بـبرك کـارمل د شـوروي د مسؤلینو په نزد یو ډېر مناسـب شخص و نـو پـه هغـه یـې اعتمـاد وکړ ځرنګه چې پـه آخري پیښو کې ښه څرګنـده شـوه هغـه او د هغـه د پـرچـم د ډلې ځنې نـور غـړي د کـی، جي ، بـي پـه سـاحه کې وسـاتل شـول د هغـه حـزب یعنـي د پـرچـم حـزب یـې نـورو کمونستي ګوند ونو ته معرفـی کړ.

دا خـبره ماتـه هغـه وخت معلومـه شـوله، چـې د داؤد د کودتـا نه پس زه خپلـو شـخصی معـاملاتو دپـاره هندوسـتان تـه تلـم مـیر اکبر خیبر چې زما شـخصي دوسـت و مانـه یـې خواهـش وکړ چې د هندوسـتان نـه یـو څو ټوکـه د هنـد د کمونسـت ګونـد لیکـل شـوي کتابونـه لکـه د هنـد د کمونسـت ګونـد تـاریخ او داسـې نـور ورتـه راوړم کـه څه هم دغـه شـان کتابونـه پـه هغـه مغـازه کـې چـې د هنـد د کمونسـت ګونـد آثـار یـې خرڅول موجـود وه خـو د وړلـو پـه وخت کـې یـې د هندوسـتان پـه ګمـرکـې پولیسـي څانګو کـې لـږ څه پرابلمونـه احساسـېدل نـو ځکـه مـا د خپـل یـوه هنـدي دوسـت پـه مرسـته چـې هغـه د ګونـد عمومـي منشـي سـره پیژندګلـوي درلـوده پـه تمـاس کـې شـوم چـې پـه هغـه وخـت کـې اغلبـاً د هندوسـتان د کمونسـت عمومـي منشـې نـوم (دانکـی) وه د خـبرو اتـرو پـه جریـان کـې عمومـی منشـي ماتـه پـه واضـح الفـاظو کـې وویـل چـې مـوږ پښه افغانسـتان کـې د بـبرك کـارمل ګروپ د یـوه مـترقي جریـان پـه حیـث پیژنـو، نومـوړی ماسـره ډېره مـهرباني وکـړه او یـو څو ټوکـه لیکـل شـوي کتابونـه یـې ماتـه راکـړل او د ګمرکـي چـارو کاروبـار یـې هـم سـم کـړل مـا دغـه کتابونـه افغانسـتان تـه راوړل او خیبر تـه مـې ورکـړل.

له نور محمد تره کی سره د سیاسي بیرو غړیو او کابینې غړیو شوروي اتحاد ته سفر

په کال ۱۳۵۷ شمسي د قوس په میاشت کې نور محمد تره کی او د دموکرتیک خلق ګوند د مرکزي کمیتې او سیاسي بورو ټول غړي د کابینې د غړو سره د هغې معاهدې د لاس لیک دپاره چې مشوره پخوا ترتیب شوې وه او د هغې معاهدې په دوام کې وه، چې په ۱۹۲۱ کال د شوروي سوسیالستي دولت سره د افغانستان د شاهي دولت د اعلحضرت غازي امان الله شاه په زمانه کې لاس لیک شوې وه اوسنۍ شرائطو دا ایجابوله چې زمینې موادات پکې وررزیات شي د یوه لنډ سفر دپاره شوروي اتحاد ته لاړل چې د رسیدو په وخت کې څنګه چې لاړمه وه د پروتوکول خلاف د هغه ښه هر کلی په مسکو کې ونه شو او بیا بله ورځ هغه وخت چې د معاهدې د امضاء کولو دپاره افغاني هئیت هغه معین ځای ته وغوښتل شول د شوروي اتحاد رسمي لوړ پوړي اشخاص هلته نه وو راغلي، خو وروسته د دوی له راتګه د شوروي د هیئت غړي یو په بل پسې راغلل او په آخر کې بریژنیف راغی او دوی ټول یې مخې ته ودریدل بریژنیف ډېره سړه وضعه د افغان له هیئت سره وکړه چې د افغاني هیئت دپاره ډېره تحقیر آمیزه وه هر څه چې وه خو د افغاني هیئت

لخوا تره کي په خبرو شروع وکړه او غوښتل يې چې د شوروي اتحاد د مرستو په هکله خپله شکريه ادا کړي او درباري پورمولیتي خبرې وکړي، خو بريژنيف دده په خبرو کې په آمرانه ډول سره مداخله وکړه د تره کی خبرې يې قطع کړې ويې ويل، چې خپل مطلب ووايه مانه څه شی غواړې، چې در يې کړم، چې د بريژنيف دغه نامعقوله تحقير آميزه وضعه تره کی ډېر په غصه کړ او د بعضور کيکو او نامناسب، الفاظو يې په پښتو ژبه وکړې ترجمان ته يې وويل چې زما عيني الفاظ ورته ترجمه کړه بيا د خپل خاي نه پاڅېد او سالون نه ووت مجلس يې ترک کړ چې يوه ډېره بده فضاء مېنځ ته راغله او ټول د هغه ځايه ووتل دغې وضعې ډېر بد عواقب درلودل ځکه د شوروي اتحاد پلانونه چې يې د افغانستان دپاره په نظر کې درلودل ټول د ناکامې سره مخامخ کېدل نو د شوروي لخوا د پخلاکېدو هڅې په ډېرې چټکی سره شروع کړې او پدې باره کې يې د حفيظ الله امين نه خواهش وکړ تر څو د تره کی او بريژنيف په مېنځ کې د پخلاکولو زمينه مساعده کړی د شوروي اتحاد لخوا صدر اعظم کاسګين ډېر کوشش په غاړه واخست کاسګين په ډاګه ويلي وه چې دا نامساعده فضاء د پوزانوف ، د شوروي اتحاد سفير په افغانستان کې مېنځ ته راوړي (پوزانوف د ببرک کارمل د سختو طرفدارو څخه و چې بيا د هغه په معرفی ببرک کارمل د شوروي اتحاد لوړو رسمي مقاماتو وپيژانده) په هر حال د پخلا کولو زمينه د کاسګين او حفيظ الله امين په کوشش برابره شوه چې د تره

کی شرط قبول شي تره کی ویلي دی چې د ښو مناسباتو د
بهرته ژوندي کولو دپاره باید بریژنیف زما استوګنځي ته
راشي خو په پاې کې داسې فیصله وشوه چې بریژنیف د ټولو
شوروي هیئت غړیو سره د سالون په وره کې د افغاني هیئت
پذیرائي او استقبال وکړي، چې بیا شخصاً بریژنیف او د هغه
هیئت د افغاني لوري په ډېر احترام سره هر کلی او استقبال
وکړ او بیا په یوه خوشحاله فضاء کې خبرې اترې شروع شوې
او په مختلفو ساحو کې موافقې وشوې او بیا د قوس په ۱۴
تاریخ کال ۱۳۵۷ چې د ۱۹۷۸ میلادي سره سمون خوري
هغه رسمي دولتي معاهده لاسلیك شوه د بریژنیف بدنیت په
همدغه ځای کې ښه روښانه و مګر دغو نوي په قدرت
رسېدلي بې وزله لاهم نه پوهېدل او شورویان یې د افغانستان
د خلکو دوستان بلل ورك دي وي دغسې دوستان او دوست
ولې چې د افغانستان د بربادۍ لامل وګرځېدل او د
افغانستان په ملیونونو خلك یې له خاورو سره خاوري کړل.

د بې طرفه مملکتونو په غونډه کې د نور محمد تره کې سفر "هاوانا" ته د هغه د قدرت په وخت کې

په کال ۱۹۷۹ عیسوي د سپتمبر په اوایلو کې چې ۱۳۵۸ د سنبلې د میاشتې سره سمون خوري، نور محمد تره کې د افغانستان د انقلابي شورا رئیس او د خلق دموکراتیک ګوند عمومي منشي د بې طرفه مملکتو د مشرانو په غونډه کې د ګډون په مقصد هاوانا د کیوبا د دولت مرکز ته د شوروي له لارې د یوه هیئت په مشرۍ روان شو په هاوانا کې د هغو ملاقاتو په ترڅ کې چې د نور محمد تره کې د ځینو ممالکو د مشرانو سره یې وکړل. د جنرال ضیاء الحق د پاکستان جمهور رئیس سره هم دا امکان میسر شو چې بیا دواړه مشرانو د خپل منځي اختلافاتو په باره کې خبرې اترې سره وکړې او ددغو اختلافاتو د له منځه وړلو له پاره هر یوه خپل پیشنهادات وړاندې کړل.

د پاکستان لخوا داسې پیشنهاد وشو چې باید افغانستان کم تر کمه د پنځو کلونو په موده کې د پښتونستان موضوع په خپلو نشریاتو کې تبلیغ نه کړي او اجمل ختک چې له ډېرې مودې څخه په افغانستان کې آستوګنه لري او د پښتونستان کشاله په ډېره شدت سره تبلیغوي. د پاکستان حکومت ته دی وسپارل شي د پاکستان حکومت به هم هغه دوولس زره مهاجر افغانان د هغو له مشرانو سره افغانستان ته بېرته ولیږي ځکه هغوي د اوسني حکومت نه زړه بدي دي تاسو به له هغوي سره

ښه نیکه رویه وکړئ او د هغو ضبط شوي جایدادونه به بېرته ورکړئ او بې د محکمې د حکم نه جزا ګانې مه ورکوئ.
تره کي داسې پیشنهاد کړی و، چې د پښتونستان د آزادۍ غږ د هغو خلکو روا او مشروع حق دی چې زمونږ د خلکو په اراده پورې اړه لري چې د افغانستان حکومت د هغو مانع کېدای نه شي او اجمل ختک د افغانستان د خلکو مېلمه دی. د افغانستان د خپلو عنعنو او رواجونو په اساس خپل میلمه د خپل کور نه، ته شي شړلی. که د پاکستان دولت هغه راضي او پخلا کولی شي مونږ د هغه مانع نه ګرځوو د افغانستان د خلکو په باره کې چې څه زمونږ په وخت کې او څه لاپخوا وختونو کې د خپل وطن نه مرور شوي او پاکستان ته راغلي مونږ حاضر یو چې د هغو د پخلاینې په پار د هغو ټولو معقولو پیشنهاداتو ته مثبت ځواب ورکړو په ډېره درناوي یې خپل پلرني ټاټوبي ته ستانه کړو او هیڅ راز تکلیف او سزاوې هغو ته ورنکړو معلومه وه چې د دواړو خواو پیشنهادو کې لري والی موجود و په بل ګډون کې فیډل کاسترو چې د دواړو خواو دوست و او هم د بې طرفه ملکونو د غونډې رئیس هم و ګډون وکړ او د روغوونکي په حیث یې مداخله وکړه چې د هغه د توجه په اثر ددغو وروڼو او همسایه ملکونو په مېنځ کې د جوړې روغې معقوله لار پیدا شوه چې دواړو خواو پرې اعتماد او باور درلود او هغه دا چې د افغانستان حکومت دې د یوه کال په موده کې د پښتونستان موضوع په خپلو مطبوعاتو کې د پروپاګند په شکل نه تبلیغوي او دوولس زره افغان مهاجر په عزت سره بېرته افغانستان ته لاړ شي د افغانستان حکومت به د هغو سره نیکه او انساني رویه کوي،

جايدادونه به يې واپس ورکول کېږي. ددغې روغې جوړې د تکميل په باره کې داسې ومنل شول چې وروسته بيا آغا شاهي د پاکستان باندښيو چارو وزير افغانستان ته سفر کوي او پدغه باره کې د يوې موافقت نامې مسوده د افغانستان د خارجه چارو وزير په ګډون ترتيب کړي (ډاکټر شاولي د خارجه چارو وزير په هاوانا کې تره کی سره وه) کله چې پروتوکولي چارې تکميل شوې د دواړو دولتونو د مشرانو لخوا به لاس ليک شي کله چې د هاوانا کنفرانس ختم شو تره کی د وطن پر لور د مسکو په لار راوخوځيد. کله چې مسکو ته ورسېد هلته تم شو په مسکو کې تره کي يوازې د بريژنيف ملاقات ته وغوښتل شو چې د تره کی د ورسره هيئت د خارجه چارو د وزير په شمول پدې ملاقات کې ګډون نه درلود پدې ملاقات کې تره کی قانع شوی و چې د حفيظ الله امين پر ځای ببرک کارلم دې له تره کی سره همکاري وکړي حفيظ الله امين چې دا وخت د صدراعظم او د انقلابي شورا د رئيس د مرستيال په حيث وظيفه درلوده، تره کي ته داسې ډاډ ورکړل شوی و، چې د ده کابل ته د رسېدو نه مخکې به حفيظ الله امين نه وي او که چيرې ژوندی وي په فرانسه کې دې د سفير په حيث وظيفه اجرا کړي (په کابل کې د امين د قتل ترتيبات نيول شوي وو. په دې مورد کې د شوروي سفير بوزانوف ډېر فعال و تره کی د بريژنيف د تهديد او فشار په وجه د هغه خبره منلي وه چې په هماغه سبا ورځ د پراودا اخبار او نورو اخبارو کې د نور محمد تره کي نوم په اولو صفحو کې نشر شو او د تره کی صفتونه يې ډېر کړی و بيا نو تره کی د کابل په لور را وخوځيده د امين د قتل توطئيه داسې طرحه شوې وه چې د

تره کې د رسېدو په وخت کې چې طبعاً حفیظ الله امین هم په هغه مراسمو کې ګډون کوي پخوا له دې چې د تره کي الوتکه هوایي میدان ته راکوزه شي، امین به د هغو اشخاصو لخوا چې دغه کارته موظف شوي او د ګارد په لیکو کې یې ځای پر ځای شوي وو او مسلح دي، ترور شي او بیا به د تره کي الوتکه په ځمکه راکوزه شي. دغه ټول ترتیبات د شوروي سفیر په امر د شوروي مشاورینو لخوا چې په ګارد کې موظف وو ترتیب نیول شوی و. کله چې امین په قتل ورسېږي تره کی ته به په الوتکه کې اطلاع ورکړل شي ، خو داسې ونه شول ځکه امین ټول جریانات له مسکو نه تر کابله ځانته ښه معلوم کړي وو او هغه اشخاص چې دده د قتل دپاره موظف شوي و ځای پر ځای خلع سلاح کړل او د هر یوه تر څنګ یې خپل مسلح ملګري ودرول. د تره کي طیاره هم هغسې د کابل د ښار په فضاء کې ګرزېده راګرزېده خو هېڅ داسې یو احوال ورته ونه رسېده، چې د امین د قتل زیری یې ورته ورکړی وای، خو آخر طیاره په ځمکه کښاسته او د انقلابي شورا مقر ته لاړ. سم د لاسه یې د انقلابي شورا او مرکزي کمیټې غړي د یوې فوق العاده جلسې دپاره راوبلل او بیا یې د حفیظ الله امین د برطرفۍ موضوع پیشنهاد کړه. حفیظ الله امین نه یې وغوښتل چې د افغانستان د سفارت د لوی سفیر په حیث دنده په فرانسه کې قبوله کړي. حفیظ الله امین په ځواب کې وویل چې په اکثریت سره که ملګري وغواړي له دولتي کارونو به استعفی وکړم هېڅ یوه رتبه او مقام هم نه غواړم په خپل ګوند کې به یم او په کور کې به خپل شخصي کار او بار کوم له وطنه د باندې نه وځم او له بلې خوا په هېڅ شکل ببرک

کارمل نه پرېږدم، چې افغانستان خرڅ کړي بې له دینه چې د جلسې له خوا کومه فیصله وشي او کوم تصمیم ونیول شي. جلسه ختمه شوه او امین خپل کور ته لاړ بیا نو د سپتمبر په ۱۶ تاریخ پوزانوف د شوروي سفیر په افغانستان کې چې د امین د قتل پلان یې طرحه کړې و او د هغه پلان د کامیابۍ اطمینان یې سل په سلو کې شوروي مقاماتو ته سپارلی و او هغه پلان ناکامه شو او موضوع په کلي رسوا شوه د نورو فوري او جدي اقداماتو په لټه کې شو. تره کي ته ورغی او امین یې هماغه ځای ته را وغوښت. امین ته یې وویل چې د خبرو دپاره د تره کي قرار ګاه ته راشه ولې په پټه نوموړی سفیر د هماغه پلان په لټه کې شو، چې د امین د قتل په باره کې یې طرحه کړې و او ددغه مطلب د اجرا دپاره یې څو کسه ځای پر ځای کړي و مګر امین چې د تره کی د یاورانو او محافظینو په مېنځ کې خپل شخصي ملګري درلودل د ټولو جریاناتو نه ښه خبر و امین د تره کی کور ته دورتګ نه انکار وکړو.

او وې ویل چې هلته تر ورستان په سنګرونو کې ناست دي د شوروي سفیر او د امین موظف مشاور روسي ته هدایت وکړ چې ته د سفارت او د شوروي د حکومت لخوا د امین د سلامتیا اطمینان امین ته ورکړه او رایې ولې همدارنګه خپله سفیر په تلیفون کې امین ته ډاډ ورکړ، ترڅو حفیظ الله امین د هغو په اطمینان د خلق کور څخه د تره کي قصر ته ورغی، خو هلته سید داود ټرون چې د تره کي یاور و امین ته مخې ته ورغی او ورته یې وویل چې وژني دې ولې راغلې خو امین د سفیر د اطمینان هغه ته وویل بیا نو سید داود ټرون په مخ کې

او څو نور د امین ساتونکي د امین په شاوخوا کې د تره کی د آستونګنځي په طرف روان شول چې لږ شیبه وروسته له هرې خوا نه ډزې شورع شوې سید داؤد ترون او یو بل محافظ په ځمکه ولیوېدل او ځای په ځای مړه شول او امین ځان په ځمکه وغورزاوه او بیا یې ځان په زینه کې کولې کړ.

خپل موټر ته یې ځان ورساوه چې ګوري موټروان یې د موټر سره نشته او پخوا نیول شوی دی ځکه د امین موټروان د هغه د خپلې خور زوی و، خو هلته د ده د باډي ګارډانو موټر ولاړ و چې امین یې په فوري صورت سره په موټر کې واخیست. امین ددفاع وزارت ته لاړ او په عاجله توګه یې د خلقو کور (ارګ) تر محاصرې لاندې ونیوه او د کابل د ښار امنیت یې تامین کړ پدغه رنګه د دوهم ځل د پاره د پوزانوف د شوروي د سفیر پلان شنډ شو نومورې سفیر سم د لاسه ځان حفیظ الله امین ته ورساوه عذر یې وغوښت ددغې واقعې ګناه چې څو کسه پکې مړه شول ټوله ګناه او ملامتي یې په نور محمد تره کی واچوله وې ویل چې تره کی په خپل سر دغه اقدام کړی و حفیظ الله امین د همدغې موقعې نه استفاده وکړه د انقلابي شورا غړي او د ګوند مرکزي کمیټې غړي یې فوراً راټول کړل او اضطراري غونډه یې جوړه کړه بیا یې د خپل قتل ټول جریانات بیان کړل چې په دغه واقعه کې څو مړي لاپه هم هغوي ځایونو کې پراته وه کوم ځای کې چې ددغو ډزو په جریان کې په قتل رسېدلي و د شوروي سفیر او هغو حاضرو شوروي مشاورینو هم شهادت ورکړ او تره کی یې ددغې واقعې مسؤل وګانه بیا په همدې باره کې اسمعیل دانش د مرکزي کمیټې او سیاسي بیرو غړی په حکومت کې د معادنو

او صنایعو وزیر ډېره مفصله او هر اړخیزه وینا وکړه خصوصاً د کیس شخصیت په باره کې یې علمي رڼا واچوله او دارنګه حالات یې د ګوند او د افغانستان په ضرر وګڼل او د تره کي عدم کفایت یې بیان کړ چې ټولو حاضرینو د تائید شعارونه ورکړل او د تره کي دوام یې پدغه مقام کې د انقلاب په ضرر وباله چې بیا همدغې جلسې په اتفاق سره تره کی د ټولو دولتي او ګوندي مقاماتو نه برطرف کړ او حفیظ الله امین یې د هغه پر ځای وټاکه چې بیا د مبارکۍ پیغام د ټولو نه اول د بریژنیف لخوا د امین په نامه را ورسېد او حفیظ الله امین یې په رسمیت وپیژاند یعنې دوه ورځې پس د شوروي د کمونست ګوند د عمومي منشي او د کاسګین د شوروي اتحاد صدراعظم لخوا د امین په نامه د مبارکۍ پیغامونه راورسېدل چې په هغه پیغام کې یې لیکلي وو " اطمینان لرو چې د وروړئ ښه روابط د شوروي اتحاد او انقلابي افغانستان لا پسې پراختیا وموميء."

د نور محمد تره کی برطرفی او د حفیظ الله امین د هغه پر ځای ټاکنه د سنبلې د میاشتې ۲۵ کال ۱۳۵۸ چې د سپتمبر ۱۷ کال ۱۹۷۹ کې صورت ومونده.

امین پس له هغه د ټولو ګوندي او دولتي قدرت واګې په لاس کې واخستې او سم د لاسه یې د شوروي سفیر د پوزانوف د افغانستان نه د اخراج امر یې صادر کړ همدارنګه یې پاولوف د شوروي د سفارت اول سکتر ته په یوه هفته کې د افغانستانه د اخراج امر ورکړ د شوروي دولت ته یې اطلاع ورکړه چې ستاسو سفیر نا مطلوب شخص دی تاسو یو بل شخص د سفیر په حیث رامعرفي کړئ پوزانوف په افغانستان

کې (۱۲) کاله او پاولوف (۱۰) کاله وظیفه اجرا کړه. حفیظ الله امین د شوروي د مشاورینو صلاحیتونه هم محدود کړل حفیظ الله امین هغه شوی قصد چې دده باره کې د تره کی په هدایت ترتیب شوی و عاملین یې اسلم وطن جار ، سید محمد گلاب زوی ، شیر جان مزدور یار او اسدالله سروري بلل او د هغو د گرفتاری او بندي کېدلو امر یې ورکړی و مګر داسې ویل کېدل چې دغو څلور تنو د شوروي سفارت ته په افغانستان کې پناه وړې وه اګرچه د هغوي تسلیمول د امین لخوا د شوروي سفارت نه شوي و داسې ویل کېدل چې هغوي شوروي ته بهول شوي وو. بیا چې ببرك کارمل د شوروي د لښکرو سره کابل ته راغی او کابل یې اشغال کړ دغه څلور واړه نومورې راغلل او د ببرك کارمل د حکومت په کابینه کې د وزیرانو په حیث داخل شول.

څو موده پس د هغه خبرو اترو چې په هاوانا کې د نور محمد تره کي او جنرال ضیاء الحق د پاکستان د جمهوررئیس سره شوې وې او له دغې موضوع نه ډاکټر شاولي د خارجه چارو وزیر خبر و. د حفیظ الله امین په مشوره په دې باره کې د پاکستان حکومت ته یادونه وشوه چې هغې موضوع ته دوام ورکوي که څنګه نو د پاکستان دولت له نیك مرغه د مذاکراتو د دوام سره خپله موافقه او رضائیت څرګند کړ د پخوانی مذاکرې په اساس باید د پاکستان خارجه وزیر شاهي افغانستان ته راشي او د هغه د راتګ نیټه د جدي د میاشتې شپږم تاریخ وټاکل شو. دلته په کابل کې شاه محمد دوست په خارجه وزارت کې د اول معین وظیفه اجرا کوله او ببرك کارمل او بریژنیف د پلان په جریان کې وو، د موضع نه

ې برک کارمل خبر کړ. د مسکو طرحه شوي پلان نیټه یو څه موده وروسته په نظر کې نیول شوې وه خو د پاکستان او د افغانستان د مشرانو دا مذاکرات شوروي مجبور کړ چې خپل پلان پخوا له هغه چې پورتنې مذاکرات اجرا شي شروع کړي نو ځکه دلته په کابل کې شوروي مشاورینو چې د هوانوردۍ په ساحه کې موظف وو، اطلاع ورکړه چې د جدي په شپږم تاریخ د کابل هوا د پاکستان د خارجه چارو د وزیر الوتکې ته مساعده نه ده چې په میدان کې کوزه شي لازمه ده چې په دغه ورځ دغه سفر په تعویق واچول شي ددغه راتلک نیټه د جدي نهم تاریخ وټاکل شو هم هغه و چې د جدي په (۶) کال ۱۳۵۸ شمسي کې افغانستان د روسي یرغل ګر فوځ لخوا اشغال شو او د بدنامۍ ډېره کر غیرنه لکه ددې دواړو مملکتو په تاریخ کې ولیکل شوه خفیظ الله امین او د هغه حکومت له مینځه لاړ او ببرک کارمل د شورویانو په مرسته د یوه ګوډاګي په شان په قدرت ورسېد او تاریخ یو ځل بیا تکرار شو ببرک کارمل د انقلابي شورا په ریاست لکه شاه شجاع چې (۱۴۰) کاله پخوا د انګریزانو لخوا د افغانستان په شاهي تخت کینول شوی و کښیناست په دغه باره کې ددې اثر په نورو پاڼو کې هم کښیناست لیکل شوي).

دارنګه یو نیك اقدام چې د افغانستان او پاکستان د خلکو او حکومتونو په خیر او ښېګړه و له مینځه لاړ او د افغانستان د بې ګناه او مظلومو خلکو بدبختي لا پسې پراخه شوه او د ملیونونو د مرګ سبب شوه.

ببرک کارمل په خپلو ډېرو ویناوو کې ویلي ((اګر من بتاریخ ۶ جدی افغانستان را نجات نمی دادم و به کومیك

قـوای دوسـت افغانسـتان را اشـغال نمیکـردم بتـاریخ ۹ جـدی افغانسـتان تجزیـه مـی شـود)) ګران لوسـتونکي قضـاوت کولـی شـي چې د کومـو قـواو لخـوا د افغانسـتان د تجزیـې او خطـر موجـود و ددغـو پورتنیـو ګذارشـاتو اسـناد دواړو مملکتـو پـه رسمي آرشیفو کـې موجـود دي هغـو اشـخاصو چې ددغـو اسنادو په ترتیب او تنظیم کې برخه اخستې تـر اوسـه ژونـدي دي کـه شـاه محمـد دوسـت چې څو کالـه د ببرك پـه وخـت کـې خارجـه وزیـر و هغـه اسـناد لـه مینځه هـم وړی وي نـو د پاکسـتان پـه خارجـه وزارت کـې بـه موجـود وي او عینـي شـاهدان یـې هـم موجـود دی. د آقـا شـاهی د پاکسـتان پخوانـي خارجـه وزیـر کلـه چې پـه کـال ۱۹۹۰ د مـئ د میاشـتې پـه اولـو هفتـو کـې د نـوای وقـت د نشـر یې پـه جـوړ شـوي کنفرانـس کـې ګډون کـړی و او ځینـو پښتنـو تـه یـې پـه دې بـاره کـې ځواب ویلـی و زمـا پوتنـی لیکنـه پـه واضـح صـورت تـائید وي شـاهي د یـوه سـوال پـه ځواب کـې چې پدغـه سـیمینار کـې ترینـه شـوې و پـه ډېر صراحـت سـره و ویـل چې مرحـوم ضیـاء الحـق د پاکسـتان جمـهور رئیـس نـور محمـد تـره کـی سـره ملاقـات کـړی و او د تـره کـی حکومـت یـې پـه رسـمیت پیژاندلـی و د مناسباتو د ښه کېدو دپـاره مناسـبه فضـاء مینځ تـه راغلـې وه چې ددغـو دواړو وروڼو مملکتـو کـې برقـراره شـي مګر د افغانسـتان د اشغال پـه مناسـب اوډ د ببرك کـارمل پـه راتلـو سـره اوضـاع بل رنګ شـوه چې تـر اوسـه هـم ادامـه لـري د شـاهي دغـه وینـا پـس لـه دوولسـو کلـو صـورت ومونـد چې د شـهادت اخبـار کـې د ۱۹۹۰ کـال پـه ۲۹ ګڼه کـې چـې د مجـاهدینو مربـوط اخبـار و، هـم نشـر شـوه . همدارنګه ددغـو وینـا دري متـن د ۱۹۹۰ کـال د مـئ د میاشـتې پـۀ ۱۴ او پښتـو متـن یـې د

همدغه کال د مې د میاشتې په ۱۹ تاریخ د راډیو افغانستان آزاد له خوا بروډ کاسټ شوه.

نور محمد تره کی د خپل قدرت په وخت کې دوه واره یو ځل په هاوانا د (کیوبا د مملکت په مرکز) کې او بل وار یې په کابل کې کله چې جنرال ضیاء الحق کابل ته راغی او په کابل کې د تره کي رسمي مېلمه و " په دې مورد کې په بل ځای کې هم لیکل شوی" ددغه پوتنیو مطالبو د اثبات ډپر نشریات هم موجود دي چې وایي که د خلقیانو رژیم د تنظیمونو د رهبرانو سره چې په پاکستان کې دي په تماس کې وای او دغه سازشونه رښتیا شوی وای، نو لا دومره مرګ ژوبله به هم نه وه شوې او پردی یرغل ګرانو هم زمونږ په وطن تجاوز نه وای کړی. همدغو ببرکیانو دغسې سازش ته خیانت ویل او اوس یې چې یو ځل خپل باداران زمونږ وطن ته راوستل او زمونږ د وطن هستی یې د موزیمونو د قیمتي آثارونه نیولې بیا تر قیمتي ډبرو او هر څه یې چې په لاس ورغلل ددې وطن نه یې غلا کړل او د کور خاوندانو هم د جوال خوله ورته نیولې وه او زمونږ په ملیونونو زاړه ، ځوانان، ښځې او نران یې په شهادت ورسول او بیا چې د وطن د باغیرته او باهمته بچیانو له لاسه یې بې شرمانه ماته وخوړله چې تر اوسه یې پښې نه ټینګیږي نو اوس بیا څنګه شوه چې نجیب ببرکی په زرګونه کلومتره لار مجاهدینو پسې وهي که چیرې د مجاهدینو کوم شخص دده سره د سازش په باره کې پټې خبرې وکړې دا ډېره د شرم ځای او د ځان غولولو خبره ده که څوک د نجیب نه پوښتنه وکړي چې ته د کارمل په وخت کې د قدرت خاوند نه وې ؟ تا او ستا اوسني ملګري د ببرك او د شوروي د یرغلګر لښکر سره یو

ځای کابل ته رانغلئ؟ هغه وخت لکه چې د مست فیل په شش سپاره واست او د افغانستان خلك مو هېڅ په نظر کې نه وو، که څنګه ؟

(دا یاد داشتونه پخوا لیکل شوي دي)

د ببرکیانو ناکردې دومره ډېرې دي، چې په دی څو کرښو کې نه شي خلاصېدای که خدای کول د هغو په باره کې ډېر غټ کتاب ګرانو خلکو ته به وړاندې شي انشاء الله .

لکه څرنګه چې وویل شول جنرال ضیاء د خلقیانو د قدرت په زمانه کې د تره کی سره دوه ملاقاته کړی د هغه کابل ته د راتګ دوره د وروری او د ښې خوشحاله فضاء په رڼا کې وشوه چې حتی نور محمد تره کي ورته وویل چې د خلکو په برابر کې د بشري حقوقو قوانین په نظر کې ونیسې او د بندیانو په باره کې خپل نظر ته تغیر ورکړي او هغو سره باید ښه انساني رویه وشي چې جنرال ضیاء د داسې خبرو ډ آورېدلو حوصله هم درلوده خلاصه دا چې هم جنرال ضیاء او هم خلقیانو په صداقت سره غوښتل چې د دواړو وروڼو ملکونو تر مینځ وروري او ښه ګاونډي توب ټینګ شي او بیا ورته وده ورکړل شي . په هر صورت د خلقیانو په وخت کې، چې هغوی ګوندي او دولتي چارې په اختیار کې وې د خلکو او وطن د سوکالی په خاطر صادقانه هلې ځلې شروع شوې وې چې د هغوي د اجراآتو نه د خیانت احساس نه کېده خصوصاً د دوي د حکومت په اوله مرحلو کې خو بیا څومودې پس د روسي مشاورینو ناپاکې او د غرضه ډکې پېښې مینځ ته راغلې او د هغوي د رهبرانو خود خواهی او خود پرستی ورته څرګندې شوې او دانوي په قدرت رسېدلي ساده ګان یې

داسې استعمال کړل، چې ډېر زر يې د هغو په ضد زهنيتونه راوپار ول او بيا يې قدرت مندانو ته د هغوي د وژلو بندي کولو چور او چپاول مشورې ورکولې چې د خلکو او دولت په مېنځ کې يې ښه دښمني پيدا کړه او بيا يې خپله رهبران هم په خپل مېنځ کې واچول او يو يې په بل سره ووژل خلقيانو د ولس د پرګنو نه لکه څرنګه چې هغوي دعوه کوله په بشپړه توګه بيل شول هغوي صرف په خپلو ګوندي ملګرو اعتماد کاوه او بس ډېر بې تجربې او بيکاره مغرور او نا پوه ګوندي ملګري پداسې حساسو څوکيو کې وټاکل چې هغوي په خپل ټول عمر کې هغه مقامونه د يوه ځل دپاره په سترګو نه وو لېدلي، هغوی د ليونيو په شان نه پوهېدل چې څه وکړي د خلکو ازارول بنديانول چور او چپاول هغو د خپلو خدماتو ښه معيار باله بيا به ورسره په څنګ کې ناست روسي مشاورينو لا شاباس هم ورته ووايه او د هغه دانا معقول اجرا ات به يې ښه ګڼل.

(ځکه چې د روس خو يکې ګټه وه د روسانو پلان همدغسې و).

هر څه چې و دګوند رهبرانو په هغه چا اعتماد کاوه چې محض په نوم ګوندي ملګري وو او مجلسو او غونډو کې د رهبرانو نومونه په ښو الفاظو او عناوينو يادول او د روسانو به يې هم ښه صفت کاوه نور نو که دا شخص په څه پوهېده او که نه پوهېده د اعتماد وړ و.

يوه ورځ کله چې حفيظ الله امين د مرکز او نورو ولايتو نه يو تعداد پيژندل شوي اشخاص د ګل خانې په مانۍ کې د عوت کړی وو، چې په هغې غونډه کې د انقلاب نه د دفاع

موضوع مطرح وه. د رابلل شوو اشخاصو له جملې نه یو تن د عبدالقادر قاضی په نامه داسې پیشنهاد وکړ چې د ګوند غړي دې خپل ګوندي کارونه اجرا کړي. حکومتي اداري چارې دې د مملکت باتجربه او کار پوهو اشخاصو ته چې عمرونه یې په حکومتي دواړو کې تېر کړي او دښې تجربې خاوندان دي وسپال شي او د ګوندي باصلاحیته مقاماتو لخوا دې تر خپل سالم کنترول لاندې ونیسي. دا کار به د کارونو د ښو اجرا اتو چې د خلکو په ګټه وي سرته ورسیږي خو حفیظ الله امین د قادر قاضی دغه پیشنهاد چې د ډېرو نورو و ملاتړ هم ورسره وه په شدت سره رد کړ او وې ویل چې مونږ خپل واك اختیار نورو ته نه ورکوو ډېر افسوس دی چې هغه ډېره اشتباه کوله د خپل وطن خلك یې نور ګنل او روسي مشاورین یې خپل ګنل او اعتماد یې پرې کاوه حتی خپله اشپزې یې هم په روسي کوله چې بیا یې د ټولو با صلاحیته ګوندي ملګرو سره داسې مسموم کړ چې په خپل خیر او شر نه پوهېده او خپل قاتل ته یې په خپله اجازه ورکړه چې دده خوني ته ورننوزي او بیا یې په ګولیو سوري سوري کړي.

بیا وروسته د پاکستان د واکمنو حالات هم بدل شول خکه د دنیا د ډېرو هېوادونو هغه مرستې چې د افغان مقاومت په نامه راتللې د هغو د ویش واك اختیار ټول د پاکستاني حکومت په لاس کې وې او خبره دې حد ته را ورسېده چې پاکستاني استخباراتو مستقیما په جنګي کارونو کې مداخله کوي او جنرالان یې په دې ارمان کې دی، چې افغان ولس او خاوره په بشپړه توګه د دوی په واك اختیار کې وي چې ددوی دا شوم او ناپاکه مقاصد د غربي دنیا د ځینو بې طرفه ژورنالستانو له نظره هم پټې پاتې نه دي او کله نا کله تبصرې پرې کوي.

د روسانو د لښکرو په مرسته د ببرک کارمل قدرت ته رسېدل او ورسره تړلي ځينې نور واقعات

د روسي دولت رهبري خپل شوم او د غرضه ډك پروګرامونه چې د افغانستان په باره په نظر کې نيول شوي و او غوښتل يې چې هغه عملي کړي د ډېرې مودې نه د هغو پروګرامو د اجرا دپاره په افغانستان کې د داسې يوه شخص په لټه کې وو، ترڅو خپل ناوړه اغراض د هغه په ذريعه پر مخ بوزي نو ددې مطلب دپاره يې داسې شخص په نظر کې نيولی و چې د مملکت د قومونو له اکثريت څخه نه وي دا ځکه چې د استعماري مملکتو طبيعت او خاصيت په دا ډول وي. د انګريزانو استعماري دولت په هغه وخت کې يې چې مستقيما په افغانستان باندې تسلط درلود او افغانستان يې د اشغال لاندې وه خپل استعماري اغراض يې دلږ کيو قومونو په مرسته سرته رسول چې تاريخ د هغو واقعاتو ښه شاهد ګڼل کېدای شي او هم انګريزانو چې خپل اغراض په غير مستقيم ډول د يوه لاس پوڅي فاميل په مرسته چې تخمين پنځوس کاله يې په افغانستان باندې حکومت کاوه هم پر مخ بوتله که ددغو کلونو په اوږدو کې وکتل شي واضح او جوته کيږي چې هيڅکله هغه قوم چې په افغانستانکې اکثريت لري ددغو کابينو او حکومتونو غړی نه و او د لږکيو قومونو افرادو د

مملکت چاري او قدرت په لاس کې درلودی که څه هم د سلطنتي فامیل چې په نامه د اکثریت قوم پورې ارتباط درلود خو د خپلې ژبې دود او دستور عنعناتو او روایاتو او کلتور سره هیڅ بلدیت او اشنا یي نه درلوده اونه د هغو رسوماتو او عاداتو پابند و نو ځکه د هغو په وده کې یې توجه ونه کړه.

د روسي استعماري دولت هم له دغې فورمول نه استفاده وکړه او ببرك کارمل یې د خپلو مقاصدو د پرمخ بوولو دپاره مناسب شخص وباله او هغه یې په ګوته کړ.

ددغه کتاب په بل ځای کې هم لیکل شوی چې څنګه د روس موظفو کسانو ببرك کارمل سره په کومو ځایو او څرنګ پیژندګلوي پیدا کړه ولې یې هغه د خلق دموکراتیك ګوند نه چې اول شخص هم نه وه خوښ او اعتماد یې پرې وکړ مطلب په دې کې دی چې لږ کې خاصیتا د اوامرو مطیع او فرمان برداروي او هغه اشخاص چې اکثریت قوم پورې ترلې د خپل قومي عنعناتو او دود او دستور کلتور او فرهنګ سره اشناء او پابند وي په اساسنه د نورو تر تاثیر لاندې نه راځي ځانته خپل قومي ملاتړ او په خپل قوم اتکاء لري نو ځکه اخری واقعاتو وښودله چې نور محمد تره کی او حفیظ الله امین تر ډیره حده د روسانو تر اغیزې لاندې رانغلل او په بعضو مواردو کې یې د شورویانو د ا امرو اطاعت ونه کړ کله چې حفیظ الله امین ته وویل شول چې دی دي خپلو وظائفو ته په افغانستان کې خاتمه ورکړي او د سفیر په حیث د بهرنی هېواد ته لاړ شي هغه دغه اوامرو ته غاړه نه کښېښود له تر څو هغه تینګار یې د مرګ سبب وګرزېده، خو کله چې ببرك کارمل ته د شورویانو لخوا امر وشو چې خپلو دولتي

اوګونډي مقاماتو نه د ډاکټر نجیب په ګټه تیر شي ببرک کارمل د اطاعت سر تیټ کړ او د روسانو د اوامرو احترام یې پر ځای کړ او وطن یې هم خوشی کړ په مسکو کې یې د کرملن د قصر په شاو خوا کې د ټول کهول سره مسکن اختیار کړ نور محمد تره کی او حفیظ الله امین چې له ورته اوامرو نه سرونه وغړول او د روسانو اطاعت ته حاضر نه شول نو ژوندي او مړونه یې هم معلوم نه دي ، دلته اصلي مطلب د ببرک کارمل قدرت ته د رسېدو موضوع د بحث وړ ده چې یو څه مطالب په هغه باره کې ولیکل شي.

ددغه مطلب دپاره چې په پیښو باندې ښه رڼا واچول شي نو مجبورا به پخواني تیر شوو جریاناتو ته مراجعه وکړو څرنګه چې پخوا هم اشاره شوې وه روسي رهبران په دې فکر کې و تر څو ببرک کارمل د افغانستان د جمهور رئیس په حیث مقرر او وټاکی له ټولو نه اول یې د هغه په ذریعه د خلق د موکراتیک ګوند کې انشعاب رواووست ځکه دغه جریان په اوسني شرائطو کې په افغانستان کې یوازینی فعال او د سیاسي مفکورې خاوند ګوند وه او ګوندي تشکیلات او حزبي دسپلین یې درلود. بیا یې ببرک کارمل د سردار محمد داود په کودتا کې وردننه کړ د سردار داود کودتا د روسانو لخوا لا د وخته ترتیب شوې وه روسي مشاورین چې د افغانستان د اردو په قطعاتو کې موظف و ځنې د خپلو نظریاتو خاوندان منصبداران چې په شوروي کې تربیه شوي و سردار محمد داود ته معرفي کول او ځنې نورو لکه خسن شرق چې له پخوا د سردار محمد داؤد په ارتباط کې و او د هغه د صدارت په دوره کې د صدارت د قلم مخصوص مدیر په حیث یې کار

کاوه داکتر حسن شرق هم داسې ویل کیږي چې له پخوا نه د روسانو سړی و د سردار محمد داود د کودتا اولې ورځې نه په واضح صورت معلومېده چې ببرك کارمل د داؤد خان په څنګ کې و نو ځکه د پرچم د ډلې څو تنه د سردار داؤد د کابینې او نورو حساسه څوکیو مقامونه اشغال کړل د ببرك کارمل پلار جنرال محمد حسین خان د جنوبي ولایت د تنظیمه رئیس په مقام جیلاني باختري د ببرك کارمل خاله زوی د زراعت وزیر ، اختر محمد مشهور په علا قه دار د ډاکټر نجیب الله پلار د پیښاور د قونسل او وکیل تجار په حیث عبدالکریم عمر خیل د صمد اظهر پلار د پروان د والي په حیث مقرر شول او څنې نور د پرچم غړی لکه فیض محمد د داخله وزارت د وزیر په حیث ، عبدالحمید محتاط د مخابراتو د وزیر په حیث داکتر حسن شرق د صدارت د مرستیال په حیث مقرر شول قدیر نورستاني په داخله وزارت کې د عمومي قوماندان په توګه (چې بیا وروسته داخله وزیر شو) او صمد اظهر په داخله وزارت کې د رئیس ارکان په توګه ، سید عبدال الله پرچمی د مالیې وزیر په حیث وتاکل شول همداسې نور ډېر د پرچم غړی د حکومت په نورو کارو کې وګمارل شول یو څو تنو نورو چې د روسې مشاورینو لخوا سردار محمد داؤد ته معرفی شوی. لکه پاچا ګل وفادار د سرحداتو وزیر ، غوث الدین فایق د فواید عامی وزیر د پرچم د ګروپ نه نه و غېر ګوندي غړی نو رهم و لکه غلام حیدر رسولي د دفاع وزیر ، او نور ، سید امیر چې د هوائي قواو عمومي قوماندان و چې بیا د سردار داود په وخت کې اعدام شو د اردو منصبدار وه سید امیر خوارکی چې د مشرقي د یوې غریبې کورنۍ نه یو ساده ! و با احساسه

زلمی وه په سیاست نه پوهېده هغه داسې ګمان کاوه چې ګواکی سردار داوډ په ربښتیا سره د خلکو خدمت ګار دی او د خلکو د ښېګړې په خاطر یې خپل فامیل له مېنځه یووړ سلطنت یې رنګ کړ په دغه مفکوره کله چې د شاهی کورنۍ ځینې غړي چې په کابل کې پاتې و او بیا د حکومت د تصمیم اوامر په اثر هغو ته د خارج د تګ اجازه وشوه کله چې به هغوي د هوائي میدان له لارې خارج ته تلل سید امیر چې په دغه وخت کې د هوائي میدان کنترول هم په غاړه درلودل د هغو عامو شتمنیو ممانعت یې کاوه کوم چې شاهي کورنۍ له ځانو سره خارج ته وړل چې سردار محمد داوډ د سید امیر ددغو اجراتو نه ناراض وه هغه ته د سید عبدالله د مالیې وزیر په ذریعه وویل شول چې له داسې اجراتو نه لاس واخلي سید امیر چې په خپله د سردار داوډ له خولې اورېدلي وه چې ما خپله کورنۍ د خلکو د نیک مرغۍ په خاطر قربان کړه نو په خپله سردار داوډ ته ورغی او پوښتنه یې پدې باره کې ورنه وکړه سردار داوډ په حواب کې ورته وویل چې ته ډېر سپین سترګی او نمک حرام انسان یې پاچاهي خو مو واخسته او اوس د هغو ځانو کالي هم نه ورکوي سید امیر په ځواب کې وویل چې زه اوس پوه شوم چې تا مونږ ته دروغ ولي او دوکه مو راکړې وه زه دا کار نه شم کولې ما ددغه ځای نه برطرف کړه بیا هر څه چې کوې هم هغه وه بیا په سي امیر غریب باندې وار برابر شو او هغه یې د مېوند وال په کودتا کې چې یه ساخته ګي کودتا وه زندانې کړ او بیا یې اعدام کړ باید وویل شي چې سرردار داوډ ډېر مال دولت د سلطنت هر غړی ته چې خارج ته اجازه ورکوله چې له ځان سره یې یوسي او نور مالونه

يې چې پاتې وي کـه څه هـم ټولـې دولتـي او عامـه شـتمني وي ورپسـې ورولیـږل حتـی نوکـران او پیـش خدمتـان یـې هـم ورواسـتول د ملکـي هوائـي میـدان د کنـترول وظیفـه بیـا قدیـر نورستاني تـه ورکـړل شـوه چې د هغـه پـه وخـت کـې داسې مالونـه د شپې لخـوا هوائـي مـیدان تـه وړل کـیدل او بیـا پـه طیـاره کـې بارېدل او مرجعو تـه لـیږل کـیدل .

پـه هـر حـال بـبرك کـارمل د سـردار داوٗد د اشـخاصو پـه مقـرري او د حکومـت د سیاسـي شـریك وه د سـردار محمـد داود اکـثر بیـانیې د پـرچـم د ګروپ د غـړو لخـوا د شـوروي مشـاورینو پـه مشـوره ترتیببدلـې چـې دغـې وضعـې یـو څو مـوده دوام وکـړ او بنه پیشـرفت یـې درلـود سـردار داوٗد چـې فطرتـا یـو خـود خـوا او خـود پرسـته انسـان وه او لـه بلـې خـوا د بـبرك کـارمل او روسـي مشـاورینو پـه دولتـي چـارو کـې د ډېرو مداخلـو نـه خپـل ځانتـه خطر لـیده پدغـه فکر کـې شـو چـې تـر څو د دغـو عنـاصرو لـه شـر نـه ځان خـلاص کـړی خپلـه د دوسـتۍ ارتبـاط یـې د غربـي ممالکو او ایران پـه لـور متوجـه کـړل تـر څو چـې د ایـران پادشـاه د دوه زره ملیونـو ډالـرو کومـك سـردار داوٗد تـه وعـده ورکـړه سـر بېره پر دې د ایـران پادشـاه دا هـم منلـې وه چـې د افغانسـتان ټولـه قرضـداري او پـورچـې وي شـوروي اتحـاد نـه د افغانسـتان د حکومـت پـه غـاړه دي اتحـاد شـوروي تـه ورکـړې لـه بلـې خـوا د غربـي المـان دولـت د بـدلا عوضـه کومکـو او ه افغانسـتان پـه انکشـافي پـروژو کـې د پراخـو قرضـو ورکـول قبـول کـړل سـعودي عربیستان عـراق او امریکـا هـم د ورتـه مرسـتو وعـده ورکـړه حتـی د ځینو سره پروتو کولـو نـه هم لاس لیـك شـول .

اخر پای د ۱۳۵۳ کال په اوږدو کې چې ۱۹۷۴ کال سره سمون خوري د سردار محمد داود او د مسکو د طرفدارو په مینځ کې څه اختلافات او تضادونه رابرسېره شول څکه سردار محمد داود نور حاضر نه وه چې په دولتي تصمیم نیولو او دولتي پالیسیو کې د پخوا په شان د هغو مشورې ومني چې ورو ورو دا اختلافات ډېر عمیق او شدید شول تر څو سردار داود چې په کراره کراره دغه ګروپ له ځانه لرې کړي د هغو نه یې څو تنه په خارج کې د سفیرانو په توګه مقرر کړل او خپله یې هم داسې تظاهر کاوه چې عامه ذهنیتوته داسې وښئي چې ګواکې دی هغسې چې دده او دده د ملګرو په هکله فکر کیږي نه دی نو ځکه یوه ورځ د قندهار په ښار کې د ډېرو خلکو په وړاندې وویل " انقلاب ما انقلاب اصلی افغانی بوده یقین داشته باشید که نظام موجوده افغانستان فقط و فقط روی ملی و ناسو نالستی افغانی استوار است انچه کی دشمنان ما بما و به رفقای ما نسبت میدهند همه را خوب میدانم ما مسلمان هستیم و به خداوند خود ایمان داریم ".

همدارنګه سردار داود کله چې ۱۳۵۴ کال د ثور په میاشت کې د ایران د سفر نه راوګرزېد او د هرات ښار ته راورسېد په خپل خطاب کې یې د هرات ښاریانو ته داسې وویل " ما به اساس ایډیالوژی اصلی خود عمل و رفتار خواهیم کرد ما ایډیالوژی واراتی را رد میداریم که به ضرر جامعه ما میباشد ".

د سردار داود مقصد د وارداتي ایډیالوژي نه هم هغه سوسیالستی ایډیالوژي وه چې د ماسکو له طرفه صادرېدله بیا نو وروسته له دینه د سردار داود او د ببرک کارمل تر مینځ

خبره ډېره عميقه شوه اګر کـه بـبرك کـارمل ددې دپـاره چـې تـر يـوې انـدازې پـورې سـردار داود قـانع کـړی خپـل ګونـد يـې عينـې د پـرچـم ګونـد يـې لغـوه کـړ او خپـل سـازماني او ګونـدي کارونـه يې وځنډول او د خپلو ځينو ملګرو پـه ذريعـه يـې نـور محمـد تـره کی ته هم احوال ورولیږه چې ما خپل ګوند پرچم لغوه کړ ته هم دا کـار وکـړه تـر څو سـردار داود تـه لاره هـواره شـي چـې د سوسيالزم د کمپ په ضد عمل ونکړي ده پدې خپـل پيغـام کـې نور محمد تره کی تهدید کړی هم وه کـه چېرې تره کی دا کـار ونکـړي او لـه دې ليـارې د سوسـيالزم کمـپ تـه کومـه صدمـه متوجې شي د هغـه مسـوليت بـه د تـره کی پـه ذمـه وي امـا نـور محمـد تـره کـی څرنګه چـې د سـردار داود سـره يـې پخوانـی اړيکـې نـه درلـودې نـو د بـبرك کـارمل دغـه پيشـنهاد يـې ونـه مانـه.

سـردار محمـد داود پـه عيـن زمـان کـې د يـوه ګونـد د جوړولـو پـه فکـر کـې شـو تـر څو يـو مسـتقل اجتمـاعي سـازمان ولـري چـې بيا هغه ګوند پـه وروسته کلونـو کـې پـه پارلمـاني انتخابـاتو کـې ډون وکـړي او د پارالمـان لخـوا حکومـت جـوړ کـړي او ددغـه مقصـد دپـاره يـې ځينـو هغـو مـترقي روشـن فکرانـو سـره تمـاس ټينګ کـړ کومـو چـې اوس اوس د خلـق او پـرچـم لـه ګندونـو سـره عضويـت ونـه لـري کـه څه هـم دغـه اشـخاص پخـوا د خلـق ګونـد سره تعلـق درلـود لکـه د ظـاهر افـق او تـازه خـان ګروپ يـا ډاکـټر عثمـان چـې پخـوا د انشـعا بـه د خلـق د ګونـد غـړی و دغـو اشـخاصو او ورسـره ټولـو ملګرو چـې پـه اصـل کـې د مـترقي افکارو خاوندان و اوس يـې پـه جـلا تـوګه سياسـي فعـاليت درلـود سـردار محمـد داود لـه دې امله دغـه اشـخاص ځان تـه نـزدې کـړل

تر څو علنا د شوروي پر ضد ونه دريږي او يا شوروي اتحاد داسې فکر ونکړي چې ګواکې سردار داود د ببرك کامل او د هغه د ملګرو په شړلو د شوروي اتحاد سره خپل مناسبات خرابوي نو د غورزنګ ملي د ګوند په جوړولو يې پيل وکړ او دغو نومورو ته يې هم پکې ځان ورکړ په دارنګه شوروي ته يې وښودله، چې دده نوی ګوند او نوي ملګري، چې يې تمايل لري او د شوروي د ايډيالوژۍ د مکتب عقيده مند خلك دي خو د سردار داود اصلی مطلب داود چې ځان د هغو زړونو او خيټو څخه وباسي، چې د ببرك کارمل د راوستو سره پکې نښتی وه شورويان هم د هغه په مطلب نه پوهيدل شورويانو هم له سردار محمد داود سره د ځينو اقتصادي او تخنيکي کومکونو پروتو کولو نه لاس ليك کول او يو د بل په خاوره يې د نه تعرض کولو معاهدې هم لاس ليك کړې تر څو سردار داود په خپله دوستۍ نښه مطمئن کړي او له بلې خوا د يوه اساسي او بنيادي چارو په فکر کې شول په اوله مرحله کې دې خبرې ته متوجه شول د پرچم ګروپ چې د شورويانو طرفداران دی او اوس د سردار داود تر سخت فشار لاندې دی او خطر ورته متوجې د له خطره خلاص او وژغوري نو داسې تصميم يې ونيوه تر څو د پرچم ګروپ په دننه د افغانستان کې تقويه شي نو ددې مطلب دپاره يواځينۍ لاره د دواړو ګروپو وحدت کول و يعنې د پرچم ګورپ د خلقيانو د ګروپ سره چې پخوا يې ترينه انشعاب کړی وه بيرته يو ځای شي او وحدت وکړئ ځکه چې اوس د خلقيانو حزبي ملګری په ډېر تعداد کې د افغانستان د اردو په ليکو کې دي.

نو د روسانو لخوا پرچم او خلقیانو ته وویل شول چې دواړه سره یو ځای شئ کنه سردار داود به دواړه ګروپه له مینځه یوسي او ختم به شي ببرك کارمل ته یې وویل ترڅو د نور محمد تره کی رهبری ومني او زر ځان تقویه کړی او همدارنګه نور محمد تره کی او ببرك کارمل د ګوند د بیا وحدت دپاره هلو ځلو ته لاس ورکړ. د پرچم غړي چې پخوا یې د سردار داود په جمهوریت کې ښې څوکی درلودې او اوس یې له لاسه ورکړی وې او هم روسي مشاورینو سره ډېر په تماس کې و او د حالاتو نه ښه خبر وو او پوهېدل چې دا هر څه د روسانو د پروګرام لاندې اجرا کېږي د ګوند بیا وحدت کې یې موافقه در لوده او کوم اختلاف موجود نه و مګر د خلقیانو د ګروپ هېڅوك دې ته حاضر نه وو، چې بیا دي وحدت وشي او ببرك کارمل سره یې بیا وحدت نه کاوه او په یوه لار ور سره نه تلل ځکه د ببرك کارمل ټول ارتباطات دوې ته څرګند شوي وه او پوهېدل چې یوه ورځ به ټول په روسانو خرڅ کړي خصوصا حفیظ الله امین او د هغه ملګري دې خبرې ته هېڅ نه حاضرېدل مګر له بلې خوا کله چې د نور محمد تره کی رهبري د پخوا په شان پر ځای وه او له دې درکه د ده اعتبار د یوه واحد ګوند په مینځ کې لوړېده او شورویان هم ترینه خوشحاله کېدل نو د ګوند په بیا وحدت باندې ډېر ټینګار کاوه ځکه دا وحدت دده په ګټه وه تره کی ډېرې هلې ځلې وکړې تر څو په ۱۳۵۶ کال د سرطان په میاشت کې د دواړو ګروپو په مینځ کې بیا وحدت ومنل شو.

یوه ورځ نور محمد تره کی په داسې حال کې چې ببرك کارمل، نور احمد نور، ډاکټر شاولي او خپله تره کی ځلور

واړه سره حاضر وو. تره کې م (عطاء محمد شیرزي ته) داسې وویل "چې ما په دوه کسو وحدت کړی خپل ځان او ډاکټر شاولي یې ښوده او په ځلور کسو انقلاب کوم چې یو د جنرال زوی دی مخ یې ببرك ته واړاوه او بل د بورژوا زوی دی ډاکټر شاولي ته یې اشاره وکړه او بل یې د فیوډال زوی دی، چې نور احمد نور یې ښوده".

په هر صورت بالاخر وحدت د رهبری په سطحه کې مبنځ ته راغی چې لاډیني صفوف ترینه خبر نه شول چې پدې باره کې په نورو ځایو کې مفصل معلومات لیکل شوي دی دلته دومره باید وویل شي چې د روسانو او د ببرك کارمل مقاصد د ګوند په یو والي کې داوه چې د پرچم ډله باید تقویه شي چې په اسانه توګه د روسانو هغه مطروحه پلانونه تر اجرا لاندې راشي، چې د روسانو په نظر کې وو او د پرچم ګروپ د سردار محمد داود د ضربې نه وژغورل شي له بلې خوا ببرك کارمل د عمومي منشي د معاون او د مرکزي کمیټې او سیاسي بیرو د غړی په حیث په ټول حزب باندې خپل تسلط ټینګ کړی او هغه د عکسري ځانګه په خپل واك اختیار کې راولي چې نوی په سلو کې خلقیان وو، مګر ددغو مقاصد و په مخ کې حفیظ الله امین په هوښیار تیا سره ټینګار کاوه چې پدغه باره کې هم ما په نورو ځایو کې مصفل معلومات لیکلي دي.

خو اخر د هغو بې خبرو ناپوهو مغرورانه حرکاتو له امله، چې د سردار داود او د هغه د حکومت د ملګرو لخوا اجرا کېدل د ثور د اوومي ورځې واقعه مبنځ ته راغله چې تصادفا کامله د خلقیانو په نفعه وه او دولتي قدرت د خلقیانو په لاس کې راغی چې پدغه عمل کې یې نه روسانو لاس د رلود او نه

پرچميانو نه ببرك كارمل حتى خپله نور محمد تره كى هم ترينه خبر نه و كله چې نور محمد تره كى او ببرك كارمل د كودتا چيانو په لاس لـه بنده خلاص او كابل رادیو ته بوتلل شول يوه كودتا چې په ببرك كارمل حمله وكړه تر څو هغه له مېنځه يوسي، خو نور محمد تره كى مانع شو هغه سړي وويل چې د ببرك ملګرى زمونږ په ضد جنګ ګوي او هغه ستا په څنګ كې ځاى نيولى بيا تركي له هغه سړي سره ډبرې خبرې وكړې او هغه يې قانع كړ خپله ببرك حيران پاتې و هېڅ تصميم يې نه شو نيولى، دومره يې ووې چې مونږ به په خپلو داسې كارونو د روسانو دوستي له لاسه ورکړو ځكه ببرك كارمل او روسانو ددغسې يوې پېښې پلان په بل ډول نيولې و او له دې واقعې څخه نه وو خبر، خو روسي سفير او د سفارت غړي چې پوه شول ماجرا بل ډول شوه په هوښيار تيا سره يې په كار لاس پورې كړ د اردو د مشاورينو په لاس يې تره كى او ببرك كارمل ته د شوروي دولت له خوا ډاډينه ورکړه. په دغه وخت كې نور محمد تره كى او ببرك كارمل د هوايي قوماندانى په قرار گاه كې وو.

بيا نو د انقلابي شورا غړي وټاكل شول چې ببرك كارمل د انقلابي شورا د معاون په حيث او خپله نور محمد تره كى د رئيس او صدراعظم په حيث وټاكل شو. د نورو معاونينو چې انقلابي شورا كې به معرفي شي خو بيا نور څوك دغې عهدې ته تعين نه شول په نظر كې و چې حفيظ الله پدغه وخت كې يوازينى شخص و چې ددغې واقعې قوماندە په دقيقه په ښه وخت كې ورکړه او موفق هم شو نور محمد تره كي او ببرك كارمل هېڅ برخه پكې نه درلوده امين د هغو څو ساعتو په

استفادې سره چې پوليسو له سترګو پاتې شوی و ددغې پاڅون قوماندہ د خپلو نزدیو ملګریو یعنې انجینیر ظریف په ذریعه چې بیا وروسته صاحب جان صحرائي هم ورسره شو د اردو ملګرو ته ورسوله (دغه دواړه یعنې انجینیر ظریف او صاحب جان صحرائي ببرك كارمل د خپل قدرت په اولو كې اعدام كړل).

نور محمد تره كې او ببرك كارمل په زندان كې وو او هیڅ نه پوهیدل چې د توپو او طیارو دا اواز د چا لخوا دی او څ قضیه ده تر څو چې د خلقیانو ټانكونه د كابل ولایت پر باغ ورننوتل چیرته چې د ګوند رهبري غړي پكې بندیان وو او هر یو په ځانګړې كوټه كې كوټه قلفیان وو. كودتا چیانو خپل رهبران د بندي خانې له تورو كوټو نه راوویستل او په ټانګ یې سپاره كړل د كابل رادیوي مركز ته بوتلل شول بیا نو تره كې او كارمل پوه شول چې زمونږ ملګرو دا اقدام كړی دی.

په دغه پاڅون كې د پرچم د ګروپ یوازی یوه تن (رفیع) ګډون درلود خپله رفیع په دې نه پوهیده چې څه خبره ده كله چې ارګ ته نزدې راورسید پوه شو چې د خلقیانو لخوا كودتا شوېده خلقیانو رفیع له دې امله ځان سره راوستی و چې كوم ناوړه حركت ونه كړي خو روسان زر فعال شول نور محمد تره كې ته یې مبركي ویله او خوښی یې څرګندوله دوی په دې حركت د خلقیانو اعتماد ځانته جلباوه او خلقیان د دوی لخوا ډاډه كېدل. نور محمد تره كې هم چې خپل موقف یې تثبیت و نوروته یې د وحدت د ټنګېدو نصیحتونه كول په ډېره چټكیا سره روسي مشاورینو د هر یو قدرت مند په څنګ كې ودرېدل او هغه یې تر خپل تاثیر لاندې راوستل (د نوو قدرت مندانو

اشتباه حتی د خیانت تر درجې پورې په دې کې وه چې په پردیو یې اعتماد کاوه او په خپلو بې اعتماده وو.

شوروي مقاماتو دوی ته داسې ویل چې تاسو د دولتي کارونو په اجرا کې تجربه لرې ستاسو دوستان شوروي مشاورین د کارونو د سنبالولو له پاره تاسو سره مرسته کوي چې اخر پای شوروي مشاورینو ټول اختیارات په لاس کې ونیول، چې افغاني وزیر هیڅ صلاحیت او اختیارات نه درلودل ببرك کارمل هم اوس په هره چاره کې جدي مداخله کوي، ځکه اوس قدرت د شوروي مشاور په لاس کې دی چې ببرك کارمل د هغو اجنټ دی ببر کارمل په ټولو وزارت خانو کې او دولتي کارونو کې سم نیم خپل حق غواړي او خپل د پرچم ګروپ مستحق حق بولي حتی په ډېرو وړو کارونو کې مداخله کوي که چېرې په کومه سرکاري خونه کې د نور محمد تره کي عکس وځړېږي هرومرو باید د ببرك عکس هم په هم هغه اندازه څورندوي همدارنګه ددې دواړو خو د غرضو په مبنځ کې اختلافات ورځ په ورځ زیاتېدل. له بلې خوا عسکري قوت د خلقیانو خصوصا د حفیظ الله امین په لاس کې و چې هغه په اسانه د چا د تاثیر لاندې نه شو راتلی، نو ډېر وخت په کار و تر څو یو اساسي د روسانو په زړه پورې یو کار وشي. روسانو دا ښه وګڼله چې ببرك کارمل او یو څو د هغو پرچمیانو چې د ببرك نزدې ملګري دي. په بهرنیو هېوادو کې موقتا د سفیرانو په توګه بهر ته لاړ شي ځکه که وضعه پدی شان دوام وکړي نو ډېر امکان لري چې د خلقیانو ځینې غصه ناك ملګري له روسانو څخه هم سرغړونه وکړي او دغه مخالفین له منځه یوسي ببرك کارمل چې د روسانو د

راتلونکې پروګرامو نه ښه خبرو وه د روسانو دغه مشوره یې د ځان په ګټه وبلله او خپلو ملګرو ته یې هم قناعت ورکړ تر څو یې په بهرنیو هېوادو کې مهم سفارتونه قبول او خپلو مراجعو ته لاړل. (په دې مورد کې هم ددغه کتاب په نورو برخو کې مفصل لیکلې شوی دی).

روسان د خلیقانو مشرانو ته وویل چې ستاسو د ګونډ په مېنځ کې اختلافات ستاسو په ضرر دي تاسو څو تنه د پرچم د ګروپ مشران د څو مودې دپاره خارج ته په سفارتو کې مقرر کړئ، ترڅو تاسو په خلاص لاس د مملکت چارې پر مخ بوزئ او په مملکت کې نظم او امنیت ټینګ کړئ چې د روسانو دغه مشوره بشپړه د خلقیانو په زړه پورې خبره وه ځکه خلقیان اوس د دوې د شر نه خلاصېدل کله چې بیا په مملکت کې کراري شي او امن و امان ټینګ شي او د دوی دولتي قدرت هم مستحکم شي نو بیا د پرچمیانو سره فیصله اسانه کار دی دا ساده ګان د راتلونکو پلانونو څخه هیڅ نه و خبر، چې روسان او ببرك کارمل څه پلانونه طرحه کړي چې پنه ډېرې اسانی سره دغه پروګرام ته غاړه ږدي او وطن څخه وزي.

په هر صورت د پرچم د ډلې څو مشهور اشخاص په بهرنیو هېوادو کې په عمده او با اهمیته مملکتو کې د سفیرانو په توګه وټاکل شول (ددغې موضوع شرحه هم په بل ځای کې لیکل شوې ده).

دلته یوازې د ببرك کارمل موضوعاتو ته شرحه ورکول کیږي او هغه دا چې ځینې نور د پرچم د ګروپ غړیو، چې په

دولت کې په کارو کې مصروف وو خراب کاریو کارشکنیو ته د روسي مشاورینو په مشوره شروع وکړه چې د خلقیانو حکومت یې په تنګ او بې حوصله کړنو دولت مجبور شو چې د هغو نه څو تنه بندیان کړي (لکه چې ویل کېده چې څو تنه پرچمیان یې مړه هم کړل) په دغو خراب کاریو او توطیو کې په ښکاره توګه د ببر کارمل او د هغه د نورو ملګرو چې په خارج کې سفیران وو، لاسونه ګډ او شریك و خپله دغه سفیران چې په ډېرو مهمو او حساسو مملکتو کې د افغانستان سفیران وو د مناسباتو په خرابولو یې لاس پورې کړ، نو د خلقیانو حکومت مجبور شو چې هغه ټول د سفارتونه برطرف او بیرته افغانستان ته یې راوغواړي چې یو هم افغانستان ته بیرته رانغلل او په اروپا یې مملکتو کې پاتې شول ببرك کارمل د شوروي د رهبرانو په هدایت او مشوره او د چکوسلواکیې د حکومت په خوښه چې روسانو هغو ته هم وظیفه ورکړې وه دیوه داسې پلان په تکمیلېدو کې مصروف شو کوم چې روسانو د خپل عسکري یرغل په مرسته په کال ۱۹۶۸ په چکو سلواکیې باندې اجرا کړ چې د (بهار پراګ) د چکو سلواکیې د رئیس جمهور کوم چې هغه هم د روسانو ګډا ګی او لاس پوڅی انسان و، د تجربې نه ښه استفاده وکړې او د روسانو د شرمه ډك خاپنانه پلان یې جوړ او تکمیل کړ. مسکو ته یې سفر وکړ او ددغه وطن پلورونکي پلان د اجرا دپاره په انتظار کې پاتې شو. د کرملن رهبري یعنې (بریژنیف) په اول کې داسې هڅه وکړه چې خپل مطلب یې د عسکری مارش نه

په لاس راوړي او ببرك كارمل په قدرت ورسوي تر څو د جهان د ملامتي تر فشار لاندې رانه شي، نو نور محمد تره كي هغه مهال، چې د هوانا سفر نه بيرته مسكو ته ورسېد خپل حضور ته وروغوښت ورته يې په تاكېد سره وويل چې حفيظ الله امين د كاره وشړه او ببرك كارمل د هغه په عوض وټاكه د بريژنيف دغه وينا د تهديد سره تره كي ته وشوه (اوس اوس تره كي هم هغه تره كي نه دي چې د خلقيانو د قدرت په اولو ورځو كې كوم وخت چې د يوې معاهدې د امضاء دپاره سره د نورو ملګرو ماسكو ته تللی وه او هلته يې د بريژنيف د توهين اميزه حركاتو په مقابل كې د سالون څخه وتلې وه (چې ما په دې باره كې هم په مفصل ډول ليكنه كړې ده) اوس د تره كي لاسونه د خپلو خلكو په وينو باندې سره دي د كومو چې تره كي خپل ځان د هغو خدمتګار باله په سلګونه تنه بې ګناه خلك د روسي استخبارتي په وينا په بې رحمي سره وژل شوي كورونه يې تالاشوي د روسي مشاورينو په مشوره په زندانو كې تر سختو او غير انساني شكنجو لاندې راغلي دي اوس نو تره كي د كامل اطاعت نه پرته بل هېڅ فكر كولی نه شي نو د بريژنيف دې امر ته يې سر تيټ كړ او هغه يې داسې ومانه لكه څرنګه چې د روسانو خوښه وه په داسې توطئې يې لاس پورې كړ چې اخر پاى خپله پكې راګېر شو چې بيا يې مړی او ژوندي معلوم نه شو (په دې موده كې هم پخوا په دې كتاب كې ليكل شوي دي).

په حقیقت کې ببرک کارمل بریژنیف او د شوروي نورو حکومتي غړو ته دروغ ویلي او هغوی یې غولولې وه هغو ته یې داسې ښودلې وه چې د افغانستان خلک ټول مامني او زه ورته منلی یم دا جنګونه په افغانستان کې زما د طرفدارانو لخوا شروع شوي که یو ځل د شوروي عسکرو په مرسته حفیظ الله امین او د هغو طرفداران عسکر له مینځه لاړ شي نو په لږه موده کې به په مملکت کې امنیت راشي بیا مونږ او تاسو ددې منطقې په باره کې لکه څرنګه چې ستاسو په نظر کې دي په ګډه او ستاسو په نفعه کارونه شورع کړو چې همدارنګه راپورونه د شوروي سفیر لخوا او د کې ، چې، بې د جاسوسانو لخوا چې په افغانستان کې موظف وو، هم ورکړ شوي وو چې د هغو په اساس د ببرک کارمل خواهش د بریژنیف لخوا قبول او منظور شو او د افغانستان د اشغال امر یې خپلو یرغل ګرو قواو ته ورکړ او ببرک کارمل یې هم یو ځای د خپل بې شرمه یرغل ګر فوځ سره افغانستان ته ږا صادر کړل حفیظ الله امین یې سره د نورو چې پخوا د شوروي مشاورینو لخوا مسموم کړی شوي وه او د بېهوشۍ په حال کې وه چې په هېڅ رنګه یې د خپل ځان دفاع نه شوای کولی او هم هغه د وطن او دولت په باره کې هېڅ تصمیم نه شوی نیولی دهغه د اردو ډېر پیاوړی فوځ د خپلو رهبرانو په انتظار کې یو د بل پسې د یرغلګر فوځ تر اسارت لاندې راغلل او خپله امین یې په خپل کور کې په قتل ورساوه او په سلګونو د ګارد پوځیان چې هېڅ نه پوهېدل څه وکړي په ډېره بې رحمي سره د شوروي د ناځوانه فوځیانو لخوا ووژل شول (خو سره له دې وضعې سره ویل کېږي چې څلور سوه د روسانو مړي هم په

ځمکه پربوتل او د ګارد تر اخري نفره پوري ټول هم شهيدان شول تسليم نه شول). کنه نو که چيري يو ځل د جنګ او د خپل ځان د دفاع امر هغو ته رسېدلي واى ډېروو روسي مېندو به د خپلو يرغلګرو زامنو ويرکې خپل وينبتان شکولي واى. هېڅ څوك نه پوهېدل چې څه وکړي خپله امين خپل قاتل ته اجازه ورکړه چې دده خوني ته وردننه شي (ګل غتى د امين لور بيا وويل چې يو روسي جنرال چې د حفيظ الله امين عکس يې په لاس کې وه د امين پوښتنه يې وکړه کله چې ما د هغه احوال امين ته ورساوه هغه امر وکړ چې زر دي راشي کله چې روسي جنرال د امين کوټې ته ورداخل شو په امين يې ډزې وکړې او هغه يې مړ کړ لوى درستيز محمد يعقوب، حفيظ الله امين ته د روسانو د عسکري تجاوز نه اطلاع ورکړې وه ځکه هغه د دسمبر په (۲۵) تاريخ د ورځې په ځلورو بجو کې د خپل روسي مشاور څخه چې (کوستنکو) نومېده دا خبرې واورېدې، چې يو بل مشاور روسي ته يې هدايت ورکاوه چې ډګروال (ايرتاس کاسيناس) نومېده او هغه هم د لوى درستيز د مشارويتو په جمله کې وه هغه ته وويل چې ته موظف يې چې شمالي ولايتو ته لاړ شې پياده قواوي د سسمبر په (۲۸) په ځلورو بجو د سرحد نه تيرېږي او په خپل تعرض پيل کوي خو حفيظ الله امين د محمد يعقوب دا خبره ونه منله او باور يې پرې ونه کړ کله چې يعقوب خپل دفتر ته بيرته راغى داسې تصميم يې ونيول چې په خپل مسؤليت دفاعي او آمر صادر کړي هدايت يې د قطعاتو په نامه ليکلى و، چې بيا د هغه مشاور له خوا ډزې پرې وشوې او مړ يې کړ.

تر دغه وخته ببرك كارمل د دوشتبې په ښار كې و كله چې د امين د قتل خبر ورورسېد د امين مرګ يې په خپل بيانيې كې د انقلابې شورا په حكم خلكو ته خبر ورکړ بيا د شپې په دريو بجو د طياري په ذريعه د كابل هوائي ميدان ته راورسېد او بيا د چلستون مانۍ ته (قصر) ته لاړ او د شوروي عسكرو لخوا يې د افغانستان واګې تر لاسه کړې خو داسې واګې چې هغه يې د اجرا اختيارات او صلاحيت نه درلود . شوروي دولت د ددې مطلب دپاره چې د خلقيانو له پشپړ مقاومت سره مخامخ نه شي او د هغوی مقاومت يې يو څه كم كړی وي يو څو كسه هغه اشخاص يې، چې پخوا د امين د ترور په مأجرا كې چې بيا خپله تره كی له مينځه لاړ تورن وٴ او ځانونه يې مخفي كړي وو، چې دغو اشخاصو د خلق په ګروپ پورې ځانونه تړلي وو او د نور محمد تره كی نزدې ملګري و د ببرك كارمل سره يو ځای رابنكاره شول ببرك كارمل هم د خپل راتګ په دوهمه ورځ د تره كی فاميل چې تر دغه وخته په زندان كې و د زندان څخه خوشي كړل او د چلستون په قصر كې خپل حضور ته راوغوښتل او د تره كی د مرګ تسل يې هغو ته ورکړ چې دا جريان د راديو او تلويزون له لارې په ټول افغانستان كې واورېدل شو چې پدغه رنګه تر ډېر وخت پورې نور خلقيان تسكين شول اما حقيقت دادی چې د شوروي اردو او د شوروي حكومت د دوستۍ په لباس كې په ډېره مكارانه او ناځوانمردانه توګه د افغانستان حكومت، چې ټولې دنيا په رسميت پېژندلی و له مينځه يووړ او يو خپل لاس پوځی حكومت يې د افغانستان په خلكو وتاپه .

ګرانو لوستونکو د حفیظ الله امین قدرت ته د رسېدو پخوا ذکر وشو چې څنګه حفیظ الله امین د هغې نه روغ رمټ پاتې شو او بیا څنګه هغه په ډېرې هوښیارۍ د شوروي سفیر چې په حقیقت کې ددې ماجرا د اجرا کولو وظیفه یې په غاړه درلوده د هغې جلسې په وړاندې چې انقلابي شورا د غړو او د خلق د دموکراتیک ګوند د غړو لخوا مشترکه توګه جوړه شوې وه د شوروي سفیر پوزانوف په نور محمد تره کې باندې شاهدي ورکړه او تره کې یې ددغې قضیې مسؤل وباله څکه حفیظ الله امین ددغې غونډې په وړاندې د هغې توطئې جریان په مفصل ډول په خپل راپور کې لیکلي وو کوم چې دده د قتل دپاره د نور محمد تره کې په مقر کې ترتیب شوې وه چې په هغه ځای کې شوروي سفیر او څنې نور شوروي مشاورین هم حاضر وو. کله چې پوزانوف د شوروي اتحاد سفیر د امین د ویناء تائید وکړ او نور محمد تره کې یې ګرم وباله ددغې غونډې لخوا د نور محمد تره کې ټول دولتي او ګوندي امتیازات واخستل شول او حفیظ الله امین دده په ځای د ګوند عمومي منشي په حیث او د انقلابي شورا د رئیس په حیث وټاکل شو او بیا ډېر وخت تیر نه شو چې حفیظ الله امین نومورې سفیر او د سفارت څنې نور غړي هم د افغانستان څخه وشړل سره له دې ټول واقعاتو چې واضحاً د شوروي دولت پکې لاس درلود حفیظ الله امین لاهم د شوروي دولت د دوستۍ په انتظار کې باقي پاتې شو او کوشش یې کاوه تر څو هر څنګه چې کیږي د شوروي دوستي تر لاسه کړي دا څکه چې د وتلو یوه دروازه خلاصه وه د دنیا نورو دولتو هغه ته او د هغه حکومت ته په ښه نظر نه کتل او اعتماد یې وربانديې نه

کاوه. هغه مجبور و، چې یو خارجي دولت دوست ولري . د حفیظ الله امین د واکمنۍ لاډېر وخت نه و تیر شوی، چې د ۱۳۵۸ د عقرب د میاشتې په اوایلو کې چې د اکتوبر ۱۹۷۹ سره برابره وه د مارشال پاولوفسکي د شوروي د پلو قواؤ قوماندان په مشرۍ د شپېتو نورو مشاورینو سره د حفیظ الله امین په اجازه کابل ته راغلل د شوروي اتحاد دولت ددغو مشاورینو لیږل حفیظ الله امین ته داسې څرګند کړی و چې هغوي باید داسې پلان جوړ کړي چې شوروي دولت خپل کومکونه د هغه پلان په اساس د افغانستان دولت ته ډېر کړي څو افغان دولت د خپل ځان او خپلې خاورې دفاع په ښه صورت سره وکړاي شي چې حفیظ الله امین په دغه وخت کې ډېر سخت وغوليد ځکه شورویانو خپل هغه پلانونه تکمیلول کوم چې له پخوانه د شوروي دولت په نظر کې نیولي وو او اوس یې ببرك کارمل د هغو پلانو د اجرا په باره کې په نظر کې دي.

با الاخر شوروي دولت خپل نظامي یرغلګر عملیات د ۱۳۵۸ کال د جدي په ۶ تاریخ د افغانستان په یو مستقل دولت باندې بې له کوم مخکنۍ اعلانه پیل کړ او دا عسکري عملیات کټ مټ هغه عسکري عملیاتو ته ورته وو، چې شوروي یرغل ګرفوځ په کال ۱۹۶۸ کې د چکوسلواکیې په دولت باندې کړی و چې د دوپچك حکومت ته یې سقوط ورکړ په دوارو پاي تختو یعنې پراګ او کابل باندې هوایي حمله د کې، چې ، بې په لارښوونه عملي شوه چې په ډېره چټك تیا ټول هوائي میدانونه یې اشغال کړل د افغانستان په اشغال کې د شوروي څلویښتمې نظامي قواو ګډون درلود چې د مرکزي

آسیاء د جمهوریتونو نه راغلي وو. سر بېره پردې هغو شوروي متخصیصینو او مشاورینو چې د افغان اردو په مېنځ کې موجود او په عسکري قطعاتو کې ځای پر ځای وو، چې له ټولو ټانکونو او زره دارو قواو څخه یې ځینې حساسې پرزې ویتسلې او هغه یې غیر فعاله کړې وې چې د شوروي مشاورینو دغه خائنانه عمل د اردو ټولو منصبدارانو ته هم معلومه ده دغه مشاورین چې د افغانستان د دولت لخوا استخدام شوي وو، قانوناً خائن او د محاکمې او جزا وړ دي امید دی چې د افغانستان قانوني مرکزي حکومت به دغه خائن مشاورین محاکمې او جزا وړ دي امید دی چې د افغانستان قانوني مرکزي حکومت به دغه خائن مشاورین محاکمو ته کش کاندي.

د شوروي دولت مقصد دا و چې په افغانستان کې دولتي چارې د هغه چا په لاس کې وي، چې په افغانستان کې هېڅ قوي قوت او قدرت ونه لري نو ځکه ببرك کارمل یې د نبر کې ونیوه چې په افغانستان کې بې نومه او بې نشانه و او کومه قومي پشتي وانه یې نه درلوده.

نو ځکه د خلقیانو حکومت چې د هغو غړي اکثراً د افغاني جامعې په اکثر قوم پوري اړه لري له مېنځه یوسي همدارنګه د شوروي اتحاد د افغانستان په اشغال کې بل مقصد داو چې خپلې پخوانې خوبونه ربنتیا کړي کوم چې له پخوا زمانې نه ددوی په مغزو کې تاوېده، چې هغه تودو اوبو ته د رسېدو ارمان وه چې بیا د پارس په خلیج او شرق میانه باندې خپل استعماري قدرت ټینګ کړي چې ددغه مقصد د لاسته راوړلو

دپاره علاوه د افغانستان د اشغال نه نور پټ او ښکاره دوستان ددغې منطقې په حکومتونو کې درلودل.

او بل دا چې د افغانستان په اشغال کې د شورویانو په پروګرام کې دا نظر موجود و چې افغانسان کې باید داسې حکومت واګې په لاس کې وانخلي چې بیا د هغو علاقو او ځمکو دعوه ونکړي کوم چې پخوا شورویانو په زور لاندې کړې دي.

اګر چې حفیظ الله امین د شوروي د اعتماد د لاسته راوړلو په هلو ځلو کې و او ډېرې بیانیې د شوروي په دوستۍ کې ورکړي خو شوروي دولت په هغه هېڅ اعتماد نه درلود هغه یې د (سي. آی. اې) غړی بالله ځکه ببرك کارمل او د شوروي سفیر پوزانوف د هغه په باره کې ډېر راپورونه ورکړي وو.

دا چې شوروي اتحاد وائي چې مونږ د هغه قرار په اساس چې په کال ۱۹۷۸ نظامي تعهدات د افغانستان دولت سره. مولاس لیك کړي و افغانستان د قانوني دولت په بلانه او خواهش مو عمل کړی چې ببرك کارمل هم ورته استدلال کولو او همدارنګه شورویانو او ببرك کارمل ویل چې افغانستان ته خارجي خطر موجود و او مونږ د (۱۵) مادې په اساس چې د ملل متحد په منشور کې قبول شوي خپل عسکرو د خپل دفاع دپاره افغانستان ته لیږلي دي مګر شورویانو او ببرك ونه شوای کړای چې د جهان او افغانستان خلك په دې قانع کړي چې دغه ادعا رښتیا ده حتی د شوروي خپل خلق هم نه شي قانع کولی ببرك کارمل په خپله اولنۍ بیانیه کې چې د ۱۳۵۸ کال د جدي په اووم تاریخ د کابل رادیو نه نشر کړه او بیا په ۱۳۵۹ کال کې د هغه د بیانیو په کتاب کې نشر شوي

د روسانو د عسکرو راتګ یې د حفیظ الله امین لخوا وښوده تر څو دغه بې شرمه عسکري یرغل قانوني وښیي، ځکه چې د امین حکومت په تمامه معنې قانوني و. لکه څنګه چې ویل کیږي درواغ و یونکی حافظه نه لري د اکتوبر په ۱۹ تاریخ کال ۱۹۸۰ کې چې د میزان ۲۶ تاریخ سره سمون خوري په خپل اولنې سفر کې ببرک کارمل چې اتحاد شوروي ته وکړ رسماً یې وویل چې د شوروي اتحاد لښکر زما په خواهش او بلنه افغانستان ته راغلی دی ځکه چې د افغانستان ارضی تماصیت او استقلال د پاکستان، چین ، امریکا او نورو لخوا ترتهدید لاندې و .

د جهان حقوق پوهو او اخبار نشرونکو بین المللي شخصیتونو په دغه مورد کې پراخه مقالې او بیانیې نشر کړې دي چې باید دغه تقاضا چې شوروي لښکری افغانستان ته راشي د یوه قانوني دولت لخوا غوښتنه شوې وای په هغه وخت کې حفیظ الله امین لخوا شوی وی ځکه امین ډېر سخت ملي احساسات درلودل همدارنګه دا ناممکنه خبره ده چې امین به شورویانو ته ویلي وي چې ستاسو عسکر دې زمونږ ښارونه او کلي اشغال کړي او ما دې هم له مینځه یوسي. امین څو څلې په کال ۱۳۵۸ کې ویلي وو او اعلان یې کړی و، چې فقط افغان باشهامته او باغېرته اردو د خپلو دښمنانو سره جنګ کولی شي او وه به یې کړي. سربېره پردې د افغان منظم عسکر لاهم دومره سره نه و پاشېدلی او تیت پرک شوي چې حفیظ الله امین به خپل اعتماد بایللي وي او خپل ملي غرور به یې له لاسه ورکړي وی امین دا هم ویلي و " مونږ به هېڅ کله د خپلو خارجي ملګرو او دوستانو څخخه خواهش

ونکړو چې راشي او خپلې وینې زمونږ په لاړ کې تویې کړي په هیڅ وخت او شرائطو کې به داسې تقاضاء ونکړو." امین دا هم وویل " جهان ته وایو چې مونږ خپله د خپلې خاورې دفاع کوو او کولی هم شو " امین دغه ویناوې او وعدې د ۱۳۵۸ کال د میزان په میاشت کې چې د کال ۱۹۷۹ د سپتامبر د میاشتې سره سمون خوري د خوست قبائلي مشرانو ته کړې وې چې هغه په خپله وعدې ټینګ او باوفا وه .

د شوروي اتحاد د رهبرانو دا خصمانه دسائس د افغانستان په مورد کې زر په ډېرو خارجي مملکتو کې حتی په سو سیالستي مملکتو کې، چې د شوروي تر سخت کنترول او تاثیر لاندې دي ښکاره او معلوم شول او د مختلفو منابعو نه اعتراضونه آورېدل کېدل د چکوسلواکیې د مملکت نه د ټائمز په ورځپاڼه کې یو لیک چاپ شو چې په هغې کې د نورو مملکتونه غوښتنه شوې وه چې د مسکو د اولمپیک لوبې تحریم کړي چې د نوموړي لیک یوه برخه په لاندې ډول ده " د شوروي مداخله په کابل باندې چې له هر راز صحیحو وجوهاتو نه مبراده یو خشم انګیزه او علیني تهاجم دي ... مونږ په پراګ کې یو کوم چې په هغه ښار کې ښاغلي ببرك کارمل نوی صدر او نوی مودل افغانستان یې په خپله قبضه کې راووست. ویې پلوره ، پټ یې کړ او تربیه یې کړ ."

او همدارنګه په خپله شوروي کې یو تعداد لیکونکي د اکت،بر او نومبر ۱۹۷۹ کال کې اعتراضونه کړی وه چې بیا ونیول شول او زندانو کې واچول شول له دې جملې نه مشهور روسي شخصیتونه الکساندر (ګنیز برګ) چې زندانې شو او نامتو مشهور د نوبل د جائزې آخستونکی ښاغلی ډاکټر

سخاروف چې د شوروي په دننه کې د ګورکي ښار ته تبعید شو، دغه ټول دلایل ثابتوي چې د اتحاد شوروي په دننه کې هم سخت اختلافات او اعتراضات موجود وو.

په افغانستان کې دننه هم د شوروي د عسکرو د راتګ په اوله ورځ د کابل د ښار ډ باغیرته خلکو لخوا د الله اکبر په نارو د شوروي په ضد شدید اعراضات شروع شول حتی د خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د دفتر نه د ښاغلي "هما" په ذریعه چې د مرکزي کمیټې د دفتر رئیس و یوه داسې اعلامیه نشر شوه چې په هغې اعلامیې کې یې د شوروي اتحاد د دولت او کمونست ګوند دغه ناوړه اعمال چې د ټولو بین المللي او ګاونډیتابه قوانینو په خلاف اشغال ګر عمل اجرا شو سخت غندل شوي وو، چې د جدي په اوم تاریخ په کابل کې ټولو غربي او د نورو اسلامي مملکتو او سوسیالستي مملکتو سفارتخانو ته تسلیم کړی شول چې بیا د روسانو لخوا ټول هغه اشخاص چې پدغه اعلامیه کې یې برخه اخستې وه ونیول او بندیان شول.

د کابل د غیورو او باشهامته ښارځانو لخوا چې د الله اکبر په نارو سره یې بدرګه کېده قیام وکړ، چې بیا د ببرکیانو او روسانو لخوا په ډېره بې رحمۍ وتکول شول ددغو ظالمانو د اشغال په ضد کینې او غصې راوپارېدې، چې ددغو ظالمو روسانو په مقابل کې خلکو پاڅون وکړ.

ما په خپلو سترګو ولېدل چې ددغې قیام په ورځ په سوونو مړې د کارتې پروان او شهر ارا په سرکونو کې پراته وو او په خپلو وینو کې رغړېدل (زه په خپله او ماسره زما مشر زوی چې زه، یې خپل کور ته د مکرورویانو نه خپل کور چهاراهي قمبر

ته نزدې خوشحال مېنې ته رسولم د شهرارا په حصه کې هم په دغه اړودور کې راګیرر شو، موټر مو په سرای ور دننه کړ او خپله مو ځان پلی د کورونو او کوڅو په مېنځ کې په کارته پروان کې د خپل زوم کورته چې په کارته پروان کې وه ورساوه). داسې ویل کېدل چې خلکو د کارته پروان د پولیسو د ماموریت په لور چې هلته روسان پکې ځای په ځای شوي وو مارش کړی و چې د خفیفې او ثقیلې اسلحې په ذریعه په بې دفاع او تش لاسو خلکو باندې ډزې شوې وې او سړکونه له بې ګناه مړو څخه ډک وو. همدارنګه ډېر خلک په جاده میوند، میرویس میدان او د سیلو په مربوطاتو کې په سړکونو کې مړه پراته وو.

د جدي د میاشتې شوروي یرغل په کابل باندې چې اروپایان هغه یرغل ته د کرسمس یرغل وایي او نوم یې پرې اینبي دی د پراګ دیر غل سره سمون خوري چې هغو عملیاتو او یرغل د پراګ د پسرلي یرغل په نامه یادیږي چې هغه هم په ۱۹۶۸ کال کې د روسانو یرغل ګر فوځ لخوا اجرا شو او د الکساندر د وپچك حکومت یې له منځه یووړ د بریژنیف پلان او د کتورین په منځني آسیا کې داسې وه چې کاملاً یو آزاد مستقل او غیر متعهد دولت د شوروي د کنترول نه د باندې نه وي نو ځکه یې په افغانستان باندې عسکري یرغل وکړ او خپل لاس پوځی ګوډاګی حکومت یې د افغانستان په خلکو مسقر کړ.

که څه هم امریکایي تحلیل ګرانو د شوروي دلښکرو راټولېدل د افغانستان په سرحداتو کې د خطر اعلام کړی و خو روسانو دا وحشیانه یرغل د کرسمس او عیسوي نوي کال په

شپو ورځو کې انجام کړ چې د عبسویت دنیا په خپلو جشنونو کې مشغوله وه او بیا د یوه انجام شوي عمل سره مخامخ شوه او له بلې خوا د شورویانو دا عسکري یرغل دومره ګړندی او چټک و، چې په دوه دریو ورځو کې ټول مهم ستراتیژیکي ساحې تر اشغال لاندې راوستې ځکه دوی ډېر ډارېدل که یو ځل د افغان اردو سره په جنګ کې شول نو بیا به د دنیا نور ملکونه د هغو مرستې ته را ودانګي او وضعه به ډېره خرابه شي نو ځکه یې په ډېر فوري صورت د هغو شپږو لښکرو عسکر د افغانستان په ټولو ښارونو او حساسو ځایو کې پلي کړل ځکه د امین د فوځ ډېر باشهامته افسران او عسکر په امین او د هغه په ګوند باندې متیقین او وفادار وو.

مګر د شورویانو دغه بل چل او تکتیک چې یو څو رهبران او منصوبین چې د خلقیانو په ګوند پورې ارتباط درلوده د نورو خلقیانو د اغفال او غولولو دپاره د ببرک په کابینه کې ور دننه کړل او ځنې یې د ګوند په عالي مقاماتو کې کښینول چې په دغه رنګه چال او فریب یې و شوای کړای چې د خلقیانو امید واري پیدا کړي تر څو په جنګ لاس پورې نه کړي.

له هغو نظامي مداخلو نه وروسته د شوروي د عامه خلکو عکس العمل او د شوروي متوسطو مامورینو عکس العمل له هغې وینانه ښه څرګندیږي، چې د (کې،جې،بې) افسر او د تاسس د اخبار لیکونکی هغه خبریال کړې وه، چې (ابلیاد سرګي یوف) نومېده او په ایران کې موظف وه او بیا یې په ۱۹۸۰ کال کې برطانیه کې کډوال شو. هغه د شوروي د عامو خلکو نظر په دغه مورد کې داسې بیانوي " مونږ ولې په افغانستان یرغل وکړ مونږ خپله په شوروي کې په کافي اندازه

مشکلات او پرابلمونه لرو څنګه د شوروي خلکو مورګانې او پلرونه قانع کړی شو، چې د څه دپاره د هغوی زامن په افغانستان کې مري؟ که هغوی په هغه باره کې مري، چې اتحاد شوروي او د هغه خلکو ته با ارزښته سیاسي ګټه لري بل سوال دی مګر د افغانستان له خوا هېڅ خطر د شوروي جمهوریتو ته متوجه نه دی".

په هر حال د شوروي دولتي نشراتي منابعو لخوا د شوروي وګړو ته داسې خبرونه او تفاسیر نشر بدل چې ګواکې زمونږ دوست افغانستان ته خارجي خطر د غربي ممالکو او چین له خوا متوجه ده، چې شوروي اتحاد مجبوراً د افغانستان په مرسته کې یې خپل عسکر هغه وطن ته لیږلي دي او دا یې هم زیاتوله که شوروي عسکر د دسامبر د میاشتې په (۲۸) تاریخ د افغانستان په خاوره کې داخل شوي نه وای. په (۲۹) تاریخ د امریکې راکټونه د کوڅ په علاقه کې ځای پر ځای کېدل له. بلې خوا د بین المللي منابعو لخوا هغه زباني اعتراضات چې د غربي ممالکو د تلویزونو په پردو کې لېدل کېدل خو داسې کوم مثبت اقدام ونه شو چې د افغانستان د خلکو درد یې دوا کړی وای او لږ تر لږه د شوروي اتحاد د ظالمانه عسکرو مخ یې نیولی وای او د هغه د ګوډاګي حکومت د ډېرو ناخوالو او بدکردارو اعمالو مخ نیول شوی وای. چې یې په ډېرو بې رحمانه او ظالمانه شکل د افغانستان سره کول. هغه اقتصادي بندیزونه چې د شوروي د یرغل په مقابل کې د امریکې او نورو غربي ممالکو له خوا ایښودل شوې په ښه شانې عملي نه شول حتی خپله د کارتر حکومت په ۱۹۸۰ کال کې د غلې هغه بندیز چې خپله امر یې قبول کړی و، لغو

کړ او همدارنګه د امریکي او نورو غربي پلان شوي اقتصادي بندیزونه دومره ضعیف وو. ویې نه شوای کړای چې د شوروي هغه نقشې ته تغیر ورکړي، چې د افغانستان دپاره یې طرحه کړې وه. د جهان خلکو ته به په یاد وي هغه وخت چې روسي فوځ په افغانستان حمله وکړه د امریکي د وخت جمهور رئیس جمي کارتر په خپله اعتراضي بیانیه کې د شوروي دغه متجاوز اقدام سخت وغانده او زیاتۀ یې کړه که چیرې د پاکستان امنیت په خطر کې راشي نو امریکاء بې تفاوته پاتې کېدای نه شي د لزوم په حال کې به نظامي اقدام وکړي.

په حقیقت کې د امریکا لخوا شوروي اتحاد مطمئن شو چې امریکاء د افغانستان موضوع ته په جدي سترګه نه ګوري نو ځکه شورویانو په ډاډه زړه د افغانستان ټول کلي او ښاورنه تر اشغال لاندې راوستل او د جنګیالو افغانانو په ضد یې حتی د کیمیاوي اسلحې له استعماله هم ډډه ونه کړه.

د نړۍ ازادو مملکتو او غربي ممالکو کله چې شوروي یرغل ګرفوځ په افغانستان حمله وکړه او افغانستان یې اشغال کړ داسې وپتېل شوه چې ګواکي افغانستان د شوروي اتحاد یو ګاونډی دی او هم د شوروي نه ډېر پوره وړی دی چې په دا اخرو کې بې شمېره اقتصادي او نظامي مرستې یې ورسره کړي، نو افغانستان یې د شوروي مسلم حق وګانه او د هغه شرم آوریر غل په ضد یې څرنګه چې باید وه جدي اقدام ونکړ په حقیقت کې غربي ممالکو داسې فکر کاوه اوس چې د روس سرې لښکرې افغانستان کې ننوتې په کم وخت به افغان مقاومت ډلې له منځه یوسي او ټول افغانستان به د خپل کنترول لاندې راولي مګر څنګه چې ولېدل شو چې له دوی نه

هم د افغانستان تاریخ هیر شوی هغه چې استعماري انګلیس یرغل ګرفوځ د افغانستان د خلکو نه سختې ماتې خوړلې وې نو ځکه یې د افغان په باره کې په بې پروائی نظر وکړ.

د روغې جوړې هر څومره هلې ځلې چې د شوروي د عسکرو د ویستلو دپاره (چې د افغانستان نه ووزي) له هرې خوا پیل شوې په لندن کې (لاړ د کرنګټون) چې نوی د زیمبابیې د قضیې نه په موفقیت بیرته راغلی و ، ددغې قضیې د بې طرفه کولو طرحه د مشترک بازار د غړو حضور ته وړاندې کړه. د فرانسې جمهور رئیس مسکو ته سفر وکړ د یو ګو سلاویې د حکومت لخوا چې د بې طرفه هېوادو د جریان یو مهم او موسس غړی و او همدارنګه د ملګرو ملتو او اسلامي کنفرانس د غړو له خوا په دې باره کې پیشنهادونه وشول، خو دغو پېشنهادو او طرحو هېڅ مثبت اثر ونکړو، ځکه په دغه وخت کې د روسي وینې زېښونکیو او متجاوزو عسکري قواوو د افغانستان ټول مهم ښارونه مهم هوائي ډګرونه او نور کلي او باندې تر خپل اشغال لاندې راوستل او د افغانستان ټولې ملکي او نظامي چارې یې تر خپل کنترول لاندې نیولې وې او د ټولو چارو سروې او اجرا آت د شوروي مشاورینو په لاس کې وې ګوډاګی ببرک کارمل فقط او فقط د انقلابي شورا د رئیس په نامه یادیده هغه د افغانستان په امورو کې هېڅ قدرت او صلاحیت نه درلود یوازې او یوازې هغه په خپلو خطاب، کې د روسي یرغل ګر فوځ ثنا او صفت کولو او بس د شوروي مقاماتو او خبرولو څو دغه حقیقت نه په کلي توګه انکار وکړو او ادعا یې کوله چې د ببرک کارمل حکومت یو قانوني او مستقل حکومت او دولت دی ددغه

دولت مشکلات د خارجي لاس وهنې په واسطه مېنځ ته راغی هیڅ رنګه داخلي جنګ په افغانستان کې نشته دی چې شوروي څوك په هغه کې دخیل وګڼي او ملامتي پرې ور واچوي له دینه چې شوروي رهبرانو حقائقو ته غاړه نه ایښوده ممکنه نه وه چې د مېنځ ګړتوب پروسه کامیابه شي.

د شوروي د عسکري تهاجم نه پس کله چې ببرك کارمل په قدرت ورسېد چې د افغانستان خلکو په هغه باندې د مسکو شاشجاع نوم ایښی و چې د روسي متجاوزو عسکرو سره یو ځای کابل ته راغی او په قدرت ورسېد لکه څنګه (۱۴۰) کاله پخوا شاه شجاع د انګلیس متجاوز او استعماریي لښکر سره یو ځای کابل ته راغی او په قدرت ورسېد چې بیا د افغانستان ټولو زړه ورو خلکو د هغو په ضد را پاڅېدل او هغه استعماري لښکر ته یې داسې ماتې ورکړې چې د انګلیس او افغان په تاریخ کې ډېر رنګین او تور داغ دی چې د انګریزانو په وچولي نښتې دی دغه ده یو څل بیا د افغان باشهامته او باغیرته اولس پرګنې د خپلو زړه وروپلرونو په ځیر د روسي د استعماري او یرغل ګرفوځ او د هغه د ګوډاګي مسکوي ببرك په ضد را وپاڅېدل او له هم هغې اولې ورځې نه ې د دوی په ضد خپله مبارزه پیل کړه.

د انګلیسي شاه شجاع او مسکوي ببرك تر مېنځ یو توپیر شته دی چې اولنی د افغانستان د خلکو په لاس ووژل شو او د بل روسانو له ځان سره بوتلو او هلته خپل عمر په عېش او عشرت کې تېروي.

شوروي اتحاد د افغان مبارزینو د ضعف کیلي ګانې د افغانستان په ګاونډي مملکتو لکه ایران او پاکستان کې

لټولې د ایران دولت چې نوی د خمیني په مشرۍ په قدرت رسېدلی اولاهم د تودي ګوند ملاتړ نه برخور داره و، چې ایران هم د خلقیانو د حکومت سره چې په افغانستان کې په قدرت کې دی ښه نظرنه لري او ورسره سماز ګارنه و نو ځکه د تودي د ګوند مشر ښاغلي کیان نوري په هغه کنفرانس کې چې ۱۳۵۸ کال کې د مسکو په ښار کې د ایرو او د تودي د ګوند مشر د ایران یاني د خميني د رژیم لخوا په دغه کنفرانس کې ګډون کړی و د افغانستان نمائینده ښاغلي عبدالرشید جلیلي ته چې په هغه وخت کې د افغانستان د پوهنې وزیر و او د افغانستان لخوا په دغه کنفرانس کې یې ګډون درلود په ډاګه خپل مخالفت ښکاره کړی و.

باید وویل شي په دې مقصد چې د شوروي مشرانو د خميني د انقلاب سره مرسته کړې وي اته ورځې پس د هغه نه چې د ایران شاهي رژیم سقوط وکړ د پراود اخبار چې د شوروي اتحاد یو رسمي معتبره دولتي اخبار دی د جنورۍ په ۲۹- تاریخ - ۱۹۷۹ کې په خپل اخبار کې ولیکل ایران ته چې یو استبدادي رژیم رنځ ورکاوه خلاص شو او هر هغه څه چې په ایران کې پیښ شوي دي یو ملي رهائي بخش اسلامي انقلاب دی چې د جهان ټول ترقي هېوادونه باید دي چې د هغه مرسته وکړي چې په دغه شان د اول ځال دپاره مسکو د اسلامي انقلاب نوم په خوله واخست او د شوروي ورځپانو د یو سیاسي پیشرفت نوم پرې کښیښود او همدارنګه د تودې ګوند یې مجبور کړ چې مرکزي کمیټه دائره کړي او د (ایرچ سکندري) چې د ګوند عمومي منشي وه د هغه مقام نه لرې کړ او د هغه پر ځای یې نورالدین کیان نوري انتخاب کړ

څکه کیان نوري د شیخ فضل الله نوري زوی دی په دې مقصد، چې کیان نوري به د هغه د کورنۍ د سابقې درلودلو په ذریعه چې د ایران د روحانیونو په مینځ کې درلوده د خمیني له رژیم سره مرسته او کومك وکړي او له دغې لارې به د تودې ګوند لاپسې قوي شي.

همدارنګه خميني د امریکایانو په ګروکان نیولو کې چې د شاه د خلعه کولو نه پښېنه شوه ډېر مصروف شو چې بیا امریکا د هغو په خلاصولو کې موفق نه شو او د جهانیانو د ملنډو وړ وګرزېدل په دغه وخت کې شورویانو ببرك کارمل ته هدایت ورکړ چې د خميني سره خپلې اړیکې ښې کړي هم هغه و چې ببرك کارمل د جنوري په نهمه کال ۱۹۸۰ کې د خميني په نامه یو سازش کوونکی لیك ورواستاوه اګر که د خمیني لخوا د هغه لیك په ځواب کې څه ونه لیکل او خمیني له عراق سره په جنګ آخته شو چې شورویانو له دغې خوا د کوم خطر احساس نه کاوه نو ډېره توجه یې د پاکستان په خوا را واوښته.

څنګه چې ددې لیکنې پر نورو ځایونو کې لیکل شوي د پاکستان حکومت د خلقیانو د حکومت سره یوه سلسله دوستانه مذاکرات په لاره اچولي وو، چې روسانو د هغو مسالمت آمیزه دوستانه مذاکراتو نه وېره درلوده، څکه که د پاکستان او افغانستان د حکومتونو تر مینځ تعلقاتو بهبود موندلی او روابط عادي وای نو د روسانو هغه طرحه شوی پلانونه شنډ بدل چې په هغه وخت کې روسان مجبور شول چې د خپل تعرضي پلان رومبی کړي او افغانستان اشغال کړي

چې بیا اوضاع بل رنګه شوه چې په دې باره کې هم په ډېر مفصل ډول په دغه اثر کې لیکنې شوې دي.

د روسانو قصداً کله کله خپلې الوتکې او کله هم د ببرک الوتکې د پاکستان خاورې په حریم باندې ګرځېدې، چې ګوندې کومه ورځ د پاکستان له خوا کوم جنګي اقدامات وشي چې بیا نو روس هم خپل پلانونه په دغه منطقه کې پلي کړي او له بلې خوا د پاکستان اقتصادي او نظامي وضعه ډېره خرابه وه چې د جنرال ضیاء حکومت یې په سیاسي ضعف باندې مبتلا کړی و او د هغه حکومت د پاکستان د خلکو له خوا هم د اطمینان وړ نه و، ځکه هغه د پاکستان یو قانوني صدر اعظم بوټو څو موده مخکې په کال ۱۹۷۹ کې په دار خېژولی و او د امریکې حکومت هم د جنرال ضیاء د خواهش او تقاضا نېه هر کلی نه وه کړی او اقتصادي کومك یې ورسره نه کاوه په ډېره بې پروایی یې صرف څلور سوه ملیونه ډالره پور ورته منلی و چې د هغو پیسو نیمایې پیسې یې باید اسلحه اخستې وای چې بیا هغه منظور شوې قرضه د جنرال ضیاء لخوا رده شوه ځکه چې دغو روپیو د پاکستان درد نه دوا کاوه خو ددغو پور روپیو ردول او نه اخستل پاکستان ته ګټه ورسوله، ځکه دې وخت کې د افغانستان حالات څنګه چې پخوا لیکل شوي پداسې شرائطو کې و چې روسان د افغانستان په اشغال د پاکستان پولو ته رسېدلي دي.

چې د امریکې په حکومت او د امریکې په کانګرس کې هم غوغا پورته شوې وه او د جهان په نشراتي او مطبوعاتي څانګو کې د افغانستان موضوع او د شورویانو د توسعه طلبي بدنیت د ورځې ګرمه خبره ګرزېدلې وه چې آخر پای

داسي تصميم د امريکي په ټنا کي ونيول شو چې دغه څلور سوه مليونه ډالره پاکستان امنيت نه شي تامينولې او هغه خطر نه شي دفعه کولی، چې د شوروي لخوا د پاکستان مملکت ته متوجه دی. همدغه وجه وه چې په کال ۱۹۸۰ کې د امريکي نوي حکومت د جمهور رئيس ريګن په مشری درې زره مليونه ډالره روپی پاکستان ته بيلې کړې او د پاکستان د حکومت په اختيار کې ږدې ورکړې، ترڅو په امنيتي او دفاعي چارو کې ځان ښه تقويه کړي او همدارنګه د ډالرو بهير د افغان مجاهدينو په نامه د امريکي، عربستان سعودي، مصر، او چين نورو غربي مملکتو له خوا د امريکي په توصيه د پاکستان حکومت ته شروع شوې، چې دغه ټول کومکونه د پاکستان د حکومت او مامورينو له خوا افغان مجاهدينو باندې وېشل کېدل، خو وېش يې په دې ډول و چې لومړی به د پاکستان حکومتي مقاماتو خپل برخې ترينه آخستې او بيا نور هغه چاته ورکول کېدل چاته چې د پاکستان مامورينو او استخباراتو خوښه وه ټولو ته معلومه ده چې د جنګ عمده فشار د افغانستان د خلکو په غاړه و د افغانستان خلك دننه په افغانستان کې و چې شپه او ورځ د روس يرغل ګر فوځ چې د دنيا ډېر مجهز اردو سره په تشو لاسو لاس په ګريوان و چې د خپلو باتورو پلرو په شان د خپل ايمان او همت په زور د سره فوځ سره په ميړانه جنګيدل او په دغه لار کې د خپل سر او مال نه تير شول کومو چې هېڅ مرسته او کومك يې له چانه لاسته راوړې نه دی. همدارنګه چې شوروي لوې قدرت ددغې منطقې دپاره پلانونه طرحه کړي د امريکي لوې قدرت هم په دغه منطقه کې مقاصد او پلانونه په نظر کې درلودل چې د

خلیج فارس او د منطقې نوروتیل لرونکو منطقو کې برلاسه وې او د خپل قدرت د زیاتېدو په فکر کې و د خپلو ضربتي قواو دپاره یې یوې پای ګاه ته په عربي ممالکو کې ضرورت درلود د امریکا دا پیشنهاد چې د امریکا د قواو میشته کېدل په دغه مملکتو کې مطلب و د شوروي اتحاد یرغل په افغانستان باندې د امریکې لوی قدرت ته هم دا بهانه په لاس ورغله چې د خپلو مقاصد د لاسته راوړلو په غرض یې خپل استعماري پلانونه تر اجرا لاندې ونیول.

د اصلي مطلب نه لرې نه شو زه وایم چې روسانوپه هغه وخت کې یو داسې حکومت د خپلو عسکرو په زور له مینځه یووړ چې په تمامه معنې یو قانوني حکومت و چې د امریکې د دولت په شمول د دنیا له (۸۰) څخه زیاتو مملکتو په رسمیت پېژاندلی و حتی د امریکې دولت خپلو دوستانو ته توصیه کوله چې د خلقیانو نوي حکومت سره خپل عادي روابط ټینګ وساتي د امریکې جمهور رئیس کارتر د ایران پادشاه ته په کلکه وویل چې د افغانستان نوي دولت په رسمیت وپیژني او دغه پیغام یې د ښاغلي داوېدنیو سام (David Newsam) په لاسې چې د امریکې په خارجه وزارت کې د معاون په توګه موظف وه د ایران پادشاه ته د کال ۱۳۵۷ په مني کې ورساوه او په پادشاه باندې ددې خبرې تاکید هم شوی و.

(دغه پاسنی مطالب د ایران د خارجي روابطو د کتاب په ۲۹۸ صفحه کې په نشر رسېدلی دی) د ډېرو مملکتو سفیران په کابل کې موجود او ټول سفارتونه پرانستي او فعال وو. هر راز سیاسي او دپلوماسي روابط ټینګ او بر قرار وو

حتـی د پـرچـم د ګروپ غـړي د بـبرك کـارمل پـه شـمول د سـفیرانو او لـوی سـفیران پـه حیـث بـه همسـایه او غربـي مملکتـو کـې د افغانسـتان پـه سـفارت خـانو کـې فعـال وو امـا چـې د شـوروي اتحاد لښکـرو هغـه حکومـت لـه مینـه یـوړ او پـه عـوض کـې یـې یـو خپـل ګوډاګی حکومـت پـه قـدرت ورسـاوه چـې د ګوتـو پـه شمېر روسـي پلـوه دولتونـو خپـل سیاسـي روابـط ورسـره وسـاتل او لـه نـورې نړۍ سـره د افغانسـتان اړیکـي وشـلیدې چـې لـه دې درکـه د افغانسـتان خلـك سـوداګر او خپلـه دولـت زرګونـه ملیونـه ډالـره تـاواني شـو. د شـوروي دغـه وحشـیانه عمـل د ملـګرو ملتونـو د موسسـې پـه شـمول د دنیـا ټولـو آزادو مملکتـو وغـانده (د ملـګرو ملتونـو اعلامیـو کـې یـې د شـوروي دولـت نـوم یـې نـه یـاداوه صـرف د خـارجي عسـکرو نـوم یـې یـادا وه) ډېر د افسـوس ځاي دی چـې د شـوروي دغـې نـاروا او ناجـائزه عمـل پـه ضـد نـه د ملـګرو ملتونـو موسسـې او نـه د امریکـا دولـت نـه اسـلامي مملکتـو او نـه هـم د دنیـا نـورو آزادو مملکتـو هـېڅ یـو جـدي عکس العمـل ددغـه اقـدام پـه مقـابل کـې ونـه ښود پـه تشـو خبرو بـاندې شـوروي هـېڅ اعتنـا ونکـړه. آزادې نړۍ د نهشـت برابـر لـږ څه کومکونـه چـې یـې لـه افغـاني مجـاهدینو سـره کـول پـه هغـه یـې قناعت وکـړ د روسـانو د ظلـم زیـاتي او وحشـیانه بمبـاریو لـه املـه چـې د افغانسـتان اکـثراً کلـي او کورونـه وران کـړل چـې د افغـان ولـس پـه ملیونـو اوسـېدونکي مـهاجرت تـه مجبـور شـول پـه ملیونـو خلـك چـې تـر اوسـه هـم دالـړۍ روانـه ده د ذلـت او بـې پتـه ژونـد کولـو تـه د ګاونـډیو او نـورو مملکتونـو تـه پنـاهنده شـول لـه همدغـه ځایـه زمونـږ د خلکـو پـه سـر سـودا ګري او معـاملې شـوروي هیڅـا او د دنیـا یـوه مملکـت ددغـو مظلومـو خلکـو پـه حـال

ریښتینی زړه سوی ونه کړ. د ملګرو ملتونو موسسې تش په خپلو هغو اعلامیو او فیصلو اکتفا کوله چې کال کې یو وار تصویبېدله حتی په هغو فیصلو کې به یې د متجاوز دولت نوم قدرې هم نه یاداوه دومره به یې ویل چې خارجي عسکر دي د افغانستانه ووزي که په ریښتیا سره د دنیا آزادو مملکتو چې د بشري حقوقو طرفداران دي د خپلو انساني عقایدو په اساس هم لازمه وه چې یو جدي عکس العمل د ظالم او متجاوز په مقابل کې ښودل شوی وای نو ظالم به هېڅ کله ځانته دا جرات نه وای ورکړی چې په بې دفاع او مظلومو خلکو باندې حتی د کیمیاوي بمونو په استعمالولو لاس نه وا پورې کړی. دنیا وال خصوصاً وایي مونږ د افغانستان خلکو سره په دې خاطر کومك کوو چې د هغو وطن د بیګانو له تجاوزه خلاص کړو که ریښتیا وویل شي دغه کومکونه که د اسحلې او مهماتو په ورکولو کې وي نو په ورکولو کې یې دا کومکونه کولی شي چې د افغانستان خلکو ووژني او که دغه کومکونه د نقد او جنس په قسم وي نو په اول کې دغه کومکونه د پاکستاني مامورینو او نورو په جبو کې لویږي ځکه دغه کومکو هغو ته ته تسلیږي او بیا له هغو څخه یو شمېر مستحقو ته رسیږي په داسې حال کې چې حقیقي کومك آخستونکیو په سل چنده زیاته خپله هستي په افغانستان کې له لاسه ورکړي وه.

د روسانو له اشغال نه پخوا تخمین درې لکو د افغانستان خلکو په بهرنیو عربي مملکتو کې کار کولو چې په کال کې په سلګونه ملیونه امریکا یې ډالر افغانستان ته راتلل چې په هغه وخت کې په افغانستان کې د یوه ډالر قیمت (۳۵ تر ۴۰) نه جګ نه وه او اوس چې مهاجر شوي دي په هغو مملکتو کې په

ډېره ټيټه اجوره کار کوي چې خپل ورځنۍ ژوند پرې ښه ته شي کولی له همدی املـه د ايران او پاکستان مملکتونه ډېر ارزانه بشري قوا په لاس کې لري او هغو نه ښه ګټه اخلي چې دا وضعه يوازې د افغانستان دغو کار ګرانو ته پر تاوان او ضرر برسېره د ايران او پاکستان کارګرانو ته هم ضرر متوجه کړی دی ولې دومره خلك مهاجر شول ؟ د هغو د هجرت علت څه وه ؟ که په ربښتيا سره دومره پرګنې د اشغالګر فوځ په ضد د جنګ او مبارزې په خاطر مهاجر شوي دي داسې هجرتونه زمونږ د وطن په تاريخ کې ساري نه لري ځکه مونږ څو څو ځله د يرغل ګرو قواوو سره جنګونه کړي خو کوم بل ګاونډي ملك ته مو هجرت نه وکړی وائي چې د مهاجرو شمېر يوازې په پاکستان کې پنځه مليونه کېدهکه مونږ د هغو نه ځلور مليونه ښځې او ماشومان او بېوانګان او معيوب اشخاص چې د جنګ توان نه لري وباسو نو يو مليون جنګيالي پاتې کيږي او هغه هم افغان جنګيالیو په مقابل کې اقلا روسانو بايده ده دوه مليون عسکر د جنګ مېدان ته راوستي وای چې په هېڅ صورت شوروي دولت د دومره زياتو مصارفو توان او قدرت نه درلود هغه هم بيا د لس کلونو په موده کې پرته له دينه يې د دومره پر ګنو جنګيالیو د مقابلې توان نه درلود او هغه هم بيا د افغانستان په غرنې مملکت کې .

د افغانستان مجاهدينو جنګيالیو سخته اشتباه په دې کوله چې د روسانو سره يې ډله ييز او چريکي جنګونه شروع کړل (البته داسې جنګونه د جنګي رهبرانو او قوماندانانو ته په ګټه وو) په داسې جنګونو کې ډېر لږ جنګيالي برخه اخلي او جنګ ډېر دوام کوي چې کلونه کلونه وخت په کار وي که

چېرې چرکې جنګونه مونوي کړي ډېر زر به خلک په تنګ شوي وای د روسانو او د هغو د لاس پوځو په ضد به د خلکو عمومي قیام راپاربدلی وای په هغه وخت کې د دنیاوالو جدي پاملرنه دې خواته متوجه کېدله او د جنګ نتیجه زر معلومېده بل دا چې مونږ هر وخت د بهرني یرغلګرو سره په خپله دننه په افغانستان کې جنګېدلي یو هېڅ کله مو د جنګ سنګر د وطنه د باندې نه ده نیولی د جنګ اختیار مو په خپل لاس کې و نه د بل چا په اختیار او قوماندې کې همدا وجه وه چې بس د دښمن له مغلو بېدو داخلي جنګونه د خود خواه او خود غرضه قوماندانو له خوا شروع شول او بیا ولېدل شول چې ځینی خائین قوماندانان او رهبران د هغه اصلي دښمن دروازې ته ودرېدل او د خپل وطن د خلکو د وژلو په مقصد یې د هغو مرستې او اسلحې تر لاسه کړې په حقیقت کې زمونږ مجاهدینو په پاکستان او ایران کې د دمې او پناه ګاه ځایونه ځانو ته پیدا کړه نو ځکه دا جنګ ډېر اوږد شو او د افغانستان خلکو ډېر مالي او ځاني تاوان وکړ د بهرني هېوادو اختیاجي او محتاجي مو قبوله کړه او هم نومورو مملکتو زمونږ ددې پریشاني وضع نه ډېره ناوړه استفاده وکړه . دا چې زمونږ جهادي رهبرانو هغسې چې لازمه وه لکه زمونږ پخوانیو غازیانو او رهبرانو په شان ښه وده ونکړه او د هغو په مقایسې په افغاني جامعه کې د لږ اعتبار خاوندان شول که دغه اوسني رهبران د خپل وطن په مېنځ کې وای ددوی شخصیتونه ډېر لوړېدل چې د هغو زور بیا چانه درلود.

او بل دا چې زمونږ پت به هم پر ځای وای او دومره ډېر ځاني او مالي تلفات به مو نه واي ګاللي ددغه د ثبوت دپاره

ډېر دلایل شته چې مونږ په هجرت کې ډېر زیار ګاللی دی ځکه زمونږ جنګیالیو به چې کوم ځای کې د روسانو سره جنګ ونښلاوه بس له لږ ساعت وروسته به له هغې منطقې نه ووتل نو هغه خلك او کلي چې طبعاً د جنګ وسائل یې نه درلودل او په تش لاس به و د جنګ او د خپل ځان د دفاع دپاره یې هېڅ په لاس کې نه درلودل نو مجبوراً به د مجاهدینو ورونو د پله په تعقیب پاکستان ته یا ایران ته هجرت وکړه او وطن به یې خوشې کړ زمونږ خلکو که د دښمن په ضد عمومي قیام کړی واي دومره تلفات چې اوس مو ورکړه نه مو ورکول خلاصه دا چې مونږ په دې هجرت کې ډېره اشتباه کړې ده . که د ملل متحد د برجسته اعضاوو او هم اسلامي مملکتو د افغانستان د خلکو په مرسته لکه څرنګه چې لازمه وه همت او اقدام کړی وای دومره دغه ورانوونکي جنګ دوام نه شوای کولی څرنګه چې ددنیا هغه عالي بې طرفه شخصیتونه او خلك ښه پوهېږي زمونږ د خلکو د وینو تویولو ګټه نورو خلکو او ملکونو په سیاسي او هم په اقتصادي لحاظ واخیسته او مونږ هسې پکې برباد او تالاوالاشو له ایران او پاکستانه علاوه د برلین د یوال وران شو او دواړه المانه بیرته سره یو شول د مرکزي آسیاء مملکتونه آزاد شول شوروي اتحاد رنګ شو غربي نړۍ د ساړه جنګ نه چې په زرګونه لیونه ډاله یې مصرفولې د افغانستان د خلکو په سر ښنند نه خلاص شول .

د مهاجرت بل عمده علت داوه چې د ببرك کارمل عسکري بشري قوا ورځ په ورځ په کمېدو وه چې د جلب واحضار پروسه دومره شدیده کړی شوه چې حتی سپین ږیري هم په ځانو ډارېدل چې هغوي به هم په عسکري قواوو کې داخل کړی شي

همدارنګه هېڅ وجدان قناعت نه شوای کولی چې یو ځوان د ځان دغه خدمت ته آماده کړي چې په دې جنګ کې یا خپله باید خپل ژوند له لاسه ورکړي او یا خو خپل وطن دار ځوان مړ کړي نو دا د څه د پاره ددغه مړینې نتیجه د چا په ګټه ده چې عملا دده وطن د روسانو تر اشغال لاندې دی سلیم عقل څه حکم کوي د چا سره جنګ باید وکړي د خپل ورور سره او یا د هغه سره چې د ده د وطن ټوله هستي یې غصب کړې ده او د مملکت استقلال یې آخستی دی څرنګه یو باشرفه انسان دې خبرې ته حاضریږي چې د هغه دښمن په نفعه چې دده په خاوره یې تعرض کړی خپل ورور وطن دار سره په جنګ آخته شي نو دغسې جلبیان مجبوراً مهاجرت ته زړه ښه کړی دی.

په هر صورت ببرك کارمل خپلو آرمانو او آرزوګانو ته ورسېد او د قدرت په څوکۍ کیناست په شاهي ارګ کې یې جلوس وکړ خو د روسانو د جنرالانو د قوماندې او اوامرو لاندې د افغانستان خلکو خو داولې ورځې نه په ببرك باندې ماسکوي شاه شجاع نوم کېښود چې یو سل او څلویښت کاله پخوا د انګلیس د اسعماري فوځ سره کابل ته راغلی و په دومره تفاوت چې هغه د انګلیسي د عسکرو په مخ کې او ببرك کارمل د عسکرو تر شا شا کابل ته راغی ببرك کارمل د خپلو غولونکو پخوانیو عادتو په درلودلو سره په کار پیل وکړ په اولو ورځو کې یې د پل چرخي د جیل خانې دروازې د زندانیانو پر مخ خلاصې کړې چې یو څو تنه یې د ورځې له مخې له زندانه خوشې کړل، خو ډېر نوریې د شپې له مخې د مرګ ځایونو ته ولیږل او مړه یې کړل او بیا یې د هغو خپلوانو ته وویل چې د امین په وخت کې وژل شوي دي.

(امین به هم ډپروژلي وي) خو ددغو مرینه چې ببرك درواغ وایي د هغو بندیانو خپل خپلوانو ته معلومه ده چې هغوي د ببرك په اولو ورځو کې د خپلو بندیانو سره ملاقات کړی او هغه یې ژوندي لېدلي وو، حتی ځینو خپل اضافي کالي خپلو پاي وازانو ته ورکړي و، ځکه هغوي ته د زندان د مامورینو لخوا ویل شوي و چې د عمومي عفوې په اساس له بنده خلاسیږي. مګر بیا چې ددغو بندیانو خپلوانو د ژمي په سختو سړو کې هر څومره انتظار ووښت. د هغو درك معلوم نه شو چې آخر پای د هغو بازماندګانو حکومتي شعبو ته مراجغه وکړه ورته وویل شول چې دا اشخاص ټول حفیظ الله امین وژلي دي.

ببرك کارمل د خپلو قدرت په اولو ورځو کې د عامو خلکو په وړاندې په خپلو بیانیو کې ددوست لښکر (دروسي د عسکرو) صفتونه کول او ویل به یې که د دوست دولت لښکري مونږ سره مرسته نه وای کړې او افغانستان ته یې له دغې تهلکې نه نجات نه وای ورکړی او مونږ سره یې کومك نه واي کړای اوس به د افغانستان نقشه د دنیا له نقشې نه ایستل شوې وای.

بیا ببرك کارمل د جبهه ملي پدر وطن په نامه یوه جرګه جوړه کړه او په هغې جرګې کې یې د خپلې خوښې خپل طرفداران د افغانستان د نماینده ګانو په حیث شامل کړل او ډېر کوشش یې کاوه چې روسي رهبرانو ته یې چې کوم درواغ ویلي و ددغو اشخاصو په جمغه کولو به د روسانو دوستي د افغانستان د خلکو سره ثابته کړي هره ورځ یې جرګې او

میتینګونه جوړول او د روسانو ثنا او صفت به یې کول او بیا څو تنه د خپلو طرفدارانو نه به یې پخوا آماده کړی وو، چې هغوی به هم دده په شان د روسانو صفتونه کول او د روسانو د دوستۍ په هکله به یې بیانیې ورکولې. طبعاً ببرك په داسې مېتینګو کې یو څو کسه باقدرته روسان هم راوغوښتل چې بیا به نو هغوي په خپلو راپورونو کې د افغانستان د خلکو ډېر ښه نیك احساسات د روسانو په دوستۍ کې د شوروي مقاماتو لیږل همدارنګه ببرك هغو باقدرته روسانو ته چې په افغانستان کې اوسېدل او یا په موقت ډول افغانستان ته راتلل داسې ژوند او د عیش او نوش زمینه برابر وله چې هغوي په خپل عمر کې نه وي لېدلي د روسانو هغه صاحب منصبان چې د عسکري خاد ، او ځارندوي په حساسو وظائفو کې موظف وو، هر یوه ته آخري ماډل بنز المانې ګرندي موټر ولاړ وو،.د ښوویسکي شرابو کارتنونه به د هغو آستوګن ځایونه ورتلل اکثراً هغه روسي د جیګو مقامو درلودونکي چې په افغانستان کې وظیفه درلوده قاچاق ته تشویق شوي وو، یوه ورځ د کابل په هوائي میدان کې په ناپوهۍ کې یو ډېر اندازه پونډ ، ډالر، او طلاوي ونیول شول چې قیمت یې ملیونو ته رسېده چې د ببرك کارمل په سر مشاور پورې یې اړه درلوده چې بیا هغه سر مشاور مسکو ته وغوښتل شو بیا داسې آوازه شوه چې هغه اعدام کړی شو ، همدارنګه یوه ډېره اندازه خارجي اثار د قاچاق په شکل بهر ته وړل کېده چې دغه قاچاقي اثار چې د محمود بریالي په شراکت د اپریدو قوم د

بـــوه شـــخص او دوه کســـو د کـــابل ســـرافانو هندوانـــو لخـــوا هندوستان تـه قـاچـاق کـبدل چې د هوائـي مـبدان پـه ګمـرک کـې ونيلـو شـول دغـه درې کسـه يـو اپريـدی او دوه کسـه هنـدوان د پـل چرخـي پـه جـبل کـې بنديـان شـول چـې يـو څه مـوده وروسـته د اپريـدو د قـوم څو کسـه سـپين ږيـري مخـور د يـوې جرګې پـه دود کـابل تـه راغلـل د اپريـدو قـوم چـې پـه سـرحد کـې پراتـه دي د افغانسـتان شـرقي لار چـې پـښور تـه رسـږي ددغـه قـوم د کلـو مېنځ کـې تيريـږي چـې دغـه قـوم پـرې کنـترول لـري کـه دغـه قـوم ونـه غـواړي افغانسـتان تـه هـېڅ يـو تجـارتي او نـور مالونـه نشـي رارسـېدلي، نـو ډېره مشـکله ده چـې ددغـې جرګې غوښتونکـو تـه څوک رد ځواب ورکـړي دغـه جرګه چـې کـابل تـه راغلـه د کـابل د حکومت نه يې د هغه اپريدی شخص چې د قـاچـاقو پـه فقـره کـې پـه جيـل خانـه کـې وه (پـه دغـه جـرګه کـې ځينـې زمادوسـتان او اشنايان هـم و) معـافي وغوښتلـه او د ډاکـټر نجيـب پـه وسـاطت ببرک کـارمل هغـه اپريـدی لـه بنـده معـاف او خوشـي کـړ هغـه دوه هنـدوان تـر ډېره پـه جيـل کـې پـاتې شـول ، پـه کـابل کـې داسـې اوازه هـم خپـره شـوه چـې پـه دغـه قـاچـاق کـې نـور احمـد نـور او د هغـه ورور چـې د هوائـي بيـن المللـي ډګر عمومـي رئيـس وه هـم شـريکان وو.

پـه هـر حـال دا چـې اجنبـي لښکـرو د افغانسـتان پـه پـاک حريـم او خـاوره بـاندې تجـاوز کـړی و چـې د افغانسـتان زړه ورو خلکـو هـېڅ کلـه اجنبيـانو تـه د تسـليم سـرونه نـه دي تيـت کـړي د افغانسـتان پـه هـر ځای کـې د روسـانو پـه ضـد جنګونـه شـروع

شول او له بلې خوا د افغان اردو هم د خپلو خلکو په مقابل کې جنګ کولو کې لاړمه برخه نه اخسته او ورځ په ورځ يې خپل کميت له لاسه ورکاوه هغوي هم ددغه وطن زامن وو، نه يې غوښتل چې د خپلو خلکو په مخ ودريږي او جنګ ورسره وکړي نو د اردو له ليکونه تښتېدل، چې په دغه ترتيب د جنګ ټول فشار د روسانو په غاړه پاتې شو ببرک کارمل هر وخت مجلسونه او محفلونه جوړول او د روس د قواو چې هغه يې د دوست هېواد د صلحې د قواو په نامه يادول او هغو روسي منصبدارانو او افرادو ته نشانونه ورکولی کومو چې په جنګ کې ښه خدمات کړي و يعنې د افغانستان ډېر خلک يې په خپلو پر مخ تللو اسلحو په ډېر ظالمانه او بې رحمانه عملياتو په قتل رسولي او شهيدان کړي وو.

خو اخر پای دده دغه چال او فريب هم سر ته ورسېدل او د خپلو بادارانو په وړاندې هم تور مخې او شرم سار شو ۱۹۸۱ ميلادي کال کې يو د ډېرو اشخاصو په درلودلو سره يو روسي هئيت چې اکثر اغړي جنرالان وو، کابل ته راغلل او په هغه لويه جلسه کې، چې د دارالامان په قصر کې چې ددفاع د وزارت مرکز و ګډون وکړ چې خپله ببرک کارمل هم پکې ګډون درلود ددغې لويې غونډې په وړاندې ټول هغه درواغ چې ببرک کارمل د روسانو سره کړی وو، يو په يو يې د ببرک مخې ته کښيښودل او ببرک يې تر تنقيدي پوښتنو لاندې راوست په ډاګه ورته وويل شول کوم دی ستا هغه ټول د افغانستان خلک چې تا د خپل خان طرفداران بلل ستا خپل عسکر نه جنګيږي او د جنګ په ډګر نه تښتي او همدارنګه ډېرې نورې تنقيدي او تهديدي خبرې ددغه هيئت د غړو لخوا ببرک ته وشوې

روسان پوه شول چې ډېر غلط او بې ځایه اعتماد په ببرك باندې شوی خو اوس وخت تیر شوی او هغوې اوس نه شو کولی چې خپل متجاوز ګریوان په اسانۍ سره د باتورو افغانانو له منګولو نه خلاص کړي. هغه ناخوالې، چې په ډېره ظالمانه توګه د وینو زېښونکو وحشتي لیونیو سپو په شان یې زمونږ په خلکو او ولس باندې راوستې دي. زمونږ د وطن د بربادۍ سبب ګرزېدلي دي خپل ځانونه یې هم په ملي او بین المللي سویه شرمولي دي. اخر پای روسان په دې لټه کې شول چې کوم بل څوك د خپلو طرفدارانو یعنې د پرچم له غړو څخه د ببرك کارمل پر ځای ددغې وظیفې د سر ته رسولو دپاره اماده کړي ځکه روسان اوس پوه شوي وو، چې ببرك کارمل د خپل ګونډ او خپلو خلکو په مینځ کې هېڅ ګرانښت او محبوبیت او ملاتړ نه لري او مجهول لهویه انسان دي، پدغه مورود کې د روسانو مشران ډېر وروسته په خپلو اشتباهاتو باندې پوه شول خو اوس اوبه له ورخه تېرې وې. روسان مجبور شول، چې یو ځل بیا ببرك کارمل ته چانس ورکړي تر څو په افغاني جامعه کې ځانته د اطمینان وړ دوستان پیدا کړي نو پس له دې ببر کارمل مجبور شو چې د خپل بقا دپاره پښتون قوم ته رجوع وکړي ځکه چې د افغانستان په اولس کې د مطلق اکثریت خاوندان دي ببرك کارمل د پښتو د ژبې زده کړې دپاه تصمیم ونیوه او کله کله به یې په خپلو خطابو کې په پښتو ژبه یو څو ماته ګوډه پښتو خبرې کولې کوشش یې وکړ چې ځان د پښتون قوم سره د خپلوۍ له لارې پیوند ورکړي خپله لور یې یوه اپریدی زلمي ته ور واده کړه هر څومره هلې ځلې چې ببرك وکړې داسې کار یې له لاسه پوره نه شو چې د روس رښتیې یې

خوښ او قانع کړي وای روسانو په دغه موده کې چې ببرك ته یو بل چانس ورکړ داکتر نجیب چې د پرچم غړی دی په قوم پښتون احمدزی دی، په پښتو هم ښه پوهېږي او د کوزو پښتنو سره هم څه نا څه پیژندګلوي لري د ببرك کارمل د قدرت په وخت کې د افغانستان د جاسوسي دستګاه (خاد) عمومي رئیس و چې د کې،جې،بې روسي جاسوسي مشهوره موسسې سره یې مستقیمې اړیکې او همکاري درلوده د دموکراتیك خلق د رهبري او د افغانستان د دولت د رهبري دپاره په نظر کې نیولی و چې بیا ببرك هم پوه شو چې داکتر نجیب به اخر دده ځای ونیسي، نو داکتر نجیب یې د خاد د ریاست نه برطرفه کړ او د ګوند مرکزي کمیتې ته یې راوست او هلته یې په یو څه اداري کارونو باندې مصروف کړ ببرك کارمل هم یو داسې پلان په نظر کې درلود چې په کومه طریقه هغه بیخي له منځه یوسي ، مګر نجیب په دغه وخت کې پورهٔ د روسانو تر مراقبت او ساتنې لاندې و د نجیب په مورد کې د روسانو معلومات تکمیل شوې او هغو تصمیم قطاعي شو، چې باید نجیب د کارمل په عوض په افغانستان کې ګوندي او دولتي چارې په لاس واخلي او ببرك کارمل د افغانستان د حکومت او ګوند د رهبري نه لرې شي نو شوروي سفیر د ۱۳۶۵ کال په اولو ورځو کې ببرك کارمل ته وویل چې ته د افغانستان چارې په ښه شکل په مخ بوولی نه شې لاړمه ده ګوند عمومي منشي توب او د انقلاب شورا د ریاست نه استعفی وکړه دا چې دا خبره د شوروي سفیر هغه ته په جدي او کلکه لهجه وویله نو ببرك د شوروي سفیر نه خواهش وکړ چې یو ځل بیا ده ته یو چانس ورکړل شي، ترڅو په دې باهر

کې د شوروي د رهبري سره خبرې وکړې او شوروي سفير هغه ته په ډاګه وويل چې خبرې د شوروي د رهبري خبرې دي نور ځانته تکليف مه ورکوه خو هغه خپل په تګ ډېر کوشش وکړ او شوروي د رهبري د ملاقات په انتظار کې پاتې شو د رهبري د يوه کوچني مقام ملاقات هم ورته ميسر نه شو. دلته په افغانستان کې کوم وخت چې ببرك کارمل شوروي ته لاړ داکتر نجيب ټول ګوندي او دولتي چارې د شوروي د سفير په هدايت اجرا کولې په داسې حال کې چې په حزبي چارو کې قانوني اشخاص لکه د ګوند سابقه لرونکي منصبداران او په دولتي او حکومتي چارو کې صدر اعظم او د انقلابي شورا منصبداران موجود وو او ډاکټر نجيب په دغه وخت کې هېڅ يو داسې مقام نه درلود خو څرنګه چې روسانو غوښتل هغه ته يې ټولې واګې ورکړل شوې دوې که څه هم دا واګې رسما هغه ته نه وې ورکړل شوې خو په عمر کې د ټولو واکدار او اختيار منډو د ۱۳۶۵ کال د ثور د انقلاب د ورځې مراسم يې ولمانځل او دده ترمخه د عسکري رسم ګذشت او معائنات د نجيب لخوا ومنل شول په دغو ټولو مراسمو او رسم ګذشت کې لکه څنګه چې معمول و د عمومي منشي او د انقلابي شورا د رئيس چې ببرك لاهم رسماً نه وه لرې شوې هېڅ يوه نښه او نښانه ونه لېدل شوه. که څه هم دغې ورځې دپاره د هر کال په شان د ببرك په عکسو او شعارو ډېر روپۍ مصرف شوې وې خو د ببرك کارمل تنها نوم هم چا ياد نه کړ نجيب د شورويَ سفير په ملګرتيا د ځينو نورو کارونو افتتاح او د ځنې رسمي عسکري او ملکي منابعو نه ډاسې ليدنه کتنه کوله لکه د دولت يو رئيس يې چې کوي يوه ورځ يې هغه

څلی، چې په داخله وزارت کې د څارندوي څلي په نامه جوړ شوی و او د هغه د پرانستلو مراسم د داخله وزارت لخوا چې ګلاب زوي یې یو مقتدر وزیر و د خلقیانو په ګروپ پورې یې ارتظاط درلوده او دا مراسم په ډېره لوړه سویه نیول شوي وو، د ډاکټر نجیب او شوروي سفیر له خوا پرانستل شول، چې داخله وزیر د نجیب الله هر کلی د هغه وزارت په دروازه کې په رسمي توګه اجرا کړ. لنډه یې دا چې په ټول جشن او نورو مراسمو کې د ببرك کارمل نوم قدري هم چا یاد نه کړ په داسې حال کې دي د ګوند عمومي منشي او د دولت د انقلابي شورا برحاله رئیس و صدر اعظم او د کابینې ټولو غړو د جشن رسمي مبارکي ډاکټر نجیب ته ورکړه خو ببرك کارمل د کرملین په دروازه کې په انتظار شپې ورځې تیر ولې ګونډې چې د چا زړه پرې وسوزي او ګورباچوف یې خپل حضور ته وغواړي خو د ده دا ارمان پوره نه شو او د مایوسۍ په حال کې داسې اوازې خپرې شوې چې روسانو ببرك کارمل په مسکو کې بندي کړی دی او بیابه افغانستان ته رانه شي په دې باره کې د ببرك د طرفدارانو لخوا یوه شب نامه هم نشر شوې وه تر څو د مسکو د ښار امنیتي قواوو له خوا ببرك کارمل ته د مسکو د ښار نه د فوري وتلو امر ورکړ او ببرك کارمل په ډېرې نا امیدۍ بیرته کابل ته راغی د کابل په هوایي ډګر کې د هغه د هر کلي د پاره هېڅ څوك راغلې نه وو. که څه هم ببرك کارمل د خپل راتګ اطلاع کابل ته ورکړې وه او د یوه شانداره هر کلي د ترتیبات امر یې هم ورکړی و، خو کله چې د کابل بین المللي هوایي ډګر ته راورسېد، له یو څو تنو شخصي دوستانو پرته نور څوك هلته حاضر نه وو. داسې ویل

کیږي هغه یو څو کسه چې راغلي وو، هغو ته د پولیسو سپي ور وشکېرل شول، چې غریبانانو تري ډېرې منډې ووهلې، چې د سپو نه یې ځانونه خلاص کړل ډېره عجیبه د خندا وړ صحنه وه بیا نو ببرك کارمل یې د کوم خدمتي موټر په ذریعه ارګ ته ورساوه سبا سحر وختي د ببرك کارمل هواداران د ارګ په لور ور روان شول تر څو د ببرك کارمل هغې وینا ته غوږ شي چې هغه یې د ارګ د دیوال له سره کوي. د حیرانتیا ځای دی، چې یو د ګوند عمومي منشي او رهبر چې دولتي قدرت هم په لاس کې لري یو د مملکت جمهور رئیس چې د یوې راډیو د مکرافون واك اختیار ونه لري چې خپلو خلکو ته خپله وینا ور واوروي او غواړي چې ددیوال د سره خپلې خبرې خلکو ته واوروي ډېر د شرم او بې عزتۍ ځای دی رښتیا ده چې د نورو په زور قدرت ته رسېدل باید همدغه راز بې حیثیته او بې ننګه قدرت وي چې د سالم وجدان خاوند یې نه شي منلی. خو سره له دې هم کارمل ددغې وینا کولو نه هم منعه شو طرفدارانو یې په مظاهرې پیل وکړ د مرده باد شوروي او داسې نور شعارونه یې ورکول په اصل کې په مطلب پوه اشخاص په دې مظاهره کې ډېر کم وو. یو څو نور د بې خبرۍ په حال کې له لارو او کوڅو نه ورسره یو ځای شوي وو. کله چې امنیتي قواوو مداخله وکړه زر زر خلك ددغې مظاهرې نه ووتل مظاهره چیان تیت او پرك شول په هر حال بله ورځ د رادیو او تلویزون نه اعلان وشو، چې ببرك کارمل د ناروغۍ له امله د ګوند رهبرۍ نه استعفی وکړه او پر ځای یې ډاکټر نجیب وټاکل شو ببرك کارمل یوازې د انقلابي شورا د رئیس په توګه پاتې شو.

(ټولو ته معلومه ده چې په دغسې رژیمو کې ټولې دولتي اختیارات او قدرت د ګوند د عمومي منشي په اختیار کې وي او بس) داکتر نجیب دولتي او ګوندي چارې رسما په لاس کې واخستې طبعي ده چې دی هم یعنې نجیب د یوه ګوډاګي نه زیات څه نه وه چې روسانو په لاس په دغه څوکۍ کښینول شو ددغسې قدرت لرونکو شته والی یوازي بادارنو ته د خدمت کولو نه پرته بل کوم حیثیت او وقار نه لري په افغاني جامعه کې یو متل دی چې وایې "پهلوان زنده خوش است".

وروسته له هغه ببرك کارمل به کوم وخت د تلویزون په پردو کې ښکاره کېده نوموړی به هغو محفلو کې، چې د هغو شوروي عسکرو او منصبدارانو ته چې ښه خدمت درجه یې ګټلې یعنې هغو شوروي اشخاصو ته چې په جنګونو کې یې د افغانستان ډېر خلك وژلي وه ببرك کارمل د ښه خدمت په نوم مډالونه ورکول او بیا یې په دغه بې شرمه عمل افتخار هم کاوه او هغو ظالمانو متجاوزو عسکرو ته یې دوستان او د صلح قواو خطاب کولو زه باور لرم چې ددې کرښو لوستونکي به په دغسې بې غیرته انسانانو لعنت ووایي.

ببرك کارمل د یوې لنډې مودې دپاره په دغه بې حیثیته او بې عزته مقام کې پاتې شو ځکه هغه خپله هېڅ تصمیم نه شواې نیولی هر هغه څه چې روسانو ورته ویل هم هغسې یې کول خو اخر پاې هغه سره د ټولې خیل خانې روسي بادارانو مسکو ته بوتلو او هلته خپل بې ننګه ژوند ته په عیش عشرت کې ادامه ورکوي که څه هم دی خپله څنګه چې ویل کیږي ښه شتمن دی د ارګ نه یې دېر قیمتي شیان د ځان سره وړي دي، خو روسان هم دده او دده د کهول ټول مصارفات ورکوي.

څرنګه چې ببرک کارمل د روسانو د عسکرو په زور په قدرت ورسېد نو کله کله به هغه د بریژنیف د راضي ساتلو دپاره مسکو ته سفر کولو او په دغه سفر کې به هغه د شوروي رهبري نه نوي هدایتونه اخستل د ببرک اولنی سفر اتحاد شوروي ته د میزان په ۲۳ کال ۱۳۵۹ کې وشو ا مسکو ته لاړ دا هغه وخت وه چې په اتحاد شوروي کې دننه د شوروي د خلکو اعراضات پدې خاطر چې د هغو زامن د افغانستان د خلکو په وړاندې د جنګ کولو په مقصد لیږل شوي او هلته وژل کیږي کله چې په اولو ورځو کې د شوروي عسکر افغانستان ته لیږل کېدل هغو ته ویل شوي وو، چې زمونږ دوست او ګاونډي هېواد او د هغه انقلاب تر امریکایي او چینې خطر لاندې واقع شوی دی او مونږ خپل عسکر د هغو د دفاع له پاره لیږلي دي، چې په حقیقت کې زمونږ دفاع هم ده اما کله چې روسي عسکر افغانستان ته ورسېدل دوی لېدل چې هېڅ تهدید او خطر افغانستان ته وجود نه لري او هغوي د افغانستان خلکو په مقابل کې جنګېږي کوم چې ببرک کارمل نه منې او د هغه حکومت یې خوښ نه دی چې د شوروي ولس له دغې وضعې نه د خپلو زامنو له خوا خبر شوي وو ډېر پټ او ښکاره اعتراضات شروع شوي وو ببرک کارمل، چې د هغه شخصیت د شوروي د رهبري له خوا تحکیمېده د خپلو وینا وو په ذریعه چې د شوروي په راډیو او تلویزون او نورو محافلو کې یې کولې د شوروي اتحاد د لښکرو یې ډېر ثنا او صفت کاوه زیاتو له یې که د شوروي دوست هېواد د سولې لښکر زمونږ په مرسته نه وي رسېدلي زمونږ د حکومت او خلکو وضعه د خطر سره مخامخ وه. ده د خپلې خوا او د افغانستان

د خلکو له خوا د شوروي د حکومت او د شوروي د عسکرو مننه کوله، چې دغه ویناوې یې له دې املې کولې چې د شوروي دولس ذهنیتونه یو څه په کرار او ارام کړي، چې دارنګه ویناوې د شوروي د دولت په خوښه وي بیانو ببرك د خپلو دغو خدماتو په بدل کې د بریژنیف له خوا د خدمت د مډال په اخیستو بریالی شو کوم چې په یوه رسمي غونډه کې د بریژنیف په لاس د ببرك کارمل پر سینه وتومبل شو ، بیا نو په یوه بل سفر کې چې په ۱۳۶۰ کال کې ببرك کارمل کوم چې بریژنیف سالګري د تبریك دلپاره مسکو ته لاړ هغه ډېر یو قیمتي مډال چې د (ب) د سروزرو نه ببرك کارمل جوړ کړی و ، د (لمر) د مډال نوم یادیږي بریژنیف ته وروړاندې کړ، وایې چې د هغه قیمت میلیونو افغانۍ ته رسېده، بریژنیف دا احساس ونه کړ چې دا مډال د شوروي د زرګونو ځوانانو د وینو بیه ده د کومو چې په افغانستان کې یې وینې تویې شوې دي، چې د هغو مینډې په شوروي کې د خپلو زامنو په وړ کې تور کالي اغوندي کاشکي د شوروي مغرور او لېونې رهبر بریژنیف پخوا له دې چې خپل عسکر د افغانستان پاکې خاورې ته راولیږي د افغانستان د خلکو تاریخ او کارنامو ته نظر اچولی وای، زر به ورته څرګنده شوې واي چې انګرېزانو او د هغو استعماري او متجاوز عسکر په ۱۸۳۹ کال کې کوم وخت چې انګریزانو شاه شجاع په افغانستان کې په قدرت ورساوه په کال ۱۸۴۲ کې دهغه متجاوز په سر د زړورو افغانانو له خوا راغلي وو، چې په یوه کمه موده کې یې شپاړس زره یو منظم اردو له لاسه ورکړ چې د هغو نه یوازې یو نفر ډاکتر نیم ژوندی جلال آباد ته رسېدلی و. دغه تلفات

انګریزانو ته د جنګ په نورو ډګرونو کې د جنګیالیو افغانانو له خوار رسېدلي او ډېرې انګرېزې ککړې دلته تر خاورو لاندې شوې دي، بیا کله چې انګلیسي متجاوز اردو په ۱۸۷۸ع کال پر ۱۸۸۰ع کال پورې چې د افغان او انګلیس په دویم جنګ مشهور و، د جنرال (رابرټس) په مشرۍ پر افغانستان باندې تجاوز وکړ او ۱۸۷۹ کې د کابل ښار ته راورسېدل کابل یې اشغال کړ چې بیا د افغانستان د خلکو د انګرېزانو پر ضد ډېرې سختې خونړي جنګونه په هر ځای کې پیل شول چې د انګرېزانو وضعه ډېره خرابه شوه او ډېر انګرېزان په قتل ورسېدل ، د هغه راپور په ترڅ کې انګلیسي جنرال د هندوستان انګلیسي ګورنر جنرال په نامه یې داسې لیکلې وو :

هغه څه چې زه غواړم ویې لیکم ممکنه ده چې زموږ حیثیت او احترام ته په زړه پورې نه وي مګر فکر کوم هر څه چې زه وایم په اطمینان سره ویلی شم چې ریښتیا او سم به وي ، هر څومره چې افغانان تر موږ لرږوو ولې موږ به لږ د هغو د نفرت او غضب باعث شو . که روسان افغانستان اشغال کړي، موږ ته به ډېر ښه چانس وي ځکه په هغه وخت کې به موږ وکولی شو د خپلو منافعو په ګټه افغانان د ځان پر لور راجلب کړو.

اخر داده د لهونې بریژنیف د بې ځایه مداخلې په وجه د انګلیس جنرال ارمان یو سل کاله پس پر ځای او د روسي

عسکرو ستونی د افغان مېرنې او جنګیالي ولس په وسپنیزو منګولو کې راګیر شو او انګرېزان له ورایه ورته ګوري .

کله چې روسان تر لسو کلو پس د جنګ میدانه په بېشرمۍ سره له افغانستانه ووتل هلته په شوروي اتحاد کې د شوروي د عالي شورا غونډه وکړه ، د بریژنیف او نورو شوروي لویانو هغه دلایل چې هغو ددغو دلایلو په اسناد یې خپل عسکر افغانستان ته استولي وو بحث وکړي په نتیجه کې دې غونډې نه یوازې دا چې هغه دلایل او ادعاوې رد کړې بلکې هغه یې د ۱۸ رایو په مقابل کې ۱۶۷۸ رایو د شوروي د اساسي قانون پر خلاف اعلان کړې او ویې ویل، چې افغانستان ته د شوروي لښکرو د لېږلو ، فیصله د یوې وړې حلقې له خوا د شوروي د اساسي قانون خلاف عمل و.

یادونه :

د انګرېزانو او روسانو د یرغلو په مورد کې چې په پورتنیو کرښو کې یو څه لیکل شوي، دا هغه څه دي، چې محترم پوهاند محمد حسن کاکړ د ولس اخبار د اتلسم کال په لومړۍ ګڼه کې مفصل توضیحات لیکلي دي .

د پوهنې دېره

د پښتونخوا د پوهنې دېره د پښتو ژبې د ودې او پياوړتيا لپاره کار کوي، مونږ په دې خبره ويارو چې په دېره کمه موده کې د پوهنې دېرې يو شمېر د پښتو ژبې د شعر او نثر کتابونه چاپ او خواره کړل. د پوهانو وينا ده چې د کوم قام ژبه چې وده او ترقي ونه کړي، نو هغه قام هم ترقي نه شي کولی. پښتانه ليکوال بايد تر هرڅه زيات د خپلې ژبې د ترقي او پراختيا لپاره خپلې هلې ځلې تندي کړي. د پوهنې دېرې چې په دې هکله کوم کوښښ کړی، غواړو چې د هغې انځور يو ځل بيا ستاسې له نظره تېر کړو.

۱ـ ګلپانه (شعري ټولګه) شاعر: مبارز څاپی
۲ـ د قلم توره (شعري ټولګه) شاعر: ډاکټر کبير ستورے
۳ـ ژوندی وزر (شعري ټولګه) شاعر: ډاکټر ديدار يوسفزے
۴ـ ماته ائينه (افساني) ليکوال: لايق زاده لايق
۵ـ مرغزار (شعري ټولګه) شاعر: محمد حنيف قيس
۶ـ لعلونه (د سوات او ملاکنډ د شاعرانو تذکره او منتخب کلامونه) ټولونکي: رحيم داد او اختر ملك

۷_ ډالی (د حمید بابا او علي خان بابا منتخب کلامونه)
ټولونکی : لایق زاده لایق
۸_ یادونه (شعري ټولګه) شاعر : محمد ابراهیم بیدروال
۹_ ژوند او جانان (شعري ټولګه) شاعري : سعیدالله خادم
۱۰_ را ښکلي غشي (شعري ټولګه) شاعر : ډاکټر دیدار یوسفزی
۱۱_ د هوښیارتیا ټله (ساپوهنه) شاعر: ډاکټر کبیر ستورے
۱۲_ ژبساپوهنه (ساپوهنه) لیکوال: ډاکټر کبیر ستوری
۱۳_ زرپاڼه (شعري ټولګه) شاعر: مبارز څاپی
۱۴_ زرغون زپري (د ماشومانو نظمونه) شاعر: ډاکټر دیدار یوسفزی
۱۵_ نسکورې لپې(د هائیکو مجموعه) شاعر: ډاکټر دیدار یوسفزی
۱۶_ پرخه په پرخه (شعري ټولګه) شاعر: حنیف خلیل
۱۷_ مړاوې ګلونه (شعري ټولګه) شاعر: سلیم ختک مرحوم
۱۸_ د پښتون/افغان قامي جرګه: (مقالې او ویناګانې)
جوړونکی: محمد افضل خان"خان لالا"
۱۹_ خړ مانښام (شعري ټولګه) شاعر: عبدالله وحید
۲۰_ چونګ ملغلرې (د مختلفو شاعرانو منتخب شعرونه)
ټولونکی : محمد اقبال ګلرنګزی
۲۱_ مشکنې (شعري ټولګه) شاعر: لایق زاده لایق
۲۲_ پونه (شعري ټولګه) شاعر: اقبال حیران
۲۳_پرونی (د ریډیو څخه خپرې شوې ډرامې) لیکوال: اقبال حیران
۲۴_ لمبې (شعري ټولګه) ترتیب: اقبال حسین سالار
۲۵_تاله میدان (شعري ټولګه) شاعر: ډاکټر دیدار یوسفزی
۲۶_ ازغو کې پسرلی (شعري ټولګه) طماش افریدی
۲۷_د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه ټله (ساپوهنه) لیکوال: ډاکټر کبیر ستوری
۲۸_د هوښیارتیا بې پلوه ټله (سا پوهنه) لیکوال: ډاکټر کبیر ستوری

چاپ ته تیار

۱_ څانګه: (ناول) لیکوال: محمداجان یار

* * *

برسېره پردې د پوهنې دېرې تل هڅه کړې، چې د پښتو موسیقۍ مانبنامي او کلتوري پروګرامونه د نامتو سندرغاړو په خوږو آوازونو جوړ او د موسیقۍ مینه والو ته وړاندې کړي، چې ددغه خوندورو مانبنامونو سلسله لادوام لري، خو کوم د موسیقۍ پروګرامونه چې د دېرې په زیار سرته رسېدلي، ستاسې له نظره یو ځل تېر کړو:

۱_ د قلم توره (کلتوري مانبنام)

سندرغاړي: ماسټر علي حیدر، سیداګل مینا، رضوان منور، شاه څوان منور، ګل جان صادق. کال: ۱۹۹۸ ع

۲_ رنګین مانبنام:

سندرغاړې: استاد رحیم غمزده. کال: ۱۹۹۹ ه

۳_ پښتنه مینه:

سندرغاړې: زاهدالله افریدي. کال: ۱۹۹۹ع

۴_ سحرونه:

سندرغاړې: نازیه اقبال. کال: ۱۹۹۹ع

۵_ سندریز مانبنام (۱):

سندرغاړې: ماسټر علي حیدر. کال: ۱۹۹۹ع

۶_خواره رنګونه:

سندرغاړي: استاد ګلزار عالم. کال: ۲۰۰۰ع

۷_د حجرې مجلس (کلتوري مانبنام)

د پښتونخوا څوان او پیاوړي سندرغاړي رضوان منور، شاه څوان منور، سیداګل مینا، صنم، نورالرحمن، زاهدالله افریدی، رحیم ګل او نور. کال: ۲۰۰۰ع

۸_سندریز مابنام (۲):

سندرغاړی: ماستر علي حيدر. کال: ۲۰۰۰ ع

۹_ سمسور ګلونه:

سندرغاړی: استاد ګلزار عالم. کال ۲۰۰۱ ع

۱۰_ شبنم دانه دانه:

سندرغاړي: شبنم. کال: ۲۰۰۲ ع

۱۱_ غزل غزل:

سندرغاړی: سیدا ګل مینا. کال: ۲۰۰۲ ع

۱۲_ډیوې:

سندرغاړی: د پښتو موسیقی بابا استاد خیال محمد. کال: ۲۰۰۲ع

۱۳_ژوندي خیالونه:

سندرغاړي: ماستر علي حيدر، بنګش. کال: ۲۰۰۳ع

۱۴_ جوړه ګلونه:

سندرغاړي: رضوان منور، شاه خوان منور. کال: ۲۰۰۳ع

۱۵_ د رنګونو ډالۍ:

سندرغاړی: ماستر علي حيدر. کال: ۲۰۰۳ع

۱۶_شکلې نندارې:

سندرغاړی: انور خیال. کال: ۲۰۰۳ ع

د پښتونخوا د پوهنې دېره ددغه ټولو سندرغاړو او موسیقارانو څخه د زړه له کومې مننه او خوښنه کوي، چې په خپلو خوږو آوازونو یې د پښتون کلتور لمنه درنه ساتلې او د پښتو ژبې شاعري ته یې د اواز خوا ږه وربخښلې دي.

په درناوي

عبدالبصیر بیدار

د پښتونخوا د پوهنې دیرې ستر سکرتر

لنډه پېژندنه

عطا محمد شېرزی په ۱۳۰۰هـ ل (۱۹۲۱ع) د جنوری د میاشتې پر لومړۍ نېټه د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالۍ د حسین خېلو په سیمه کې نړۍ ته سترګې پرانیستې. نوموړی په خټه پښتون او پلار یې د دفاع په وزارت کې ماموریت درلود.

بښاغلی عطا محمد شېرزی لا ماشوم و، چې پلار یې وفات شو او د دربو کوچنیو وروڼو، یوې خور او مور د ژوندانه مسؤلیت یې په غاړه شو. لومړنۍ زده کړې یې د هغه وخت سره سمې په جومات کې ترسره کړې او په ۱۳۱۷کال کې د ژاندارمو او پولیسو د زده کوونکي په توګه ومنل شو او دوه کاله وروسته د آسونو د قطعې د امر د رساله دار په رتبه مقرر شو. نوموړي د قطعې د ګارد پر تشریفاتي مسؤلیتونو سربېره د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او د وخت د صدراعظم محمد هاشم خان په تفریحي او نورو ختونو کې هم دندې ترسره کولې. په نوموړې قطعه کې ورته د خېلو کارونو ترڅنګ د "یاور" لقب هم ورکړ شو.

په ۱۳۲۴ هـ کې یې له پولیسي کدر نه ځان ګوښه کړ. لومړی یې د هرمند په تجارتي شرکت او بیا یې د بلخ د اتحادیې په شرکت کې په کار پیل وکړ.

په کندهار کې د وېښ زلمیانو په جوړښت سره یې (۱۳۲۶هـ) د هېواد د سیاسي پېښنو سره مینه ډېره شوه او د خلق د دیموکراتیک په جوړولو کې یې د پرمختګ لپاره هلې ځلې وکړې او په لومړنۍ کنګره کې یې چې د ۱۳۴۲کال د جدي د میاشتې په ۱۱مه نېټه جوړه شوه، ګډون درلود. کله چې په نوموړي ګوند کې انشعاب رامنځته شو، نو بیا یې ترې ځان ګوښه کړ او خپلې تجارتي هڅې یې پیل کړې.

په ۱۹۸۹کې د نورو ډېرو هېوادوالو په څېر المان ته په مهاجرت مجبور شو، چې تراوسه په نوموړي هېواد کې د سیاسي پنا وروڼکي په حیث د سپین ږیرتوب ورځې شپې تېرولې.

عطا محمد شېرزی له ۱۹۹۰ میلادي کال نه راپه دېخوا د پښتون سوسیال دموکرات ګوند (PSDP) د مشرانو جرګې غړی او د ګوند د مشر سلاکاری دی. عطاء محمد شېرزی د پښتنو د کلتوري ټولنې "جرمني کولن" د مشرتابه غړیتوب لري،